وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ

# انوار المجالس

پښتو

له نویو زیاتونو او تخریج سره

مؤلف

حضرت صاحب المرتبت شیخ القرآن والحدیث پیر طریقت

Ketabton.com

رهبر شریعت [illegible]

خلیفه مجاز

حضرت شیخ المشائخ خلیفه صاحب داد محمد غزنوی مدظله العالی

جلد سوم

خپرونکی

خانقاه عالیه مجددیه عمریه

ډیره اسماعیل خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کتاب PDf کول خاص دالله {ج}

# د رضا الپاره دې

# د هر لوستونکي او فائده اخستونکي د دعا فه

## هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب پېژندنه :

نوم : انوار المجالس .

فرمودات: شيخ القران والحديث شمس المشائخ خليفه صاحب الحاج دين محمد مدظله العاليه .

ټولونکی او ترتيب کونکی : مولوي سيد محمد عمر فاروقي

کمپوزران : مولوي سيد محمد عمر (فاروقي) او طالب العلم (سيد) محمد بهار .

دري ځله تصحيح : مولوي سيد محمد عمر (فاروقي )

څلورم ځل تصحيح : مولوی ولي محمد (تائب)

دچاپ شمېر او کال : ۲۰۰۰ټوکه : ۱۴۳۷ / ربيع الثاني - ۱۳۹۴ کال دلوه.

خپرونکي : خانقاه عاليه مجدديه عمريه (جامعه روح المدارس روحانيه )

د اړيکو شمېرې :

افغانستان : ۰۷۷۹۵۰۳۷۰۰، ۰۷۷۷۵۵۹۷۹۱، ۰۷۷۸۳۳۱۳۹۹

دچاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شمېره | فهرست | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | (٤٢) مجلس /دنعمت دبقاسبب شکرانه او... | ۱ |
| ۲ | دحضرت یونس عَلَیهِالسَّلَام په قوم راغلی عذاب..... | ۱ |
| ۳ | دیوسنت پرېښودل دشکست سبب کیدل | ۴ |
| ۴ | (٤٣) مجلس / دلوړو مقاماتو دحاصلولو طریقې | ۱۲ |
| ۵ | په کوم زړه چې وعظ اونصحیت اثر نه کوي | ۱۵ |
| ٦ | (٤٤) حقیقي اوکامل مؤمن هغه دی چې..... | ۲۱ |
| ۷ | دعلم په زده کړې پسې زیات تکلیف..... | ۲۵ |
| ۸ | دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عبادت په دنیا کې..... | ۲۶ |
| ۹ | دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه دناز خفگان | ۳۰ |
| ۱۰ | دنیکوخلکو په قبرکې له ملائکو..... | ۳۲ |
| ۱۱ | دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله..... | ۳۴ |
| ۱۲ | (٤٥) مجلس / دآدب بیان | ۳۶ |
| ۱۳ | دظاهر او باطن دصفایي له پاره شرطونه | ۳۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | باطني اداب په لاندې ډول دي: | ۳۸ |
| ۱۵ | ظاهري اداب په لاندې ډول دي | ۴۰ |
| ۱٦ | (٤٦) مجلس / د اولياء كرامو كرامات.... | ۴۸ |
| ۱۷ | حضرت سفينه رضي الله عنه ته زمرى لار ورښيي او... | ۴۸ |
| ۱۸ | د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه په وفات عرش. | ۵۰ |
| ۱۹ | غره ته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم خطاب او.... | ۵۱ |
| ۲۰ | دبزرگانو په خپلو مريدانو نظر وي | ۵۵ |
| ۲۱ | له مرگه وروسته داولياء كرامو روحانيت.... | ۵۶ |
| ۲۲ | داولياوو په مجلس انسان له ازلي بدبختي... | ۶۰ |
| ۲۳ | (٤٧) مجلس / دنيكو خلكو سره دتعلق.... | ۶۶ |
| ۲۴ | اولياوو ته چې په كوم نيت ورغلى وي.... | ۷۶ |
| ۲۵ | دبزرگانو امتحانول درسوايي سبب گرځي | ۷۹ |
| ۲۶ | (٤٨) مجلس / دنيك عمل فايدې او د دنيا.... | ۸۳ |
| ۲۷ | د حضرت نبي كريم صلى الله عليه وسلم د فقر او.... | ۸۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | حضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې لور ته. | ۸۵ |
| ۲۸ | مَنْ كَانَ لله كَانَ اللهُ لَـهُ | ۸۹ |
| ۲۹ | (۴۹) مجلس / په خپل عمل بايد مغروره... | ۹۱ |
| ۳۰ | حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل زيات عمل څومره... | ۹۱ |
| ۳۱ | د بلعم بن باعور له عبرت ډکه واقعــه | ۹۴ |
| ۳۲ | (۵۰) مجلس / ګناه زهر قاتل ده که په... | ۱۰۳ |
| ۳۳ | د يو مُخلص عجيبه واقعه | ۱۱۹ |
| ۳۴ | يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تلاوت په وخت کې...... | ۱۱۹ |
| ۳۵ | د دوه طالبانو حيرانوونکې واقعې | ۱۲۲ |
| ۳۶ | د دنيا ګټل مطلقاً ناروا نه دي | ۱۲۳ |
| ۳۷ | حضرت عبدالقادر جيلانی رحمه الله د ... | ۱۲۵ |
| ۳۸ | يو بزرګ د تکبير اولی د پاتې........ | ۱۲۸ |
| ۳۹ | (۵۱) مجلس /د دين ارزښت او له علماوو..... | ۱۳۰ |
| ۴۰ | د جمعې لمانځه ته تلل څومره ثواب..... | ۱۳۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ | د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې مال لګول ... | ۱۳۴ |
| ۴۲ | په دنیاوي تعلیم ولې دومره مصرفونه ... | ۱۳۶ |
| ۴۳ | د دورهٔ حدیث ټول درسونه په یوائې ... | ۱۴۰ |
| ۴۴ | د جوماتونو زیاتره امامان له مسائلو ... | ۱۴۰ |
| ۴۵ | د یو امام عجیبه واقعه | ۱۴۳ |
| ۴۶ | د حضرت نبي کریم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هجرت لنډه ... | ۱۵۵ |
| ۴۷ | زمونږ پخوانیو مشائخو څومره ... | ۱۵۹ |
| ۴۸ | مصنفینو څومره تکالیف تېر کړي؟ | ۱۶۰ |
| ۴۹ | غیر مقلدین څومره بې ادبه دي؟ | ۱۶۳ |
| ۵۰ | (۵۲) مجلس / د محبت علامې او د هغه کتې | ۱۶۵ |
| ۵۱ | د یو صحابي د پوښتنې په مهال د حضرت ... | ۱۷۰ |
| ۵۲ | دا چې مونږ د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ غلامان یو نو ... | ۱۷۱ |
| ۵۳ | الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په خپلو بندګانو څومره ... | ۱۷۳ |
| ۵۴ | خلك په دوه قسمه دي | ۱۷۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۵۵ | د چاچې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره مینه وي د .. | ۱۷۸ |
| ۵۶ | د هغه سړي علامه چې دده له قرآن کریم.. | ۱۷۹ |
| ۵۷ | د هغه چا علامه چې له حضرت رسول.... | ۱۷۹ |
| ۵۸ | حضرت مجدد الف ثانی قدس سره نصېحت | ۱۸۰ |
| ۵۹ | داسې خلك مې هم ولیدل چې په درواغو... | ۱۸۲ |
| ٦۰ | حضرت ام المؤمنین رضی الله عنها صحابهٔ.. | ۱۸۴ |
| ٦۱ | حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څومره د حضرت نبي.... | ۱۸۷ |
| ٦۲ | په یو سُنت د عمل کولو له امله د فیوضاتو. | ۱۹۰ |
| ٦۳ | یو طالب د وېښتانو د نه کمولو له وجې... | ۱۹۳ |
| ٦۴ | د حضرت شرُیح په یوه تنبیه مجرم مړ شو | ۱۹۶ |
| ٦۵ | سپې ته د اویو په ورکولو سره تهول.... | ۱۹۹ |
| ٦٦ | ښځه د پېشو له وجې جهنم ته ولاړه | ۲۰۰ |
| ٦۷ | (۵۲) مجلس / دوه لوی نعمتونه او له هغو...... | ۲۰۳ |
| ٦۸ | د حضرت سراج المشائخ د بندیخانې واقعه | ۲۰۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۶۹ | یو فوځي کرنېل حضرت انوارالمشائخ ... | ۲۰۷ |
| ۷۰ | د سراج المشائخ صاحب په فراق مریدان ... | ۲۰۸ |
| ۷۱ | فارغېدونکي طالبان څه وایي ؟ | ۲۱۰ |
| ۷۲ | په حضرت علی ابن حسین به له اوداسه ...... | ۲۱۵ |
| ۷۳ | د حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ زیاته ژړا | ۲۱۷ |
| ۷۴ | (٥٤) مجلس / په انسانانو یاندې درې لوی ... | ۲۲۲ |
| ۷۵ | دانسان په زندګي کې امتحانونه | ۲۲۳ |
| ۷۶ | حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د مرغانو په . | ۲۲۶ |
| ۷۶ | دوه ورونه چې یو د دنیا طالب او بل د ... | ۲۳۲ |
| ۷۷ | نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یو شامي دخپلې... | ۲۳۴ |
| ۷۹ | په محسوساتو د شیطان د دوکې مثال... | ۲۳۵ |
| ۸۰ | په حضرت ایوب علیه السلام امتحان او په ... | ۲۳۷ |
| ۸۱ | خپل تقصیرات یادول د خدای پاک د ....... | ۲۴۱ |
| ۸۲ | (٥٥) مجلس / د آل نسبي او حسبي سره ... | ۲۴۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۸۳ | د نبي کريم ﷺ اهــل (کورنۍ) | ۲۴۸ |
| ۸۴ | د ساداتو مبارکانو په قدر کې په بې..... | ۲۴۹ |
| ۸۵ | د اهل له دوهم تفسير نه څوک مراد دي؟ | ۲۵۲ |
| ۸۶ | اصلي مطلب له اولياوو سره کامل محبت ده | ۲۶۱ |
| ۸۷ | د وصول الى الله درې لارې | ۲۶۵ |
| ۸۸ | کله په يوه دعا د سرې تول کارونه جوړ... | ۲۶۷ |
| ۸۹ | د اولياوو کرامو په معمولي خدمت سره... | ۲۶۸ |
| ۹۰ | نبي کريم ﷺ دنيا له څه شي سره.. | ۲۷۰ |
| ۹۱ | مسلمان بايد خپله اسلامي جامه بدله نه.. | ۲۷۲ |
| ۹۲ | (٥٦) مجلس /داعتکاف بيان | ۲۷۴ |
| ۹۳ | اعتــــکاف | ۲۷۵ |
| ۹۴ | داعتکاف شرطونه | ۲۷۵ |
| ۹۵ | داعتکاف اداب | ۲۷۷ |
| ۹۶ | داعتکاف محاسن | ۲۷۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹۷ | داعتکاف مفسدات | ۲۷۸ |
| ۹۸ | داعتکاف محظورات | ۲۸۱ |
| ۹۹ | داعتکاف کولو طریقه او موده یې | ۲۸۸ |
| ۱۰۰ | د یو مسلمان د مشکل حل کولو... | ۲۹۱ |
| ۱۰۱ | (۵۷) مجلس / دانسان دکامیابي مهمې... | ۲۹۲ |
| ۱۰۲ | شیطان په عقل فیصله وکړه نوابدي... | ۲۹۵ |
| ۱۰۳ | په آیت کریمه کې د نوح علیه السلام تخصیص | ۲۹۷ |
| ۱۰۴ | د بالاکوټ په سیمه زلزله ولې راغله ؟ | ۲۹۹ |
| ۱۰۵ | ځینې جوماتونه د انګریزي تعلیم له... | ۳۰۲ |
| ۱۰۶ | (۵۸) مجلس / د کابل د حضرات کرامو... | ۳۰۵ |
| ۱۰۷ | (۵۹) مجلس / د جنت او جهنم بیان | ۳۱۱ |
| ۱۰۸ | دتقوا څه معنا ده؟ | ۳۱۱ |
| ۱۰۹ | ددنیاوي تکلیف دختمولو له پاره څومره... | ۳۱۲ |
| ۱۱۰ | دجنت بیان | ۳۱۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۱ | په جنت کې به هم بازاروي | ۳۱۴ |
| ۱۱۲ | جنتيان چې له بازار څخه کورته ځي..... | ۳۱۷ |
| ۱۱۳ | په جنت کې دادنی جنتي څومره ځای ده | ۳۱۸ |
| ۱۱۴ | په جنت کې به له يوځانه بل ځای ته تلل.. | ۳۲۰ |
| ۱۱۵ | جهنم بيان | ۳۲۱ |
| ۱۱۶ | د جهنم ژور والی او رنګ يې | ۳۲۲ |
| ۱۱۷ | دادنی جهنمي څومره عذاب ده ؟ | ۳۲۵ |
| ۱۱۸ | د جهنمي وجود به څومره وي ؟ | ۳۲۶ |
| ۱۱۹ | ددنيا وي ګټې په لحاظ د علماء خبرې هم..... | ۳۳۰ |
| ۱۲۰ | (۶۰) مجلس / دانسان ستردښمن اوله هغه..... | ۳۳۴ |
| ۱۲۱ | دنفس په خلاف عمل اختيارول | ۳۳۸ |
| ۱۲۲ | صحابهٔ کرام رضي الله عنهم د نبي کريم عليه السلام ... | ۳۴۰ |
| ۱۲۳ | دتوبې ايستلو فضائل | ۳۴۳ |
| ۱۲۴ | حضرت حکيم ثنائی څرنګه د غوث مقام.... | ۳۴۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۲) مجلس

## د نعمت دبقا سبب شکرانه او د زوال ناشکري ده

کوم نعمت چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ چاته ورپه برخه کړی وي ترڅو چې هغه خلک ناشکري ونکړي ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه نعمت نه ورنه اخلي . اویو وار چې کوم نعمت خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له چانه واخلي بیرته یې بیا ترهغه نه ورکوي چې ترڅو یې په اخلاص توبه نوي ایستلې ، دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ انعامات ډېر زیات دي ؛ څوکه دنعمت ناشکري وشوه، دهغه سره داتکلیف پیداکیږي چې سړی به دهغه څخه محرومیږي ،بیا بیرته چې څوک دهغه مخکني نعمت تمنا (ارزو) کوي نوهغه به بیا هلته ورکول کیږي چې دخپلو ګناهونو څخه په اخلاص توبه ګار شي ،بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیرته هغه رحمت اونعمتونه پدغه بنده کوي لکه ددي له پاره څو واقعات بیانه وو:

## دحضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَامُ په قوم راغلی عذاب بیرته پورته شو

دحضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَامُ قوم دپیغمبر خلاف کار کاوه حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَامُ دډېرې زړه تنګي نه چې ددوی نه ډېر تنګ شو خبره یې نه منله د هجرت اراده یې وکړه تردې دمه لا دهجرت کولو حکم دخدای جَلَّ جَلَالُهُ له لوري نه ؤ راغلی دی دډېرې زړه تنګي نه روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو په کشتۍ کې سپور شو هغه کشتۍ ددریاب په مابین کې ودریده ،دکشتۍ چلوونکي وویل چې ددې کشتۍ عادت داده چې کله هم یو غلام دخپل څښتن نه له اجازې پرته تښتیدلی وي اوپدغه کشتۍ کې سپور شي داکشتۍ بیا په سم ډول تګ نه کوي او کیدای شي چې له یو ناورین سره مخ شي.

نومعلومیږي چې پدغو خلکو کې یو غلام دخپل څښتن بادار نه له اجازې پرته را تښتیدلی دی نودا دټولو خلکو دهلاکت سبب ګرځي چې ترڅو پورې دغه غلام دکشتۍ نه نوي لرې شوی ترهغه وخته پورې داکشتۍ نجات نه پیداکوي.

حضرت یونس عَلَيْهِ السَّلَامُ پوه شوچې زه دالله تعالی له حکم نه پرته راغلی یم نو وې ویل چې هغه غلام زه یم چې تښتیدلی یم خوچونکې دی پیغمبر ؤ دده هغه نیک صورت ته چې خلکو کتل نودایې زړه ته هم نه لویدله چې دی دې غلام وي اودخپل څښتن له اجازې پرته دې تښتیدلی وي.

تردې پورې چې دوی قرعه اندازي وکړه یعنې نومونه یې ولیکل چې دهر چا نوم وختلو هغه به ددریاب منځ ته ورلویږي ،درې وارې دحضرت یونس عَلَيْهِ السَّلَامُ نوم وخوت پس له هغه درې وارې نوم ختلو نه ،ده دریاب ته ټوپ کړل ددې له پاره چې هغه نور دکشتۍ خلک له هلاکت نه بچ شي ،ماهی خوله راپورته کړه حضرت یونس عَلَيْهِ السَّلَامُ یې تیر کړ.

انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ له ګناهونوڅخه پاک اومعصوم دي ؛ خو حسنات الابرار سیئات المقربین ) هغوی له ډیره ګرانښته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتهادي خطايي هم نيول كيږي او دانيول كه يې دعشق او محبت
په وجه وي دمثال په توګه چې يوڅوک په چا باندې ډير ګران وي
له هغه نه بيا هغه محبت په يوه روا جائزه خبره هم كېله من وي،
كله چې حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَامُ بې له اذن درب تعالى جَلَّ جَلَالُهُ نه
وتلى ؤ، اګركه ده ګناه نه وه كړې.

خوخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ سمدستې عتاب ورته متوجې كړ؛ خو
دى پوه شوچې داتقصير زما نه وشو نوبيرته يې خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ
ته رجوع وكړه ،هلاک دې شم خوداسې نه چې دماله وجې نه
نورخلک چې په كشتۍ كې راسره سپاره دي ،هلاک نه شي
خوچې كله دى هغه ماهي تيركړ،ماهي ته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ حكم
وكړچې دده له پاره ستاخيټه مابند يخانه ګرځولې ده.

ماهي ته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ حكم وكړ چې ګوره! حضرت يونس
عَلَيْهِ السَّلَامُ دتا دخوراک له پاره نه دى ،چې هضم يې نه كړې ، تردې
دريو شپو پورې كم - زيات هلته دماهي په خيټه كې محفوظ و
اوبيا يې دماهي په خيټه كې دننه تسبيح شروع كړله اوپه خپل
عجز باندې ورته قائل شو اودخپلې خطايې نه يې توبه وښكله
اوداكلمات يې ووېل :﴿ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [سورة الانبياء آيت:۸۷]

حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَامُ چې دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ له اجازې پرته
روان شو اوبيا بيرته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته راجع شو نو خداى پاک
جَلَّ جَلَالُهُ په درياب كې دماهي په خيټه كې محفوظ كړ. هغه ماهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته ددریاب غاړې ته راواچاوه اودکدو ونه پرې شنه شوه او دکدو دپاڼو په ذریعه یې له ګرمي نه وساته .

خو بل طرف ته هغه باغي قوم چې ددوی له لاسه حضرت یونس علیه السلام هجرت ته مجبور شوی و ،کله یې چې عذاب ولیده چې راتلونکی دی نوماشومان اولویان اونورټول حیوانات اوددوی بچي یې دښتې ته راټول کړل تردې پورې چې مېږې اووري یې سره جدا کړل ،غواوې اوخوسکیان یې سره جدا کړل ، ښځې اوبچیان یې سره جدا کړل اوغټوخلکو دخپلو ګناهونو له وجې په توبه ایستلو شروع وکړه اوخدای پاک جل جلاله ته په ژړا شول او وړو ماشومانو له مېندو څخه دجدا والي نه په ژړا شروع وکړه اونوروارو حیوانات له خپلو مېندو څخه دجدا په سبب چغې وهې داسې ژاړګانې اوفضا جوړه شوه چې درب تعالی رحمت بیرته ورته متوجې شو اوهغه راتلونکی عذاب یې بیرته وګرځاوه .

حضرت یونس علیه السلام یې دماهي له خیټې نه خلاص کړ اوقوم یې د راليږل شوي عذاب نه ددوی دتوبې په برکت ،خلاص کړل اوبیرته یې خپل رحمت پرې نازل کړ.

[ تفسیر مظهري ج ۶ / سورة یونس / ص: ۳۶۷ / مکتبه حقانیه ]

## دیوسنت پریښودل دشکست سبب کیدل

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وخت کې مجاهدینو یوځل په جهادکې شکست وخوړ اودډېر تکلیف سره مخامخ شول ،بیا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ګوښه شول نو په خپل مابین کې یې وویل چې دا دشکست وجه څه وه ؟ او حال دادی چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له مسلمانانو سره دکومک او نصرت وعده کړې ده او مونږ نن شکست ولې وخوړ ، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې سوچ وکړ نو وې ویل چې زموږ او تاسې نه په دې سفرکې یومسنون (مسواک وهل ) عمل پاته شوی دی ؛نوټولو په یوځای توبه ویستله اووبې ویل چې راځئ داعمل (مسواک وهل ) شروع کړو اودرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت راژوندي کړو چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په موږ باندې رحم وکړي ؛نوټولو په یو وار سره په مسواک وهلو شروع وکړه ،هلته دکفارو جاسوس په دوی پسې راغی ،کله یې چې ددوی حالات ولیدل نوبیرته یې نورو کفاروته حال وروړ چې مسلمانان دومره په قهر شوي دي چې غاښونه یې تیره کړل داخل به دتورو پر ځای غاښونه کاروي چې کله دغه خبر ورور سیده په هغوی باندې هم لړزه راغله چې بیا دمقابلې توان نه پکې لیدل کیدی

کله چې دوی دسنت دژوندي کولو په نیت مسواک وهل شروع کړل نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغه عمل ددوی دکامیابي سبب وګرځاوه ،دکفارو زړونو ته رعب ولویده اوشکست یې وخوړ اوپه شاه وتمبیدل . هر وخت کله هم چې په کومو خلکو باندې تکلیف راغلی ،چې بیرته یې په اخلاص توبه ایستلې ده بیا خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ دهغو خلکو نصرت کړی .

داخبره څوځله مونږ کړې ده چې دغه د فراغت زندګي چې په آزاد طبیعت باندې لمونځ ،اودس ،روژه، سبقونه ،وعظ ،نصیحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دخدای پاک جل جلاله ذکراوبندګي کوو ؛که ددغه نعمت نه مونږ غافله شو اوشکریه یې اداء نکړو ،کیدای شي چې ددغه په سبب په مونږ باندې خداوندمتعال جل جلاله تکلیف راولي.

که مونږ نورمسلمانان ورونه دلته دراحت په زندګي کې دي خدای پاک جل جلاله دهغو خپلو وعدو چې خدای پاک جل جلاله کړې دي لکه دغه آیت کریمه ﴿ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ﴾ [سورة النساءآیت ۱۰۰]

ژباړه: او هر څوک چې وطن پریږدي (او لاړ شي) په لاره د الله کې نو وبه مومي (دی) په زمکه کې (په مقابل دهجرت کې)، دآرامي ځایونه ډیر او پراخي (د روزي)

یعنې له مهاجرینو سره دخدای پاک جل جلاله له لوري وعده ده، رب تعالی هغه وعده رښتونې کړې ده ،تاسو چې کوم مهاجر وغږوئ نووبه وایې چې په وطن کې زمونږ دومره سرمایه اوزندګي نه وه لکه افغاني مهاجروته چې په پاکستان اونورو ملکوکې خداوندمتعال ورکړي ،خدای پاک جل جلاله په خپلو وعدوکې دروغجن نه دی چې دخدای پاک جل جلاله درضا له پاره یو واري چا هجرت وکړ نور غرضونه یې نوي نوبیا خدای پاک هغه وعده ورسره پوره کړې ده لکن چې اوس بیرته بیا تکلیف ورته متوجې کیږي وجه یې داده چې دادخپل نعمت شکرانه یې نه ده اداء کړې.

که چا میرانشاه ښخوا لیدلی وي هغوی ته معلومه ده چې دلته ښخوا مارکیټونه ، لوړ، لوړ کورونه اوتجارتونه ،نه ؤ، دامنطقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې ځنګلونه اوخرابه وې . ماته سپین ږیرو ویل چې پخوا به مونږ تمبې راوړلې نوله دې منقطې څخه به دغلو له وجې په بدرګه تیریدلوځکه چې ټوله علاقه شاړه اوویرانه وه؛ خونن ددغې منطقې په خلکو باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څومره وسعت اورحمت نازل کړی دی،داټول په دې وجه چې دې انصارو مهاجرینوته پناه ورکړه ،تکلیفونه یې ورسره وګالل، اوله انصارو سره دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وعده چې وسعت اوفراخي به پرې راولم اوس دومره آزادي راغلې چې هریوئن دملینوچښتن دی، دلوړو، لوړو کورونو او نورو نعمتونو څښتنان دي.

خو لکن دغو اکثروته داغرور پیداشو چې دا زه یم ،ماګټلې، دا لوړ کورونه ماجوړ کړي ،په ماکې داکمال دی، داسې فکر ته نه ورتله چې ماددین یوه شعبه ژوندۍ کړه اومادیو مسلمان سره همدردي کوله،دهغه په برکت خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په مادغه وسعت راوست .بیا کېدای شي چې ددغې منطقې له خلکو څخه ناشکري شوې وي او څه ناخوالي او مشکلات به منځ ته راغلي وي.

یوسړې راته ویل چې اوس په دې منطقه کې ترکاري سمه نه پیداکیږي ،وچه مرۍ نه پیداکیږي ، یو ځای ته دتللو له پاره موټر نه پیداکیږي ، که داچاسره سامان وي دموټر له نیشتوالي له آمله خپل ځای ته نشي رسولی ،سبزي منډیې په ټپه ولاړه ده، داچې کله نعمت زائل شي بیا خلکوته اندازه لګیږي چې دغه ازادي زمونږ خپل کمال و؟ اوکه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نصرت اورحمت و.

آن تر دې چې ( دغه مهاجرین یې له دې ځایه پسې واخېستل ) په میرانشاه او میرعلي کې په تاریخ ۲۰۱۲ / کې تر تاریخ ۲۰۱۶ ) پورې داسې بد حال راغی چې په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کیږي . نو د واړه ډلې که داسې ؤ چې بیرته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهٗ ته راجع شي نوزموږ دایقین ده چې خدای پاک به جَلَّ جَلَالُهٗ دخپلو وعدو موافق بیرته په دوی رحمتونه نازل کړي او که موږ خپل جرم ونه پیژنو او خپلو ګناهونو ته متوجې نه شو بیا به دغه تکلیفونه ورځ – په ورځ نور هم زیاتیږي . په طالب پورې به مدرسه اورشي ،مدرسه به نه پیداکیږي . یوصوفي به داسې ځای نه شي پیداکولی چې په خپله خوښه هلته ذکر اوعبادت وکړي

کله چې تحریک رنګ شو نوخلک به ماته راتلل چې دا دومره بیروبار ولې جوړ وي؟ دامریدانو ته ووایه چې ډېردې نه راځي که څه هم دومره زیات هم نه ؤ لکه دا اوس چې دي ،سره له دې چې موږ نه سیاسي خلک ؤ اونه مو چیرې دحکومت په مقابل کې جلوسونه ایستلي ؤ، نه مو وعظ اونصیحت کړی ؤ،هیڅ مونه ؤ کړي خو په دې خلکو باندې ددې طالبانو وجود هم بوج ؤ. دغه دنیکو خلکو دذکر حلقې هم بوج وې یعنې درندې پرې تمامېدلې، څو،څو ځله به یې راته ویل چې دامدرسه یوڅه وخت بنده کړه چې طالبان اومریدان دلته نه راځي ؛خو چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهٗ وسعت راوست نن نوپه ازاده توګه سره ژوند کوو خوبیا هم که مونږ نا شکري وکړو ،بیا به مو له عذاب اوتکلیف سره مخامخ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېر تکلیف څخه ،یقینې وایم چې په ځان نه وم پریشانه ؛خوداچې داملګري به تلل همیشه به پریشانې وه ،هرڅوک دعا ته راغي اوبیرته په ژړا باندې ځي ،داډېر تکلیف و ،زما خپل سکنی ماما دلته مشورې ته راغی چې دومره وس نه لرم چې په موټر کې کرایه ورکړم ،په وطن کې هم داسې حالات دي زړه مې نه غواړي چې لاړ شم ، له دغه کیمپ څخه د سختې مجبورۍ له وجې لاړ.

نو د دغو پریشانیو په وجه یقیني ،ددماغو اومعدې تکلیف راته پیداشو ؛خو خدانخواسته که موږ ناشکره شو تردغه به زیات تکلیفونه راته متوجې کیږي ،بیا به موږ له دېنه په سخت عذاب کې ګرفتارشو،له طالب اومرید څخه به ځان پټوو ، ځکه چې ددوی له وجې موږ ته نور تکلیف نشې جوړ،خدانخواسته بیا به داسې حال راځي نوهر یو چې پدغه خپل جرم قائل شو اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته متوجې شو بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډېر رحیم اوکریم ذات دی ، ډېر غیرتي ذات دی ، هغه بیا ددغه دین نصرت کوي ،دخپلو دوستانو نصرت کوي.

حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې په اور کې دننه باغ جوړ کړو ، څلویښت شپې په اور کې دننه و ،دمیوې کومه ونه چې پرې ولاړه وه ،هغې میوه وکړه ، نمردیانو په ده اور بل کړی و؛خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په هغه اور کې ګلان ورته شنه کړل اودراحت ځای یې ورته جوړ کړ. [تفسیر مظهري ج ۶/ سورة الانبیاء/ص ۱۳۶/ مکتبه حقانیه]

اصحاب الاخدود ته چې داور کندې جوړېدلې اودوی ورغورځول کېدل ،له غورځېدلو مخکې په جنت کې دوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونه ولیدل او هغه اور چې دوی ته تیارشوی و د کفارو دهلاکت سبب وګرځاوه اوډېر کفار ددغه اور له وجې په اسلام باندې مشرف شول. [تفسیرمعارف القرآن ج: ۱۰/ سورة البروج ص: ۹۰]

نو رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ هرڅه کولای شي ، دهغه په وس کې هرڅه شته، خوچې موږ خدای پاک ته راجع او توبه ګار شو اودا دنعمت شکرانه اداء کړو په دې باندې وپوهیږو چې زموږ سره چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحمت شته ددغې وجې نه موږ دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بندګي کوو، که دابندګي نه وي ،لکه په مخکې وختوکې انسانان و چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بندګي یې پرېښودله نوبیزوګان اوخنزیران ورنه جوړ شول، رب تعالی چې انسان په خنزیر بدلولای شي ،انسانان په بیزوګانو بدلولی شي نوهغه الله تعالی په موږ هم قادر دی ، ایا موږ ته په دنیا کې عذاب نشي راکولای ؟ له موږ نه بیزو ګان نشي جوړولی ؟ نور عذابونه موږ ته نشي راکولی ، بلکې موږ خو له هغوی نه په هرڅه کې کمزوري یو.

هغه الله تعالی ده چې کله سپي داصحاب کهفو ملګرتیا غوره کړه؛ نو دانسان غوندې قیمتي حیوان یې ورنه جوړ کړ.هغه به جنت ته داخلوي دانسان غوندې کرامت دغه سپي ته ور په نصیب کوي

نوغرض داده چې ترموږ نه په نیکو خلکو باندې ډېر تکلیفونه راغي ،په هغوی باندې زمکې تنګې شوې دي

دامام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په واقعاتو کې راغي سره له دې چې څولکه احادیث یې په یاد ووخو بیاهم خلکو ته پرېښود ضرر او نقصان به یې ورته رسولو هغه خپل علم پورې سور اور ؤ ، اخیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته سوال کوي: ﴿اللهم انه قد ضاقت علی الارض بما رحبت فاقبضني الیك﴾ خداوند متعاله! په ما باندې زمکه تنګه شوه سره له ازادۍ نه نو خپل ځان ته مې درخپل کړې.

نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې سوال قبول کړ داختر په شپه کې دمسافرۍ په حالت کې په خرتنګ مومې سیمه کې وفات شو.

[ضیاء البخاري ج ۱/ ص: ۵۶/ ۵۷]

په ډېرو خلکو باندې دغسې تنګسیاوې راغلې دي خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې په موږ نه راولي ځکه چې هغوی غټې هستۍ وې، هغوی یې برداشت کولای شوای موږ ډېر عاجز یو، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې زموږ سره دخپل رحمت معامله وکړي، ابتلاوې دې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په موږ نه راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۳) مجلس

## دلوړو مقاماتو د حاصلولو طریقې او اسباب

دیو غټ ولي الله (بزرگ) نه څوک په داسې عنوان پوښتنه کوي چې دتادې په هغه خدای قسم وي چې ته به یې مخته دریږې، دده لپاره عبادت کوې تاته خدای پاک داد ولایت لوی مقام څرنګه درپه برخه کړ؟ هغه ددغې خبرې په اوریدلو سره بې اوښه شوا وپه زمکه راپریوت ځکه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته دریدل لکه په دنیاکې چې موږ په عبادت دریږو داخو خلکوته قدر نه معلومیږي ؛خولمونځ دخدای پاک سره مخامخ خبرې دي دهغه حضور ته دریدل دي ، ددغې وجې نه په بخاري شریف کې راځي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دقبلې طرف ته په یودیوال ولید ،چې چا بلغم توکړې دي؛ نود نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ مبارک کې دخفګان اثر پیداشو، په یوه روایت کې راځي:

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ، فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ، فَقَالَ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلَاتِهِ فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ، أَوْ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَلَا

يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ» ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ، فَبَصَقَ فِيهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ: «أَوْ يَفْعَلُ هَكَذَا»﴾

[صحيح البخاري ج ۱ /ص:۵۸ / بَابُ حَكِّ البُزَاقِ بِاليَدِ مِنَ المَسْجِدِ رقم الحديث: ۴۰۵]

ژباړه: له حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی وايي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (مسجد په ديواله) دقبلې لورې ته بغلم وليدل دا په ده باندې ډيره درنه تمامه شوه او په مخ مبارک کې يې دغضب اثار ښکاره شول نو ور پورته شو په لاس يې وګرول، (په [۴۰۸] شميره حديث کې دي چې شګه يې را واخيستله اوهغه ديوال يې پرې پاک کړ) او وې ويل (اوپه دې سره قانون اوآدب ذکر کوي) چې کله يو دتاسې په لمانځه ودريږي نو دی له الله تعالى سره مناجات کوي او يا داچې الله تعالى دده او قبلې تر منځ دی، نو نه دي توپ کوي دقبلې لورې ته بلکې چپ لورې او يا دې له پښو لاندې توپ کوي.

بيا يې دخادر يو لوری را واخيست لاړې يې پکې توپ کړې او يو طرف يې په بل باندې وموښه او وې ويل يا دې داسې کوي

نودلته په لمانځه کې هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته مخامخ دريدل دي اوکه سړی عقل اوعلم ولري نو ددغو دريدلو نه انسان ته داخيرت دورځې دريدل په ياد شي اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته به پيشيږي اودده دزندګي په هکله به پوښتنه ورنه کيږي؛خو چې دچاسره چې دغه فکر پيداشو چې زه به د رب تعالى جَلَّ جَلَالُهُ حضورته وراندې کيږم،زما نه به دخپلې زندګي په هکله پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي ،نوطبعي خبره ده چې انسان له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نه ډارېږي اوبیا ګناه نه کوي، بیا په عبادت کې کوشش کوي څکه چې د رب تعالی جَلَّجَلَالُهُ په حضور کې دریدل اود انبیاء او اولیاء ترمخ دټول مخلوق په وړاندې سوال اوځواب ورکول ډېره مشکله خبره ده. بد عمله انسان بیا دهغه ځای دحاضریدلو توان اوطاقت لري څکه هم خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددغو خلکو سره ده او وایي: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ﴾ [سورة الرحمن آیت ۴۶]

وعده کړې دی ، چې څوک ددغې ورځې نه وډارشي ،چې زه به دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ حضور ته وړاندې کېږم، نو دهغه له پاره خدای پاک د دوه جنتونو وعده کړې ده. څکه چې وډار شو نونیک عمل کوي اود بدو اعمالونه ځان ساتي. اودنیک عمل په کولو سره خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ جنت ورکوي اودبد اعمالو په وجه جهنم ورکوي.

نوهغه ولي ته یې چې داقسم ورکړ نو هغه اول ددې خبرې په اوریدلو سره بې هوشه شو اوکله چې راپه هوش کې شو نو خپل حال ورته بیانوي. اولیاء کرام خپل حال چاته نه بیانوي خومجبور یې کړ،نوورته وایې چې په ماکې څوکارونه موجود دي دهغه له وجې نه ماته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دامقام راپه نصیب کړی:

**اول:** داچې کوم شی په ماکې ژوندی ؤ اوترقي یې کوله هغه ما مړکړ اوکوم شی چې مړ ؤ هغه مارا ژوندی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما کې خواهشات نفساني ژوندي و، نفس د ترقي په لور روان و، ګناوې او خواهشات یې را نه غوښتل

او دوهم دا چې زما زړه مړ و، د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ذکر یې نه کاوه، هغه مارا ژوندی کړ او د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په عبادت او ذکر باندې شروع شو او کله چې زړه اصلاح شي نو نفس کمزوری کېږي او د ګناه جذبه پکې مړه کېږي د عبادت او اطاعت جذبه پکې ژوندۍ کېږي

## په کوم زړه چې وعظ او نصیحت اثر نه کوي هغه مړ وي

حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ ته یو سړی راغی او ورته وایې چې زما زړه ویده دی یعنې زه چې وعظ او نصیحت اورم زما په زړه اثر نه کوي نو داسې څه راته وښیه چې زما زړه را ویښ شي. حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وایې چې قرانکریم او احادیث مبارک بیانېږي بیا هم د تا په زړه باندې اثر نه کوي؟ دی ورته وایې هو! نو حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وایې چې دا زړه ویده نه دی، دا دمړي په شان دی ځکه ویده چې وښوروي ویښېږي او بیدارېږي خو مړ چې هر څومره وښوروي، لتې په لتې یې واړوې هغه نه بیدارېږي

[ تذکرة الاولیاء فارسي ص: ۳۲ / چاپ ایران ]

نو ویده هغه زړونه دي چې د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نه غافل وي او له لویو ګناهونو څخه ځان ساتي لکن کله چې دی نیک مجلس ته ورشي او وعظ او نصیحت واوري نو زړه یې رابیدارشي او بیا دا خیرت لورې ته متوجې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوېيو قسم داسې زړونه دي چې هغه مړه دي ،هغه که هرڅومره نصيحت او وعظ واوري بيا هم په دوی کې څه بدلون نه راځي ،اثر نه په کې پيدا کېږي ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مودې له داسې مړو او کلکو زړونو څخه وساتې زموږ داکثرو خلکو زړونه مړه دي.

**دوهم** : کوم شی چې ماته حاضر ؤ، هغه ما غائب فرض کړ او کوم شی چې غائب و ،هغه ما هميشه حاضر وګاڼه .لکه قيامت ، جنت ،دوزخ او داخرت نور ټول احوال غائب ؤ ،موږ په سترګو نه دي ليدلي اودنيا اوددنيا شيان حاضر دي موږ يې په سترګو وينو نو هميشه د جنت اودوزخ فکر راسره وي ،هميشه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دحساب فکر راسره وي اوچې کوم حاضر دي هغه مې شاته واچول ،پدغو کې مې چورت نه واهه نورب تعالی دامقام راته نصيب کړ.

**دريم** : کوم شی چې فاني ؤ، هغه ما تلپاتي شمېرل اوچې کوم شی ماته په خيال کې راتلل هغه ما فاني فرض کړل . دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اطاعت اوبندګي ،له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ويره دخلکو په خيال کې فاني کېدونکي دي ځکه لمونځ دې وکړ هغه ولاړ تيرشي،صدقه دې ورکړه هغه تيره شي ،روژه يې ونيوه هغه تيره شوه نو دخلکو په خيال کې فاني ورځي . پنځه روپۍ ولاړې نو کمې شوې او مادغه ټول باقي بلل ځکه چې د اخيرت له پاره ذخيره او تلپاتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَقِيَ مِنْهَا» ؟ قَالَتْ: مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا قَالَ: «بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا» ﴾

[مشکاة المصابیح ج:۱/ص:۱۸۵/ رواه الترمذی رقم الحدیث ۲۴۷۰]

ژباړه: له ام المؤمنین حضرت عایشي رضي الله عنها نه روایت دی وایي: چې دوی پسه حلال کړی و نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ( اوحکم يې وکړ چې دا صدقه کړی. مابنام ) پوښتنه کوي چې غوښه څه پاته ده اوکنه ؟ داورته وايي: چې دایومټ يې پاته دی اونورمو ټول تقسیم کړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې نه ټول پاتې دي اودغه یومټ يې نه دی پاتې. ځکه چې هغه موصدقه کړه اوهغه داخیرت ذخیره شوه.

نوکوم شی چې خلکو ته په خیال کې فاني ورتلل هغه مې تلپاتې فرض کړ، هغه سرمایه اوګټه ده اوکوم شی چې خلکوته باقي معلومېږي، چې ددنیا بنګلې، موټرې، ښځه اولاد اوددنیا نور شیان دي. داخلکوته په فکر کې باقي ورځي خوما داټول فاني فرض کړل، چې داټول تیرېږي.

اوس چې څوک ددې ولي الله اونیک سړي سوچوته فکر وکړي نوپه رښتیا هم داسې ده. اولیاء الله ډېر هوښیار وي ځکه چې هوښیار خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغو خلکوته ویلې چې دخدای پاک یادونه دتل له پاره او په هر حالت کې کوي، چې فرمایي: إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ۝ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ [سورة آل عمران]

ژباړه: بېشکه په پیدا کولو د آسمانونو او زمکې کې (سره له هغو شیانو چې په دغو دواړو کې دي) او په اختلاف دشپې او ورځې کې (چې تل اوږدیږي، لنډیږي پر له پسې ځي او راځي کله رڼا کله تیاره کله یخ او کله تودیږي) هرومرو (خامخا) دلائل دي (دالله دقدرت) له پاره دخاوندان د (خالصو) عقلونو

دغه (عاقلان) هغه کسان دي چې یادوي الله تعالی په ولاړې او په ناستې او په اړخونو خپلو (چې پراته وي).

او فکر کوي دوی په پیدایښت د آسمانونو او زمکې (او دمافیهما) کې، (نو وايي) اې ربه زموږ! نه دی پیدا کړی تا دغه مخلوق عبث (بې حکمته) نسبت دپاکي دی تاته (له ټولو عیبونو) نو وساته موږ له عذابه داور (د دوزخ نه)!

نویوکس چې ولي کېږي هغه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر اوعبادت ولي کېږي ؛نودالله تعالی فرموده،ده چې دوی هوښیار دي اودوی کامل عقل لري اودکامل عقل بیا ښه فیصله وي اودبیکاره عقل بې کاره فیصله وي.

اوس نو دهغه (ولي) د عقل فیصلوته تاسې وګورئ چې کوم شی ژوندی دی هغه ما مړ کړځکه چې دنفس څومره ترقي راځي نوهغه دانسان دهلاکت سبب ګرځي،ځکه چې دښمن دی اودښمن به مړ کوې اودانسان زړه اودهغه روح چې دانسان ددنیا اواخیرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکامیابي ذریعه دي نودخپلې کامیابي کوشش به کوي ،ترقي به ورکوي. اوچې کوم شی دخلکو په نزد غائب و ،له ده (ولي) سره هغه همیش موجود و، چې قیامت را روان دی کله چې داسوچ له چا سره پیدا شو نوبیا به هغه له دنیا څخه ډډه کوي اوداخیرت طرف ته یې سوچ اوپام وي.

زموږ خو ټول سوچ دنیاته وي، نوچې چېرته ښهٔ موټروویني هم زموږ سره حرص پیداکېږي چې داسې موټر مې وی، ښه بنګله اوښه جایداد ووینو نو وایو چې کاش ! دا زما هم وای .نوپه موږ کې ددغوشیان فکر موجود وي داخیرت څخه غافله یو اوهغه خلک چې شپه اوورځ دالله تعالی په بندګي اوعبادت لګیا وي اوداخرت طرف ته یې فکر وي نودخلکو له پامه ساده ورځي او وایې چې دا لیونیان اومجذوبین دي. په خبره نه پوهیږي.

په روایت کې راځي چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دومره ذکر کوئ چې دخلکو له پامه لیونیان ورشئ چې داخولیونیان دي په هیڅ نه پوهیږي،شپه اوورځ په طاعت اوعبادت باندې،په ژړاوتیرې کړي.

نوغرض دادی چې هروخت موږ ته نصیحتونه کېږي نوددغو نصیحتونوسره باید سوچ اوفکر وکړي لکه هغوخلکو چې دځان سره دعقل فیصلې کولې دهغو فیصلو په رڼاکې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوستي ورته پیداکېږي ،دالله تعالی دوستان ورنه جوړیږي نوموږ هم چې دځان سره داسوچ وکړو چې دغه دنیا خوربښتیا فاني ده ،دانفس مې تباکوي اواخیرت را روان دی ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانه به سوال اوځواب کېږي ،زه به د رب تعالی حضورته ورانديږ کېږم ، زه به د نبي کريم ﷺ حضور ته وړاندې کېږم ،په کوم عمل به زمانه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خوشحاله کېږي؟ اوپه کوم عمل به له مانه نبي کريم ﷺ خوشحالېږي ؟

په کوم عمل به له مانه اولياء اوعلماء خوشحالېږي کله چې داسوچ له انسان سره پيداشو نو دغه انسان کاميابي هم تر لاسره کړه. اوابدي زندګي يې برابرېږي اوخپل اهل اوعيال بايد پدغه باندې عادت کړو سهار چې لمونځ وکړی شي بايد تر لمر ختلو پورې چې دا دفرض تقديري وخت هم دی ذکر وکړي .کار دي يوڅه وروسته کړي اوله ماذديګر بايد څه ناڅه ذکر وشي اوهمدارنګه بيګا بايد څه ناڅه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکر اوتلاوت وشي ،ناوخته دې څملي اوهغه دابدي زندګي غم دې وخوري .دادنيا اوڅه چې په دنياکې دي داټول ختميدونکي اوفاني کيدونکي دي بيا مو داولاد اوکورنۍ زندګي ښه کېږي اوزموږ ماحول به ښه کېږي کله چې کورنۍ نيکه شوه بيابه طبعا په سړې کې دنيکي اثر پيداکېږي ،دچاسره چې کينې په سړې کې هغه اثر پيداکېږي اوچې کورنۍ خرابه شوه ،په کورکې چې لوی بدعمله وي کشر خامخا هغه بد خوی ورنه زده کوي دارنګ چې د مشرانو د ديندارې طرف ته سوچ شي نو کشران هم هغه طرف ته هڅه کوي اوديندار کېږي.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ وَنُوْرِ عَرْشِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ .(آمين)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۴) مجلس

## حقیقي اوکامل مؤمن هغه دی چې دقرآن اوسنتوتابع وي

کامل اوحقیقي مؤمن هغه چاته ویل کېږي چې خپل نفسي خواهشات ټول پرېږدي او دقرآن کریم او نبوي سنتو تابعداري وکړي، بلکې له نفسي خواهشاتو څخه دغه دین ورته محبوب شي لکه په خپل خوراک کې چې خوند ورته پیداکېږي .په څښاک کې خوند ورته پیداکېږي په جماع کې خوند ورته پیداکېږي . په دنیاوي نعمتونوکې ده ته ذوق اوخوند پیداکېږي

واقعي مؤمن هغه څوک دی چې دغه خپل خواهشات یې ټول دشریعت تابع شي ،اوشریعت دغسې ورته محبوب شي چې هغه ته شریعت دیوه حکم په منلواوعملي کولوکې دزړه خوشحالي پیداکېږي دمثال په ډول هغه ته په لمانځه کې ،په روژه کې ،په تلاوت کې،په ذکر کې د الله تعالی په نوروديني حکمونوکې خوند پیداکېږي دخپلوخواهشاتوپرخلاف ځان دشریعت تابع وګرځوي اوداشریعت دده طبیعت وګرځي. هغه داسې چې دده زړه دشریعت سره اشنا شي بل لوري ته نه اوړي

حضرت بشرحافي رحمه الله چې مخکې په ( انوار المجالس ج: ۲/ مخ: ۲۵۵ ) کې واقعه بیان شوې ده اوبو لوی بهترین ولی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرشوی دی دی وايي چې زما زړه دالله تعالی سره دومره جوړ ده که زما لاس ددې اراده وکړي چې زما لاس دې پردي شي ته ورسيږي؛ خو چې زړه مې دالله تعالی سره جوړ ده ،زړه مې نه مني چې لاس دې شي ته وروړم .که زه په ښښو اراده وکړم چې يو بد ځای ته ورشم خوزما زړه دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ تابع دی زما ښپې ددې بدکار طرف ته نشي ورتلای.

نوواقعي مؤمن هغه څوک دی چې خپل خواهشات يې دشريعت اوددين تابع شي ،زړه اونفس دسړي ته يوڅه وايي اوشريعت بل څه ورته وايي ،دی به دنفس تقاضا پريږدي اوپه شريعت به روانيږي.

دغوخلکو ته بيا په دين کې داسې خوند خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ پيداکوي چې هرڅومره تکليفونه په دين کې په دوی ورځي دوی ته هيڅ باک نه ورکوي.

دأحد په غزا کې چې د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کوم صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ موجود ؤ پدغو کې داسې صحابه کرام هم ؤ لکه حضرت طلحه ابن عبيدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې (۷۳) زخمونه يې په بدن مبارک باندې موجود ؤ

[حياة الصحابة /ج ۱/ص ۶۳۸ / جراحة طلحة بن عبيد الله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ و.... ]

اوهغه چې شهيدان شوي ؤ په هغوی کې خو څينې داسې صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ هم موجود ؤ چې په وجود مبارک يې (۸۳) يا زيات زخمونه موجود ؤ ، لکه حضرت أنس بن النضر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. او مشرکينو داسې مثله کړی ؤ چې نه پيژندل کيده مګر دده خور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارکې په ګوته وپیژاند ، حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې مونږ دغه یقین ده چې دغه ایت ددوي په باره کې نازل شوی:

﴿ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ ﴾

[سورة الاحزاب آیت: ۲۳]

ژباړه: ځینې له مؤمنانو څخه (داسې) سړي دي چې رښتیا کړې یې ده خبره چې عهد کړی ؤ دوی له الله تعالی سره په هغه باندې (چې ثبات، استقامت فی القتال دی) پس ځینې له دوی هغه دي چې تر سره یې کړ نذر خپل (چې شهیدان شول) او ځینې له دوی هغه دي چې انتظار کوي (دغه شهادت ته) او بدل یې نه کړ (عهد خپل یوه ذره هم) په بدلولو سره

[حیاة الصحابة /ج ۱/ص ۶۳۸/ جراحة أنس بن النضر رضي الله عنه]

کله چې بیرته مدینې منورې ته راغلل بیا آوازه شوه چې ابو سفیان اونور مشرکین بیا راوګرځیدل اوبیا په دوهم ځل باندې په مدینه منوره حمله کوي . نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیا دجهاد اعلان وکړ چې هغه څوک دې جهاد ته را ووزي چې پرون په احد کې شریک و، هغه دې نه راځي چې دأحد په غزا کې شریکت نه دی کړی ،نوصحابه کرام رضي الله عنهم داسې په شوق اوخوند راووتل چې دبني سلمه قبیلې (۴۰) کسان زخمیان ؤ چې دځینو په نازکوبدنونو باندې لکه طفیل ابن النعمان رضي الله عنه (۱۳) زخمونه ؤ، داسید ابن حضیر رضي الله عنه په بدن باندې (۹) زخمونه ؤ ، او دنجراش ابن الصمد رضي الله عنه په بدن باندې (۱۰) پرهرونه وودوی پټی لرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوا اومعالجه يې پرېښوده ،له ژخمونواودردونوسره سره يې دنبي کريم ﷺ خبرې ته لبيک وويلې اوجنګ ته تيار شول ؛نو الله تعالى دهغوخلکو چې د رسول الله ﷺ دامراجابت يې وکړ درضا اعلان وکړ دهغوی دپرهرونواودردونوپه مقابل کې يې خپله رضاورپه برخه کړه. [تفسير مظهري ج ۲،ص: ۱۷۸]

اوس دهغو خلکو خواهش دشريعت تابع و ، کنه زړه چېرې دا غواړې چې په بدن دې (۱۹) زخمونه موجود وي اوله بدن څخه دې وينې توئيږي اوبيا دې دجنګ ميدان ته ورشي . داوجه داده چې ددوی په زړونو کې دايمان حقيقت اوعشق پيدااوو ؛نو داتکليفونه هيڅ نه ورته ښکاره کيدل ځکه خوند پکې موجود و.

لکه حضرت ابوطلحه بن زبير رضي الله عنه چې د نبي کريم ﷺ ددفاع له پاره خپل ځان توره اوډال ګرځولی ؤ،دهرې خواڅخه به چې غيشې اونيزې راتللې ده به لاس مبارک ورته ونيو اوخپل وجود مبارک به يې ورته ډال وګرځاوه، لاس مبارک يې شل شوخوده پرواهم نه درلوده؛خوچې نبي کريم ﷺ محفوظ وي،په خپل بدن يې (۷۳) زخمونه برداشت کړل ،په ژوندهم نه و،وجه داوه چې خواهش يې ددين تابع و، په دين کې خدای پاک خوند ورته پيداکړی و.

نبی کريم ﷺ اوصحابه کرام رضي الله عنهم خو ډېرمخکې تيرشوي دي دازموږ اوتاسې په نږدې وخت کې داسې علماء کرام تير شوي دي چې ددين په وجه يې ډېر زيات تکليفونه برداشت کړي دي چې په واقعاتو يې بې شميره کتابونه ليکل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعلم په زده کړې پسې زيات تکليف ته اړتيا ده

دحضرت صاحب ( نورالمشايخ شيراغافضل عمر ) دمدرسي ( نورالمدارس ) يوعالم قصه کوله چې زه هندوستان ته سبق ته تللی وم، په ټول کال کې مې يوجوړ جامې اويوپټکی و، دمنځلو توان اوطاقت مې نه درلود پټکی مې داسې شوی ولکه پرې نورې جامې مې نه درلودې بيامې يو پوستين وهغه مې ومنځه هغه ته مې تنی کېښودې هغه مې قميص کړ په هغه کې به ګرځيدم.

دلوېې دورې (دحديثودوره) طالب وم يوځل په وظيفو پسې تللی وم په يوځنګله کې بېزوګان راباندې راغلل داپوستين يې هم راباندې څيرې کړ،لوڅ لغړ شوم بيا يوبل طالب يوزوړکی څادر راکړ په هغه کې مې درې شپې تيرې کړې،بيا مې په يوه اباسې باندې شپږ ګزه خمتا واخيسته چې څلور ګوتې سور يې و په هغه کې مې دومره تنګ قميص وګانډه چې ناسته اوولاړه مې نه شوی پکې کولای ددومره تکليف تيرولو وجه څه وه ؟ ورونړوا ددې ټولو تکليفونو برداشت کولو وجه داوه چې په دين کې خوند ورته پيداوو،الله تعالی ورته اسانه کړې وه

دمخکينيو اولياء کرامو واقعات چې سړی ګورې داسې حالات ورباندې تير شوې دي چې دبرداشت وړ نه دي لوږې ،تندې،وهل ټکول ،بندېخانې قسم – قسم زحمتونه ورباندې تيرشوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوچې له خدای جَلَّ جَلَالُهُ سره یې تعلق او تړون ونو دزحمتونو په ځای به دوی خوندونه اخستل خودامقام ترلاسه کول هم خوشې خبره نده بلکې ډیرعشق اومینه غواړي هغه هم الهي اودیني عشق اومینه.

څوک چې دین ته تابع شو، دایمان حقیقت یې زړه ته ولویده بیا پدغه کې خوند ورته پیدا کیږي.

## دخدای جَلَّ جَلَالُهُ په عبادت په دنیا کې دجنت میوې لیدل

یوخلیفه صاحب قصه راته کوله چې یو طالب په افغانستان کې په ژمي کې دمدرسې نه به ووت اولرې به په غره کې په واورو کې ناست و، تلاوت به یې کاوه، نوزه ورغلم چې ګورم طالب په تلاوت لګیا ده،ژاړې پوښتنه مې ورنه وکړه چې څه کیفیت دی؟ ده راته وویل چې زه کله دا تلاوت شروع کړم اودلته راووزم زه دجنت میوې په سترګو وینم.

نوچې سړي دالله تعالی دنعمتونواحسان وي نوبیا دواوري په تکلیف باندې څه پوهیږي. بیا په ساړوباندې څه پوهیږي. نود خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دین باندې عمل کولو کې خوند ورته پیدا کیږي.

هرڅوک چې په کامله توګه دین ته تابع شو، زړه یې صفا شو،دزړه په مرکز باندې کار وکړي بیا رب تعالی دغسې استعداد په هر انسان کې ایښی بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له دغه انسان څخه یو کامل اوغوره انسان جوړوي بیا دا انسان تکلیفونه هم برداشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې ورته اسانه کړي ، دغه ډول انسان بیاپه شرعي حکمونو خونداخلي خوپه دې هرڅوک پوهیږي هم نه چې څوک دحال او راز څښتن وي هغه بیادېرزیات پرې پوهیږي.

خو یوصورت دایمان ده هغه داسې چې موږ په خوله کلمه وایو په زړه کې هم دکلمې په معنا اومفهوم تصدیق کوو ،لمونځ کوو،روژه نیسونور ظاهري اعمال کوو اوحقیقت دایمان دادی چې هرشی به دې دشریعت تابع وي : نویواځې په صورت بانډې باید موږ اوتاسې اکتفی ونکړو. چې لمونځ کوم اوروژه نیسم .هغه طرف ته اخلاص شته اوکه نشته ،زموږ په زړونو کې دالله تعالی سره محبت شته اوکنه،له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مو مینه شته اوکنه؛نو یوازې په فرضونواوواجباتوترسره کولو کار نه کیږي ترڅوچې مو له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اوله رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مینه اومحبت پیداشوی نه وي.

خوڅوک چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته محبوب شي لکه مخکې موداسې چې وویل نوملایکې یې هم محبوب ګڼي ،انسانان یې هم محبوب ګڼي. تاسې به ډېر لیدلې اواوریدلي ري چې ډېر خلک ډېر پخوا وفات شوي دي ،سره له دې چې نه یې چاته قوم معلوم وي ،نه یې موراوپلار معلوم وي خوبیا هم ډېر زیات خلک یې زیارت ته ور روان وي دنیکانو،بزګانو اولیاءکرامو،علماءکرامو شهداؤاوموږپلارزیارت کول اودهغوی قبرونو ته به شرعي طریقه

ورتلل دادشریعت مطهره له پلوه جائز اوثابت دي چې ددې به مستقل بحث راشي.

اصل خبره دادچې هغه انسان چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته تابع ؤاووس نشته سره له هغه هم چې خلک دده زیارت ته راځي نوځکه رب تعالی هم دا اثر پکې ایښی چې څوسوه کاله وروسته خلک په دې هیله ورځې چې ګوندې دده په برکت سره الله تعالی زموږ سوالونه قبول کړي که څه هم دټولو معاملاتوحل کوونکې

خدای پاک دی خودغه دنیاخودوسایلوځای دی نوخلک دنیکانواواولیاءکراموزیارتونوته هم په دی نیت ورځي زمامعلات خوبه الله تعالی حل کوي خوزه بدعمله یم دغه نیکان او

صالحان خدای پاک ته وسیله کوم که نه په دنیاخو ډېروابادواوبادشاهانوزیارتونه شتون لري سره له هغه هم ددنیادارو زیارتوته خلک نه ورځي ؛خو دولي ،شهید اودالله د دوستانو زیارت ته خلک ورځي ځکه دهغه هریوه له خدای پاک سره تړاؤاوتعلق یې نوالله تعالی ددوی په ذریعه بیادسړی کارونه هم جوړوي.

حضرت ابي ایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روم په قسطنطنیه کې شهید شوی خوصحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به ورتلل ،دی به یې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته وسیله ګرځاواوله رب تعالی نه به یې دده په برکت دمرضونو شفا غوښتله اوبارانونه به یې غوښتل اوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به ددوی حاجتونه پوره کول. [تفسیر مظهري ج:۱۰ص:۲۱۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ چې په ( خرتنګ ) کې وفات شوی ،علماء کرام به ورتلل اوحاجتونه به یې دده په واسطه غوښتل ،بارانونه به یې دده په واسطه غوښتل اوقبلیدل به.

بخاري شریف دبدرینو تومونه مبارکین رانقل کړي اوپه حاشیه کې ورسره لیکي چې څوک ددوی نومونه تلاوت کړي وروسته دهغه نه دعا وغواړي نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دهغه دعا قبوله کړي. [صحیح البخاري ج: ۲/ ص: ۵۷۴ باب تسمیة من سمی من اهل بدرِ حاشیه / ۴ کذا فی الکرماني واللمعات]

علماءلیکي د دبدرینو نومونه چې دهرمشکل له پاره ولوستل شي هغه مشکل به یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ور حل کړي.

امام سفیان ابن عیینه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي: عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ» ترجمه: دنیکانو دیادولو په وجه دخدای پاک رحمت نازلیږي. [عقود الجمان ص: ۳۹، کمافی مسائل الامام احمدلابی داود ص: ۲۹۲]

امام النووي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې څوک دنیکو خلکو مجلس یادونه اوتذکره کوي نوپه هغه ځای باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحمتونه نازلیږي.

نودې ټولو وجه دادی چې رب تعالی ته دوی ګران شي چې د دوی په واسطه رب تعالی ته بیا سړی ورنږدې کیږي ،د دوی دعا ،د دوی سپارش بیا رب تعالی نه رد وي.

صاحب مرقات لیکي چې څوک دنیکو خلکو دقبرو په څنګ کې دعا وکړي ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې ددې نیکوخلکو په برکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلوي ؛ خوددې خبرو به لحاظ کوي چې بې حیا یي به نه وي،بې ستري به نوي،ناروا خبرې به نوي،طوافونه به نه کوي ،سجدې به نه ورته کوي

نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له موږ نه حقیقت دایمان غواړي اوحقیقت دایمان دادی چې دشریعت تابع شو اوهرکله چې دشریعت تابع شو بیا اخلاص اومحبت هم پیداکیږي بیا دا انسان رب تعالی ته دومره نږدې اوګران شي چې په دنیاکې هم درب تعالی سره خبرې کوي ،په قبر کې هم خبرې کوي ،په قیامت کې خوبه دټولو انسانانو سره مخامخ خبرې کیږي

## دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه دناز خفګان

حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ یوځل د الله تعالی دراز مقام ته روان و، نوپه لار کې یې یو سړی ولید ،سلام یې ور واچاو خوهغه د سلام ځواب ور نه کړ. خداوندمتعال له موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وکړه چې په لار کې دې څه ولیدل؟ حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په ځواب کې ورته وویل چې اې رب تعالی هو ! دتا یوبنده ؤ ،ما سلام پرې واچاو خوهغه دسلام ځواب رانکړ،ډیر کبرجن و

رب تعالی ورته وایې چې هغه کبرجن نه دی ، هغه زما نه مرور دی. حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وایې چې ولې له تانه مرور دی ؟ داخرنګه انسان دی ؟تاخوله ټولومخلوقاتو سره بې ساري ښه کړي هیڅوک هم دمرورتیا اوخپګان حق نلري خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایې چې ددې سړي پنځه سوه کاله عمر دی او په ټول عمر کې یې یوه ګناه هم نه ده کړې خو داخوشپې کېږي چې دی ماته سوال کوي هغه زه نه قبلوم، نوځکه رانه مرور دی

حضرت موسی عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ ورته وایې چې اې رب تعالی! چې دا انسان دتا دومره نیک بنده دی چې په داپنځه سوه کاله عمر کې یې یوه ګناه هم نه ده کړې، دتا هرحکم ته یې غاړه اینبې ؛نو دا یوسوال خو یې ته هم قبول کړه. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وایې چې ته خو دسوال پوښتنه راځخه وکړه چې دی څه ډول سوال کوي ؟

حضرت موسی عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ دسوال پوښتنه ورته وکړه. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وایې چې دی دا سوال کوي چې ای رب تعالی ! زما بدن دومره غټ کړه چې ټول جنهم په ماډک شي اوبل مسلمان جهنم ته لاړ نه شي داهم داخلاص یولوی مقام دی چې خپل ځان په اورسوځوي خوچې نورمسلمانانوژغورل شي

نوموسی عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ وایې چې رب تعالی ویلي چې دا سوال یې زه څرنګه قبول کړم

ګوره دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بنده دی اوله الله تعالی نه مرور دی ورونو ! دامرورتوب نه دی دا دوست په دوست ناز کوي په دې باریکوخبروهرڅوک نه پوهیږي له همدې وجې ځینې انسانان په ځینوعلماوواومشایخوپسې خبرې کوي چې یاره تن چې دفلانکې عالم ،شیخ اوبزرګ په کتاب کې داسې خبره ولیدله اوځینې نوي اوعصري خلک خودخرافاتونسبت هم ورته کوي اوپه حقیقت کې خودالوستونکي اومطالعه کوونکې نه پرې پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نیکو خلکو په قبرکې له ملائکو سره مباحثه

په قبرکې یوولي دفن کوي اوبل ولي ته یې خداوندمتعال حال معلوموي چې ملائکې دسوال اوځواب له پاره ورته راغلې ،پوښتنه ورنه کوي چې : من ربک ؟رب دې څوک دی ؟ دچابنده یې ؟ دا ولي ورته وایې چې له ماڅخه پوښتنه مه کوه ورشه له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه پوښتنه وکړه چې هغه ماڅه بولي ؟ که زه زر واري وړایم چې زه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بنده یم خوچې الله تعالی مې بندګي قبوله نکړي او ووایې چې بنده مې نه یې ماته څه فائده رسوي چې زه ووایم چې زه دالله تعالی بنده یم داخبره خوبه مات ،هلته فایده رسوي چې رب تعالی مې بندګي قبوله کړي ،غلامي مې قبوله کړي اوغلامي مې ومني. [ تذکرة الاولیاء،مخ:۵۴ ]

انسان ډیر لوي قیمتي شی ده، انسان له ملائکو ،پیریانو بلکې له ټولوشیانو څخه الله تعالی ته زیات محبوب دی ، خوچې انسان دشریعت تابع شي اوهغه دانسانیت مرتبه اومقام له لاسه ورنکړي، بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته دومره نږدې کیږي چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددله ځنی اندامونوڅخه په خپل ځان تعبیر کوي چې زه ددغه انسان سترګې شم ،زه ددغه انسان لاسونه شم ،زه یې پښې شم.

په حدیث مبارک کې راځي چې دقیامت په ورځ به انسان ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ووایې چې زه مریض وم ،تازما پوښتنه ولې ونکړه،دی به ورته ووایې چې ای خدایه ! ته څنګه مریض کیږې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا خو جسم نه لرلو، چې زه ستا پوښتنې ته درغلی وای. خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به ورته وایې چې زما فلانکی دوست مریض و، ته دهغه پوښتنې ته نه وې ورغلی، که ورغلی وای نو زه به دې هلته پیدا کړی وای.

خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به دې انسان ته وایې چې ای بنده زه وږی وم، تا ډوډۍ ولې رانکړه. دی به ورته وایې چې ای رب تعالی! ته خو نه وږېږې. وایې زما فلانکی دوست له تا نه ډوډۍ وغوښتله که دې ورکړې وای نو زما رضا به موندلې وای. بیا ورته وایې چې زه تږی وم ما ته دې اوبه رانکړې. دی به بیا ورته وایې چې ته خو نه تږېږې. خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به ورته وایې چې زما فلانکی دوست تږی وو که تا هغه ته اوبه ورکړې وای زما رضا به دې میندلې وه. [انوارالمجالس ج ۱ / ص: ۴۱/۴۲. بحواله تفسیر المظهري ج ۱ ص ۵۰/ مسلم رقم الحدیث: (۲۵۶۹)]

ګورئ ورونو! انسان دومره عزتمند شو، رب تعالی ته دومره نږدې شو، چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په خپل ځان تعبیر ورنه کوي دومره لوی مقام خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته ورکوي چې بل هیڅا ته یې نه دی ورکړی. ډېر انسانان خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په ژوند باندې جنت ته داخل کړي لکه د پیغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ژوندته چې وګورو هغوی په ژوند باندې رب تعالی جنت ته داخل کړي، د زنکدن په وخت کې یې جنت په سترګو ورلیدلی، دومره غټ مقام رب تعالی انسان ته ورکړی خو چې انسان دانسانیت مقام اومرتبه وپیژني دالله تعالی او دهغه خواږه پیغمبرتګلاره غوره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرض دادی چې له مسلمانانوڅخه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دایمان حقیقت غواړي اودایمان حقیقت چې یو وار په چاکې موجود شو بیا به درب تعالی تجلیات دده په وجود کې ښکاره کیږي بیا به په خپله سینه کې الهي انوار ویني بیا به په خپل خوراک کې انوار ویني بیابه یې ټول کارونه دستاینې وړ وي

## حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ ته د حلالې نفقې له وجې په یوه شپه د ډیرو مسائلو داستنباط لاره پرانستل کیږي

حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په رئیس الاولیاء باندې مشهور و یوځل دحضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ سره میلمه شو نو ډیر په تلوار یې خوراک کاوه اوډیرې لویې لویې ګولې یې کولې دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ شاګردانو ته په زړه کې شک ورپیداشو چې حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ خو په خلکو کې په رئیس الاولیاء سره مشهور دی او دالله دوستان خو دومره زیات خوراک نه کوي اوده خو دومره زیات خوراک وکړ.

خیر شپه شوه نو حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ ته یې د اوداسه له پاره اوبه کیښودې چې که تهجد کوي. سهار چې کله راپورته شو نوهغه اوبه همداسې پاتې دي اودس یې نه دی ورباندې کړی ؛نو دوی وویل چې داڅنګه ولي دی چې دشپې تهجد هم نه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ددې له پاره له دنه پوښتنه کوي چې ترڅو دخپلو شاګردانو شک ختم شي. نوورته وايي چې حضرت! بيګا شپه دې ډېر زيات خوراک وکړ؟ دی ورته وايي چې په رښتيا چې نن شپه مې ډېر زيات خوراک وکړ؛خو دا خوراک ديوې شپې نه و،بلکې ديوې جُمعې خوراک مې وکړ،ځکه چې په خوراک کې مې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ انوارات وليدل. پاکه نفقه وه،ددې وجې نه مې ډېره وخوړله چې زما دبدن غذا پاکه شي اوپه دې غذا باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ عبادت وکړم. يوه جُمعه بيا نور خوراک نه کوم اوددې پاکې غذا داسې اثر ووچې ټوله شپه مې خوب نه دی کړی اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عبادت مشغول وم. اود سلهاوو مسائلو استنباط مې وکړ. نوکله چې په چا کې دايمان حقيقت موجود شي بيا په هرشي کې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ انوار ويني.

له حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ثريد (په شوروا کې ميده شوې مړۍ) را وړل شوه، ده مبارک وويل دغه مړۍ تسبيح وايي، صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړ ايا ته يې په تسبيح پوهيږې ؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : هو! بيا يې وويل کاسه دغه سړي ته ورنږدې کړئ ، چې ورنږدې مو کړه هغه هم وويل چې هو! تسبيح وايي ، بيا يې دوه نورو کسانو ته ورنږدې کړه هغه دواړو هم وويل چې هو! تسبيح وايي. [جامع المعجزات ص: ۳۲۲ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۵) مجلس

## دآدب بیان

قال الله تعالی:

اعوذبالله من الشیطان الرجیم

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرْفَعُوٓاْ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِىِّ وَلَا تَجْهَرُواْ لَهُۥ بِٱلْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَٰلُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿٢﴾ ﴾

ژباړه: اې هغو کسانوچې ایمان مو راوړی، مه پورته کوی آوازونه خپل برسیره په آواز دپیغمبر او په لوړه (او چته) مه پورته کوی ده لره آواز په خبرو کې لکه په لوړ (اوچت) آواز خبري دځینو دتاسو له ځینو نورو سره، له جهته د ویري د دي چې ضایع به شي عملونه دتاسې او تاسې به پرې خبر نه وی.

څرنګه چې قرآنکریم یو جامع کتاب دی نوپه دې کې د ژوند دتیرولو طریقې او اداب هم ذکر شوي نو ځکله له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره دصحابه کرامو د زندګي په هکله خداوندمتعال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فرمايي چې دوی ته ادب ورښيه چې تاسې دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دارنګه زندګي کوئ.

## دظاهر او باطن دصفايي له پاره شرطونه

غرض داچې په تصوف سره دظاهر او باطن صفايي راځي، لکن په څو شرطو سره:

اول شرط: داچې له کامل شيخ سره بيعت وکړي، خو په شيخ کامل کې به لاندې ياد شوي څلور شرطونه موجود وي.

۱- داچې عالم به وي په فرض عينو لکه اعتقاديات موافق له عقيدې د اهل السنت والجماعت سره او هغه احکام چې دی ورباندې مبتلاء ده لکه لمونځ، روژه او زکات که غني و او نور معاملات که تاجر ؤ.

۲- داچې عارف بالله به وي، يعنې مرشد به داهل السنت والجماعت دعقيدې خاوند وي. او داشاهدي به په زړه اوروح سره ورکوي چې الله تعالى يو ده په ذات کې او هم په صفاتو کې او يو ده په افعالو کې نه په ذات کې شريک لري او نه په صفاتو کې نه په افعالو کې.

۳- داچې شيخ به عالم وي په طريقه دتزکيې دنفس او په تربيه دنفس، نو ده به دخپل نفس تزکيه ديوه کامل شيخ په لاس کړې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په مرضو د نفس او وسوسو د شیطان به خبر دار وي او په علاج به يې پوه وي.

۴- داچې دی به د شیخ له لورې مأذون وي په تربیه د مریدانو.

دوهم شرط: داچې مرید به د خپل شیخ سره ډیر په ادب او احترام سره وخت تیر وي خو اداب دوه قسمه دي. ۱- اداب باطني ۲- اداب ظاهري.

### باطنی اداب په لاندې ډول دي:

۱- تسلیم او اطاعت تامه خپل شیخ ته په ټولو اوامرو او نصیحتونو کې.

۲- له اعتراض او ګوت نیوونې نه ځان ساتل په خپل شیخ باندې په طریقه د تربیې دده کې. علامه ابن حجر هیثمي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: څوک چې په خپل شیخ اعتراضونه کړي دا دده د محرومي علامه ده. او که دده په خیال د شیخ نه کوم داسې عمل صادر شو چې د شریعت خلاف و. نو اول دې خپله د هغه عمل له پاره کوم شرعي تاویل و غواړي که ده پیدا نه کړ نو بیا دې د شیخ نه په ډیر ادب پوښتنه وکړي ، چې صاحبه! که زما څخه داسې یو عمل صادر شي نو علاج یې څه دی ؟

۳- په خپل شیخ به کامل اعتقاد لري چې زما شیخ په ارشاد او تربیه د مریدانو کې د پوره کمال څښتن ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د خپل شيخ په صحبت کې به پوره صادق او مخلص وي .

۵- د خپل شيخ عظمت او احترام به د تل له پاره کوي. ځکه علامه ابراهيم بن شيبان رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: مَنْ تَرَکَ حُرْمَةُ الْمَشَائِخِ أُبْتُلِيَ بِالدَّعَاوِی الْكَاذِبَةِ وَ أُفْتضِحَ بِهَا [ طبقات صوفيه ص: ۴۰۵ ]

علامه ابرا هيم ابن شيبان رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: څوک چې د خپل شيخ احترام او تعظيم پرېږدي هغه به په دروغجنو د عواګانو مبتلا شي او رسوا به شي.

او شيخ عبد القادر جيلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: من وقع فی عرض ولی ابتلاه الله بموت القلب ) [ مدارج السلوک ص: ۱۲ ] يعني څوک چې د يوه ولي په بې حرمتي کې واقع شو الله تعالی به دده زړه مړ کړي.

۶- داچې مريد به د خپل شيخ سره کامل محبت لري خو داسې محبت چې خپل شيخ به تر نورو مشائخو کم نه بولي او داسې نه چې خپل شيخ د بشريت نه فوق او يا يې معصوم بولي، بلکې د شريعت د لارښوونې سره سم به له خپل مرشد سره مينه او محبت لري.

۷- دا چې مريد به د خپل شيخ نه سوا د بل شيخ په لټه کې نه وي. ځکه چې بيا د زړه محبت تقسيمېږي په مابين د شيخينو کې او دا داسې مثال لري لکه يو مريض چې په يوه وخت کې د دوو طبيبانو څخه علاج کوي او دوه ډوله نسخې استعمالوي او عاقبت يې دا دی چې اخير حيران شي چې زما علاج کوم طبيب وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ظاهري اداب په لاندې ډول دي

۱- دا چې مريد به موافقت کوي له خپل شيخ سره په امر او نهی کې ، يعنې مريد به د خپل مرشد حکم که امر وي او که منعه داسې مني لکه مريض چې د طبيب حکم مني د دوايي د استعمال په هکله او پرهيز د ضرر ناکو شيانو څخه ده د غه شان مريد به د خپل شيخ حکم مني چې د وام د ذکر ده او خان به ساتي له گناهونو نه

۲- دا چې مريد به د خپل شيخ په مجلس کې په ډير وقار او احترام ناست وي. نه به تکيه کوي نه به بې موجبه خاندي نه به ويده کيږي. نه به په زوره خبرې کوي. او نه به بې اجازې خبرې کوي. لکه دسورة حجرات په اول کې چې رب کريم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په هکله داداب طريقه بيان کړې ده او دغه شان دمرشد د مصروفياتو او ارام خيال به ساتي.

امام غزالي رحمه الله فرمايي :چې ادب دمريدانو له خپلو مشايخو سره دصوفيه کرامو په نزدله مهمو ادابو څخه دي او پدې کې په حضوراکرم صلی الله علیه وسلم پسې اقتداده

الله تعالی فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١﴾﴾ [سورة: الحجرات آيت ۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : اې مؤمنانو! مه وړاندې کوئ مفکورې خپلې په مخکې له صدوره داوامرو دالله تعالی او درسول دهغه ، بلکې انتظار کوئ اوامرو دهغوی لره . وویریږئ له الله تعالی نه هر وخت الله تعالی او ریدونکی او ښه پوه دی .

د ﴿لَا تُقَدِّمُوْا﴾ په تفسیر کې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وایي : چې تاسې دده په مخ کې خبرې مه کوئ .

وروی ابو الدرداء قال : کنت امشی امام ابی بکر ، فقال لی رسول الله صلی الله علیه وسلم :( تَمْشِي أَمَامَ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ )

ترجمه : حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمایي : زه له حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه نه مخکې روان وم رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل ایا ته له هغه چا نه مخکې ځې چې هغه له تانه په دنیا او اخیرت کې غوره دی .

او ځینې علماء ددې قول دالله تعالی : ﴿ یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَيِ اللهِ وَرَسُوْلِهِ ﴾ مقصد داسې بیانوي: لَا تَطْلُبُوا مَنْزِلَةً وَرَاءَ مَنْزِلَتِهِ، وَهَذَا مِنْ مَحَاسِنِ الْآدَابِ وَأَعَزِّهَا [ احیاء علوم الدین ج ۵ ص: ۲۶۴ ]

یعنې مرید به دشیخ له مقام نه فوق مقام نه غواړي او دغه له هغو لویو او ښو ادابو څخه ده . چې مرید به له ځان سره هم ددې خبرې سوچ نه کوي چې زما مرتبه دې له شیخ څخه لوړه وي ، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه له پاره به دخير او سلامتيا دعاوې کوي چې په دې کې دمريد دنيوي او اخروي ګټه ده .

حضرت السرى رَحِمَهُ اللهُ وايي: حُسْنُ الْاَدَبِ تَرْجُمَانُ الْعَقْلِ ) ترجمه ښه ادب دعقل ترجمان ده . [ احياء علوم الدين ج ۵ ص: ۲۶۶ ]

او ابو عبدالله ابن حنيف رَحِمَهُ اللهُ وايي: رويم راته وويل: اې زوى کيه ! عمل دي دمالګې په انداز که او ادب دي دوړو په انداز کړه اوځينې علماوو ويلي: اَلتَّصَوُّفُ كُلُّهُ اَدَبٌ ، لِكُلِّ حَالٍ اَدَبٌ ، وَلِكُلِّ مُقَامٍ اَدَبٌ ، فَمَنْ يَلْزِمُ الْاَدَبُ يَبْلُغُ مَبْلَغَ الرِّجَال وَمَنْ حَرَمَ الْاَدَبَ فَهُوَ بَعِيْدٌ مِنْ حَيْثُ يَظُنُّ الْقُرْبُ وَمَرْدُوْدٌ مِنْ حَيْثُ يَرْجُوْا الْقَبُوْل .

ترجمه: تصوف ټول ادب دی هر حال لره ادب هر مقام لره ادب چاچې په ځان ادب لازم وګرځاو نو هغه به داولياوو مقام ته ورسيږي او چاچې له ادب نه ځان محروم کړ نو هغه ځان لرې کړ له هغه حيثيته چې ګمان يې دقرب کيده او مردود شو له هغه حيثيته چې اميد يې دقبولي کيده . [ احياء علوم الدين ج ۵ ص: ۲۶۶ ]

اوبل ادب چې خداى پاک په قرآن کريم کې بيان کړى هغه دحضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کراموته داقول دالله تعالى ده: لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ ﴾ (سورة الحجرات)

ترجمه: تاسې درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ کې په زوره زوره مه غږيږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حضرت سهل رضي الله عنه ددې ايت په تفسير کې داسې وايي: لَا تُخَاطِبُوهُ إِلَّا مُسْتَفْهِمِيْنَ ، وَقَالَ أَبُوبَكْرُ بْنُ طَاهِرٍ: لَا تَبْدُؤُوهُ بِالْخِطَابِ وَلَا تُجِيبُوهُ إِلَّا عَلَى حُدُودِ الْحُرْمَةِ )

حضرت ثابت بن قيس ابن شماس رضي الله عنه يو صحابي دی خپل طبعي اواز ډېر لوړ و ، کله يې چې دغه آيت مبارک واوريده نو په کورکې کيناست او په زوره ،زوره يې ژړل چې زما خوطبعي غږ لوړ دی ،قصدا بې ادبي نه کوم ،داسې نه چې زما ټول مخکې عملونه ضايع شوي وي . ترڅو شپو پورې يې ژړل ،تر دې پورې چې دکور دروازه يې په ځان پسې بنده کړه ،بهر نه راووت.

نبي کريم صلی الله علیه وسلم پرې خبر شو بيا يې دی راوغوښت او پوښتنه يې ځينې وکړه چې داڅو ورځې ولې نه معلومېږې؟

حضرت ثابت بن قيس رضي الله عنه ورته وايي چې کله داآيت نازل شوی چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په مخکې به په زوره خبرې نه کوئ ،کنه ټول اعمال به مو ضائع شي . تاسو ته معلوم دی چې زما غږ ډېرلوړ دی نو داسې نه چې زما دلوړو خبرو له وجې نه تاسو( نبي کريم صلی الله علیه وسلم) ته ضرر او تکليف ورسيږي او ټول عمل مې ضائع شي.

نبي کريم صلی الله علیه وسلم ورته ووېل چې نه ، ته دهغو خلکو له جملې څخه نه يې . نبي کريم صلی الله علیه وسلم ددې خای چې هغه خپه او نا اميده شي زيری ورکړچې : ﴿ ان تکون حياتك محمودا ان تعيش حميدا وان تموت شهيدا وتدخل الجنت ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: دتا زندګي به نیکه وي صفت کړې شوې به وي.اوبنه ژوند به تیروې اومرګ به دې دشهادت وي اوبیا به جنت ته داخلیږې.

حضرت ثابت بن قیس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ددې یو آیت مبارک په وجه چې ده عمل پرې وکړ،ددې ادب درعایت په خاطر خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درې بشارتونه ورکړل.

همدغه زیرې اوبشارتونه دده په حق خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رښتیا کړل کله چې دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په زمانه کې دمسیلمة الکذاب سره جنګ شروع شو نو صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په اول سرکې شکست وخوړ؛نو دغه ثابت بن قیص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوحضرت ابورافع رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دواړو وویل چې دنبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې خو موږ داسې جنګونه نه کول چې په شاه به راتلو نودواړه دجنګ لومړۍ کرښې ته ولاړل اوهلته یې مورچلې جوړې کړې اوترهغه وخته جنګیدل ترڅو چې دواړه شهیدان شول.

کله چې شهیدشو زغره یې (دبشري صفاتوپه تقاضا) یو صحابي ورنه واخیسته؛ نوله شهادت نه وروسته یوصحابي مبارک دجنګ قومندان حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ورغی اوورته ویې ویل چې ماداسې خوب لیدلی چې حضرت ثابت بن قیس راته وایې چې زما دوه زغرې فلانکي سړې واخیستلې اوبه فلانکي ځای کې یې دکټوې لاندې ایښې ده حضرت خالد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ووایه چې هغه ورنه واخلي اوزما ورثه ؤ ته یې ورورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوحضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ووایه چې دفلاني اوفلاني سړي په ماباندې دومره قرضه ده هغه ورکړه . اوزما فلانکی فلانکې غلامان دي هغه د ې ماله طرف نه آزاد کړه .

دې صحابي مبارک کله چې حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته خوب ووېلې نوسمدستې دواړو دهغه په عملي کولو باندې پیل وکړ. حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه ځای ته ورغی اوهغه زغرې یې را واخیستلې اودده ورثه و ته یې ورکړې او حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دده قرضې خلاصې کړې. اوهغه غلامان یې هم آزاد کړل.

دا ټول دهغه آدب نتیجه اوثمره وه چې دده له مرګ نه وروسته دده په وصیت باندې دواړو عمل وکړ.

﴿وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ... ﴿٢﴾﴾ (سورة الحجرات)

اى لا تغلظوا له فى الخطاب ولا تنادوه باسمه : يامحمد ، يا أحمد ، كما ينادى بعضكم بعضاً ولكن فخموه واحترموه وقولوا له : يانبى الله يا رسول الله . ومن هذا القبيل يكون خطاب المريد مع الشيخ ، واذا سكن الوقار القلب علم اللسان كيفية الخطاب.[احياء علوم الدين ج ۵ ص: ۲۶۶]

اوابو عثمان رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي : چې له اکابرو سره ادب او دمشایخو په مجلسو کې ادب کول سړي ته په دنیا او اخیرت کې لوړې درجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریه برخه کوي. ته نه ګوري دي قول د الله تعالی ته: ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ... ﴿٥﴾﴾ (سورة الحجرات)

ترجمه: که چیري دوی صبر کړی وای چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وروتلی وای دا به ددوی له پاره غوره خبره وه.

په دي کې دتأدیب طریقه وربښودل دي. دمرید له پاره له خپل شیخ سره چې تلوار به نه کوي صبر به ورته کوي چې هغه دخپل خلوت له ځاي څخه راووزي او تر څو دهغه معمولات زیانمن نشي چې دابیا کېدای شي دمرید له پاره په نقصان تمام شي.

[احیاء علوم الدین ج ۵ ص: ۲۶۷]

۳- دا چې مرید به د خپل شیخ په خدمت کې په قدر د امکان کوشش کوي د عربي مقوله ده: (مَنْ خَدَمَ خُدِمَ) او سالک هم وایي:

**هر که خدمت کرد او مخدوم شد**

**هر که خود را دید او محروم شد**

۴- ادب داده چې مرید به دخپل شیخ په مخ کې دخان له پاره جای نماز نه اچوي، مګر دلمانځه په وخت کې، ځکه دمرید شان داده چې دی به دخپل شیخ په خدمت کې منتظر وي اوپه جای نماز اوارولو کې اشاره ده خپل استراحت او عزت لره. او دشیخ په مخ کې به بې ځایه حرکتونه نه کوي، بلکې په ارام به ناست وي اودشیخ مخ ته به ګوري. [احیاء علوم الدین ج ۵ ص: ۲۶۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- دا چې مرید به د خپل شیخ په صحبتو او مجلسو کې د هر شرکت کوي او که لرې وي نو په قدر د طاقت د ې شرکت کوي ، ځکه چې صوفیه کرامو د سیر او سلوک د کامیابي او ترقی بنیاد په دریو اصولو بنا کړی. ۱- اجتماع ۲- استماع ۳- اتباع.

اول دا چې مرید به د خپل شیخ په محبت کې ځان فاني کوي، ځکه (مرید) د اسم فاعل صیغه ده له باب د افعال څخه ده او د باب افعال یوه خاصه د سلب ده نو مرید به ځان د شیخ په ادب او محبت کې سلب کوي.

قاضي ثناء الله پاني پتي رَحِمَهُ الله د ولایت د حصول دوه عمده اسباب داسې بیانوي:

۱- کثرة ملازمة مع المحبّة و الانقیاد: یعنې ډیره ناسته له خپل شیخ سره خو په محبت او اخلاص او حکم منلو سره.

۲- دوام ذکر. غرض دا چې د مرید ډیره ترقي په صحبت د شیخ سره راځي او اهمیت د صحبت د قران عظیم الشان او احادیث نبویه و او د علماوو له اقوالو نه هم ثابتیږي.

نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هر څه آداب ښودلی دی که موږ د دغو آدابو رعایت وکړو بیا به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ زموږ هرڅه برابر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۶) مجلس

## داولیاء کرامو کرامات او واقعات

ددې له پاره چې له دین اودینداري سره دانسان شوق پیداشي باید داولیاوو اوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوستانو واقعات وګوري اویا یې واوري څکه چې ددوی په واقعاتوکې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دا اثر ایښی چې دسړي ددین اودینداري لوري ته سوق کوي شوق یې پیداکېږي اودیني احکامو ته یې لا زیاته توجه پیداکېږي.

په دین کې الله تعالی څومره عزت ایښی ؟ ددغه دین په برکت سره انسان ته څومره مقامات او مرتبې ور په نصیب کېږي ؟

## حضرت سفینه رضی الله عنه ته زمری لارورښیي او دده ساتنه هم کوي

کـه څـوک دخـدای جَلَّ جَلَالُهُ او خـواږه پیغمبـر حضـرت محمـد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاره غـوره کـړي نـو دانبیـاء کرامـو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ څخـه را وروسته دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ زندګي مطالعه کړئ ! داسې صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم تیر شوي دي لکه حضرت سفینه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې زمري یې ساتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبی کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ له غلام حضرت سفینه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: زه په کیشتی کې سپور شوم هغه ماته شوه ،نو په یوه توټه ( دلرګي په تخته ) باندې سپور شوم نو د دیارب غاړي ته دهغې تختې په ذریعه ورسیدم ، یو زمری راسره مخامخ شو ورته ومې ویل :اې ابو الحارث ! زه سفینه درسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ غلام یم نو سرېې راته ټیټ کړ او په ځنګ راسره روان شو زما دفاع یې له حیواناتو کوله تردې چې عامې لارې ته یې سیخ کړم، نو له هغه نه وروسته یې ( هَمْهَمْ ) یعنې زګروی کاوه دامې ورنه وفهموله چې خدای پاماني رانه اخلي. [جامع کرامات الاولیاء/ ج ۱ص: ۱۱۶]

دا زمری اووحشي چې دانسان دښمن دی ، کله یې چې دا نومونه واوریدل چې زه د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ غلام یم اوزما نه ملګري ورک شوي دي ;نو لکه دانسان هغه خپل کورنی سپی ، راغی اوپه پښو کې یې ورته رغړي دعاجزي ، انس اوالفت سلسله (لړۍ) یې شروع کړه اوبیا یې په ځنګ کې منډې کړې چې په کوم طرف باندې مجاهدین تللي وو ،دازمری ورسره روان شو اوده ته یې رهنمایي او لار ښوونه کوله اویو طرف بل طرف ته ګوري چې درسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ غلام ده څوک ضرر ورته ونه رسوي ترهغه دا زمری نوکرې ورسره کوله ترڅویې چې حضرت سفینه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلو ملګرو ته ورساوه.

ددغه دین په وجه رب تعالی انسان ته حیوانات تابع کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام قشیري رَحِمَهُ اللهُ وايي: چې يوسړي قصه راته کوله ويل يې: يوځل حضرت ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ د يوباغ ساتنه (پيره) کوله زه ورغلم چې ګورم دی ويده دی او مار دنرګس ښاخه را اخيستي اوبه ده باندې (باد پکی) وهي [جامع کرامات الاولياء/ ج ۱/ ص ۳۱۲]

ګورئ مار دانسان دښمن دی ،هلاک کونکی دی :خو هغه رب تعالى ده ته دده دتابعوالي په وجه تابع کړی اوخدمت يې کوي

داسې ډېرې نمونې موجودې دي چې ددين په واسطه اوبرکت باندې رب تعالى انسان ته دومره عزت ورکړی چې حيوانات خو څه کوې چې نباتات يې هم تابع کړي دي تيږه،ونه ،زمکه داشيان شعور هم نه لري خودازمکه بيا هم دالله تعالى دوستان پيژني، دغه غرونه دالله تعالى دوستان پيژني، ددغه دين په برکت دغه زمکه اواسمانونه دغه عزتمند انسان پيژني.

## د حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وفات عرش ولړزېده

﴿ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «اهْتَزَّ العَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ» ﴾ [صحيح البخاري ج ۱/ ۵۳۶/ باب مناقب سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث: ۳۸۰۳]

ژباړه: له حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي :له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې اوريدلي ويل يې: چې دسعد ابن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مرګ باندې عرش عظيم په حرکت شو ولې په حرکت شو ؟) ياداچې هغه دده روح چې عرش عظيم طرف ته ختله دهغې له وجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ولړزېده یاداچې دده نیک اعمال اسمان طرف ته پورته کېدل هغه بندشول نو عرش عظیم په حرکت باندې راغی. یاداچې له ډېرې خوشحالي نه عرش عظیم په حرکت راغی چې ماته دالله تعالی دیودوست روح را روان ده عرش چې تر(۷) اوو اسمانو اوزمکو لوی دی ؛خوهغه لوی عرش عظیم چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دخصوصي تجلیاتو مظهر دی ،دجنت چت دی ،هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیوصحابي اودوست په وفات دومره زیات خوشحالیږي چې په حرکت راځي دا ټول ددغه دین په برکت سره چې الله تعالی دغه انسان دومره عزتمند وربانديې کړځولی.

## غره ته د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطاب او دهغه له خوا ځواب

﴿ عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَعِدَ أُحُدًا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ» ﴾

[ جامع المعجزات ص: ۳۲۴ / سنن الترمذي / ج: ۲، ص: ۲۱۱ / ابواب المناقب، مناقب عثمان بن عفان / رقم الحديث: (۳۶۹۷) / (۳۸۱۷)]

ژباړه : له حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوی ته بیا ن کړی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ورسره درې یاران ( ابوبکرصدیق ، عمرفاروق او عثمان ذی النورین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ) موجود وو داُحد غره ته وختل هغه له خوشالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حرکت راغی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: قرار شه! په تا باندې نبي، صدیق او شهیدان ولاړ دي.

﴿ عَنْ عُثْمَانَ بْنُ عَفَّانَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى ثَبِيرِ مَكَّةَ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا فَتَحَرَّكَ الجَبَلُ حَتَّى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالحَضِيضِ قَالَ: فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ وَقَالَ: «اسْكُنْ ثَبِيرُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ» الحديث ﴾

[ جامع المعجزات ص ۳۲۴ / سنن الترمذي / ج ۲/ ص ۲۱۱ / ابواب المناقب، مناقب عثمان بن عفان/ رقم الحديث (۳۷۰۲) / (۳۸۱۷)]

له حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: یوځل نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خپلو دریو یارانو حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمرفاروق او حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره یوځای په مکه مکرمه کې په (ثبیر غره)، ودریدل؛ نوهغه غرله ډیرې خوشالي نه په حرکت راغی تر دې چې تیرې یې دغره بیخ ته را ورغړیدې، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې ای ثبیره! ودریږه! په تاباندې یونبي اوبل صدیق اودوه شهیدان ولاړدي.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا له مخکې دحضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دشهادت پیشنګویي کوي. ځکه چې په جزئي مغیباتوباندې انبیاء کراماو اولیاء کرامو ته الله تعالی علم ورکوي.

نوغر هم دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوست پیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغې وجې نه کله چې رسول الله ﷺ په مکه معظمه کې دکفارو دظلم اووحشت له کبله هجرت ته مجبورشو. په کومه شپه چې ده ثبیر غره ته فناه وروره، نو (ثبیر) ورته ګویانه شو چې ای رسول الله! زمانه کوز شه! داسې نه چې کفار راشي اوبیا زما په لمن کې تاته تکلیف درکړي. نوزه به بیا دقیامت په ورځ رب تعالی ته څه ځواب ورکوم؟ بل مخامخ غر (حراء) آواز ورته کوي

﴿الیّ یارَسُوْل الله!﴾ ماته راشه اې دخدای رسوله! ،هغه غر بیا

فنا ورکوي [جامع المعجزات ص: ۳۲۴]

په هغه غارکې چې رسول الله ﷺ اوصدیق اکبر رضي الله عنه ناست دي یوه کوتره راغې دغارپه خوله کې هګۍ اچوي اوتارکبښ راغې سمدستې دغار په خوله کې ځاله جوړوي چې کفار ده ته تکلیف ورنکړي تر څو دامعلومه نه شي چې دلته څوک ننوتلي. ګوره تارکبښ څومره باریک وجود یې دی خو سره له هغه هم خداوند متعال دومره احساس ور په برخه کړی ؤ چې هغه هم د ده دوست پیژني. بل طرف ته کوتره مرغه دی خو د رسول الله ﷺ خدمت کوي. [جامع المعجزات ص: ۳۲۶]

موږ انسانان هم یو دامتیت دعوه هم لرو بیا مو داسې حال دی چې ډیری خلکو ته دده دنسب شجره مبارکه هم نده معلومه او بل لوري ته که دقومیت مسئله را وارندي شي بیا فلانکی خېل او سرخېل دغو ټول راته معلوم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توانسان ددین دتابعیت په برکت خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته نږدې کېږي اوعزتمند کېږي اوهمداشان غر، ونه، سمه اوهواره یې تول پیژني دهمدې دین په برکت دښمن ورته مسخر کوي،حیوانات، درندگان اوماران د انسان دښمنان دي خو الله تعالی یې ورته تابع کړي اودادبیعت مقصود نه دی چې زه ښه عمل وکړم چې زمری ،مار یانور شیان راته تابع شي بلکې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا مقصود دی،که چا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا له پاره کار کاوه نوبیا هغه دده معاملې ورسمه وي، بیا یې الله تعالی عزتمند گرځوي، بیایې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حفاظت په نصیب کوي

اوکه چا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا مطلوب اومقصود نه وه، نوبیا په عین لمانځه به ولاړوي عذاب به وربانديې راځي په عین زکات ،په وښلو به بوخت وي عذاب به پرې راشي بلکې دعلم په سلسله کې به لگیا وي او په عذاب اوتکلیف به وي.

دین ډېر عزتمند دی خودواړه شقوق غواړي چې هم به دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اورسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوامرو ته متوجې وي اوهم به له گناهونو څخه دځان دساتلو کوشش کوي . داځومره خلک چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوستي مقام ته رسیدلي دي هغه ددغه دین په برکت دده دوستان شوي دي اورب تعالی لوړ مقامونه هم ورپه نصیب کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبزرګانو په خپلو مریدانو نظروي

حضرت مجدد صاحب رَحِمَهُ اللهُ په اوداسه لګیا دي خادم اوبه وراچوي چې ده مبارک کوزې ته لاس کړل نو له لاس وروړلو سره یې الله اکبر نعرې کړې اوکوزه یې وشړله. دی حیران شو چې داڅه وشول نوهغه خادم ورنه پوښتنه کوي چې داڅه او ولې دې کوزه وشړله ؟ حضرت مجدد صاحب رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل چې په فلانکۍ دښته کې زما یو مرید را روان دی اوزمری ورته مخته شو اوده زما باطن ته التجا وکړه زه یې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته واسطه وګرځولم ؛نوما هغه زمری وویشت. داخادم یې وایې چې زه لیږ شکمن شوم . ډېروخت وروسته سړی راغی چې دهمغې کوزې ټوټې ور سره وې اوما پوښتنه ورنه وکړه چې داڅه دی ؟ ده راته وویل چې زه په فلانکۍ دښته کې را روان وم چې زمری راته مخته شو زما دخلاصون بله لار نه وه؛نو ما سوال وکړ چې ای خدایه ! دحضرت مجدد صاحب په واسطه ما له دغه مصیبت نه خلاص کړې نوغیبي داسې کوزه راغله زمری ورباندې ولګید ،کوزه ورباندې ماته شوه اوزمری وتښتیده اوزه له هغه مصیبت نه خلاص شوم.

نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ انسان ددین په برکت ،ددین په واسطه بیا دومره عزتمند کوي چې بیا یې تر ډېره ډېره پورې باطني تصرفات جاري وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مرګه وروسته داولیاء کرامو روحانیت حاضریدل

دحضرت مجدد صاحب رَحِمَهُ اللهُ یو مرید لیکي چې کله حضرت مجدد صاحب وفات شو دهغه نه وروسته موږ دما زدیګر په جمعه ودریدلو نودی مبارک هم راغی اوله موږ سره په جمعه ودریده زه حیران شوم چې نن مو خښ کړ جنازه مو پرې وکړه اودلته بیا له موږ سره په لمانځه ولاړ دی اوله ځان سره دا وایم چې داهسې بې تصور اوخیال دی ،نه به خطا وې ،خو چې هرڅومره ځیرشوم په رښتیا هم دی مبارک و او تراخیره پورې په لمانځه کې راسره شریک و

په مسلم شریف کې دمعراج په واقعه کې چې حضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایې چې ما انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په قبروکې لیدل چې په لمونځوباندې لګیا او مشغول ؤ

نو د تصوف په وسیله سړی حقیقي ژوندون ته رسیږي ددې له پاره چې حقیقي ژوندون شته په صورې مرګ سره هغه نه زائله کیږي. د حدیثو په رڼا کې مسلم شریف کې د معراج په واقعه کې حدیث ده له هغه څخه همداسې معلومیږي :

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ وَ قُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ فَسَأَلَتْنِي عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا فَكُرِبْتُ كُرْبَةً مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ قَطُّ قَالَ فَرَفَعَهُ اللهُ لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ مَا يَسْأَلُونِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنبَأْتُهُمْ بِهِ وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَإِذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَائِمٌ يُصَلِّي أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ فَحَانَتْ الصَّلَاةُ فَأَمَمْتُهُمْ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ الصَّلَاةِ قَالَ قَائِلٌ يَا مُحَمَّدُ هَذَا مَالِكٌ صَاحِبُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَامِ ﴾ [صحيح المسلم ج ۱ ص ۹۶]

ددغه حدیث شریف چې کومه برخه دتصوف له غایې او غرض سره تړلې هغه په داسې طریقه چې نبي کریم عَلَيْهِ السَّلَام وایي: هلته مې ځان ولید دانبیاوو په جماعت او ټولی کې، هلته مې په بیت المقدس کې موسی عَلَيْهِ السَّلَام ولید چې په لمانځه ولاړ و. دشنونه دقوم چې کوم انسانان دي له هغوی سره په وجود کې مشابه و؛ وجود یې درمیانه ؤ نه ډیر ډنګر ؤ نه ډیر مزی. وېښتان یې نه ډیر ګوڼګوټي او نه کامل ښوی و. همدا راز مې عیسی عَلَيْهِ السَّلَام ولید چې په لمانځه ولاړ و، چې دعروه ابن مسعود ثقفي په شان وجود یې ؤ او ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام مې ولید چې په لمانځه ولاړ و چې په رنګ کې زه له هغه سره مشابه یم. کله چې دجمعې وخت راغی زه انتظار وم چې څوک به جمعه راکوي، نو جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام زه له لاس څخه ونیوم مخته یې کړم امامت مې وکړ.

خو دلته اعتراض کېږي چې هغه انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَام خو له ده څخه څوزره کاله مخکې وفات شوي دي؟ له دېنه دا ځواب کېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په دین باندې حقیقي ژوندون په نصیب کړی ،هغه پدغه مرګ باندې نه مري، پس دمرګ نه هم دوی دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ عبادت کوي.

ددغه دین په سبب خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دغه انسانان دومره عزتمند کوي چې له مرګ نه وروسته هم ژوند ورپه برخه کوي.

قرانکریم هم همدغه خبره کوي ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًاۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾ یعنې تاسو هغو خلکو ته چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په لار کې شهیدان شوي دي ،مړه مه وایي بلکې دوی ژوندي دي، دوی ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رزق ورکوي.

په دنیاکې مور جنازې ورباندې کوو ،مړه ورته وایو ،مال یې ورثه تقسیم کوي ،ښځه یې بل څوک په نکاح کوي خو خدا ی پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته ژوندي ویلې اورزق ورکوي.

بل طرف ته ژوندی کافر ،په غوږوروغ ،په سترګوروغ اوژبه یې روغه ؛خوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دغه کافر ته مړ ،کوڼ ، ړونداوګونګ ویلی اوس ظاهري ژوندی دی خو خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته مړی ویلي ﴿ يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ ﴾ له مسلمان څخه کافر پیداکړي ،مسلمان ژوندی دی ،توله ژوندي نه مړ پیداشو ،سره له دې چې ښه خوراک ،چښاک کوي خوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته مړوایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي كريم صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په كفارو پورې هم زړه خوري او نصيحت ورته كوي ،خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وايې چې آيا ته مړيو ته خبرې وراوروې؟

ګورئ ژوندي كافرانو ته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ مړه وايې ځكه چې اصلي اوحقيقي ژوندون په اسلامي دين باندې راځي ،حقيقي سترګې ،غوږونه اوژبه داسلامي دين دعملي كولو په ذريعه خلاصيږي.

نوكه سړى په ديندارى لګياوي دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ په نزد ژوندى دى .له مرګ نه وروسته هم رزق وركوي ،تلاوت كوي او داسې نور نيک، نيک كارونه ترسره كوي.

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ وَهُوَ لَا يَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ، فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي ضَرَبْتُ خِبَائِي عَلَى قَبْرٍ وَأَنَا لَا أَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ، فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الْمُلْكِ حَتَّى خَتَمَهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هِيَ الْمَانِعَةُ، هِيَ الْمُنْجِيَةُ، تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ﴾

اجامع الترمذى ۱ ج ۲ ۱ فضائل القرآن فى سورة الملک ا

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دى چې دنبي كريم صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه ځينو ملګرو په يوه قبر باندې خيمه ودروله او دى وربانديې خبرنه وو چې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبر دی، نو له زمکې څخه یې د سورة المُلک (تَبارک الذی) د تلاوت آواز واورېد، نو دغه صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ورته یې وویل چې: ما په قبر باندې په ناخبرۍ کې خیمه درولې وه، نو د یوه انسان آواز مې واورېده چې د (سورة الملک) تلاوت یې کاوه، تر دې پورې چې سورت یې ختم کړ. نو حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې: دا سورت مانعه ده، دا سورت مُنجیه ده، مسلمان ته الله تعالی د دغه نومړي سورت په ذریعه د قبر له عذاب څخه نجات ورکوي.

اوس نو هغه یو صحابي د زمکې د ننه او دابل یې د باندې تلاوت اوري.

نو غرض دادی چې نن سبا ډېر مشکل داځای دی چې د دین سره تعلق نشته ؛هغه حقیقي ژوندون او هغه حقیقي سترګې نشته چې په هغه سره دین لیدل کېږي.

## داولیاوو په مجلس یو انسان له ازلي بدبختي څخه خلاصیدلی شي

حضرت سلطان محمود غزنوی صاحب دحضرت بازید بسطامي رَحِمَهُ اللهُ په هکله له حضرت ابو الحسن خرقاني رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه کوي چې دده څه واقعات راته بیان کړه. هغه ورته وایي چې حضرت بازید بسطامي رَحِمَهُ اللهُ هغه څوک دی چا چې هغه لیدلی وي نو هغه به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ازلي بدبختي نه وساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته وایې چې داځه وایې ؟ تر پیغمبر ﷺ نه هم دی پورته دی ؟ سره له دې نه چې پیغمبر ﷺ کافرانو لیدلی و خو ایمان یې نه و پرې راوړی . دازلي بدبختي څخه، نه وخلاص شوي . اوحضرت بازید بسطامي رحمه الله خو یو ولي دی اودهغه په لیدلو دی دازلي بدبختي نه څرنګه خلاصیږي .

حضرت ابو الحسن خرقاني رحمه الله ورته وایې چې (حد خود بشناس) پام کوه زیات مه غږیږه . کفارو رسول الله ﷺ په حقیقي سترګو نه و لیدلی بلکې هغه ته یې دیو یتیم په سترګو کتل ،هغوی دیو عرب په نظر ورته کتل ،هغوی دپیغمبري په صفت نه ولیدلی ،چا چې پیغمبر ﷺ دپیغمبري په صفت ولید هغودده دانوارو خوبایي ولیده،بیا یې ځان مال ،اولاد ،مور اوپلار ټول ورباندې قربان کړل ځکه چې هغودحق سترګې ورباندې خلاصې شوې ،دده خبرې یې دحق په غوږو اوریدلې ؛نو خدای پاک جل جلاله هغه خلک پدغه دین عاشقان کړه، هغه خلک بیا د رسول الله ﷺ چوکیداران و. بیا دده په مخ کې ځان ډال اوسپر جوړوي ځکه رسول الله ﷺ یې درسول په صفت باندې لیدلی او پېژندلی ؤ.

نوځکه ورته وایې چې حضرت بازید بسطامي رحمه الله هم چې څوک په حقیقي سترګو ووینې ؛نو خدای پاک جل جلاله هغه سړی دازلي بدبختي څخه ساتي . [ تذکرة الاولیا، فارسي چاپ ایران ص ۵۹۴ ]

نوچې څوک دالله تعالی تابع شي اودالله تعالی دوست شي بیا خدای پاک جل جلاله ددغه دین په برکت داسې مقام ورنصیب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوازې په لیدلو سره یې یوانسان له ازلي بدبختي څخه ژغورل کیږي.

همدارنګه حضرت نجم الدین کبرا رَحِمَهُ‌اللّٰهُ چې مخکې په [ لومړی ټوک انوارالمجالس ص ۲۳۲ ] کې یې هم مکمله واقعه تیره شوې ،دومره لوی مقام خدای پاک ورکړی و چې دجذب په حال کې یوه ورځ را ووت اوپه سپې یې سترګې ولګېدلې نوبیا به له هغه سپې څخه نور سپې راتاو اوذکر به یې کاو.

په قرانکریم کې موږ اوتاسې داصحاب کهفو واقعه اوریدلې چې کله یوڅو ځوانانو دظالم بادشاه له امله هجرت ته مجبور شول نوپه لارکې یوشپون،چې سپی هم ورسره و، ملګری شو.دوی کوشش کولو چې سپی وشړي ،ځکه داسې نه چې دده د غپیدلو په ذریعې سره خلک راباندې خبرشي ، بیا به راپسې راشي او موږ ته به زیان ورسوي؛ خوهغه سپی چې هر څومره شړي او رټي هغه نه ځي اخیر سپی ورته ګویا شو چې تاسې دکوم الله په دین هجرت کوی زه هم دهغه الله تعالی ددین په خاطر له تاسې سره ځم

بیا په قرانکریم داقیصه راځي چې دغه اصحاب کهف په یو غارکې ( ۳۰۹) کاله پراته و چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یې دڅوندیو په شان یوطرف اوبل طرف ته اړوي دا ددوی کرامت و اودغه کرامت خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددوی سپې ته هم ددوی په ذریعه ورپه نصیب کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو څوک چې دخدای پاک جَلّ جَلَالُهُ ددين تابع شي اودهغه د دين دحکمونو سره سم روان شي بيا هغه ته دومره لوړ مقام ور په نصيب کېږي چې دده په ملګرتيا سره سپي هم عزت پيداکوي.

نو مطلب داچې ټول عزت په دين کې دی، حقيقي ژوند په دين کې دی. دخدای پاک جَلّ جَلَالُهُ رضا په دين کې دی. دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضا په دين کې دی. داخرت کاميابي په دين کې دی دا دين به ټول سړی په خان عملي کوي، کوشش به کوي تر خوځپل خان، لباس بلکې هرڅه به په دين برابر وي.

يوځل صحابه کرامو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل چې موږ کله په دښتوکې روان يو، هلته نوره ابادي نه وي يواځې داهل کتابو کورونه وي نور لوښي نه پيداکيږي يواځې ددوی لوښي وي، آيا د دوی په لوښوکې موږ ته خوراک کول روا دي؟

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ځواب کې ورته وويل: اول به دنورو لوښو کوشش کوئ که پيداشو خو ښه تربنه، که نه شو پيداتوبيا به دهغودمنځلو ښه کوشش کوئ بيا به خوراک پکې کوئ. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره احتياط کوي چې د دوی په لوښوکې خوراک په وخت دنيستي دنورو لوښوکي دجواز امر نه ورکوي.

نودهغه مبارک اخلاق، خوی، عادت اودهغه لباس به په خانوکې راولو بيا به صحيح اوکامل مسلمانان جوړيږو.

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې دوه ډلې: مشرکين او اهل کتاب موجود وو. داهل کتابو عادت داو چې وينستان يې

يو طرف ته او بل طرف ته نه اچول بلکې په مخ به يې راپراته و،ل
زموږ په علاقو کې دپته ښځې وايې اومشرکينو به په منځ بيلول
رسول الله صلى الله عليه وسلم پدغو دواړو ډلو کې چې دواړه کفار د
اويوې ډلې څه ناڅه داسماني دين دعوه لرله دهغه مشرکينو څخ
يې ځان يوې خواته کړ چې اهل کتاب بيا هم داسماني دين پيروي
کوي نوله دوی سره مشابهت يوڅه ښه دی نو ويښته به يې
همدغسې پريښودل اونه به يې اړول ددې له پاره چې له مشرکينو
څخه مخالفت راشي

او بل طرف ته پکې حکمت دا و چې اهل کتاب ګوندې زما پ
مجلس کې ،زما ددين طرف ته يې رغبت پيدا شي او اسلام راوړي
:نو خدای پاک جل جلاله ورته وحې وکړه چې دابدبختان ايمان نه
راوړي اومامورشو چې ددوی نه مخالفت وکړه، بيا نبي کريم
صلى الله عليه وسلم د سرمبارک ويښتان واړول اوپه ويښتو کې يې ليکه
تيره کړه اودځنو شکل يې ورنه جوړ کړ،چې ګمنځول ،غوړول
اومينځل به يې هم اويوې اوبلې خواته به يې هم اړول .

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په ويښتانو کې هم له کفاروڅخه ځان
ساته . په لباس کې يې هم دکفارو څخه ځان ساته . په موزو کې يې
هم له کفارو څخه ځان ساته . څومره چې سړی له بې دينه خلکو
څخه لرې کېږي اوديندار ه خلکوته نږدې کېږي نو دومره زيات يې
خدای پاک جل جلاله عزتمن کوي .

الله تعالى موږ ته په قرانکريم کې سمه او ښغه طريقه په
سورت فاتحه کې راښودلې : ﴿ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ خدايه ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه اونیغه لار راوښیه. سمه لار کومه ده؟ سمه لار داده چې ﴿ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾ دهغو خلکو لار چې تاخصوصي انعام ورباندې کړی، چې صدیقین، شهداء، صالحین اواولیاء کرام دي ﴿ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ دهغو خلکو لار مه راښیه چې تا په هغو غضب اولعنتونه کړي دي. اګرکه دشان نزول په اعتبار خو دیهودو اونصاراوو په حق کې نازل دی خومفسرین لیکي چې دلته به نیت دټولو ګمراهودلو کوي

نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مونږ ته دا ښودنه کړې چې هره ورځ به ماته داسوال کوئ چې دنیکو خلکو لار وغواړئ او دبدو خلکو له لارو نه فنا وغواړئ ځکه چې عزت په دین کې دی او په دین باندې خلک په عزت کې کېږي اوخدای پاک هم راته وایي چې ددغو عزتمنو خلکو په لار روان شئ اوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ داهم راته ښودلې چې بې عزتي په بې دیني کې ده اوله بې دینه خلکو اوبې لارو خلکو څخه ځانونه وساتئ ځکه چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ غضبونه ورباندې شوي دي. نوباید چې مونږ پدغو خبرو باندې عمل وکړو ځکه اصلاح په عمل سره راځي په تشو اوریدلو سره اصلاح نه راځي. وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۷) مجلس

## د نیکو خلکو سره د تعلق ګټې

حضرت موسی علیه السلام ،چې یو جلیل القدر پیغمبر دی ،د تورات په شان لوی اسماني کتاب رب تعالی ده ته ورکړی لکن کله چې ده په یو مجلس کې په ډېره ښه طریقه سره وعظ او نصیحت وکړ؛ نو چا پوښتنه ورته وکړه چې له تا نه د زمکې په مخ بل لوی عالم شته ؟ ده ورته وویل چې نه ! ځکه د وخت پیغمبر تر ټولو خلکو لوی عالم وي . خو دده دا خبره خدای پاک جل جلاله ته خوښه نه شوه ،سمدستي خدای پاک جل جلاله وحې ورته وکړه چې تر تا نه یو بل لوی عالم زما بنده شته . په مجمع البحرین کې حضرت خضر علیه السلام یې ورته وښود .نو له موسی علیه السلام سره سمدستي د هغه د ملاقات شوق پیدا شو .پیغمبر و ؛ خو چې کله یې دا خبره واورېده چې یو بل لوی عالم شته چې هغه په ډېروشیانو علم لري چې ته په هغو علم نه لرې

نو خدای پاک جل جلاله ته یې سوال وکړ چې اې خدایه ؛ زه به هغه چیرته او څنګه پیدا کړم؟ خداوندمتعال جل جلاله ورته وایې چې یو ماهي درسره واخله . چیرته چې هغه ماهي درنه ورک شو ،دغه انسان به هلته پیدا کړې، په بعض روایاتو کې راځي کباب شوی ماهي چې نیم یې خوړلی هم و،واخیست کله چې د مجمع البحرین

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی دریابو نودیوځای کیدوځای ) خواته دیوې لویې تیرې خواته ورسیدل هلته دهغې په څنګ کې یوه چینه وه ،دهغې په اوبوکې دا اثر و چې کوم مړه شي ته به ورګډې شوې هغه مړی به بیرې ژوندی کېده ؛نوهلته دوی داستراحت له پاره دمه وکړه نودهغو اوبو څاڅکي دهغه ماهی سره ولګیدل نوهغه ماهی خدای پاک راژوندی کړ اوپه یوعجیب انداز یې اوبوته ورټوپ کړ او اوبه دسورنګ په شکل ودریدې اوماهی پکې ننوت.

قیصه ډېره اوږده ده له دېنه زما مطلب دادی چې موسی علیه السلام پیغمبر و ؛خوچې دایې واوریدل چې داسې یوبزرګ بنده شته چې هغه داسې علم لري چې ماته نشته سمدستې یې خدای جَلَّجَلَالُهُ ته سوال وکړ چې زه به څنګه له هغه سره ملاقات کوم؟

همدارنګه صحابهٔ کراماو اولیاء الله بلکې علماء کرامو به دیوه حدیث مبارک دزده کړې لپاره یوه میاشت مزلونه کول په مدینه منوره کې به یې چې واوریدل چې په شام کې یوه صحابي فلانکی حدیث نقل کړی نو شام شریف ته به یې یواځې دهغه یوحدیث لپاره سفرونه کول نودهغو خلکو سره دعلم شوق وځکه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ کمال ته ورسول.

همدارنګه پخوانیو علماءکرامو به چې کله دینداره خلک پیداکړل اویا به دیوښه عالم اوبزرګ نوم واوریده نودهغه دلیدلو او ملاقات له پاره به دهغه ځای ته ورتلل ترڅو فیض او ګټه ترینه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ذی نون مصري رحمه الله ،چې ډېر لوی شخصیت تیر شوی ،وایې چې کله زه دحج په سفر لاړم هلته دیوه یمني بزرګ نه خبر شوم چې ډېر بهترین شخصیت دی ،خدای پاک پیژندونکی انسان دی ؛نو چې دحج له ارکانو خلاص شو ،زړه مې وغوښتل چې دهغه یمني بزرګ ملاقات ته ورشم ،ددې لپاره چې زه دهغه نه څه نصیحتونه زده کړم ،هغه معرفت اوعشق چې خدای پاک جل جلاله دته ورکړی اویا هغه محبت چې له ده سره دی ،زه هم څه فایده او فیض ورنه واخلم.

نوله ماسره ددې نیک بنده دلیدلوله پاره نور خلک هم ملګري شول، په دې ملګرو کې یوځوان داسې هم و چې دده رنګ به همیشه زېړاو مصیبتونه اودردونه دده په سترګو کې ښکاریدل اوهمیشه به یې په مخ دړړا له وجې اوښکې روانې وي .په لاره به مورږ دته زاری وکړې چې ولې دومره بوج په خپل ځان راولې؟ ده به هیڅ نه ویل .کله چې یمن ته ورسیدو دهغه نیک اوبزرګ سړي ځای موپیداکړ دروازه مو ووټکوله .هغه بزرګ اوعالم له کوره راووت .کله چې دی مورږ ولید دده له مخ نه دخوف اوویرې علامې ښکاریدلې .دهغه له هیئت نه داسې معلومیده لکه چې اوس له قبر څخه راپورته شوی وي .اول یې له دغه ځوان اوبیا یې له نورو خلکوسره سترې مشي وکړه .کله چې په مجلس کې کیناستلو نودغه ځوان په خبرو شروع ور سره وکړه ځکه دی هم یوعارف اونیک بنده واو بل اهل الله چې سره یوځای شي نوپه باطن کې سره پیژني اودوی په خپل منځ کې له یوبل نه پوښتنې شروع کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودغه ځوان ورته وایې چې ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دزړونو دمرضونو معالج اوطبیب پیداکړی یې اولیاء دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه دزړونودمرض طبیبان دي ،ددوی په واسطه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دخلکو زړونه اصلاح کوي ،په زړه کې چې خراب - خراب فکرونه وي نوددغه طریقت په برکت هغه خراب نکرونه دزړه نه لرې کوي تر څو چې په زړه کې له الله تعالی سره مینه، اخلاص اومحبت پیداشي.

علماء کرام لیکي چې څوک داولیاء الله مجلس ته ورځي نو ډېر په اخلاص دې ورځي ځکه چې هغه دزړونو راز دار دي. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دانسانانو په زړونو باندې علم ورکوي اوله هرچا سره دځیل اخلاص په اندازه معامله کوي نوچې څومره په اخلاص ورځي دومره هغه انسان ته دهغه په مجلس ،زیارت اوملاقات کې ډېرې فایدې رسیږي.

نودغه ځوان ورته وویل چې ته خدای پاک دزړونو طبیب اومعالج پیداکړی یې،زما په زړه کې یوفکر،غم اودرد ده که چیرې ته زما دزړه دغم علاج وکړې.

هغه بزرګ ورته وایې چې وایه په زړه کې دې څه اشتباه او شک دی نودغه ځوان اولنی پوښتنه دا ورځخه وکړه چې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډار،ویره اوخوف له څه نه عبارت دی؟ بزرګ ورته وویل چې ددغه داعلامه دی چې څوک په واقع کې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډاریږي ؛ نودبل هیچا څخه نه ډاریږي ،په زړه کې یې یواځې دده ویره وي له مخلوق څخه نه ویریږي. اودابه یې یقین

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې هرڅه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په اختیار او قدرت کې دي له نورمخلوق نه به یې تعلق قطعه کېږي اوپه یوالله تعالی به یقین جوړېږي چې دهرڅه مالک هغه دی.

موږ چې کله کومه ګناه کوو نو له بندګانو څخه ډارېږو، چې څوک وونه وینو دهغه له ډار نه هغه ګناه نه کوو. اصل ډار اوویره له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه په کار دی چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه سړی وډارشي بیا یوه ګناه هم نشي کولای.

دوهمه پوښتنه دا ورنه کوي چې دایقین په څه معلومېږي چې زه له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډارېږم؟ بزرګ ورته ووېل چې دایقین هلته پیداکېږي چې له ګناه څخه داسې ځان وساتي لکه مریض چې دمرض په وخت کې له هغو خوراکونو څخه ځان ساتې کوم چې په ده باندې بد لګېږي.

مثلا دیو سړي زیړی دی او له غوړو شیانو څخه یې پرهیز دی ;نو دی وایې چې که ښه خوراکونه وکړم زما تکلیف نورهم زیاتېږي نو هغه ښه خوراکونه پرېږدي اوپه ترخو دوا وو باندې صبر وکړي ;نو ترخه خوراکونه خوري او ښه-ښه خوراکونه پرېږدي.

نوڅوک چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډارېږي، ده ته دایقین پیداکېږي چې زه ربښتیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډارېږم نو علامه یې دادی چې دی په دې مطمئن کېږي چې له ګناهونو داسې وډارشي اوځان وساتي لکه دمرض له ډېر والي د ویرې له وجې چې پرهیز کوي نوددې خبرې په اورېدلو سره ددغه ځوان له خولې نه چیغه ووتله اوبې هوشه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه پوښتنه دا ورڅخه کوي چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ محبت له څه نه عبارت دی؟ یوڅوک وایې چې زه له الله تعالی سره مینه اومحبت لرم ددغه څه علامه ده؟

هغه مبارک ورته وایې چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دمحبت علامه داده چې دانسان دالله تعالی سره مینه پیداشي نو بیا به په هرڅه کې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ تجلیات اوانوار ورته ښکاریږي. یعنې چې سړی په څه شي عاشق اومیئن شي نوهغه شی همیش دده په خیال کې ګرځي بل څه یې بیا په خیال کې نه راځي.

نودالله تعالی دعشق اومحبت علامه داده چې دهغه به ځان ته پام نوي ،اولاد ،ښځې اودنیا ته به یې پام نوي انوار اوتجلیات به دده باندې غالب وي همیشه به یې دالله تعالی دیدار اورضا په نظرکې وي . دالله تعالی دیدار په دنیاکې عامو انسانانو ته ناشوني دی او دپیغمبر عَلَیْهِ السَّلَامُ په دیدارکې هم اختلاف ده چې ده دمعراج په شپه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ لیدلی اوکنه.

خودامعنی چې دمحبت اوعشق دا علامه دی چې دهغو انوارو اوتجلیاتو مشاهده به دلته دومره ډېرېږي لکه دی چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په سترګووینې ،هرڅه یې دده لپاره وي، هرکار چې کوي مقصود یې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رضا وي . من اعطی لله ومنع لله ﴾ که ورکړه کوي نوهم دالله تعالی لپاره یې کوي اوکه منع کوي هم دالله تعالی لپاره یې کوي . تردې پورې چې خوراک کوي هم نوددې لپاره یې کوي چې دخداوندمتعال عبادت پرې وکړي اوکه خوب کوي هم ،نوددې لپاره یې کوي چې بیا په وینښه دخدای پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّ جَلَالُهُ عبادت په ښه طریقه سره وکړي نوداد خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ سره دعشق اومحبت علامه ده

ددې خبرې په اوریدلو سره ددغه ځوان له خولې نه بیا داسې چیغې ووتلې چې روح مبارک یې همدغلته قبض شوه اووفات شو.

نوهغه بزرګ وویل چې په رښتیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډاراودالله تعالی سره درښتونې مینې داسې مصداق ده لکه په دغه ځوان کې چې موجود ده.

نوغرض داده چې زموږ اوتاسې په دې قیصو بیانولو کې مطلوب داوي چې زه رینښتیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډاریدونکی یم نوعلامه یې بیان شوه چې سړی به دګناهونوڅخه پرهیز کوي ،سړی به دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دامر نه خلاف نه کوي اودعباداتو بندګي چې څومره تکلیفونه وي هغه به برداشت کوي خودیوڅه مقصد لپاره یې برداشت کوي دابه یې یقین وي چې زه پدغه ګرمي کې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددین په خاطر ،دالله تعالی دحکم دعملي کولو لپاره دجُمعې لمانځه ته ځم نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په هر قدم ده ته یوه نیکي ورکوي اویوه صغیره ګناه ورته معاف کوي اویوه درجه ورته لوړوي.

کله چې دکوم انسان سره له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ویره اوډار موجود شو نوهغه به لوږه،تنده،ګرمي ،ساړه اوسفر اوداسې نور تکلیفونه ټول برداشت کوي اوله ټولوخواهشاتوڅخه به ځان ساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه مريض هلته جوړيږي چې ترخه دوايې وخوري اوله بدو خوراکوځخه پرهيز وکړي.

دانسان تقوا په زړه کې دی اوداتقوی هلته قوت پيداکوي، هلته عشق اومحبت پيدا کيږي ،انسان هلته الله جَلَّ جَلَالُهُ ته رسيږي چې له ګناهونوځخه پرهيزوکړي. ددې باطني مرضونوعلاج په نسبت سره ظاهري مرضونوته ډېرمشکل دی، ځکه چې که په ظاهري مرض کې پرهيز ونه شي نودبدن تاوان يې دی، بدن ته يې نقصان رسيږي اودنيا يې خرابيږي اوکه په باطني مرضونوکې پرهيز ونه شي نوداخيرت تاوان يې دی. دقبر زندګي يې خرابيږي اخيرت يې خرابيږي ابدي زندګي يې خرابيږي اوددنيا زندګي اوددنيا نعمتونه،ددنيا خوندونه چې ډېر وي (۶۰- يا ۷۰) کاله دې وي خولکن په دې (۶۰) يا (۷۰) کالوباندې داخيرت ژوندبرابريږي، دهغه نتيجه پرې مرتبه کيږي. که په دې (۶۰يا ۷۰) کالوژوندکې انسان پرهيز وکړي اودالله تعالی په طاعت اوبندګي کې يې تکليفونه برداشت کړل ،ترخې ورخې ،ساړه اوګرمي يې برداشت کړل نوپه دې (۶۰يا ۷۰) کلونو باندې هغه ابدي ژوند برابريږي. داسې حقيقي ژوند ورته برابريږي چې بيا به هيڅ مرض نه ورته پيداکيږي. څوک چې جنت ته داخل شي نوهغلته بيا اعلانونه کيږي چې دا داسې ځای دی چې نه بيا څوک په کې مرضيږي ، نه هلته څوک بياوږيږي ،نه بيا هلته څوک مسکين کيږي يعنې هيڅ قسمه تکليفونه نشته،داسې ژوندون بيا برابريږي چې څومره بنه پرهيز شوی وي دومره بنه قوت اوصحت برابريږي .اوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدانخواسته څومره بدپرهیزي شوې وي همدومره بیا انسان هلاکیږي

موږ اوتاسې باید خپل وجود ته متوجې شواوکه یوه شیشه ځان ته ونیسونو مخ کې معلومیږي ،توړداغ پکې معلومیږي ؛نوچې توړداغ ووینو نودهغه دلرې کولو کوشش کوو ،هغه خیرې لرې کوو ،نوداسې دباطن په لحاظ هم باید خپل ځان ته وګورو چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نه دویرې نښې راپکې شته ؟ دحلالو اوحراموفرق مو کړی؟ دروا اوناروا فرق موکړی اوکنه ؟ له ګناهونوڅخه موځان ساتلی اوکنه ؟ دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددین عملي کولو په سر مو تکلیفونه برداشت کړي اوکنه ؟ له خدای پاکجَلَّجَلَالُهُ سره خودمحبت دعوه کوو داسوچ وکړو چې دخداوندمتعال دمحبت څومره نښې په ماکې موجودې دي ؟اوپه دې محبت کې رښتوني یو؟ حقیقي محبت خو داده چې دمعشوقې پرته به نورټول شیان له ذهن څخه باسي ،هرڅه به دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا لپاره وي ؛نوکله چې څوک دې ته متوجې شي بیا دانسان داصلاح طرف قوي کیږي اواصلاح منځته راځي

نن سبا بنیادي اوغټ تاوان دادی چې څوک له نیکو ،علماء کرامو اوهغه خلکو سره چې هغه ددین ماهرین دي ،دزړه معالجین دي ، تعلق نه ساتي ؛ناسته ،ولاړه،احترام،آدب داهیڅ نشته اوکه بیا څوک تعلق ورسره ساتي اوله هغونه څه واوري په هغوعمل نشته .څکه خو ورځ په ورځ له مشکلاتو سره موږ مخ کیږو ،کنه په هره زمانه کې چې څوک له خپل شان سره تقوی وکړي نوخدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک جَلَّجَلَالُهُ یې له هغونه نیک خلک جوړوي نوکه موږ له علماء کرامو سره په آدب زندګي وکړو اوددوی خبرې په غور سره واورو په زړه کې ځای ورکړو عمل ورباندې وکړو نودغسې امید دی چې لکه هغه چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دنیکو خلکو په ملګرتیا اونیکوخلکو په مجلسوباندې اصلاح کول داخیرت طرف ته یې توجه اوترقي ورکوله ،زموږ کارونه به هم خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دهغوی دصحبت او ملګرتیا په ذریعه جوړکړي.

علماء کرام لیکي چې واړه ماشومان داسې دي لکه تنکۍ لښته چې په کومه خوا یې تاو وې په هغه خواتاویږي داپه هرمجلس کې چې کیني په هغه طرف سرې تاویږي زموږ زیاتره مجلسونه ددنیاوي معاملاتو اوپه غلطو- غلطوخواهشاتومشتمل وي کشر اومشر موهم په هغه بې لاري طرف لګیاوي اومشغوله وي دمثال په توګه په ټریواله سطحه په نوره دنیاکې دکرکټ لوبه وي مقابله وي کنکی اوغټ ورباندې خبروي چې نن د فلانکي هیواد له فلانکي هیواد سره مقابله دی یعني زه له ورو ماشومانو څخه اورم چې داسې الفاظ وايي چې څوک یې په مطلب نه پوهیږي ،فلانکي دومره رنځونه وکړه اورادیوګانې یې غوږونه نیولې وي تلویزون ته ګوري خوځان ورباندې خبروي څکه چې څومره مشران دي هغه په همدغوکارو کې مجلسونه کوي اوکشران چې لوېږي هغه هم داخبرې زده کوي که موږ داسې یوچې دعلماؤ مجلسونه په کورکې وکړو ،دمدرسې صفت وکړو یا دنورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلحاؤ او اولیاء کرامو واقعې ورته بیان کړو؛ نوبیا دوړو ماشومانو ذهنونه همغسې جوړیږي.

زمونږ بنیادي تاوان دغه دی چې دعلماؤ سره تعلق نشته اوکه تعلق شته نواخلاص نشته. نیکو مجلسوته چې په کوم نیت ورځي نوخداوندمتعال هغه معامله ورسره کوي.

داکارونه اولیاء الله نه کوي بلکې داهرڅه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ کوي خویوڅوک واسطه وي دیوچاپه واسطه باندې یې کوي.

## داولیاوو ملاقات باید په ښه نیت او اخلاص وشي

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله چې یومشهور ولی الله او په پیران پیر صاحب، سره یې شهرت درلودلو، تو ده په ځواني کې دیو ولي نوم اوریدلی وچې په فلانکي ځای کې دېر ښه بزرګ دی نو له کورڅخه دده دلیدلو په نیت روان شو. دوه نفره (دشام عالم په نامه دعبدالله اوبل سائس پوه ابن السقّاء) ورسره ملګري شول یوله بله یې دسفردهدف پوښتنه وکړه تولو وویل چې په فلانکي ځای کې دېرښه بزرګ دی هغه ته ورځو. نوعالم ته وایې چې ته په څه نیت ورځې؟ هغه ورته وایې چې زه سخت غریب اوپور وړی یم ،ددنیا دمشکلاتو سره مخامخ یم که دی دعا راته وکړي اوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مې له دې مشکلاتو نه خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ملګری (ابن السقّاء) یوساینسدان و دهغه نه یې پوښتنه وکړه چې ته دڅه لپاره ورځې ؟هغه ورته وویل چې زه یې تجربه کوم چې رښتیا څه کمالات پکې شته اوکنه ؟

اوحضرت پیران پیر صاحب په دې وخت کې ځوان دی ،دده نه یې پوښتنه وکړه چې ته په څه نیت ورځې ؟ دی مبارک ورته وایې چې زه یوازې په دې نیت ورځم چې هغه دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یو نیک بنده دی ،دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوست دی. چې دده په دیدار ،دده په مجلس له مانه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ راضي شي اودده نه دین زده کړم اودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رضا راته پیداشي.

کله چې درې واړه ملګري ورغلل نو چې کوم ددنیا په نیت ورغلی وهغه ته یې وویل چې اې عبدالله ! داسې معلومېږي چې دسرو زرو په صندوق ناست یې. اوچې دتجربې اوامتحان لپاره ورغلی و هغه ته یې په غضب وکتل اوورته وې ویل هلاک شې اې ابن السقّاء ! داسې معلومېږي چې کافربه له دنیا څخه تېرشې اوحضرت پیران پیرصاحب مبارک ته یې وکتل او دځان لوري ته یې نږدې کړ ښه عزت یې ورکړ اوورته وې ویل اې عبدالقادره! خدای پاک اورسول الله له تاڅخه راضی دي دتا دادب له امله او ګویاکې زه تاته ګورم چې ته په بغداد کې منبر ته ختلی یې او وایې (قدمي هذه علی رقبة کل ولی لله) یعنې زما قدم داولیاء په ورمېږو دی او اولیا ، به وایې چې دستاقدم زموږ په سترګو دی نو دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ کړو ته ګوره چې دده پیشنګویي ددریو وارو په هکله همدغسې شوه لکه دغه نیک بنده چې ورته ویلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مسکین خدای پاک جَلَّجَلَالُهٗ مالداره کړ. اوهغه ابن السقاء په حاصلولو دعلم لګیا و په ټولو ملګرو کې دی کامیابه شو دوخت بادشاه روم ته ولیږه چې دنصاراوو له علماوو سره مباحثه وکړي نوهغوی یې ملزم اومات کړل دهغه ملک بادشاه ده ته ډیر احترام ورکړ نودی یې په لور مشین شو نودهغې ته یې د واده مطالبه وکړه هغې ورته وویل چې زموږ اوتاسې په دین کې فرق دی موږ کافر یو اوتاسې مسلمان یئ، زموږ اوتاسې نکاح نه کېږي ده ورته وویل چې زه به خپل دین پریږدم اودهغې نکاح له پاره کافر شو.

اوحضرت پیران پیرصاحب یووخت کې په بغداد کې تقریر کوي اوبیا وایې چې زماداسې حال ده چې داولیاء په ورمیږو زما قدم دی اودهغه په مجلس کې اولیاء ناست دي هغه ورته وایې چې دتا قدم زموږ په سترګو ده [نفحات الانس/ج ۲/ ص: ۶۸۳_۶۸۴]

ځکه علماء لیکي چې:

گفته اي اوگفته الله بود ـ گرچه از حلقوم عبدالله بود

دده ویل ، دالله ویل دي اګرکه ظاهرا دیوبنده له خولې څخه ویل کېږي. ځکه چې ده ته دالله تعالی جَلَّجَلَالُهٗ له طرفه الهام وي.

نو چې اول کوم ځای ته ورځو نوهلته به نیت دالله تعالی درضا کوو. ما په خپله ډیر خلک لیدلي اوتجربه کړې مې هم دي چې له مشائخو سره تعلق له هغوی نه وظیفه اخیستل ،ناسته او ولاړه ددې له پاره کوي چې دنیاوي کاروبار مې برابر شي اوځوک بیا داسې وي چې له مشائخو سره تعلق ددې لپاره ساتې چې تجربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي يې چې څه پکې شته او کنه ؛نو ځان غټ سړی ورته ښکاريږي ،دهغو معلومات کوي. او ځيني بيا خاص دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره ورځي ،که يو څه دين ددنيا دترلاسه کولو له پاره زده کوي،دنيايې هم تباکېږي او اخيرت يې هم تباه ده. که څوک وظيفه پدغه نيت اخلي چې دنيا دار شم او دنيا ترلاسه کړم. او که يو څوک دنيکو خلکو مجلسو ته دفاسدو اغراضو په نيت ورځي نو دنيا او اخيرت يې دواړه يې تباه دي.

نو دعلماء او نيکو خلکو مجلس ته چې سړی ورځي خاص دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره دې ورځي.

## دبزرګانو امتحانول درسوايي سبب ګرځي

د سراج المشايخ (احمد ضياء خليفه صاحب) رحمه الله يو مريد راته قيصه کوله چې په زنخان کې چې دی مدرس و نو په ختم کې ماز ديګر يو سړی جذب شو او ډېر زيات پورته - پورته کيده. خو وروسته بيا معلومه شوه چې هغه سړی مريد نه و ،په خپله يې اقرار وکړ چې په دې نيت راغلی وم چې ما اوريدلي و چې دخليفه صاحب په مجلس کې ډېر جذب وي ،ما وويل چې راشه معلومات وکړه چې رښتيا هم جذب شته او که نه ؟ خو په هغه مجلس کې بيا داسې کيفيت ورباندې راغی چې نږدې مړشوی ؤ ،ځان يې نشوای تم کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوسړی چې دعلماء کرامو مجلس ته ورځي په سم نیت دې ورځي چې څومره ښه نیت وي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې دغومره ښه کارجوړوي.

دهمیش لپاره چې دلرې لرې نه خلک راځي دهغو دزړه دتسکین لپاره داخبره کوو چې څومره سړی لرې ځای ته ځي چې په صحیح نیت ولاړشي دایوقدم یې هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ضائع کوي بلکې دهرقدم په بدل کې یوه نیکي ورکوي، الله تعالی یې ګناه معاف کوي، الله تعالی یې درجې لوړه وي داجومات که سړی سوچ وکړي په نسبت نورو جوماتو ته داسې جومات نه دی چې یوازې لمونځ په کې کېږي بلکې له جومات سره سره مدرسه هم ده دلته علماء کرام، دلته طالبان دي اودسهار نه تربیګا له بیګانه ترسهارپورې دنبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احادیث مبارکه بیانیږي یا مطالعه کېږي، قرانکریم تلاوت کېږي اویایې مطالعه کېږي نوداځای له ډېروځایونوفرق لري چې په یوځای کې یوڅوک دکومې رتبې خاوند وخت تیرکړي هغه ځای په نورو ځایونوباندې دومره شرافت پیداکوي لکه څنګه چې دهغه شخص څومره مرتبه اوشرافت وي. په بخاري شریف کې راځي چې دمدینې منورې اوکعبې شریفې دلارو په اوږدوکې جوماتونه جوړ شوي په بعضونقشوکې به هم تاسې لیدلي وي حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا دغه سلسله بیانوي دهرځای نوم اخلي، نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې دمدینې منورې نه مکې معظمې ته روان و دماسپښین لمونځ یې په فلانکي ځای کې کړی. دمازدیګر یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانکي ځای کې کړي. د ماښام یې په فلانکي ځای کې کړي. شپه یې په فلانکي ځای کې تیره کړې وه. دغرمې دخوب لپاره یې په فلانکي ځای کې اړولي و، تردې پورې چې په هغه ځای به یې نښانه جوړه وه، اوچې بل وخت به بیا دی روان و او رسول کریم ﷺ په کوم ځای کې اړولي و، که به سترې واوکه به نه و، که به ضرورت و اوکه به نه و، خوده به هغلته اړول او دلمانځه لپاره به یې هم کوشش کاوه اوهغه ځای ته به یې کوشش کاو چې په هغه ځای رسول الله ﷺ لمونځ کړی و.

دارنګه نور ائمه کرامو هم داسې کړي دي. اودایې ولې کړي؟ په بخاري شریف کې احادیث مبارکه راغي چې دوی په دې پوهیدل چې په کوم ځای کې نبي کریم ﷺ اړولي اوپه کوم ځای کې نبي کریم ﷺ لمونځ کړی.

[صحیح البخاري / ج ۱/ ص ۷۰ / ۷۱ / کتاب الصلوة، باب المساجد، رقم الحدیث: ۴۷۸ / ۴۷۹ / ۴۸۰ / ۴۸۱ / ۴۸۲ / ۴۸۳ / ۴۸۴ /۴۸۵ / ۴۸۶]

داځای تر ټولو ځایونو برکتناک اوغوره دی، په هغه ځای کې خدای پاک جل جلاله یوزاې دده مبارک دناستې په ذریعه برکت پیداکوي، دده د لمانځه په ذریعه هغلته برکت پیداکوي، نودوی به هلته لمونځ کاوه، ددغه امید لپاره چې دلته نبي کریم ﷺ لمونځ کړی، چې زه یې هم وکړم چې زما لمونځ هم قبول شي، دلته نبي کریم ﷺ دعا کړې زه یې هم کوم، چې زما دعاهم قبوله شي

نوچې په کوم ځای کې د نبي کریم ﷺ احادیث ویل کېږي ،د نبي کریم ﷺ په احادیثوکې برکت دی .په قرانکریم کې برکت دی .دفقهې په کتابونوویلوکې برکت دی،دمذهب په کتابونوکې برکت دی، نوپه کومو ځایونوکې چې ددغوکتابونودرس اوتدریس کېږي ؛نوپه هغو ځایونوباندې دخدای پاک جل جلاله رحمتونه نازلیږي .هغه ځای له نورو ځایونوبرکتمندګرځي ؛نوبیا په داسې ځایونوکې ددعا دقبلیدو، دلمانځه دقبلیدواودنفس اصلاح ښه کېږي الحمد لله که څوک فکر وکړي نواثر يې هم ښکاریږي

که څو- څوواري یوڅوک یونیک مجلس ته ورشي ؛نودخدای پاک جل جلاله په رحم سره.دهغونیکو ځایونوپه برکت سره رب تعالی جل جلاله په ده کې هم تحول اوبدلون راولي،موږ ګورو چې زموږ ځوانان ورځ په ورځ ډیري پریږدي ،دپرملګري زموږ په ختمونوکې شریک کېږي ،دپرملګري سره له دې چې امیان

دي داحادیثوپه په کتابونونه پوهیږي خوبیاهم کتابونو ته کښني،معلومېږي چې جذبه پیدا شوې ده.دافکرپیداشوی چې دلته یوساعت څوک کیني نو په زړه کې يې خدای پاک جل جلاله سکون اواطمنان پیداکوي.

نوکه یوڅوک نیکو مجلسوکې په ښه نیت، ډېر- ډېر شریکېږي ؛نوالله تعالی جل جلاله اثریکې پیداکوي،دانسان په زړه کې تحول راځي، بدلون راځي،بیادګناه په ځای دنیکي په طرف دسړي شوق پیدا کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۸) مجلس

## د نیک عمل فایدې او د دنیا بدوالی

حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي ﴿ الدنیا مزرعة الاخرة ﴾ دنیا داخیرت کرونده ده. ددغه عمل فایده.په اخیرت کې سرې ته په بشمرورځي کوم تکلیفونه چې سرې په دنیاکې ددین دزده کړې یارسونې پرمهال تیرکړي په آخرت کې به ډیرکټوروزته تمام شي په قرانکریم کې ،په احادیثو کې دا وعدې کړلې شوې دي خودنیکو اعمالو په واسطه په مخکې مجلسونوکې ، په حدیث داصحاب الغار [انوار المجالس دوهم ټوک/مخ ۳۱۱ بحواله صحیح البخاری/کتاب الاجارات ج ۱/ ص ۳۰۳/رقم الحدیث ۲۲۷۲] کې ، بیان شوی دی چې په دغه دنیا هم اسانی ورځخه ترلاسه شوې دي

د دنیا لپاره مور، ځومره ذلالتونه او سختی برداشت کوو،ځومره تکلیفونه برداشت کوو، خوخدای پاک عالم دی چې پدغه دنیا باندې به مور، ته څومره سزاګانې راکول کېږي لکه په یوروایت کې راځي چې دهغې دنیاچې چا یې حقوق نه وي اداء کړي ، دقیامت په ورځ به له دغې دنیانه مارجوړیږي اوله غاړې به یې تاووي اوپه یوچوخاختي اوبل چوخاختي به یې چیچې اوورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايې به چې زه دې تاهغه دنيا يم چې تاډېرولم او حقوق الله او حقوق العباد به دې نه اداء کول

دغه دنيا دومره ذليله شی ده چې دېلارهم بيابې عزتي کوي ،که ددنيا محبت يوځل دچا زړه ته کوزشي دېلار هم بيا پروانه کوي، دمورهم قدر نه کوي ،بيا داهل اودناموس قدر هم نه پېژني ؛نود دنيا په وجه په دنيا کې هم ذليله وي اوپه اخيرت کې هم ذليله وي که هرڅومره بې په حلاله طريقه وګټې اوبيا يې حقوق هم اداء کړي،اومصرف يې هم په ښه ځايونوکې کړي ؛خودقيامت په ورځ به مسکينان چې نيک عمل يې کړی وي ددنيا د ورځو په اندازه پنځه سوه کاله مخکې له دنيا لرونکو جنت ته داخلېږي

په صحابه کراموکې يوصحابي رضي الله عنه مريض دی نورصحابه کرام رضي الله عنهم يې پوښتنې ته ورغلل ؛خودی ژاړي هغوی پوښتنه ترېنه کوي چې غټ سړی يې ولې دمرض له تکليف نه ژاړې ؟ دی ورته وايې چې په دې نه ژاړم چې تکليف اومرض راباندې راغلی په دې ژاړم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له دنيانه رحلت کاوه نومايوه روپۍ نه درلوده اوس مې دکوټې په کونج کې څوزره روپۍ پرتې دي

## دحضرت نبي کريم صلی الله علیه وسلم دفقر اومسکنت واقعه

دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه نوره قيصه اوږده دی دلته يې کمه بيانوم :اهل بيت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دزياتې نفقې غوښتنه کوله ،څوک يې نه ورپرېښودل وروسته يې ده ته اجازه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دهغو خبرونه وروسته وایې چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یو کټ باندې پروت و چې هغه یوازې مزری وبل شی نه و، هغه مزری یې په ډډو کې ننوتلی و او په ټوله کوټه کې مې چې وکتل درې پوستکې خړیدل پدغو به دوی ناسته، اوخوب هم کاوه. نو ورته ومې ویل: یارسول الله! ته دعا وکړه چې په موږباندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اسانتیا راولي. فارس اوروم سره له دې چې کفار دي خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوی ته دومره عزت ورکړی اوموږ مسلمانان یو اوزموږ دپیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کورکې یوبستره هم نه شته تکیه یې کړې وه اوراکیناست راته وې ویل چې اې ابن الخطاب! ته هم داخیال کوې په دې نه یې راضي چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوی ته دنیا ورکړې موږ اوتاسو ته یې اخیرت راکړي.

[ تفسیر مظهري ج ۹/ ص: ۳۴۲ ]

## حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې لور ته د مال دولت په ځای تسبیحات ورښیي

﴿ حَدَّثَنَا عَلِيٌّ، أَنَّ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، شَكَتْ مَا تَلْقَى مِنْ أَثَرِ الرَّحَا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ، فَانْطَلَقَتْ فَلَمْ تَجِدْهُ، فَوَجَدَتْ عَائِشَةَ فَأَخْبَرَتْهَا، فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ بِمَجِيءِ فَاطِمَةَ، فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْتُ لِأَقُومَ، فَقَالَ: «عَلَى مَكَانِكُمَا» . فَقَعَدَ بَيْنَنَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى صَدْرِي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقَالَ: «أَلاَ أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَانِي، إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا تُكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ، وَتُسَبِّحَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَتَحْمَدَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ» ﴾

۱ صحيح البخاری ، مناقب علی ابن ابی طالب ابی الحسن القرشی الهاشمي /ج ۱/ص ۵۲۵_۵۲۶ ،رقم الحديث ۳۷۰۵ ]

ژباړه : حضرت علی رضي الله عنه بيان کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور مبارکه حضرت بي بي فاطمه رضي الله عنها چې دهغې ميچنې غله ميده وله لاس مبارک يې تناکې شول تناکې يې وچاودي خبره شوه چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته دغنيمت څه غلامان راغلي دي تو کورته ورغله او دا غوښتنه يې ورڅخه وکړه چې يوه ښځه مينځه راکړې چې زما دکور خدمت کوي . کله چې ورغله رسول الله صلی الله علیه وسلم په کورکې نه و، ام المؤمنين عائشې صديقې رضي الله عنها ته يې وويل چې که رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی دما له طرفه داسې ورته ووايه چې زه دکور دخدمت نه ډېره تکليف يم ،لاسونه مې تناکې شول . د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ده. خصائص الکبری ليکي

﴿ وَأَخْرَجَ أَبُو نُعَيْمٍ عَنْ عَلى قَالَ قَالَ : رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قِيلَ يَا أَهْلَ الْجَمْعِ غُضُّوا أَبْصَارَكُمْ حَتَّى تَمُرَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَمُرَّ وَعَلَيْهَا رِيطَتَانِ خُضْرَاوَانِ . ﴾

ژباړه : له حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دی وايي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي چې کله دقيامت ورځ شي وبه ويل شي چې اې

د محشر خلکو ستر ګې ټیټې کړئ تر څو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور فاطمة الزهرا رضی الله عنها په پل صراط تیره شي

نو دامبارکه به تیره شي چې په دې باندې دوه شین رنګې څادرونه وي [ الخصائص الکبری ، ج ۲ ص. ۳۸۹ / باب اختصاصه صلی الله علیه وسلم بأن کل سبب ونسب منقطع یوم القیامة الاسببه ونسبه ]

سره له دومره غټ منقبت او مرتبې هم د دې مبارکې لاس تنها کې دې او د تکلیف په حال کې ده .

نو ام المؤمنین ته یې حال ووایه او دا مبارکه بیرته کورته ولاړه کله چې بیګاه شو رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته راغی ام المؤمنین رضی الله عنها ورته وویل چې بي بي فاطمه رضی الله عنها راغلې وه او یوه خادمه یې غوښتله

حضرت علي رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ کورته راغی زه او بي بي فاطمه دواړه پورته کېدلو ده مبارک راته وېې ویل چې مه جګېږئ او راغی زموږ دواړو په منځ کې کیناست فاطمه رضی الله عنها وایې تردې چې زما سینې ته دده مبارک د پښو یخوالی را ولګیده ، او وېې ویل چې ته زما کورته راغلې وې او خادم موغوښت زه تاسې ته له دې ښه شی در ونه ښیم ماخوستن چې څملئ نو (۳۴) ځله الله اکبر او (۳۳) ځله سبحان الله او (۳۳) ځله الحمدلله وایئ .لکه نن سبا یې چې موږ له هرلمانځه څخه وروسته وایو دا د تاسو له پاره تردېرو غلامانو او مینځو بهتره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دنیا بهتره وای نو دخپلې عزتمنې لور لپاره به يې غوره کړې وه ، د ذکر تعليم ورته کوي چې دا د تاسې له پاره بهتره او غوره دی نو غرض دادی چې داسې نه دی چې دنیا سراسر مذمومه او بدشی دی ، بلکې که دغه دنیا په سم نیت او په ښه ځای کې استعمال شي د جنت د انعاماتو ذریعه ګرځيږي

مورږ وايو چې دنيادې ګټې خود و مره ذلت دې نه پرې برداشت کوي چې د دنيا په سبب مړې هم راباسئ ، د دنيا په سبب لمونځونه هم پريږدئ ، د دنيا له وجې جمعه هم پريږدئ . د دنيا له وجې موراو پلار هم ناراضه کړئ ، د دنيا په سبب خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم ناراضه کړئ

قسم په خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ چې دا يو ساعت ناسته د ذکر په مجلس کې خو چې په اخلاص وي د دنيا تر بادشاهي او ټولو نعمتونو بهتره ده او که په هغو ټولو کې دومره خوند وي لکه دا يو ساعت چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر او دهغه په عبادت کې چې تيريږي . ځکه دنيا او بادشاهي او نعمتونه ټول ختميږي خو دغه د ذکر مجلسونه ، دغه ژړاوې بيا نه ختميږي دا د اخيرت سرمايه دی .

نو د اخيرت طرف ته توجه پکار دی بيا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مهربانه ده دغه دنيا مو هم بيا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ برابروي . په حديث شريف کې راځي کله چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دنيا پيدا کړه نو بيا يې دغې دنيا ته وويل چې اې ! چاچې زما د دين خدمت کولو ته دهغه خادمه شه ؛ او چاچې دې تا خدمت کاوه ، نو ته د ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزدور ترجوړ کړه نوچې ځان د دنیا مزدور کړو باید ځان د الله تعالی جل جلاله مزدور کړو چې د الله تعالی جل جلاله بندګي مختاره کړو دغه دنیا به موهم خدای پاک برابروي

## مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهُ

نو چې فکر وکړو دجناب سراج المشایخ (احمد ضیا خلیفه صاحب) رحمه الله ددنیا دګټې یې په ظاهري اسبابوکې څه برخه نه وه خودخدای پاک جل جلاله انعاماتو ته چې سړی وګوري نوحیران شي یوخل موړ شپه اوورځ ورسره تیرکړه په هر وار یې میلمانه شوي یو دسهار په چای کې تولو میلمنو ته کوچ ،ملائي دشیدو نوی پیروی اومربع هرڅه به موجود و. خدای پاک جل جلاله یې دخلکو زړونو ته وراچوي چې له ده سره کومک وکړي ځکه حدیث شریف دی چې څوک دالله تعالی شونو الله تعالی دده کیږي . دغه دنیا خدای پاک جل جلاله له موږ نه ده ته بښه ورکوله خوده د خدای پاک جل جلاله لاره نیولې وه ،دالله تعالی دین یې نیولی و ،ځان یې الله تعالی ته سپارلی و خدای پاک جل جلاله یې دنیا هم برابره کړې وه نوداسې نه دی چې په دین باندې دسړي له لاسه دنیا وزي څومره چې سړی په دین باندې ښه کلک دومره یې خدای پاک جل جلاله دنیا هم برابر وي خو داسې یې بیا برابروي چې اخیرت یې نه ور خرابوي.

ماڅو ځله لیدلی چې روپۍ پیدا کړي دستې یې په مسکینانو باندې تقسیم کړي

غرض دادی چې ددین لوری ونیسئ نو ددنیا لوری به مو په خپله برابر شي او په داسې طریقه به یې دربرابروي چې اخیرت به مونږ پرې خرابېږي ، که نوې دنیا چې څومره ډیرېږي اخیرت وربانډې خرابیږي خدای پاک وایې چې زه چاته دنیا ورډېره کړم نو دی دې داخیال نه کوي چې دا دده لپاره خیر دی. یا عزت ورکړم نو دی دې دانه وایې چې دازما لپاره خیردی ځکه کله داسې وي چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې په قرار قرار غرقه وي او دعذاب سبب یې ورته ګرځوي ځکه چې دنیا ډېره شوه نو دستې یې په ګناهونو ګرفتار کړي ، تلویزون په کور کې کیږدي ډش انتن پورته کړي نو لمونځ پاته شي ،جمعه پاتې شي او په لهو لعب شروع وکړي ،له مسلمان سره دوکه شروع کړي، درواغ شروع کړي په راکړه ورکړه کې قسمونه شروع کړي :نو ورځ په ورځ به دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه لرې کېږي . نو په اصل ذات کې خبیث شي ده ځکه ترمسلمانانو نه کفاروته ډېره ورکوي

نو دنیا دعزت شی دی . ډیره دې شي خو چې په صحیح چوکاټ کې وي . او هلته په صحیح چوکاټ کې ده چې دین پرې خراب نه شي ،که دین پرې خراب شونو بیا دا دنیا دذلت سبب دی ،درسوایي سبب دی ،دانسان اخیرت پرې خرابېږي او په دنیاکې هم پرې بې عزته کېږي او په اخیرت کې یې هم بې عزته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۹) مجلس

## په خپل عمل باید مغروره نشو

دنیک بخته او بدبخته بیان مخکې په [انوار المجالس لومړي توک مخ: ۲۲۴ - ۲۲۵ کې] هم تیرشوی دلته یوائې ددواړو یوه علامه بیانوو هغه داچې نیک بخته سړي ته خپل عمل کم ښکاریږي او بدبخته سړی په خپل عمل مغرورکیږي او نیک بخته که هرڅومره ډېر عملونه وکړي بیاهم کم ورته معلومیږي .ددې بنیادي او اصل وجه دادی چې له شیطان ،چې دانسان لوی دښمن دی ، په هیڅ وخت کې غافل نه شي .شیطان هروخت کوشش کوي چې یاخوانسان نیک عمل ته پرې نه ږدي یا یې که نیک عمل کړی وي بیرته یې په یوه طریقه ورختم کړي ؛نوددې وجې نه کله سړي نیک عمل کړی وي لکن بیرته عجب او ریا پکې پیداشوې وي ،ځان لوی ورته ښکاره شي نو هغه مخکې اعمال یې ټول ضائع شي اوله منځه ولاړ شي.

### حضرت عمر رضي الله عنه خپل زیات عمل څومره کم گڼي

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دمرض موت په حالت کې، چې کله هغه بدبخته غلام ( ابولؤلؤ ) د سهار په لمانځه کې په خنجروواهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسخت ضعف په حالت کې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ورته راغی اوده ته وایې چې ولې دومره فریاد کوې نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې له دنیانه رخصت کیده نو دې تا څخه راضي و حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه چې له دنیا څخه رخصت کیده نو هغه هم له تا څخه راضي و، اوله هغوی نه وروسته له صحابه کرامو رضي الله عنهم سره هم تا داسې رویه غوره کړې چې هغوی هم ټول له تانه راضي دي ؛نوژاړې ولې ؟

نوحضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورته وایې چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره ښه ژوندون تیرول اوده هغه رضا کیدل دادخدای پاک جل جلاله احسان اومهرباني وه. له حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره ښه ژوندون اودهغه له مانه خوشحالتیا دادالله تعالی رحم و په ما باندې. له دې نه وروسته چې ما څومره اعمال کړې اوڅه باندې لس کاله حکومت مې کړی دا ټول دخداوندمتعال جل جلاله فضل اومهرباني وه.

لکن حضرت عمر رضي الله عنه ورته وایې چې له صدیق اکبر رضي الله عنه نه وروسته ددغه ژوندون ثواب نه غواړم اودا امیدنه لرم چې دعذاب نه به مې خلاص کړي

[ صحیح البخاري ج: ۱/ ص. ۵۲۱ / مناقب عمر رضي الله عنه ]

ددنیا زیاتره برخې ته دده په خلافت کې اسلام رسیدلی دی خوده ته دا اعمال هیڅ نه ښکاره کیدل. دا دنیا په اسلام باندې ده روښانه کړه لکن دی بیاهم وایې چې هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دوخت ژوند ته زما امید شته ؛دصدیق اکبر رضي الله عنه دزمانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون ته زما امید شته اوله دوی نه وروسته ژوند ته زما امید نشته اوله عذاب نه یې ډاریږم چې عذاب رانکړي ،ثواب یې نه غواړم

هغه لوی لوی صحابه کرام رضي الله عنهم د دومره لوی لوی خدمتونو باوجود ،دخدای پاک جل جلاله نه داسې ډاریږي چې داسې نه زموږ په اعمالوکې عجب اولوېږي ښکاره شي نو وایې چې دعذاب نه مودې خدای پاک جل جلاله خلاص کړي ،ثواب یې نه غواړم

اودنیا په هرحال کې امتحان دی شیطان سړی نه پرېږدي خلک دې نه غافله کېږي که ددنیاآزادي اوترقي یې راځي چې ددوی دافکر شي چې موږ خدای پاک جل جلاله ته محبوب یو، ددغې وجې نه الله تعالی چې چاته ډېره دنیا ورکړي نوغافله شي او داخیرت ډارېې له زړه څخه ووځي ، نه بایدداسې نه وي

اوکه په دین کې چاترقي کوله هغه دې هم نه غافله کېږي چې دوایې زه طالب وم ملاشوم شیخ الحدیث شوم،مدرس شوم بس ماوګڼله نوزما ته به دغه منصب له لاسه نه وځي بلکې صحابه کرام رضي الله عنهم اوتابعین کرام اوائمه کرام ډاریدل په هروخت کې باید سړی په ډارکې وي چې شیطان زموږ لارې ونه وهي

اوکه څوک په دنیاکې غافله شي نوخدای پاک جل جلاله په ده امتحان راولي ،ډېر داسې خلک چې ددین په لار کې دومره ترقي ته رسیدلي چې مستجاب الدعوات و ،خدای پاک جل جلاله یې هره دعا قبولوله لکن خدای پاک جل جلاله مودې وساتي په اخروخت کې له دنیاڅخه کافر تیرنه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبلعم بن باعور له عبرت ډکه واقعــه

﴿ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ ﴾ [ سورة الاعراف ]

ژباړه: او ولوله (ای محمده!) پر دغو ((یهودانو یا خپل قوم)) خبر دهغه ((سړي)) چې ورکړې ؤ موږ هغه ته ((علم)) دآیتونو خپلو نو راووت ((او بې زار شو په کفر او اعراض سره)) له هغو آیتونو، نو ورپسې شو شیطان ((او تیر یې ایست)) نو شو له گمراهانو او که اراده فرمایلې وی موږ نو خامخا پورته کړی به ؤ موږ دی په دي آیتونو سره ((مقام الابرار ته)) ولیکن ده مینه وکړه زمکې ته او متابعت یې وکړ دهوا خپلې، نو مثال د ده ((په خساست کې)) په شان دسپي دی، چې که حمله وکړې پرې ((یا یې کوري، چغه کړې او ویې شړې)) نو ژبه راباسي او غاپي او که یې پرېږدي ((او څه نه ورته وایي هم)) ژبه راباسي او غاپي؛ دغه ((تیر مثل)) مثال د قوم هغه دی چې دوی ((له ډیره کبره او عناده)) نسبت د دروغو کوي آیتونو زموږ ته، نو بیان کړه ((دوی ته))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه قیصې «او احوال» ښایي چې دوی فکر وکړي «په کې او ایمان راوړي»

**حکایــــت:** بلعــم بن بــاعور پــه بنـي اسـرائیلو کې یو مشهور مستجاب الدعوات سړی تیرشوی په یو وخت کې حضرت موسی علیه السلام له بني اسرائیلو سره د جنګ او حملې اراده وکړه ،نو دهغه ځای کفار بلعم بن باعور ته ورغلل چې دومره دنیا به درکړو خدای پاک جل جلاله ته دعا وکړه چې موسی علیه السلام او دده قوم ته شکست ورکړي او په موږ رانه شي. ده ورته وویل چې زه څنګه سوال وکړم هغه خو پیغمبر دی؟

دشیطان فریبو ته چې ګورې همدارنګه آدم علیه السلام ته چې شیطان وسوسه ور واچوله هغه نه ورسره منله خو دحضرت حوا رضي الله عنها په واسطه یې په حضرت آدم علیه السلام دانه وخوړله اوله جنت څخه یې راکوز کړ.

دلته هم ابلیس لعین دې خلکو ته په فکرکې ورکړه ډېر سره او سپین زر یې او نورشیان یې دده ښځې ته ور وړې هغه ښځه یې ورته واسطه کړه اوهغې ورته وویل چې څه کېږي؟ دعاوکړه چې هغه پیغمبر ددغې علاقې ته لرې شي ،زمونږ او تاسې دنیا به موهم ډېره وي او عزت به موهم ډېر وي اودا خلک به له تکلیف نه خلاص شي. کله چې بلعم بن باعورموسی علیه السلام ته ښېرا اوبد دعا وکړه ،خدای پاک جل جلاله یې ژبه راتاوکړه اوخپل قوم ته یې ښېرا وکړه اودده ژبه له خولې راووتله اوکافر له دنیا تیرشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په ځان پوه شو چې تباخوشوم نوبیا یې خپل قوم ته
وویل چې زما خومواخیرت تبا کړخویوکار به زه دروښایم هغه
داچې دمسلمانانو مخنیوی به هلته وشي چې دوی په بدعملی
لګیاشي نوتاسې دمسلمانانو فوج ته خپلې ښځې ورولیږئ، کله
هغوی یوکس هم بدعملي وکړي نوټول فوج به شکست وخوري
؛نویوې ښایسته ښځې خه سامان واخیست دسودا په بهانه هلته
ورغله .اخیر انسان دی عاجز دی یو سړی چې تش په نامه مجاهداو
مسلمان و له هغې سوداګرې ښځې سره یې بدعملي وکړه دهغه یو
بدعمل په ترسره کولوټول فوج شکست وخوړ.

نودبلعم بن باعور اخیرت هم تباشو اودمسلمانانو دشکست
لارې چارې یې وروښودلې اودهغو دبې لارې کولو هڅه یې هم
وکړه.

نوپه نیک عمل کې به داسې ځای ته سړی رسیدلی وي چې
خلکو ته به بزرګ ښکاریږي اونیک انسان به وي ؛نوده ته ځان
لوی انسان ښکاره شي اوپه آخرکې به په ځان پوه نشي اوخاتمه یې
خرابه شي اوکافر له دنیا تیرشي.

اوداسې هم پیښیږي چې یوه کس به دېروخت په بدعملي
اوګمراهي کې تیرکړی وي خوچې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دنیکي
اراده ورته شوې وي نوپه اخیر وخت کې به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ
توبې اونیک عمل توفیق ورپه برخه کړي.

نوپه دې کې دېته اشارهٔ ده چې انسان باید هروخت په داراو
ویره کې وي اوپه نیک عمل باندې دې نه دوکه کیږي چې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګټله او نهِ دي دګناه په وجه مایوسه کېږي چې ماخودومره ګناوې کړې دي ،ما به خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ بیخې ونه بښي؛نودالله تعالی له رحمت څخه به نه نا امیده کېږي اودنیک عمل په وجه به دلاوري هم نه کوي.

حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې زه خپل عمل وګورم نوکه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دافیصله وکړه چې ټول خلک به جنت ته ځي اویوسړی به جهنم ته ځي نوهغه به عمر يي اوچې دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ رحمت ته وګورم نوکه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په اخیرت کې اعلان وکړي چې ټول خلک به جهنم ته ځي اویوسړی به جنت ته ځي نوزه امیدواریم چې هغه به زه یم

نودالله تعالی رحمت ډېر زیات دی ، که یوانسان له خپلو ګناهونه څخه په اخلاص توبه وباسي نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یې بیا دخپلو مقربوبندګانو څخه ګرځوي اودنیکي په وجه به نه دوکه کېږي

نوباید انسان همیش دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ طرف ته متوجې وي بیا نوالله تعالی مهربانه دی دانسان ددنیا حفاظت هم کوي او داخیرت حفاظت یې هم کوي.

هو؛ خو دځواني په حالت کې ،دصحت په حالت کې به له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ څخه ډار زیات وي ځکه چې شیطان ډېر سړی خطا کوي اودسپین ږیرتوب په وخت کې دمرض اوضعف په حالت کې دې بیا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رحمت ته امیدوار وي ناامیده کېږي به نه اوکه کومه ګناورڅخه شوي هم وي له هغه نه دې په اخلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي توبه وباسي نود (۲۰) کلونو کفر به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته معاف کړي.

نودځواني په حالت کې ډار پکاردی کله چې په ځواني کې له الله تعالی نه ډار پیداشو نوبیا شیطان په سړي نه غالبیږي؛ خوشیطان په موږ باندې دځواني حالت په غفلت کې تیرکړي.

له یوکس نه مې واوریدل چې زه حج ته ځم ،له هغې خوانه مې دې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ژوندی نه راولي ما ورته وویل چې ولې؟ هغه وویل چې حج تشم ساتلی بیارانه خرابیږي اوس نوداشیطان کافر ده سړي ته په ذهن کې دا ورکوي چې اوس خودې ځواني ده ،اوس یې کوه چې هرڅه کوې بیاچې سپین ږیری شوې نوتوبه به وباسې ،حج ته به لاړشي ،یونیک عمل به وکړې .له هغه نه وروسته به بیا ځان له ګناهونوڅخه وساتې.

اوس نوداچاته معلومه دی چې ترسپین ږیرتوب پورې به رسیږي او که یه؟ اوبیا داچاته معلومه ده چې دحج موقع ورته پیداکیږي او که یه؟ یابه دیوبل نیک عمل موقع سړي ته پیداکیږي ،روغ سړی وي موټر تکر شي اوپه هغه ځای مړ شي.

نوموږ اوتاسې پدغه ناسته اومجلس کې باید هروخت دې ته متوجې شو چې دځان سره دنیکې اراده وکړو اودبدی نه توبه وباسواوپه هغه ځای دې له ګناهونوڅخه توبه وباسې چې ای خدایه ! داګناهونه رانه شوي ،ته یې راته معاف کړې په اینده کې مې ته دګناه څخه وساتې اودنیک عمل توفیق رانصیب کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوچې په کوم مجلس کې په اخلاص توبه وکاږي خدای پاک يې مخکښې ټول ګناهونه ورمعاف کوي تردې پورې چې په ورځ کې اويا(۷۰) وارې له سره نه ګناه وشي او اويا(۷۰) وارې په اخلاص توبه وکاږي نو الله تعالی يې اويا(۷۰) وارې توبه قبلوي.

په حديث شريف کې راځي چې دسخي اوبخيل دواړو مثال داسې دی چې ديو انسان وجود په زنځير کې بند وي يعنې داسپنې جامې يې وي، خوچې سخي سړي دنيکي اراده وکړي نوپه قرار - قرار دزنځير کړۍ ازادېږي او له لاسونوڅخه ولوېږي نوهغه جيب ته لاس کړي اوصدقه وکړي اوبخيل سړی چې دصدقې اراده وکړي نوهغه کړۍ نورهم مضبوطې شي، دده لاس له هغه ځای څخه نه ښورېږي. [احياء علوم الدين /ج ۳/ ص ۲۶۸/ ذم البخل]

نوداسې به ځان نه جوړوو لکه هغه بخيل چې دنيکي اراده وکړو بيرته شيطان را باندې غالبه شي ،شرم ده څرنګه اوس دخلکو ترمخ ووايم چې زه ډېره پرېږدم اوهغه موقع يې له لاسه وباسي اودې ته نه ګوري چې په دې عام مجلس کې دشيطان سره مقابله وکړي اوله ځان سره هم توبه وباسي چې بيا به يې نه کړم اوکه دخلکو په وړاندې توبه وباسم نوداټول خلک به راباندې شاهدان وي چې ای رب تعالی ! زموږ په وړاندې دغه انسان دخپلو بدواعمالو نه توبه ويسته اوچې څلويښت نفره په يومجلس اوجنازه کې په داشاهدي ورکړي چې دافلانکی ښه سړی وو نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې شاهدي قبلوي اوچې هرڅومره ګناوې يې کړې وي هغه ورته معاف کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: مُرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ: «وَجَبَتْ»، ثُمَّ مُرَّ بِأُخْرَى، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا - أَوْ قَالَ: غَيْرَ ذَلِكَ - فَقَالَ: «وَجَبَتْ»، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، قُلْتَ لِهَذَا وَجَبَتْ، وَلِهَذَا وَجَبَتْ، قَالَ: «شَهَادَةُ القَوْمِ الْمُؤْمِنُونَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الأَرْضِ» ﴾

[صحيح البخاري/ ج ا ص: ۴۶۲ /رقم الحديث: ۲۶۴۲]

ژباړه: له حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې يوه جنازه تيره شوه نو خلکو (صحابه کرامو) په هغه سړي باندې دنيکو شاهدي ورکړه چې دا ډيره ښه او نيک انسان ؤ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل: واجب شوه. بله جنازه تيريده ناستوخلکو (صحابه کرامو) وويل چې دا ډير بد او شرير سړی ؤ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل: واجب شوه

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل شول ددې دواړو مړيو (جنازو) په هکله دې وويل (وجبت) نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې دمؤمنانو شاهدي قبوله ده. دوی شاهدي ورکړه، ځکه دوی دالله تعالی په ځمکه کې شاهدان دي

﴿ عَنْ أَبِي الأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ، قَالَ: قَدِمْتُ المَدِينَةَ فَجَلَسْتُ إِلَى عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، فَمَرُّوا بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ عُمَرُ: وَجَبَتْ، فَقُلْتُ لِعُمَرَ وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: أَقُولُ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ لَهُ ثَلاَثَةٌ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ»، قَالَ: قُلْنَا: وَاثْنَانِ؟ قَالَ: «وَاثْنَانِ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



، قَالَ: وَلَمْ نَسْأَلْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوَاحِدِ: «هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» ﴾ [جامع الترمذي /ج ا ص ۲۰۴ /رقم الحديث ۱۰۴۵]

ژباړه: له ابو الاسود الديلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: مديني منوري ته ولاړم له حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ناست وم چې يو جنازه خلکو روانه کړې ده ، نو ناستو کسانو په هغه شخص باندې دنيکۍ شاهدي ورکړه چې دابنه او نيک سړی ؤ ، نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: دغه قبوله شوه ، ماورنه وپوښتل څه قبول شول؟ ده مبارک وويل زه هغه څه وايم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي دي: چې په يو مسلمان باندې درې نفره دنيکۍ شاهدي ورکړي دهغه له پاره جنت واجب دی. نو موږ ورته وويل که دوه کسان شاهدي پرې ورکړي هم ؟ ده مبارک وويل هو! که دوه شاهدي ورکړي هم. بيا يې وويل چې ديوه کس په هکله له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه نه ده شوې.

يعنې چې په کوم مړي باندې مسلمانان شاهدي ورکړي چې دغه نيک سړی ؤ؛ نو الله تعالى دخپلو بندګانو شاهدي قبلوي.

نو په هرمجلس کې که نيک عمل کېږي هم ټول خلک شاهدان دي که بدعمل کېږي هم ټول خلک ورباندې شاهدان وي ،له دې وجې نه دې هيڅوک دخلکو په وړاندې بدعمل نه کوي. الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ دې زموږ په ځوانانو باندې رحم وکړي چې بدعمل هم وکړي اوبيا فخر هم ورباندې کوي. دايې دوهم تاوان دی ،يو يې ګناه کړې الله تعالى پرده پرې اچولې خودی په خپله پرده له خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانه لري کوي، په مجلس کې ورباندې غرېږي دقیامت په ورځ به داټول خلک ورباندې شاهدان وي . اوکه څوک دټولوخلکو په وړاندې توبه وباسي ؛نودغه ټول خلک به دقیامت په ورځ ورباندې شاهدان وي اوپه هغه سخته ورځ کې زموږ چې په دنیاکې دچاسره دعوه اولانجه راشي نوکه څوک یو- دوه شاهدان ولري دقاضي اوحکومت په وړاندې په ډېره دلاوري سره غرېږي چې زه په دغه دعوه کې شاهدان لرم اوکه څوک شاهدان ونه لري ،که څه هم دعوه یې په حقه هم وي نوپه ډارکې وي ځکه چې شاهدیې نه وي

نودهغه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په حضورکې چې له وینسته څخه نیولې ترهر رګ پورې په هرشي علم لري ،په زمکه په اسمان په ټولوشیانو علم لري دهغه په حضورکې چې موږ نیک خلک شاهدان ولرو اونیکه شاهدي ورکړي ،چې دغه بنده موږ په فلاني ځای کې ولیدچې نیک عمل یې کاوه ،دګناه نه یې توبه ویسته تردغه نه به غټ دخوشحالي ځای چیرې وي اوکه خدانخواسته په هغه سخت ځای کې چاددې شاهدي ورکړه چې ای رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ! دغه بنده ته علماوو اونیکو خلکو وعظونه اونصیحتونه کول خوده نه منل ،ددین بې عزتي یې کوله . پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَام به عارض شي،قران کریم به عارض شي اووایې چې ای خدایه ! زه دې چې دې خلکوته ورلیږلی وم ؛دغو خلکو په ماباندې عمل نه کاوه،نودهغې ورځې نه مودې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وساتي اوموږ ټولو ته دې رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دنیکو اعمالو توفیق راکړي. آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۰)مجلس

## ګناه زهر قاتل ده که په قصد سره وي او که په خطا سره

﴿ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ: « مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا؟ » قَالَ: فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا، فَيَقُولُ: «مَا شَاءَ اللهُ» فَسَأَلَنَا يَوْمًا فَقَالَ: «هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا؟» قُلْنَا: لاَ، قَالَ: «لَكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَأَخَذَا بِيَدِي، فَأَخْرَجَانِي إِلَى الأَرْضِ المُقَدَّسَةِ، فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ، وَرَجُلٌ قَائِمٌ، بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ ﴾الحديث . [صحيح البخارى/ ج ۱/ ص ۱۸۵ رقم الحديث ۱۳۸۶]

ژباړه: له حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دا مبارک عادت وچې د سهار له لمانځه نه وروسته به يې له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه پوښتنه کوله چې چا نن شپه خوب ليدلی؟ کوم صحابي رضي الله عنه به چې کوم خوب ليدلی و نو هغه به يې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته بيان کړ، نبي صلى الله عليه وسلم به ورته دهغه خوب تعبير بيان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهار له لمانځه څخه وروسته پوښتنه وکړه چې نن چا خوب لیدلی ؟ صحابه کرامو رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ څه ونه ویل ، نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل چې نن ما خوب لیدلی، زه به یې درته بیان کړم.

«د انبیاء کرامو عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ خوبونه وحیې وي، حضرت نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله پیغمبر کېده، نو شپږ میاشتې یې مسلسل خوبونه لیدل. او داسې خوبونه وو لکه څنګه چې دا سپېدې چوي، دده صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې هم هېڅ شك اوشبهه نه پیدا کېده. له دې وجې نه وایي چې خوب د نبوت شپږ څلوېښتمه حصه ده. څکه ویل کېږي چې له ټولو نه بد او لوی دروا غ دادي چې سړی په خوب کې دروا غ وایي. خوب یې لیدلی نه وي ، په دروا غو یې بیانوي، دا یوه لویه ګناه ده. څکه چې د نبوت په شپږ څلوېښتمه حصه کې یې دروا غ وویل.

نو د نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوب وحیې ده، په هغې کې څه شك او شبهه نشته، دا داسې ده لکه ده ته چې کومه وحیې په قرآن مجید کې شوېده او موږ ته شك پکې نه پیدا کېږي، دده صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې هم باید موږ ته شك پیدا نه شي.»

نو نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوب بیانوي چې زه ویده وم، دوه سړي راغلل، له لاس څخه یې ونیولم، روان یې کړم، چه څه، په لاره باندې روان یو، یو ځای ته ورسېدو چې یو سړی پروت ده، بل سړي غټه تیږه په لاس کې ورته نیولې او په سر یې په تیږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې وولي، سر يې مات شي، تيره تر ډېره ځايه پورې ورغړې، دا سړى بيا په تيره پسې ورځي، چې تيره راوړي، هغه ځوك چې ويشتل كېږي هغه په دې دومره وخت كې بيرته جوړ شوى وي، هغه بل سړى يې بيا په تيره باندې وولي، او بيايې دغسې سر ورمات كړي، دغه سزا همداسې روانه وي، ما له خپلو ملګرو څخه پوښتنه وكړه چې دا څه حالت دى؟ دوى راته وويل چې: مخته ځه!

مخته روان شوم، ګورم چې يو سړى پروت دى، بل ورته ولاړ دى او د اوسپنې چنګك ورسره دى، (په دې باره كې دوه قسمه روايات راغلي دي) په يوه روايت كې راغلي چې د ښي طرف په چوا ښتي كې دا چنګك وربند كړي، داسې يې كشوي چې تر غوږ پورې يې ټوله خوله ورباندې وشكوي، بيا دغه سړى ورته را تاو شي چپ طرف ته، دا طرف هم ورباندې شكوي، د دې طرف په شكولو سره هغه ښي طرف الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ په خپل قدرت كامله سره جوړ كړى وي، هغه بيا ورشي او هغه ښي طرف بيا ورته وشكوي

او په بل روايت كې راځي چې چواښتې يې هم تر غوږه ورباندې څيرې كړي، بيا يې په پوزه باندې پيل وكړ هغه يې هم ورڅيرې كړه، په سترګه يې بنا وكړه، هغه يې هم ورڅيرې كړه، دغه درې اندامونه يې چې كله بېرته جوړېدل، ده به په هغه بل طرف باندې شروع ورته وكړه، نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې: ما پوښتنه ورڅخه وكړه چې دا څه حالت دى؟ ملګرو راته

وویل چې: مخې ته ځه! مخکې تېر شو، یو ځای ده چې د کوهي یا تنور په شکل کې ده، خوله یې تنګه ده، بېخ یې ډېر پراخه دی، کله چې مې ور وکتل د اور لمبې دي، لوڅ سړي او لوڅې ښځې پکې دي، دغه د اور لمبې دغه انسانان د تنور تر خولې پورې راپورته کړي، او بیا یې بېرته بېخ ته وغورځېږي ما له خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟ هغوی بیا راته وویل چې: مخته ځه!

کله چې مخې ته ولاړو نو ګورو چې د وینو نهر (ویاله) ده، یو سړی په دغه نهر (ویاله) کې ولاړ دی او بل کس د دغه نهر په څنډه ورته ولاړ دی، او ډېرې تیږې یې په خوا کې پرتې دي، کوم سړی چې په نهر کې وي، هغه دا کوشش کوي چې تر څو د نهر څنډې ته ځان راورسوي او ځان له دې عذاب څخه خلاص کړي، خو کله چې دی څنډې ته راورسېږي، دغه پاس ولاړ سړی یې په خوله کې په تیږه باندې وولي او بېرته یې د نهر منځ ته ور وغورځوي. هغه بیا د نهر څنډې ته راځي او دغه پورته ولاړ سړی یې بیا په تیږه وولي. نبي کریم ﷺ فرمایي چې ما بیا پوښتنه وکړه چې دا څه معامله ده؟ راته یې وویل چې مخته ځه!

مخکې چې ولاړو، نو یوه شنه باغچه چې ډېر ښائسته ځای دی، په دې ځای کې یوه ونه ده، د هغې سورې ته یو سړی ناست ده، چې دومره جګ وو چې ما یې سر نه لیده، له ده سره په خوا کې ډېر ماشومان ناست وو، ما ته ملګرو وویل چې دې ونې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخېژه! کله چې ونې ته وختم، نو یوه ښائسته منزل ته ولاړم، ډېر بهترین ځای دی، د سرو زرو او سپینو زرو له خښتو څخه جوړ شوی دی، په هغه ځای کې یې امر راته وکړ چې پورته ولاړ شه! له هغه نه پورته بل ښائسته ځای ته ولاړم، په هغه دوهم منزل کې چې کله ودرېدم نو راته یې وویل چې هغه پورته ځای ستا دی، سر مې چې پورته کړ نو دریم ځای د وریځې په شکل ډېر جګ راته معلوم شو، ډېر ښائسته و، ما ورته وویل چې: زه غواړم تر څو خپل ځای ووینم. هغوی راته وویل چې دا کار په ژوند کې نه شي کېدای. هغه ځای ته که ورتللې نو له مرګ څخه وروسته به وي د دنیا په ژوند کې نه شي کېدای

نو خپلو ملګرو ته مې وویل چې: نن خو ما په دې لاره باندې څه عجیبه منظرې ولیدلې، دا څه عجائب و؟ تاسې خو ماته ووایاست چې دا څه وو؟

په ملګرو کې یوه راته وویل چې: زه جبرائیل عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ یم او دا بل ملګری مې میکائیل عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ دی

په لاره چې روان وو او هغه یوه سړي چې هغه بل په تیږه باندې په سر ویشته او سر به یې ورمات کړ او بیا به یې تیږه را اخیسته او هغه سر به بېرته جوړ شوی و نو دا د هغه عالم، قاري او مسلمان مثال ده چې په قرآن باندې خبر وي خو عمل نه ورباندې کوي، لمونځ نه کوي، ویده وي او لمونځ ورڅخه قضا شي، د شپې هم نه پورته کېږي او نه هم د ورځې له خوا د قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم د ویلو او په هغه باندې د عمل کولو اهتمام کوي نو ددغسې عالم او قاري دغه سزا ده چې دقیامت تر ورځې پورې به په دغه سزا کې مبتلا وي، ترڅو پورې چې یې دقیامت په ورځ فیصله وشي

او هغه بل سړی چې یو طرف خوله به یې تر غوږونو پورې ورته څېرې کړه، بیا به یې دا بل طرف ورته څېرې کاوه، دا دهغه درواغجن سړي سزا ده چې له کوره راووځي ، شپه یې په کور کې تېره کړې وي، او په درواغو په خلکو کې یوه خبره مشهوره کړي او بیا نور خلك دده دغه دروغ خبره یوځای او بل ځای په مجلسونو کې بیانوي نو ددغه درواغجن سړي دغه سزا ده چې په ده باندې به خدای جَلَّ جَلَالُهُ د عذاب داسې فرښتې مقررې کړي چې ده ته به په قبر کې دا عذابونه ورکوي چې خوله به یې ورته تر غوږونو ورڅېروي.

او هغه تنور غوندې ځای چې په هغه کې لوڅ سړي او لوڅې ښځې د اور لمبو د تنور تر خولې پورې راپورته کولې او بېرته به د تنور بېخ ته ور غورځېدل، دا دهغو زناکارو سزا ده څوك چې په بدو عملونو په دنیا کې لګیا وي. نو هغوی ته به رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دغه سزا ورکوي.

او هغه بل سړی چې د وینو په نهر کې ولاړ و او د ځان د اېستلو هڅه به یې کوله او هغه بل سړي به بېرته په خوله کې وویشت بیا به یې نهر ته ور وغورځاوه، نودا د سود خور سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال ده، څوك چې د سود معاملې كوي، هغه ته به رب تعالى جَلَّجَلَالُهُ په قبر كې داسې سزا وركوي، تر قيامته پورې به يې دغه حالت وي، او د قيامت د ورځې سزاګانې خو يې لا نورې دي او كله چې سود خور د محشر په ورځ له قبر څخه راپورته كېږي نو خېټه به يې د يوې كوټې په اندازه لويه وي، چې ماران او لړمان به پكې له ورايه ليدل كېږي. او دى به د خپلې خېټې د درونډ والي له وجهې څخه پورته كېږي او بېرته به غورځي.

او هغه ونه چې دهغې د لاندې يو سړى ناست و، هغه حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ و، او دهغه شاوخوا چې كوم ماشومان وو دا هغه ماشومان وو چې په وړكتوب كې مړه شوي وي، هغه به جنت ته داخلېږي. دا دهغوى يو مثال و.

او هغه اول كور چې تا په اول منزل كې وليده دا په جنت كې د عامو مسلمانانو ځاى ده، دا دوهم منزل چې تر لومړني ښائسته وو هغه د شهيدانو ځاى ده. او هغه دريم منزل ستا ځاى ده، چې هغه له نورو ځايونو څخه دومره پورته دى لكه يو څوك چې له ځمكې څخه د وريځې په طرف ګوري [جامع المعجزات ص ۳۲۴/ صحيح البخارى/ج: ۱/ص ۱۸۵/رقم الحديث: ۱۳۸۶]

اوس دغه خوب چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ ته بيانوي دا د عبرت له پاره دى. د ګناهونو او عذابونو نمونې چې حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ او حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



میکائیل عَلَیهِ السَّلَام ورته ورښیي او دی یې امت ته بیانوي چې امت یې له دغو عذابونو څخه خبر شي او ځان ترې وساتي.

څوك چې په قرآن کریم باندې عمل نه کوي ، هغه دې په دې پوه شي چې لوی خدای جَلَّ جَلَالُهُ نعمت راکړی د اسلام او قرآن په شکل کې، خو کله یې چې د دغه لوی نعمت بې قدري وکړې او په قرآن باندې عمل نه کوي نو بیا به یې دغه سزا وي.

دغه دِماغ د قرآن د زده کړې ځای ده ، نو چې عمل ورباندې ونه شو ، نو دغه ځای ته به دغه سزا ورکول کېږي، چې هغه به په تیږه باندې بار بار وهل او ټکول کېږي او ماتیږي به او چې څوك په درواغو باندې لګیا وي ، دهغو به دا سزا وي لکه چې مخکې بیان شو ، همداسې د زناکارانو او سودخورو

او حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمایي چې خلکو به د خیر پوښتنې کولې او ما به د شر پوښتنې کولې ترڅو پکې واقع نه شم.

مونږ او تاسې ته ترټولو ضروري داده چې له ګناهونو څخه ځان خبر کړو او ځان ورڅخه وساتو. که یو څوك ټول ژوند نفل ونه کړي ، نفلي خیراتونه او صدقې ورنه کړي ، نور نفلي عبادات ونه کړي، نو خدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ انسان ورباندې نه نیسي، سزا نه ورکوي، خو چې یوه ګناه یې وکړه في الحال سوال او ځواب ورته متوجه کېږي، د انسان له پاره ډېرې مهلکې ګناوې شته دي، انسان ډېر ښه اعمال کړي وي، خو کله ورڅخه داسې ګناه صادره شي چې هغه مخکني اعمال یې ټول ورباندې ختم او له منځه ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمايي: ﴿لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ﴾ [سورة البقرة آیت: ۲۶۴] چې که عمل یعنې صدقه مو وکړه نو بیا وروسته په هغه سړي باندې احسان مه باروئ چې هغه ګټلی عمل او انعام به مو ټول له لاسه ووځي او باطل به شي. ریا مه کوئ لکه یوڅوك لمونځ کوي بل نېك عمل کوي او نیت یې پکې خراب شي چې خلك ووایي چې څومره ښه سړی دی ، ښه عالم ده، ښه صوفي ده، ښه حاجي صاحب ده، نو په نیت کې چې دا مسئله منځ ته راغله ټول اعمال یې باطل شول، لمونځ راواخله، له لمانځه سره دغه مهلك شیان زده کړه، چې که لمونځ مې ښه وکړ خو نیت مې خراب شو، ریا راڅخه پکې وشوه، نو لمونځ مې ولاړ خراب شو.

نو د انسان له پاره دا مهمه ده چې داسې خطرناك شیان وپېژني او ځان ورڅخه وساتي، اودا ګناه یو داسې مثال لري لکه زهر قاتل. زهر که څوك قصداً وخوري هم یې وژني اوکه په هیره باندې یې وخوري هم یې وژني. د یو چا ګمان د اوبو وي، ګلاس یې راپورته کړ او ویې څکل نو که قصداً یې څکلي وي اوکه سهواً په دواړو حالاتو کې به یې وژني، یواځې دومره خبره پکې راتلای شي چې که یوڅوك په قصدا سره زهر وڅکي نو عام خلك به بد وربانديې وایي چې زهر یې ښه پېژندل او سره له هغې یې بیاهم وڅکل او ځان یې قصداً وواژه. اوکه یوڅوك یې په ناخبرتیا کې وڅکي او ورڅخه مړ شي ، خلك بیا پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسوس کوي، چې دی غریب خو خبر نه ؤ، د بې خبرۍ په حالت کې یې زهر وچېښل او ورڅخه مړ شو. مطلب دا چې په دې صورت کې د خلکو له ملامتیا څخه خلاص وي.

﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا...﴾ (البقره) خدایه پاکه! مونږ په هغه ګناه مه نیسې که له مونږ څخه په هېره یا په خطا سره شوې وي.

دلته مفسرین کرام لیکي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې زما له امت څخه خطا او نسیان معاف دي او په قرآن کریم کې وایي چې که سهو او خطا راڅخه هم شوي وي ما وربانديې ومه نیسې! نو له دې څخه دا خواب دی چې ګناه زهر دی، که په هېره هم درڅخه صادره شي، ستا کار خرابوي، که په ناپوهي درنه صادره شوه هم ستا کار یې تباه او برباد کړ، داسې نه ده چې هغه ګناه چې تا په ناپوهي او ناخبري سره کړې ده او ته به له عذاب څخه پرې خلاص شې. دا به وي چې سړی دېر ناخبره وي، د ډېرې سهوې او نسیان له امله یو کار ورڅخه وشي نو په آخیرت کې به یې خدای جَلَّ جَلَالُهُ وربانديې ونه نیسي اما که ویې نه نیسې خو هغه مرتبه یې پرې کمه شوه، که دا ګناه ورڅخه نه وای شوې نو دده به څومره اوچت مقام و.

انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ټول له ګناهونو څخه پاك دي، او په همدې خبره زمونږ عقیده هم ده، خو له انبیاء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ څخه داسې خطایي لکه سړی چې په لاره ځي، بې اختیاره په ختهه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښویږي، دا خو ګناه او جرم نه ده، سړی روان و، ځمکه ښویه او ختې وه او دی پکې وښوییده. په عام فکر او په رواج کې هم ده ته څوک جرم او ګناه نه وايي، خو دغه لار چې د ختې لاره ده، په دغه لار کې که ماشوم شپه او ورځ غورځېږي نو څوک یې نه ملامتوي، خو که یو مشر، مولوي صاحب، یا حاجي صاحب یو هوښیار سړی وي، او بل طرف ته سمه لاره هم وي، خو دی له هغې سره، سره بیاهم دغه د ختو په لاره باندې ځي او بیا پکې وغورځېږي نو هرڅوک یې ملامتوي چې دومره غټ سړی وښوییده. ولې یې لارې ته نه کتل، دا خو ختیه ده ګناه خو یې نه ده کړې. خو که په هماغه د ختو په ځای کې کوم ماشوم ولوېږي څوک بد نه پرې وايي. ځکه چې وايي ماشوم دی، او مشر ځکه ملامتوي چې دی خو لوی دی، ولې یې احتیاط نه کاوه، نو کالي به یې نه خرابېدل.

نو انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ چې مرتبه او مقام یې تر نورو انسانانو ډېر لوړ ده داسې اجتهادي نسیاني خطا چې ورڅخه شوې وي هم سمدستي عتاب د الله تعالی له لوري ورکړل شوی دی چې تا به ولې داسې کار کاوه؟ هغه پیغمبر بیا په خپل هغه عمل باندې دومره ژاړي چې که د ټولې دنیا ژړاوې را یوځای کړې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ژړا ته نه رسیږي. چې په خطایي سره یې د غنم یوه دانه خوړلې وه، تر سلو کلونو یې د حیا له امله د اسمان په لوري ونه کتل، تر څلوېښتو کلونو پورې یې له خپلې بي بي سره نږدېوالی ونه کړ، تر ډېرو شپو یې خوراك څښاك نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه، دا ولې؟ ځکه چې دده شان او مرتبه ډېره لوړه وه. نو ځکه دومره وړه خبره هم ورته معاف نه شوه. اوس تاسې فکر وکړئ ګناه نه ده، بلکې سهو او خطا ده. الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له ګناهونو ساتلی ده، خو یواځې او یواځې د سهوې له امله دا کار د افسوس باعث شو او کنه؟

همدا وجه ده چې هر نبي ته چې د قیامت په ورځ انسانان ورجمعه شي چې ته دخدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ په حضور کې زمونږ شفاعت وکړه چې زمونږ سوال او ځواب ژرترژره شروع شي، نو هر پیغمبر چې په دنیا کې ورځخه کومه اجتهادي سهوه شوي وي هغه به ذکر کوي اووایي به چې له ماځخه په دنیا کې دغه خطایي یا سهوه شوې ده، زه د الله تعالی حضور ته نه شم ورانده کېدای اونه دا کار کولی شم، تردې پورې چې خبره به نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راورسیږي اوهغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې الله تعالی په دنیا کې کوم زېری ورکړی دی دهغه په فضل او برکت سره به في الحال او سمدستي شفاعت شروع شي، ځکه چې له ده صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځخه کومه سهوه او خطا نه ده شوې.

نو غرض دا چې ګناه که په سهوه او که په خطا هم وي د انسان مرتبه ورسره کمیږي.

اوکه داسې وي چې په ناپوهي سره یوه ګناه وشي لکه دا زمونږ عام خلك چې کوم کار وکړي نو دې ته سهو او خطا نه وایي بلکې دې ته جهل وایي، دوی ځان په دین نه خبروي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان په دین نه خبرول دا په خپل ذات کې یو جُرم دی، ولې؟ ځکه چې خدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ علم فرض کړی ده، دار د اسلام ده، علم فرض ده، دومره احکام زده کول چې انسان وربانـدې څلویشت ساعته ژوند تېر کړي دا فرض ده، اوس نو چې سړی نه وربانډې خبر هم ده، چې په ما باندې علم فرض ده او بیا یې هم نه زده کوي، ددغه انسان نه چې بیا کومه ګناه صادرېږي او بیا دا دلیل هم وړاندې کوي چې مونږ ته ګناهونه څه معلوم دي، دا عذر یې دقبول وړ نه دی او نه ورته هغه ګناه معاف کېږي، دې ته بیا سهو او خطا نه وایې، دې ته جِهل وایې قصداً له جهل څخه کار اخلي او نه یې زده کوي.

نو مطلب دا چې که مونږ او تاسې د آخرت له تکلیفونو او له هغو عذابونو څخه خبر شو چې د همدغو ګناهونو له وجې به راکول کېږي بیا به هېڅکله هم ګناه ته ورنږدې نه شو. خدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ مو دې نجات نصیب کړي. نو باید کوشش وکړو تر څو په پوره توګه له ګناهونو څخه ځان خبر کړو او له دې سره سره بیا ځان ورڅخه وساتو.

د معاملاتو په باب کې باید هر تاجر علم حاصل کړي،چې دا بیع فاسده ده، دا باطله ده، او ځان هم ورڅخه وساتي. دا علم هم د فرضیاتو له جملې څخه دی.

دا اوس چې حالات سره خراب او ګډوډ شول، نفقې خرابې شوې، بیعې په صحیح طریقې سره نه کېږي، زیاتره خلک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُود لګیا وي، ترڅو پورې چې د دغو نفقو اثر د مدرسو په طالبانو کې هم لیدل کېږي، طالبان به ټول بزرګان و، خو اوس هغسې طالبان نه لیدل کېږي، او که وي هم ډېر کم دي. وجه یې داده چې چنده د سودخواره او رنګارنګ خلکو له خوا ورکول کېږي، نو هغه به خامخا او حتماً د دغو مدارسو په طالبانو هم یو څه ناڅه اثر کوي.

سره له دې چې که یو څوک د چا په حلالو او حرامو خبر نه وي، پوښتنه ورته ضرور نه ده، خوراك ورته روا ده. طالبان مسافر دي، د دوی له پاره د غه د وظیفې ډوډۍ او سوال روا ده، ځکه علم حاصلول بې له دې څخه نه کېږي، حتی که یو طالب په کلي کې اوسیږي نو په هغه کلي یې دا حق ده چې ده ته به ډوډۍ ورکوي، ترڅو پورې چې هغه د خپلې خوراکې په اندازه غلا هم کولی شي، خو د دې هرڅه باوجود چې کله د خلکو دنیا خرابه شي د حلالو او حرامو تمیز ختم شو نو سره له دې چې طالب ته ډېر څه روا و، بیا یې هم په طالب باندې اثر وکړ او دهغه په تقوی او دیانت کې فرق راغی. طالب سره له دې چې مسافر ده، کور یې پرې ایښی، نفساني خواهشات یې شاته غورځولي نو چې کله په ده باندې اثر کوي نو په عامو مسلمانانو باندې به یې ولې نه کوي.

هره ورځ خلك را روان وي چې زړونه مو خفه وي، پرېشاني راته پیدا وي، ترڅو پورې چې ځینې یې لا دا هم وایي چې خودکشي ته مې خو وارې زړه ښه کړی. دا ولې؟ ځکه ماحول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراب ده، ګناهونه ډېر دي، د مسلمان په زړه تور داغ پیدا کېږي. نېك سړی چې بازار ته ولاړ شي او په یوه بېکاره مجلس کې کیني، نو دده زړه تنګ شي، ولې ځکه چې دی یو نیك عمله انسان ده، نو چې بد ځای ته ورغی دهغه بد مجلس اثر ورباندې بنکاره شو، خو که چېرته ټول مجلس د بد عمله خلکو وي نو بیا په هغوی باندې هېڅ اثر نه کوي، ځکه هغه ټول ماحول همداسې ده

له حضرت جابر ابن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې بدبویي پورته شوه، حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل چې دا په کوم ځای کې منافقین د مسلمانانو په غیبت لګیا دي.

[تنبیه الغافلین / عربي / مکتبه حقانیه / ص: ۸۶ / رقم الحدیث: ۱۹۷]

نو محدثین کرام فرمایي چې نن سبا ټول خلك په غیبت لګیا دي، څوك په بد بویي نه پوهېږي دا ولې؟ نو ځواب یې داده چې مخکې زمانه او اهلِ زمانه ټول سره پاك وو، هلته به د بدبویي اثر ډېر زر ښکاره کېده. او نن سبا چې ټول ماحول خراب ده، نو ځکه د بدبویي اثر هم نه حِس کېږي، ددې مثال داسې ده لکه سړی چې په بیت الخلاء کې دننه ناست وي، نو هلته سره ددې دومره زیاتې مرداري ده ته بوی نه محسوس کېږي، ځکه چې هلته ماحول ټول خراب ده، پوزه او دماغونه یې ټول له بدبویي څخه ډك وي، نو دا ورته نه معلومېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوی شته او کنه. او په پاك ځای او مجلس کې که ډېر لږ هم د بدبویي اثر ښکاره شي نو هرڅوك يې حس کولی شي.

نو دا ګناهونه چې ډېر شو نو ځکه يې عام خلك په فرق نه پوهېږي، او نېك خلك پرې پوهېږي. له همدې وجهې نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې: ﴿ اِستَفتِی قَلبَکَ دَعْ مَا يَرِيبُكَ اِلٰی مَالَا يَرِيبُكَ... ﴾ [جامع الترمذي ج: ۲/ ابواب صفة القيامة ص: ۷۸]

ژباړه: له خپل زړه څخه وپوښته او فتوی وغواړه چې که په کومه خبره کې شك درته پيدا شو نو پرې يېږده، مه يې کوه، مطلب دا چې د چا زړه پاك وي نو که هغه يو داسې ځای ته ولاړ شي چې هغه شکمن وي نو فی الحال ده ته شك پيدا کېږي، هغه شي ته يې زړه نه کېږي، زړه يې تنګيږي، نو نېك عمله انسان ته چې په زړه کې تنګي پيدا کېده نو هغه دې په دې پوه شي چې دا شی ناروا ده.

نو زمونږ ټول مجلسونه له دروغو او غيبتونو څخه ډك وي، معاملات مو ټول په دروغو بنا وي، د ګناه په ماحول کې مو سترګې، غوږونه ټول مصروف وي، نو همدا وجه ده چې په عبادت کې مو خوند او ذائقه هم نه شته. او له خپل عبادت څخه خوند هم نه شو اخيستلای.

تاسې لږ سوچ وکړئ! د غه علماوو او طالبانو سره مو چې لږ څه تعلقات پيدا شي، چې دوی د کتاب او احاديثو سره د تعلق له وجې يو څه پاك دي، اګر که هغه پخوانی حالت د دوی هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي پاتې، خو کـه بیـا هـم څـوك لـه دوی سـره علاقـه لـري ، کلـه ناکله ورسره ناسته پاسته کوي، دهغوی په مجلس او محیط کې راشه درشه ولري نو في الحال انسان ته په عبادت کې لذت پیدا کېږي اولـه الله تعـالی جَلَّ جَلَالُهُ او دهغـه لـه عبـادت سـره یـې مینه پیدا شي.

## د یو مُخلص انسان عجیبه واقعه

یو چا قصه کوله چې په کابل کې یو افسر (لښکرمشر) راته ویل چې دا ښخي عجیبه ده . زه په ډېرو ځایو کې ګرځېدلی یم، له هرچا سره مې راشه درشه وه او شته . له ډېرو ښو ښو حافظانو او قاریانو څخه مې د قرآن کریم تلاوتونه په ډېر ښه انداز اوریدلي دي خو له دې ټولووجوهاتو سره ،سره اثر پکې نه وي، او کله چې زه ستاسې د خلیفه صاحب مدرسې ته درشم، هلته چې کله په ختم کې د قرآن کریم تلاوت شروع شي نو د سړي ژړا نه دریږي . ددې څه وجه ده ؟ هغه شخص ویل چې ما دغه افسر ته وویل چې : دا په ځای کې فرق ده، هغه ځای داسې ځای ده چې صفایي پکې ډېره ده، نو هلته څکه د قرآن کریم اثر ډېر زر ښکاره کېږي، نېك خلك چې قرآن کریم وایي په هغه ځای د خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ رحمت او سکینه نازلیږي، نو بیا خو به خامخا دا اثر پیدا کېږي.

**یو صحابي رضي الله عنه د تلاوت په وخت کې د رحمت ملائکې ویني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ، قَالَ: بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ البَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ، إِذْ جَالَتِ الفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَتَتْ، فَقَرَأَ فَجَالَتِ الفَرَسُ، فَسَكَتَ وَسَكَتَتِ الفَرَسُ، ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ الفَرَسُ فَانْصَرَفَ، وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا، فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ فَلَمَّا اجْتَرَّهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ، حَتَّى مَا يَرَاهَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ، اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ، قَالَ: فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى، وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا، فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ، فَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ، فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ المَصَابِيحِ، فَخَرَجَتْ حَتَّى لاَ أَرَاهَا، قَالَ: «وَتَدْرِي مَا ذَاكَ؟» ، قَالَ: لاَ، قَالَ: «تِلْكَ المَلاَئِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ، وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا، لاَ تَتَوَارَى مِنْهُمْ﴾

[ صحيح البخاري ج ۲/ص: ۷۵۰/ باب نزول السكينة والملائكة عند قراءة القرآن - رقم الحديث: ۵۰۱۸ ]

ژباړه: له حضرت أُسَيْد ابن حضير رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې د شپې مې سورة البقره لوستل پيل کړل خواته يې اس تړلی ده، هغه آس کله يو او کله بل طرف ته منډې وهې، ددغه صحابي رضي الله عنه يو کمکی زوی (يحيى) يې دده په څنګ کې پروت ده، دغه صحابي رضي الله عنه ووېرېده چې هسې نه دا زوی مې آس لاندې کړي، نو تلاوت يې بس کړ، کله چې يې بس کړ آس بېرته په آرام شو، بيا يې چې تلاوت شروع کړ، نو بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آس منډې شروع کړې، دري ځله دا خبره تکرار شوه، کله یې چې پورته وکتل نو د وریځې په شکل څراغونه راځړیږي، نودی پورته شو او تلاوت یې بس کړ، زوی یې د آس له څنګ څخه لیرې کړ چې اوس به نو بنه په طبیعت سره تلاوت وکړم. دغه صحابي رضي الله عنه وایي چې کله مې هغه لیرې کړ، او بیا د باندې راووتم هغه څراغونه او رڼاګانې ورکې شوې وې، سهار یې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دغه حال بیان کړ، هغه صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: دا ملائکې وې، سکینه وه، تلاوت به دې کاوه، که تا تر سهاره پورې خپل تلاوت جاري ساتلای وای نو دغه ملائکې به عامو خلکو په خپلو سترګو لیدلې وې.

نو چې پاك خلك، دخدای جل جلاله دوستان د قرآن کریم تلاوت کوي نو په هغه ځای باندې دالله تعالی جل جلاله رحمت نازلیږي، نو چې په آس اثر کوي نو په انسان باندې به یې ولې نه کوي.

هغه طالب اوصوفي چې پاك ده، هغه ختم او مجلس کې چې پاك پاك خلك ناست وي نو کله چې په هغوی باندې د الله تعالی رحمت شروع شي نو دا ناپاکه خلك چې ورسره ناست دي دوی به هم د آس غوندې منډې شروع کوي. په ده به هم د الله تعالی د رحمت اثر ښکاره کیږي، داچې یو څوك څو وارې په دغسې مجلس کې کیني نو الله تعالی یې په زړه کې اثر پیدا کوي، په خپله یې بیا له عبادت او بندګي سره مینه پیدا شي. مونږ الحمد لله دا اثرات په خپلو سترګو لیدلي دي. دځان په هکله دا خبره نه کوو. د طریقت په باب کې وایو. د حضرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارکانو او محترمو خلیفه صاحبانو په باب خبره کوو. بلکې مونږ د خپل وخت سره چې موافق لیدلي نو یقیني درته وایم چې: هغه طالبان چې په داسې مدارسو کې اوسیږي چې په هغو ځایو کې ختمونه وي، په هغه ځای کې یو خلیفه صاحب موجود وي، ددغو طالبانو او د هغو مدرسو د طالبانو چې هلته دا ختمونه نه وي نو د ځمکې او آسمان فرق لري.

## د دوه طالبانو حیرانوونکې واقعې

ماته یو طالب چې د (میر زاهد) د درجې طالب و قسم وخوړ چې: په خدای قسم که به زه د طالبي په مطلب پوهېدم، مګر کله چې دلته راغلم، دلته پوه شوم چې په طالبي کې څه مطلب ده، ځکه زه په فلانکي، فلانکي، فلانکي ګناهونو اخته وم، ځان مې نه شو ترې خلاصولای. خو کله چې دلته راغلم هرڅه مې سم دم شول.

بل د وړې دورې طالب راته قسم وخوړ چې دا لس کاله مې په طالبي کې تېر شوي دي، دا ټول یو طرف ته او دغه یو کال د وړې دورې مې بل طرف ته. داسې راته معلومیږي چې هغه لس کاله مې عبث تېر کړي دي او سږ کال چې دلته راغلی یم دا دې خدای جَلَّ جَلَالُهُ په عمر کې راحساب کړي.

همدغه طالب قسم کاوه چې: یوه ګناه مې داسې وه، چې ما به ډېر زیات کوشش کاوه ترڅو ځان ترې منعه کړم، تردې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان د وژلو اراده مې هم وکړه ، خو کله چې دلته راغلم او ستاسې سره په دغو مبارکو ختمونو کې شريك شوم، نو له هرڅه پرته الله تعالی له هغو ګناهونو څخه خلاص کړم. اوس په هغه تېره شوې زمانه او لس کاله طالبي باندې افسوس کوم چې هسې مې عبث تېر کړي دي.

نو ګورئ! په مجلس کې څومره فرق وي، هغه هم طالبان دي، او دا هم طالبان دي، خو دلته چې لږ څه د خدای جَلّ جَلَالُهُ د ذکر او خوف خبرې وي، نو بيا په هغه مخکنې ژوند باندې ارمان کوي. نو عوام مسلمانان چې له دې نه مخکې په هېڅ خبر نه وي نو هغوی به ولې په خپل تېر ژوند ارمان نه کوي.

څومره چې سړی له ګناهونو څخه ځان ساتي، دنېکو خلکو په مجلس کې شرکت کوي، رب تعالی به يې له عبادت سره مينه ور زياته کړي. په عبادت کې به يې خوند او لذت وي، حرص به يې ختم او قناعت به يې په برخه شي او بيا به د دې هڅه او فکر نه کوي چې يا ځان ووژني او يا بل ته ضرر ورسوي.

## د دنيا ګټل مطلقاً ناروا نه دي

دنيا ګټل مطلقاً ناروا کار نه دی، بلکې له دنيا سره محبت اومينه ناروا ده، که دنيا په جائزه طريقه سره وګټل شي، کوم مانع نشته، بلکې دا هم عبادت دی، ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (... وَ اَلْكَاسِبُ صِدِيقُ الله ) [ تنبه الغافلين ، عربي / ص ۲۳۱ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاریگر د خدای تعالی دوست اومحبوب دی، خو شرط پکې دادی چې په جائزه طریقې سره وي

صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم هم دغه دنیا ، مال اودولت گټلی .کسب یې کړی

﴿ عَنْ قَتَادَةَ رضي الله عنه قَالَ: حَمَلَ عُثْمَانُ عَلَى أَلْفٍ فِيْهَا خَمْسُوْنَ فَرَساً فِي غَزْوَةِ تَبُوْكَ .وَعِنْدَ ابْنِ عَسَاكِرَ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ :جَهَّزَ عُثْمَانُ رضي الله عنه بِتِسْعِ مِائَةٍ وَخَمْسِيْنَ نَاقَةً وَخَمْسِيْنَ فَرَساً أَوْ قَالَ تِسْعَ مِائَةٍ وَ سَبْعِيْنَ نَاقَةً وَ ثَلَاثِيْنَ فَرَساً يَعْنِي- فِي غَزْوَةِ تَبُوْكَ ﴾

[ حياة الصحابة الجزء الثاني / ص ۲۱۱ / انفاق عثمان بن عفان رضي الله عنه ]

ژباړه: له حضرت قتاده رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې د تبوك په غزا کې حضرت عثمان رضي الله عنه زر کسان مجاهدین مجهز کړل چې په دې کې پنځوس اسان ؤ

او ابن عساکر له حسن نه روایت نقل کوي وایي: چې حضرت عثمان رضي الله عنه دتبوک په غزا کې نه نیم سوه (۹۵۰) اوښان صدقه کړل او پنځوس (۵۰) اسان صدقه کړل او یایې وویل چې نه سوه اویا (۹۷۰) یې اوښان صدقه کړل او دیرش یې اسان صدقه کړی

دا چې په یوه غزا کې دومره صدقه ورکوي، خو دنیا ده ورسره که دنیا ،مال او دولت ورسره نه وای، نوکله یې دومره صدقه کولای شوای؟

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه چې وفات شو، نو دده رضي الله عنه څلور مېرمنې ( ښځې ) وې یوې ښځې یې د اتمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصې د دنیا د صلحې په عنوان څلورمه حصه وغوښته نو اتیازره دیناره ورته ورسېدل یعني دده د مال اتمه حصه (۳۲۰۰۰) روپۍ شوې

مال او دولت پیغمبرانو ، صحابه کرامو او اولیاء الله ټولو درلوده خو له مال او دولت سره یې مینه نه درلوده، بلکې د الله تعالی له دین سره یې مینه وه. نو حاصل د خبرې دا شو چې دنیا ګټل ناروا نه ، بلکې محبت ورسره ناروا ده

## حضرت عبدالقادر جیلا نی رحمه الله د مال په غرقېدلو اوبېرته پیدا کېدلو ولې (الحمدلله) وایي؟

حضرت پیران پیر (شیخ عبدالقادر جیلاني) رَحِمَهُ اللهُ ته څوک راغلل او ورته یې وویل چې هغه بېړۍ (کشتۍ) چې ستا د تجارت مال پکې را روان وو، هغه غرقه شوه، پیران پیر صاحب سر ټیټ کړ ، بیایې بېرته سر راپورته کړ ویې ویل : (الحمدلله) لږ وروسته بیا سړی راغی چې کومه بېړۍ چې غرقه شوې وه ، هغه ستا نه بلکې د بل چا وه او ستا د مال بېړۍ روغه او سلامته ده، ده بیا سر ټیټ کړ او له لږ ځنډ وروسته یې بېرته راپورته کړ. بیایې وویل : (الحمد لله) په دې مجلس کې د علم ظاهر یو عالم ناست وو، نو سمدلاسه یې اعتراض وکړ چې ستا دغه مال دولت پاك وو اوکه نا پاك ؟ که پاك و نو په غرقیدلو دې ولې الحمد لله وویل ؟ اوکه ناپاکه وه نو بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرته پیدا کېدلو دې ولې الحمد لله ووېل ؟ ته خو یو بزرګ انسان یې که پاکه وي نو په غرقېدلو یې باید خفه شوی وای او که ناپاکه وای نو په پیدا کېدلو یې باید خفه شوی وای. نو باید تا الحمد لله نه وای ویلي.

حضرت پیران پیر صاحب رَحِمَهُ اللَّه ورته ووېل: چې: نه مې د دنیا په ورك کېدا الحمد لله ویلي او نه مې په بهرته پیدا کېدا کله چې ماته نوکر ووېل چې: ستا د مال بېړۍ غرقه شوه، نو زه خپل نفس ته متوجه شوم، چې زما په نفس کې څه اثر پیدا شو او که نه، نو د الله تعالی رحم او کرم و په زړه کې مې هېڅ د خفګان او غم نښې نښانې نه وې نو شکر مې ادا کړ چې په زړه کې مې د دنیا محبت نشته. بیا یې چې کله بهرته راباندې زېری وکړ چې هغه ستا کشتۍ نه بلکې د بل چا وه، نو زه بیا خپل نفس ته متوجه شوم چې دی په دې خبره خوشحالېږي او که نه، خو بیا راته معلومه شوه چې په زړه مې څه اثر د غم او خوشالۍ نه ښکارېږي نو ځکه مې د الله تعالی حمد او ثنا بیا اداء کړ.

نو اصل حقیقت د دنیا داده چې نه به یې په ورك کېدلو خفه کېږي او نه به یې په پیدا کېدلو خوشحاله کېږي. خو نن سبا دا خبره نشته، یو څل چې د چا له الله تعالی سره تعلق جوړ شي، هغه بیا دنیا ، مال ، جایداد ته اهمیت نه ورکوي، مینه یې ورسره نه وي، نه یې په پیدا کېدلو خوشالېږي او نه یې هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورك کېدلو خفه کېږي. خو دا حالت به هلته په لاس راځي چې زمونږ له دين سره تعلق جوړ شي.

مونږ د دنيا په ختمېدا دومره خفه کېږو چې هغه خفګان مو نه ورك کېږي. او په پيدا کېدو يې بيا دومره خوشحاله کېږو چې هغه خوشحالي مو بيا نه ورك کېږي. خو له دې سره بيا د لمانځه په قضا کېدو يا هم د جمعې په پاتې کېدو يا هم کولو سره مو کله هم خفګان او خوشالي پيدا شوې؟ که يو سړی سل روپۍ وګټي او يا هم يو لمونځ په جمعه سره وکړي نو که په دې حالت کې ورځخه يو څوك په قسم سره پوښتنه وکړي چې په هغو سلو روپيو به ډېر خوشحاله شوی يې او که ددغه يو لمانځه په کولو سره؟ نو معلومه ده چې انسان ته د سلو روپو خوند ډېر دی. او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (التکبيرة الاولی خير من الدنيا وما فيها) دغه يو تکبير تحريمه چې له امام سره يې ونيسې دا تر ټولې نړۍ بهتر دی، ټول د جمعې لمونځ خو لاڅه کوې؟ خو مونږ چې په سلو روپيو څومره خوشاله کېږو د جمعې د لمانځه په نيولو سره هغومره نه خوشحاله کېږو. ددې وجه داده چې هلته مو له عبادت سره دومره مينه نشته لکه څومره مينه مو چې له دنيا سره ده. د سلو روپيو په تاوان سره که هغه زوی کړی وي نو خپل زوی وهو، که ورور کړی وي ورور وهو، په غصه يو، خو که په مقابل کې يې له دغو خلکو څخه د جمعې لمونځ قضا شي مونږ هېڅکله خفګان ورباندې نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يو بزرګ د تکبير اولى د پاتې کېدو له امله درې ورځې ژړل

يو بزرګ جمعې ته راغی او تکبير ورځخه تېر شوی و، نو تر دريو شپو پورې يې ژړل، جمعې ته به راغی او بېرته به ولاړ اوبه خپل دې عمل ډېر زيات خفه و. چا ورځخه پوښتنه وکړه چې څه دربانديې شوي او ولې خفه يې؟ دغه بزرګ ورته وويل چې که د يو چا زوی، ورور يا پلار مړ شي نو خلك ورځي اوغمرازي غمشريکي ورسره کوي، خو له ماځخه تکبير اولى (تکبيرتحريمه) تېر شو خو هيچا غمشريکي راسره ونه کړه، دومره غټ غم رابانديې تېر شو خو هېڅوك فاتحې ته رانغلل، په دې لوی غم کې يې شرکت اوګډون راسره ونه کړ او د تکبير اولى خو دومره غم ده لکه د سړي چې ټوله دنيا ړنګه شي، مونږ په کمکي بچي څومره ژاړو، په لړتاوان ژاړو تکبير اولى او جمعه ټوله رانه تېره شي ،دجمعې اقامت شروع وي ، زمونږ دلته ددنيا يوه خبره پاتې وي په هغې لګيا يو مُلا رکوع ته ورسيږي تکبير وکړي په ولاړې اقتدا يې هم نه وي صحيح، ځکه په دغه تکبير ولاړ تيټ شو لمونځ يې نه ده صحيح بس بيا سلام وګرځوو ،ما لمونځ وکړ اوسره له دې چې بېخي صحيح نه وي.

نو مطلب داچې دا کمزوري ده وجه يې بنيادي غلطې نفقې اوغلط خوراکونه دي.نو بايد چې ډېر احتياط وشي، که مُلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، که امي ده که طالب ده باید ډېر احتیاط وکړي، موږ والله که ګټلي وي، ټکټ مو نه ده اخیستی، هیچا نه ده اخستی ماسوا له هغو خلکو نه چې نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته زیرې ورکړی چې فلانکی فلانکی به په جنت کې وي، هغه خو په حدیثو ثابته ده، خود چا په باب کې خو دغه فیصله نشي کولای او که څوك په دغه دو که شو چې زه مُلا یم، طالب یم یا پیر یم، مجاهد یم، ولاړ دغه تباه شو، نو باید ټول په ډار کې واوسو. له خوراك څښاك او اعمالو سره باید احتیاط وکړو بیا امید د رحمت شته چې خدای جَلَّ جَلَالُهُ به رحم رانندې وکړي، بیا به مو په ژوند کې هم برکت وي، په کور کې به مو هم برکت وي په تقریر او وعظ کې به موهم اثروي او په اخیرت کې به موهم هغه تلپاتې او همیشه ژوند په ښه طریقه په برخه وي. وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد واله واصابه اجمعين برحمتك يا ارحم الراحمين امين يارب العالمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۱) مجلس

## د دین ارزښت او له علماوو څخه پوښتنې کول

### د فی سبیل الله مصداق

بنیادي شی په ترمذي شریف کې د جهاد په فضائلو کې احادیث راغلي دي چې څوك د خدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې ووځي ده ته څومره ثواب ده؟ اوس فی سبیل الله چې په آیاتونو او احادیثو کې ذکر کېږي ده مصداق مفتي صاحب په (منهاج السنن) کې لیکلي چې فی سبیل الله د خدای پاك په لار کې وتل داتر جهاد پورې نه دی خاص بلکې جهاد، علم، حج او نورو تېولو نیکو عملونو ته شامل دی.

نو مجاهد چې له خپل کور څخه د اعلاء کلمة الله له پاره ووت، په سنګر کې پروت ده، په بندر کې پروت ده، د جنګ په صحنه کې پروت ده، دده ژوند ته ټول فی سبیل الله ژوند ویل کېږي ترڅو چې دی بېرته خپل کور ته راځي. حاجي چې د حج په سفر ووت ترڅو چې د حج له سفر نه فارغېږي دا ټول سفر د حج ته فی سبیل الله ویل کېږي. ځکه د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د دین په خاطر یې سفر کړی، د دغه وطن نه چې سړی تکټ کوي په څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاسه یولک روپیو ویزه داخلوي ، دی خو د تماشې اوسیل له پاره نه ځي خو دخدای پاك د یو فرض عبادت د ادا کولو له پاره ځي نودغه وتل چې دحج په نیت څوك روان شو هم فی سبیل الله ورته ویل کېږي ترڅو چې بېرته خپل کور ته راځي. عُمره کوونکی دخپل کور نه په دغه نیت روان شو چې ترڅو بېرته خپل کور ته راځي دغه ته فی سبیل الله ویل کېږي

همدارنګه طالب العلم چې له خپل کور نه ووځي ترڅو چې خپل کور ته راګرځي دغه ژوند ته فی سبیل الله ژوند ویل کېږي. همدارنګه یو تاجر چې د حلال رزق د ګټلو له پاره ، نه د مال د زیاتولو له پاره. زمونږ زیاتره سفرونه د مال د ډېرولو له پاره دي. رزق مو وي ، خو بلډنګونه ، مارکیټونه جوړوو، خو په دین خبر نه یو. له ضرورت زیات تجارت او مال ګټل په هغه وخت کې روا دي چې دخدای جَلَّجَلَالُهُ په دین به خبر وي، په کومه اندازه چې دی هغه علم ته ضرورت لري او خپل ځلورویشت ساعته ژوند وربانديې د دین د ارشاداتو مطابق تېر کړي او دی هغه علم حاصل نه کړي او دنیا او مال ګټي دا ورته نه دي جائز. خو که دومره خبر وي چې هغه خپله زندګي وربانديې تېرولای شي نو بیا په دغه صورت کې د مال ډېرول او زیاتول یو مباح کار دی. نو اصل مطلب ته راګرځو چې که یو تاجر د حلال رزق د حاصلولو له پاره له کور څخه ووت ترڅو چې دی بېرته راګرځي دا هم فی سبیل الله دی.

[ منهاج السنن / شرح جامع السنن للامام الترمذي ج: ۵/ص: ۱۸۲ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمعې لمانځه ته تلل څومره ثواب لري؟

اوس دا د خدای په لار کې وتل د جمعې د لمانځه له پاره هم دي

﴿ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: لَحِقَنِي عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، وَأَنَا مَاشٍ إِلَى الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: أَبْشِرْ، فَإِنَّ خُطَاكَ هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، سَمِعْتُ أَبَا عَبْسٍ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُمَا حَرَامٌ عَلَى النَّارِ» : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ﴾

[ جامع الترمذي ج: ۱/ ص: ۲۹۲ / باب من اغبرت قدماه في سبيل الله، رقم الحديث: ۱۶۳۲ ]

ژباړه: له حضرت یزید ابن ابي مریم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وايي: زه د جمعې لمانځه ته روان وم چې (عبایة ابن رفاعة ابن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) را سره یو ځای شو، نو راته وې ویل: زیری درکوم ستا دغه قدمونه د الله تعالی په لار کې دي، له ابو عبس نه مې اوریدلي ویل یې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي: چې دواړه پښې د الله تعالی په لار کې په ګردونو باندې سپیرې شوې نو دواړه په اور د جهنم باندې حرامې دي.

یعنې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دین په خاطر چې ستا په بدن کوم ګردونه لګېدلي دي، دا ګردونه او د جهنم اور نه سره یو ځای کېږي. نو دغه د دین ټولو لارو چارو ته فی سبیل الله ویل کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که یوڅوک خاص دخدای جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره دجُمعې لمانځه ته ځي، عُمرې ته ځي، جهاد ته ځي، حج ته ځي، د علم په حاصلولو پسې ځي نو ددې اعمالو قیمت او درښښت له الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ سره دومره زیات ده چې که په دې لاره کې په یو چا باندې ګردونه پرېوځي په هغه به د جهنم اور حرام وي. اوس چې یو څوک خپل ټول ژوند پکې تېر کړي، لس کاله، دولس کاله په طالبي کې تېر کړي اوپه میاشتو میاشتو وخت په جهاد کې ولګوي ، دحج په سفر کې څلوېښت اویا زیات و کمې شپې هلته تېرې کړي؛ نودا ټول ژوند ، په دې ژوند کې خوراک، څښاک، ناسته ولاړه، دا ټول عبادت بلل کېږي حتی که په دغه لاره کې څوک مړ شي، طالب د سبقونو په دوران کې پخپل مرګ مړ شو، نو الله تعالی دغه انسان ته د شهادت مقام ورکوي. که مجاهد د جهاد په سفر کې په خپل مرګ مړ شو نو الله جَلَّجَلَالُهُ ورته د شهادت مقام ور په برخه کوي. د الله تعالی په خزانو کې څه کمی نشته.

که یوڅوک د الله تعالی د دین په خاطر له کوره ووت، مثلاً اوس مونږ د جُمعې لمانځه ته ځو، نو مسئله داده چې که د کور خواته جومات وي نو سرې دې بل جومات ته نه ځي، خوکه په دغه نیت بل جومات ته روان شو چې هلته نېک خلک او علماء او اولیاء الله دي ، یا په هغه جومات کې ډېر خلک سره یوځای کېږي ،کېدی شي چې دهغوی د دعاګانو او لمونځونو په برکت زما دعاګانې او لمونځ هم د قبولیت مقام ترلاسه کړي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دغه سړي ته له خپل جومات نه هغه بل جومات ته تلل جائز دي. نو اوس چې هغه ځای ته ځي دا څومره قدمونه چې ده اخیستي دي نو په هر قدم الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه شخص ته یوه یوه نیکي ورکوي، یوه یوه ګناه ورته معاف کوي. نو چې یو څوک څومره لرې ځي دغومره ډېر ثوابونه به یې په برخه کېږي.

د مسجد نبوي په څنګ کې یو څه ځمکه خالي پاتې وه، نو یو قوم غوښتل چې خپل کورونه را بار کړي او په دغه خالي ځای کې آباد شي ددې له پاره چې جومات ته نږدې وي، کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددوی له دې ارادې څخه خبر شو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: «دِيَارَكُمْ تُكْتَبُ آثَارُكُمْ» په خپلو کورونو کې اوسېږئ ستاسې قدمونه به لیکل کېږي څو چې کورونه مو څومره لرې وي قدمونه به مو زیات وي او په هر قدم باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یوه یوه نیکي درکوي او یوه یوه ګناه مو معافوي. او یوه یوه درجه مو لوړېږي.

## دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په لارکې مال لګول څومره ثواب لري؟

﴿ عَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللهِ كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ» ﴾

[جامع الترمذي ج ۱ / ص: ۲۹۲ / باب ما جاء في فضل النفقة في سبيل الله، رقم الحديث: ۱۶۲۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له حضرت خُریم ابن فاتک رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: څوک چې د الله تعالی په لار کې مال مصرف کړي ده ته به یوه روپۍ په اوه سوه بدلیږي.

یعنې بیا که بالفرض په دغه (فی سبیل الله) کې له یو چا څخه مال مصرف شي نو د مصرف یې دوه لارې دي:

اول دا چې ته په خپله په کور کې ناست یې خو روپۍ سنګر، مدرسې، یا حرم شریف ته یې ولېږې نو دا د خدای جل جلاله او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرموده او وعده ده چې د دې مصرف کوونکي له پاره به یو په اووه سوه (۷۰۰) ثواب ورکول کېږي.

او که یو څوک په خپله حج ته ځي او کرایه لګوي، جهاد ته ځي خپل مال مصرفوي، علم حاصلوي او خپل مال مصرفوي نو دغه شخص ته الله تعالی د یوې روپۍ ثواب یو په اووه لکه (۷۰۰۰۰۰) ورکوي. الله تعالی ډېر رحیم او مهربان ذات دی، نیکي ډېره په اسانتیا سره پیدا کېږي خو چې نیت ته مو پام شي، چې په دې پوه شو چې د څه له پاره ځو، غرض مو څه دی؟ کله چې مو نیت صفا شي، چې د الله تعالی د دین د زده کړې له پاره ځو، یا بالفرض د الله تعالی د یو فرض حکم د ادا کولو له پاره ځو، د الله تعالی د بندګي له پاره ځو، نو کله چې په دغه نیت ځو نو روپۍ او قدمونه به مو بې ځایه نه وي، ډېر داسې خلک شته چې د طالبي په فضایلو او درجو باندې خبر نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې وجې څخه په خپل طالب ورور او زوی باندې خرڅه کوي او نه یې بل طالب ته څه ورکول له وسه وي.

مفتي فرید صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ دابن ماجه په حواله لیکي: څوک چې دالله تعالی په لار کې نفقه ولیږي او دی په کور کې وي دده یوه روپۍ به په اوه سوه بدلیږي او څوک چې په خپله غزا ته ولاړ شي چې په خپل ځان یې لګوي یوه روپۍ به یې په اوه زره بدلیږي. او دابوداؤد په حدیث کې دي چې لمونځ، روژه او ذکر په نفقه فی سبیل الله په پنځه سوه چنده زیاتیږي، نو اجر د ذکر په جهاد کې او حج او علم او غیر له دې په یو کم پنځوس کروړه ثواب لري. نو دغه اجر او ثواب طالب ته په مدرسه کې حاصلیږي او غازي ته په معسکر کې.

[منهاج السنن، شرح جامع السنن للامام الترمذي ج ۵/ص ۱۸۲]

## په د نیاوي تعلیم ولې دومره مصرفونه کوي؟

د دنیا خو بیا دا نظام ده چې که یو هلک پوهنتون (کالج) یا مکتب (سکول) ته داخلیږي نو له اول څخه واخله آن تر شپاړسم پورې چې له مشرانو څخه یې پوښتنه وکړې چې په یو یو هلک څومره مصرف راځي، څومره فیسونه ورکوي؟ د موټرونو کرایه یې څومره ده؟ د هغه کور او کوټې او هاسټل چې دی هلته پکې اوسیږي څومره کرایه ده؟ نو بې اندازې خرڅې ورڅخه کیږي. دا ولې؟ دا ځکه چې دې خلکو دنیاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټې په پام کې نيولې وي، چې زوی به مې ډاکټر شي، بيا به له يوه مريض څخه پنځه سوه فيس اخلي، لس يا شل زره روپۍ په ورځ کې راټه راوړي، داسې ډاکټران هم شته چې د ورځې له مخې په لکونو روپۍ ګټي. نو ددې هلکانو مشرانو هغه دنياوي مفادات په پام کې نيولي وي، نو ځکه په خپل زوی او ورور مصرف کوي، هغه مکتبي هلک هم په ځان مصرف کوي، ځکه د دنيا ګټه يې په سوچ کې وي، چې که ځومره ډېره خرڅه وکړم نو بيا به هلته زه ښه پوسټ اخلم، بيا به مې تنخواه هم زياته وي، عائدات به مې هم ډېر وي.

که انجينير يا پروفيسور شي هم دغسې دنيوي ګټه يې په نظر کې نيولې وي، خو کله چې طالب عاجز او غريب له کور څخه وځي، نو د دنيا د ګټو سوچ ورسره نه وي، چې زه به بيا داسې پيسې ګټم، نه يې پلار او ورور او بل کوم دوست ته داسې په فکر کې ورځي چې طالب جان به مې وروسته ماته په ورځ کې لس زره روپۍ وګټي، په طالب باندې چې پلار لس، دولس کاله خرڅه وکړي، بيا هم چې کله فارغ شي نو زر روپۍ يې تنخا وي، چې ډېره زياته تنخواه يې شي بيا هم تر دريو زرو نه پورته کېږي، يو نيم داسې به وي چې تنخوا به يې زياته وي.

اوس نو چې د دنيا ګټه نو ته يې ورور يا پلار وګوري نو وايي چې په طالب جان هسې بې ځايه خرڅه کوو، ځکه چې له فراغت څخه وروسته به يې ايله بيله دوه زره يا درې زره تنخواه وي، په دې تنخاګۍ به زمونږ کوم کار جوړ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دې ته یې بیا پام نه وي چې په دغه طالب چې زه کومې روپۍ مصرفوم ، نو الله تعالی به ما هم د ده د طالبي په ټوله زندګي کې ورشریک کړي، او د یوې روپۍ بدله او ثواب به راته یو په اووه سوه راکړي، او که زه په خپله علم حاصل کړم او په ځان باندې خپل مال مصرف کړم ماته به خدای جَلَّ جَلَالُهُ د یوې روپۍ په بدله کې اووه لکه راکوي، د و مره ګټې چې د چا په ذهن او فکر کې ورشي نو بیا به یې په کالجونو او یونیورسټیو کې دا خپل مال ولګوي ؟

زموږ دا مطلب نه ده چې موږ د پوهنتونو ( کالجونو ) د تعلیم خلاف یو، بلکې د تعلیم خلاف نه یو خو تعلیم چې د شریعت په چوکاټ برابر وي، که عصري علوم دي او که دیني علوم د دې ټولو په جواز علماء قائل دي، حسد او بدبیني نشته، د دې دنیا نظام په دغو خلکو چلیږي، ډاکټر، پروفیسور، انجینر ، ساینس دان دغو ټولو ته پکې ضرورت شته، دا تخنیکي سامان آلات ،ماشینونه د دوی د ساینس او ټکنالوجي نتیجه ده، چې دوی کوشش کوي نو دغه د دنیا ماشین آلات ټول برابروي، د دنیا نظام لکه دختهکر په شان دی چې موږ یې خلاف نه یو ځکه کور راته جوړوي نو د ډاکټر به ولې خلاف یو ، نو مطلب مو په دوی اعتراض نه ده، خو خبره داده چې مسلمان باید خبر کړل شي ، د مسلمان دګټې او تاوان لارې باید وسنجول شي، د علماوو سره باید دا فکر وي چې دا روپۍ چې په دغه ځای لګوي او دا روپۍ چې بیا په دغه بل ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګوي دا فرق يې ده، نور ګټه او تاوان ته يې ته په خپله وګوره. که د دنيا په ګټه کې څوک راته ووايي چې په فلانکي ځای کې د دغه شي دومره قيمت ده او دلته په دومره ده ، هغه ځای ته به ورځو چې زمونږ ګټه پکې ډيره وي، په اکثره ځايونو کې د دريو ورځو د مېلو له پاره يو بازار جوړ شي ، مخکې دښته وي او بيه دغو ورځو کې د يو دوکان ځای په دوه زره يا درې زره روپۍ وي او دنيا د ګټې احساس د سړي سره وي، خپل دوکان دلته پرېږدي او هلته ورشي، ځکه چې هلته ګټه ډېره ده. نو د علماء کرامو مطلب همدا ده چې خلک په دې پوه کول غواړي چې هلته دې ګټه ډېره ده او د دين او آخرت ګټه دې ده.

نو غرض دا چې دلته راتګ يا بلې مدرسې يا جومات ته يا نورو ديني مدارسو او مراکزو ته تګ بې ځايه نه ده، بايد خلک په دې پوه وي چې دا ناسته، مصرف ، دا سترې تول بې ځايه نه دي. الله تعالی به په آخرت کې اجر ورکوي او نېکه ثمره به ورباندې مرتبه کېږي. او خصوصاً د دين زده کړه د دين ښه تعمير غواړي، نو مونږ چې د دنيا د ښه تعليم له پاره کوښښ کوو هغه کالج او يونيورستۍ ته ځان رسوو چې هغه ډېره ګټه پکې وينو، ځکه خو په هغه ځای کې دغه تعليم حاصليږي، په بل ځای کې نه حاصليږي ، خو دين دا په مدرسو کې زده کېږي ، دا په جوماتونو کې زده کېږي، له علماوو څخه زده کېږي او علماوو دولس يا ديارلس کاله په طالبۍ کې تېر کړي وي بيا تر آخري ژونده پورې دغه د دين په خدمت کې وخت تېر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دورهٔ حدیث ټول درسونه یوازې تدریسول اسان کار نه دی

زه د سر د مرض له پاره ډاکټر ته ورغلی وم، نو دغه د خپلو درسونو حال مې چې ورته ووایه چې ټوله لویه دوره راسره ده، نو ډاکټر داسې تعجب کاوه چې دومره غټ کتابونه په یوه ورځ یو سړی برداشت کوي؟ په دغو کالجونو کې چې ایم اې (M.A) دوی ورته وایي یعنې د شپاړسم سره برابره ده، هلته پروفیسران په ورځ کې یو مضمون وایي، بعضې داسې دي چې ډېر مشهور شي نو په جُمعه کې یو مضمون وایي، ځکه چې دا په دماغو باندې بوج راولي، نو داچې تاسې دومره ټوله ورځ په یوه سر باندې درس کوئ نو طبعاً به تکلیف درته پیدا کېږي، نو ستا علاج دوا نه ده، بلکې راحت او آرام ده.

اوس مطلب مې دا و چې دغه مُلایان یو خل په طالبي کې وخت تېروي، بیا تر سپیین ږیرتوب پورې دومره تکلیفونه تېروي چې د دنیا پروفیسران یې نه شي تېرولای نو په دین به خود دوی خبر وي، چې عالم دېرش یا څلوېښت کاله مسلسل په دې کار لګیا وي کتاب کتل او ویل دي، هغه چې په دین پوه نه وي نو بل څوک به پوه شي؟

## د جوماتونو زیاتره امامان له مسائلو څخه ناخبره وي

زه چې په اکثره ځایونو کې په امامانو پسې درېدلی یم نو په اکثره ځایونو کې حافظان امامان دي، یقین ده چې اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځونه بې کراهیته نه دي، خودغه د جوماتونو امام په مکروهاتودلمانځه هم خبر نه ده، اونبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایي (الإِمَامُ ضَامِنٌ) امام د ټول قوم ضامن ده، د ټولومقتدیانود لمانځه مسئولیت دده په غاړه ده، خو دی وربانديې خبر نه ده، علم ورسره نشته، یوازې د قرآنکریم په یادولو کله علم حاصلیږي.

له مونږ سره بیا د لمانځه ارزښت نشته، چې امام په پنځه سوه روپۍ پیدا کیږي نو ښه مُلا په دوه زره روپۍ څه کوو چې نیسو یې ؟ لکه مخکې مو همدغه خبر وکړه چې یو دوکاندار د دوکان له پاره یو منشي په اته زره روپۍ نیسي چې هغه ماهر منشي وي، په دې کار اوبار ښه پوه وي، یعنې د دنیاوي مفاداتو سړی په جګ قیمت نیسي، که بالفرض درې څلور ځایه کارونه وي، درې څلور منشیان ورته نیسي، دغومره تنخواه پرېکوي، خوپه څلوېښت کوره یو مُلا نیسي او هغه یو مُلا ته دا کوشش کوو پنځه سوه روپۍ تنخواه یې وي، داسې مُلا چې نه وي چې مصرف یې ډېر شي ، اوس هغه مُلا چې د پنځو سوو مُلا ده دهغه په خپله لمونځ نه ده زده، نه په مکروه خبر وي اونه په مفسداتو خبر وي، زه چې په کوم جوماتونو کې اوسېږم زما چې دا څومره وخت ووت که یو لمونځ هم وي له مکروه څخه خالي نه ده، له سنتونو خو بېخي خبر نه ده، چې په سهار کې څومره قرائت ویل سنت ده، په ماښام یا ماخوستن کې کوم ویل کیږي او خفیه خو مونږ اورو نه، چې هلته به څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې وايي؟ خو په جهري لمانځه کې کله دوه آياته (آمن الرسول) په يو رکعت کې ووايي اوبيا په دوهم رکعت کې چې په اتفاق د ټولو ائمه وو که دوهم رکعت په اول اوږد شي مکروه کېږي، په دوهم رکعت کې بيا اوولس آياته، کله پنځلس آياته ووايي، ځکه په اول کې آياتونه دوه دي، خو وقفې پکې ډېرې وي، نو دی غريب په دې خبر نه دی

نو له مونږ سره دا احساس نشته، دا فکر نشته، نه مونږ خبر يو نه مُلا خبر ده

اصل د مطلب خبره داده چې نن سبا چې په دې خلکو کې ګمراهي ډېره شوه هغې وجه داده چې مونږ د دين مرکز ته رجوع نه کوو، چې هغه مدرسه ده، علماء دي، له هغوی سره بايد زمونږتعلقات وي، تر څو د دين په احکامو خبر شو، له فرائضو اوواجباتو خبر شو، دا عمل په مونږ کې نشته، د پښتو متل ده چې: څرنګه غر هغسې يې ګېډورې. څرنګه يې چې امام وي همغسې يې مقتديان وي، په روژه کې امام په دې خوشاله وي چې مقتديان يې صفت وکړي چې فلانکي امام په دومره کم وخت (يو پاو) کې ټول فرض، سنت، تراويح او وِتر لمونځ پوره کړ. دوی په دې خوشاله وي چې ټول لمونځ په يوه پاو کې خلاصوي سره له دې که يودنيوي مجلس وي دټوکواوتکارومجلس وي دنيټ اوفيسبوک کاروی بيا که ټوله شپه اوورځ په يوه پښه ودرېږي هم پروايې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یو امام عجیبه واقعه

یو وخت کې د بېر مخکې زه او زما مشر ورور د روژې په منځ کې یو ځای ته تللي وو ،هلته یو امام و، نو که قسم درته وکړم پرې حانث به نه شم، په الحمد لله کې د الحمد څخه نیولې تر ولاالضالین پورې یو تکی هم نه صحي کېده. په یوه پاو کې یې فرض، واجب او تراویح ټول خلاص کړل. زمونږ مشر ورور ورته وویل چې: د تراویحو او نور فرض لمانځه چې دې یو ځل نیت وتاړه نوبیا د تراویحو او فرضو ترمنځ څه فرق نه پاتې کېږي، په نفلو او سنتو کې هم قرائت ، قیام، رکوع او سجده فرض ده، تعدیل د ارکانو پکې واجب ده، په دې کې بیا د فرضو او سنتو فرق نشته، خو دغه امام په دې خبره ځان پوه نه کړ. دا مسئله ده چې که یو څوک معلومات نه لري، نو اول وار به یې په پته پوه کړې، که بیا نه اصلاح کېده نو بیا به یې دخلکو په مخکې ورته وایې. په دوهم ځل چې دغه امام په تراویح کې بیا خپل عمل تکرار کړ نو د خلکو په مخکې یې ورته وویل چې دا لمونځ داسې مکوه ، قرائت دې بالکل نه صحي کېږي، نو ده وویل چې ما خپله شروط صلوة ویلی ده، زه دغه ثواب ته راغلی یم، زمونږ په ورور یې دا گمان نه کاوه چې دا به طالب وي حال داچې هغه مشر طالب و، نو زمونږ ورور په مختلفو کتابونو یو څه حوالې ورکړې، ورته په غصه شو، کله چې امام صاحب پوه شو چې دا خو طالبان دي، نو سهار وخت کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چې زه فلانکي ځای ته خم خپل کالي مې راوړم، دی به لا خپل کالي اوس هم راوړي.

په سبا ورځ یې چې زه مخته کړم ، له مخکني لمونځونو نه مو یو څه وخت پرې ورزیات کړ، کومې تراویح چې په یو پاو کې خلاصېدې هغه مو نن په نیم ساعت کې خلاصې کړې، کلیوالو وویل چې هغه بل امام صاحب خو داسې تکړه و چې په یو پاو کې به یې له هرڅه څخه خلاص کړو، او تا خو دومره اوږد کړ، داسې ښکاري لکه دا لمونځ چې په مونږ او تاسې یو بېټی وي، دا احساس له هیچا سره هم نشته چې دا لمونځ صحي شو او کنه؟ خو بس چې دا لمونځ خلاص شي.

زمونږ او ستاسې په جوماتونو کې همدا خبرې وي چې داسې ښه لمونځ کوي، داسې ښه او خوږ غږ یې ده، او چې کله ورته وګوري نو لاسونه به یې پاس په سینه باندې نیولي وي، زیاتره امامانو ته والله که به د مذهب درک وي، څوک داسې وي چې په لمانځه کې په دواړو لاسونو خپلې جامې برابروي ، څوک په ږیره کې لاس وهي، سره له دې چې امام وي، له مونږ سره د خپل لمانځه غم نشته نو د امام به راسره څه غم وي.

له علماء کرامو څخه دا مسئله په ښکاره ډول ګړې ده چې: تر ټولو لومړی حق دامامت دچا دی ؟ په ټولو کې لائق او احق د امامت هغه څوک ده چې ښه عالم او مُلا وي، که ټول علماء وي، په علم کې سره برابر وي، بیاهغه څوک حقدار ده چې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرائت یې وي، که په قرائت کې هم ټول سره برابر وي، بیا چې څوک ښه پرهېزګار وي، او که په دې صفت کې هم ټول سره برابر وي، بیاچې څوک ډېر مشر وي نو هغه د امامت حقدار ده. بیا چې څوک ښه ښائسته وي، ځکه ښک وجود په ښکو اخلاقو دلالت کوي، د صورت حُسن د اخلاقو په حُسن دلالت کوي، تردې اندازې پورې چې که په ټولو صفتونو کې سره برابر وي نو چې د چا ښځه اخلاقاًوصورة ښائسته وي بیا به هغه د امامت له پاره مختته کوي، ځکه چې د ښځې د ښائست له امله له ګناوو څخه ساتل شوی دی، په پردیو ښځو پسې یې نه سودا کېږي، نو د امامت په باره کې کتابونه تردې اندازې احتیاط بیانوي.

او زمونږ دا کوشش وي چې هغه څوک امام کړو چې نه په قرآن خبر وي، نه په احادیثو خبر وي اونه یې اعمال له سنتو سره برابر وي، هرڅه یې که کول کوي به یې.

نو زمونږ اصلي نقصان داده چې له علماوو سره زمونږ تعلق نشته، که څوک غواړي چې له دین څخه خبر شي نو له علماء کرامو سره دې تعلق ساتي، له دوی څخه باید د دین په هکله پوښتنې وشي، زه بار بار خپلو شاګردانو او علماء کرامو ته دا وایم اود نورو مدرسو طالبانو ته هم دا وایم چې: دغه مدرسې اوطالبان، استادان ددغو عوامو مسلمانانو ورونو په مرسته او کومک روانې او چلېږي، دا چې دغه مسلمانان په یو بل ځای کې تکلیفونه تېروي، مسافري برداشت کوي، لوږه او تنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروي او بيا له دې سره دوی دا خپل مال راوړي، عالم او طالب العلم ته يې ورکوي نو طالب او عالم ته هم ضروري ده چې دوی ته بيا دين ورزده کړي، دا د عوامو مسلمانانو په علماوو حق ده، لکه څنګه چې يوطالب په کوم کلي کې اوسيږي په هغو کليوالو يې دا حق ده چې دوډۍ به ورکوي، نو کلی هم دا حق لري چې له مولويصاحب څخه د مسئلو پوښتنې وکړي. که يو څوک له يو عالم څخه پوښتنه وکړي او دغه شخص ته ددغې مسئلې حل کولو ته ضرورت ولري او دغه عالم ته دغه مسئله معلومه هم وي او ورته يې حل نه کړي نو دقيامت په ورځ به يې د اور قيضه په خوله کې ور ولويږي نو قوم په مُلا صاحب حق لري او مُلا صاحب په قوم حق لري

د عوامو له مدرسو او علماوو اونېکو خلکو سره اخلاص دا د دوی دنياوي تعاون ده، خود علماوو اخلاص داده چې له دوی سره په دين کې تعاون او همدردي ولري، اوس نو دا چې حق مو دی نو تاسې هم بايد ددينې مسئلوپه حق پوښتنه کې ونه شرمېږئ!.

که مسئله مو زده نه وي، نو له ملاصاحب څخه به يې پوښتنه کوې! حتی که ښځه وي ، هغه هم د دين د احکامو زده کولو ته مجبوره ده، حيض ورته پېښ شو، د حيض په احکامو خبره نه ده، د نفاس په احکامو خبره نه ده، د لمانځه فرائض او واجبات ورته معلوم نه دي، نو اول به دغه ښځه له خپل مېړه څخه پوښتنه کوي، دا د دين مسئلې ځان ته معلومول دا يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېړه ددې حق ده، نو که مېړه يې عالم و نو هغه به ورته ځواب ورکړي او که عالم نه و نو ښځه دا حق لري چې ورته ووايي چې ورشه له مولويصاحب څخه زما له پاره پوښتنه وکړه، ځکه د ښځې د باندې وتل جائز نه دي، نو مېړه د ښځې د مسئلې دحل کولو له پاره مجبوره ده او هغه عالم ته به ځې تر څو ددې ښځې دا مسئله حل شي.

اوس دا خو مسئله ده اود هر سړي په کور کې لور، خور او ښځه ده ، نو چې کله مسئله پېښېږي نو حل کول يې هم ضروري دي، که مېړه ملا نه وي او دا هم ورته ووايي چې له مُلا څخه هم پوښتنه درته نه کوم، نو بيا له دې څخه وروسته دې دا ښځه له خپل مېړه څخه اجازه وغواړي چې ماته اجازه راکړه تر څو زه مولوي صاحب ته ورشم ، خو هغه هم د شريعت د حدودو په چوکاټ کې د کلي يو سپين ږيري عالم ته دې د خپلې مسئلې وضاحت وکړي او له هغه څخه دې د حل لاره وغواړي. په دې ځای کې په مېړه باندې واجب دي چې ښځې ته به اجازه ورکوي او که داسې وي چې مېړه اجازه نه ورکوي اودا د مسئلې حل کولو ته مجبوره وي ، ضرورت يې زيات وي، نو په دې صورت کې د مېړه له اجازې نه بغير هم تللای شي، خو د شريعت د حدودو په چوکاټ کې. چې د فتنې وېره نه وي. له سړيو سره يې کوم خلطيت رانه شي، مګر عالم ته دا جائز نه دي چې هغه له مسئلې څخه مخ واړوي اوورته ووايي چې زما نه ده زده. خان نه شي خلاصولای. عوام په عالم باندې دا حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چې له ده څخه به پوښتنه کوي، که يې نه وه زده، بل ځای ته دې ولاړ شي پوښتنه دې وکړي.

ماته داسې مسائل هم پېښ شوي دي چې زما به زده نه وو، په بل کوم مشر عالم پسې به تلم، هلته به مې له هغه څخه پوښتنه کوله. ځکه چې زه د کلي امام وم، د کلي به ما حق وو، اوس چې زما زده نه وي،نو ده ته داسې نه شم ويلای چې زما زده نه ده، او بل عالم ته ولاړ شه او له هغه څخه پوښتنه وکړه. بل عالم خو به زه ښه پېژنم، او عوام خو هغه مُلا ښه عالم بولي چې ښه تقرير ورته کوي، او بيا وايي چې ياره فلانکی ډېر ښه مُلا ده، مُلا په تقرير نه پېژندل کېږي، تقرير هرڅوک ښه کولای شي، دا سياسي خلک ( سياست مداران ) دومره ښه تقريرونه کوي چې داسې تقرير ښه شيخ الحديث هم نه شي کولای، خو که بيا دې له همدې مقرر صاحب څخه پوښتنه وکړه چې د لمانځه څو فرائض دي، څو يې واجبات دي ؟ بيا په هېڅ هم خبر نه وي. نو ښه عالم چې پېژني عالم به يې پېژني ( اِنَمَا يعرفُ ذُوالفضلِ مِنَ النَاسِ ذَوُهُ ) داچې فلانکی ښه مُلا ده بايد له هغه نه پوښتنه وکړم.

نو د دين د احکامو پوښتنه درباندې فرض ده، کوئ به يې، او په علماوو باندې مو د احق ده چې له هغوی څخه به پوښتنه کوئ او عالم به تاسې ته ځواب درکوي.

خو مونږ داوداسه، غسل یا د لمانځه په پوښتنه یا د کور د ښځو دمسائلو په پوښتنه کولو شرمېږو ، دغه شرم دې ځای ته ورسولو چې خدای مکړه جهنم ته به ځو. که د دین د احکامو په پېژندلو کې څوک شرم وکړي هغه به له بربادي سره مخ کېږي.

د نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره ابو طالب چې له ده سره یې ډېرې زیاتې ښېګنې هم کړې دي، دده تر مرګه پورې کفارو په نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظلم نه شوای کولای، خود زنکدن په وخت کې چې مریض ده، نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده کورته ورغی ،هلته ابوجهل بدبخته او امیه بن خلف هم ناست دي، نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایې چې ای کاکا ! له ماسره دې ډېر ښه کړي دي ، یواځې یوه کلمه طیبه زما په غوږ کې ووایه چې د قیامت په ورځ درته زما د شفاعت لاره خلاصه شي، اود خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په حضور کې دې زه شفاعت وکړم، څکه مسلمان خو د کافر له پاره شفاعت نشي کولای، ابوجهل لعین اودا بل کافر ( امیه بن خلف ) ورته وایې چې ګوره د نیکه دین پرې نه ږدې، هغه به ورته هغه خبرې کولې او ده به ورته دا ویل، په آخر کې ابوطالب نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا وویل چې: دا شرم ده چې زه دپلار او نیکه دین پرېږدم، خلک به وایې چې : د مرګ نه وویرېده، نو ځکه کلمه نه وایم، که نه ښه پوهېږم چې ستا دین حق ده، د شرم له وجې څخه هغه کافر له دنیا څخه ولاړ.

مونږ د دین په کار کې شرمېږو، د بدن په علاج کې مونږ ته که داسې تکلیف پېښ شي چې: د عین شرمګاه په ځای کې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه خپل شرم ستر کې پټوو، او خپل عورت ډاکټر ته لوڅوو، څکه خو د بدن د علاج غم راسره وي.

هغه خپله لور، ښځه، مور چې څوک اسلام او غيرت ولري دا نه شي برداشت کولای چې څوک يې ټيکري ته وګوري، قسم ده که به يې د چا غيرت ومني، خو د ضرورت له وجې څخه چې تکليف ورته پېښ شي دغه خور او لور او ښځه ډاکټر ته ور ولي، ډاکټر يې ګوري کنه؟ دا شرم ټول تر پښو لاندې کوو او کنه؟ حتى ډاکټر يې په خېټه ورته لګيا وي، تر دې چې ډاکټر د اپرېشن ځای ته تا هم نه ور پرېږدي، ډاکټر او مريض سره پوهېږي، چې څرنګه يې کوي، دا ټول شيان برداشت کوو، دا ولې؟ د دغه درد غم راسره وي، چې ښځه مور او لور مې مړه نه شي، حتى د ښځې په مسانه کې ډاکټر لګيا وي اپرېشن کوي، مونږ ورباندې خبر نه يو، عورت يې ټول ويني او کنه؟

که نه ښځه خو له سر نه تر نوکانو پورې ټول بدن يې عورت ده، د ښځې قبر چې معلوم شي، چې دا د ښځې قبر ده، او هډوکي يې معلوم شي نو هغو هډوکو ته کتل هم نه دي روا. د سړي له نامه لاندې چې کوم عورت ده او په مونږ باندې له نامه لاندې وېښتان خرييل لازم دي، دغو خرييلو وېښتانو ته د سړي کتل جائز نه دي، له دې وجې څخه دې په عامو غسل خانو کې نه غورځوي، چې نور مسلمانان په ګناه اخته نه شي دغه وېښتان دې پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې خبره دومره د شرم ده، چې د عورت وهښتان به هم پټوي، خود مرض له وجې ، د درد له امله مونږ ډاکټر ته هم عورت لوڅوو. خور، مور او ښځه او لور هم لوڅوو، شرم شاته پرېږدو، خو د دین په مسئله کې بیا شرمېږو، حال داچې مولوي صاحب یې نه په عورت ګوتې وهي او نه پوچ او بد رد ورته وایي او نه فیس اخلي، نه نمبر وي چې انتظار به ورته کوي، هېڅ شی هم نشته پکې، خو په دې باندې شرمېږو چې دمولوي صاحب نه پته پوښتنه وکړو، د حیض یا نفاس په مسئله کې چې ښځې ته داسې تکلیف ده، یا ماته داسې تکلیف ده، په دغه مونږ شرمېږو، دغه شرم مونږ له دنیا څخه جاهلان تېر کړو، او په دغسې جهل کې واقع یو.

نو په مونږ او تاسې دا لازمه ده چې له علماوو نه دمسائلو پوښتنې وکړو، دغه عالم ته چې له کوره دمسئلې د پوښتنې په نیت ور روان شوې دغه زندګي دې فی سبیل الله ده، چې ددغه ځای نه حقانیه اکوړه خټک ته پسې ځې، کراچۍ ته پسې روان یې دا ټول تګ دې فی سبیل الله ده، دا سفر دې ټول غټ غټ ثوابونه لري. اوس نو مطلب مې داده چې ټول دین سره زر ده.

حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب په مناقبو کې چاته وایي چې : ( اَعِدْ ذِكْرَ نُعمانٍ لنا فَاِنَّ ذِكْرَهُ هُوَ المِسکُ ما كرَّرتَهُ يتضوع ) ګورئ ! امام شافعي صاحب د بل مستقل مذهب څښتن ده، هغه بر حق علماء دي، نو دی وایي چې : د امام صاحب مجلس راته کوه ، څکه د امام صاحب خبرې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشک دي چې څومره يې موښې خوشبويي يې زياتيږي، مثلاً
په بوتل کې عطر دي، پنځلس کاله پراته وي، تاته يې بوی نه
درځي ، خو چې سر يې خلاص کړې نو سمدستي يې خوشبويي
شروع شي، نو چې کله يې په بدن ولګوې نوخوشبويي يې
زياتيږي، بياکه بنه عطر و تر څو شپو دوام کوي ؟ اوس نو دا
دين تول دغسې شی ده ، چې په دين څومره خبريږې دغومره
ثوابونه دي، څومره چې عمل ورباندې کوې دغومره ثوابونه
دي، څومره چې تکليف پکې تېروې دغومره يې ثوابونه دي،
دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په خزانو کې خو څه کمی نشته، دا چې دنيا
پيدا ده ، څومره انسانان يا حيوانات او څومره مخلوقات چې
الله تعالی د قيامت تر ورځې رزق ورته ورکوي دهغه جَلَّ جَلَالُهُ له
خزانو ، د ستنې دسپم په اندازه شی هم نشي ختمېدلی.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا فَيَقُولُ: يَا رَبِّ قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ " قَالَ: " فَيُقَالُ لَهُ: انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ "، قَالَ: " فَيَذْهَبُ لِيَدْخُلَ فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ، فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ " قَالَ: " فَيُقَالُ لَهُ: أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيُقَالُ لَهُ: تَمَنَّ "، قَالَ: " فَيَتَمَنَّى، فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَعَشْرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا " قَالَ: " فَيَقُولُ: أَتَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ "، قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ»

[جامع الترمذي ج ۲ / ص ۸۷ / بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ لِلنَّارِ نَفَسَيْنِ، وَمَا ذُكِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيدِ ، رقم الحديث : ۲۵۹۵ ]

ژباړه : له حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي : چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي : زه هغه سړی پيژنم چې ترټولوخلکووروستی به له جهنم څخه راوزي ، هغه سړی ده چې راووزي په کوناتې به ښويږي وبه وايي اې الله تعالی ! خلکو ټول ځايونه نيولي دي ؟ نو الله تعالی به ورته ووايي څه جنت ته ننوزه ، نو ولاړ به شي چې ګوري چې خلکو ټول ځايونه نيولي دي ، نو را وبه ګرځي وبه وايي اې الله تعالی ! خلکوخو ټول ځايونه نيولي دي

ورته وبه ويل شي چې ددنيا ژوند درته ياديږي ؟ دی به ورته ووايي هو! الله تعالی به ورته ووايي غواړه څومره خای غواړې ؟ نو دی به تمنا وکړي الله تعالی به ورته ووايي چې دا تا چې کومه تمنا وکړه دغه دې شوه او ددنياپه انداز لس چنده ځاي دي په جنت کې نور شو .

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايي : دی به ورته ووايي : چې ته په ما باندې مسخري کوې او حال داچې ته لوی بادشاه يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي: چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره وخندل چې نوا جذ غاښونه مبارک یې ښکاره شول.

نو خزانې یې ډېرې دي، دومره جنت ده لکه دا اووه واړه اسمانونه او ځمکې چې سره یوځای کړې.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ» ﴾

[ جامع الترمذي ج ۲ / ص: ۸۷ / بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَجَرِ الْجَنَّةِ، رقم الحديث: ۲۵۲۳ ]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي چې په جنت کې یوه ونه دومره ده چې په اس سپور سړی سل کاله ور څخه لاندې مزل وکړي د دغې ونې شاخونه او سوری نه خلاصیږي.

نو د الله تعالی خزانې نه خلاصیږي، دا زړه ته مه غورځوئ چې دا ثوابونه څرنګه ورکوي؟ هغه یې ورکولای شي

کمی په مونږ کې ده، چې مونږ اصلاح شو، نود انعاماتو لاړې شروع دي، بیا په کم عمل دومره غټ غټ ثوابونه ورکوي چې تر حده به زیات وي، هو ! خو نیت غواړي، عقیده او اخلاص غواړي چې د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دحضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهجرت لنډه واقعه

﴿عن عائشة قالت بينارأس رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی حجری فی ليلة ضاحِيَةٍ اذ قلت يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هل يكون لاحدمن الحسنات عددنجوم السماء قال نعم عمرقلت فاين حسنات ابوبكر قال انما جميع حسنات عمر كحسنات واحدة من حسنات ابى بكر رواه رزين﴾

[رواه مشكاة المصابيح ج ۲بامناقب عمر ص ۵۸۲]

ژباړه : له ام المؤمنين عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرمبارک زماپه سینه ایښی و ماخُستن د شین آسمان لاندې چې وریخ نشته اوټول ستوري ځلیږي، نو ورته ومې ویل : یا رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ا ددې ستورو په اندازه نیکي به د چا وي ؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایي چې: هو !. دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدومره نیکی دي، د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په زړه کې څه ور وګرځېدل چې دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ثوابونه زما له پلار ( حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ) څخه هم زیات دي، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې وویل چې: د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کومه مرتبه او مقام ده ؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې: دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټول عُمر عبادت دحضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له هغې یوې شپې سره نه ده برابر کومه شپه یې چې له ماسره په هجرت

کولوکې تېره کړې ده. کله چې کفارو ددوی د قتلولو اراده وکړه ، کفارو ویل چې دا خلک خو ورځ په ورځ ترقي کوي او مخ په وړاندې روان دي نو ددوی مخنیوی په کار ده، لکه نن سبا چې د یو نېک انسان مخنیوی کېږي، او مسلمان یې مخه نیسي، ځان ته به مسلمان هم وایي، خو د خیر د کارونو مخه به نیسي، له کافر نه خو ګیله نشته، ځکه چې هغه خو مرهسې هم دښمن ده، نو په ( دارالندوة ) کې یې مشوره وکړه، ابلیس لعین هم ورته راغی، ویې ویل چې زه خبر شوی یم چې تاسې له دې سړي نه ډېر په تکلیف کې یاست، زه هم له تاسې سره په دې مشوره کې شریک یم، نو څه ورباندې کوئ؟ یو وویل چې: بندي به یې کړو، دومره خوراک به ورکوو چې له مرګ نه پرې خلاص وي، نور خلک به یې له دعوت نه خلاص شي، ابلیس بدبخته ورته وویل چې: داخوڅومره خوندوره مشوره نه ده، ځکه دده داسې ملګري دي چې په ده باندې ځان قربانولو ته هم تیار دي، بیابه یې په زور درڅخه خلاص کړي بل یو کافر ورته وویل چې: له وطن نه به یې وشړو، ورک به شي، څوک به یې نه پېژني، ابلیس لعین ورته وایي چې: نه! په دې کې هم تاسې خطا یاست، تاسې دده خوږو خبرو ته نه ګورئ، مجلس یې څومره خوږ وي، څومره ښه اخلاق لري ، دا که بل وطن ته ولاړ شي هلته به شناخت پیدا کړي، ملګري به یې پیدا شي، بیا به په تاسې حملې کوي. ابوجهل لعین وویل چې: د هر قوم له هرې پښې نه دې یو یو ځوان له تورې سره راشي ،لس دولس پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، دا ټول دې په یو وار داسې توري ور واچوي لکه یو سړی چې یو څوک وهي، نو چې په یو وار یې شهید کړي، دده کورنۍ (بني هاشم) له ټولو عربو سره جګړې او بدي ته زړه نه شي ښه کولای، او که پور او تاوان (دیت) یې څومره غوښته هغه به ورته ورکړو.

شیطان لعین وویل چې: دا ډېره ښه رایه ده. خدای جَلَّ جَلَالُهُ حضرت جبرائیل عَلَیْهِ السَّلَامُ راولېږه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې امر وکړ چې نور له دې ځایه هجرت وکړه. حضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څلور میاشتې ددې حکم په انتظار و، قصه ډېره اوږده ده.

مطلب دا چې په هغه سفر کې چې حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورسره روان شو، کله به یې دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مخکې منډې وهلې. کله به ورڅخه شاته پاتې کېده، رنګ یې تک زېړ شو، د ډار او خوف اثر وریاندې ښکاره شو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایي چې: ابوبکره! ولې داسې وارخطا یې؟ دی ورته وایي چې: یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! کله راسره دا فکر پیدا شي چې کفارو مخکې مخه راته نه وي نیولې نو څکه مخته کېږم چې که هغوی څه اقدام کوي چې ته خلاص شې او زه ستا په مخکې شهید شم. کله بیا دا سوچ راسره پیدا شي چې کفار به د شا له لوري راپسې راشي، زه به مخکې یم تا به رانه شهید کړي، نو څکه بیا شاته درڅخه پاتې شم. چې ما دې شهید کړي خو چې ته پاتې شې. هلته په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غار کې يې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ځای برابراوه په خپل مبارک لاس يې ځای ورته برابر کړ، خپل پوستين يې ورته واچاوه، دی نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وايي چې: ته ځمله او زه به پيره درته کوم، نو هغه يوه شپه چې ده په هجرت کې ورسره تېره کړې نو د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټول عُمر عبادت له هغې يوې شپې سره نه ده برابر.

زمونږ د نن سبا وخت خلک رابورته شي او وايي چې: امام صاحب ځوک و ،هغه هم يو مُلا تېر شوی ده، کم بخته لږ فکر وکړه ،ته په چا اعتراض کوې ؟په هغه چا لګېږې چې شپه ورځ يې د دين په خدمت کې تېره کړې، په کوم ځای چې امام صاحب رحمة الله عليه وفات شوی، په هغه ځای باندې ده مبارک اويازره وارې قرآن کريم ختم کړی. زه اوته هغه مقام او مرتبې ته رسېدای شو؟

مطلب داچې له دين ښخه خبرتيا، له دين سره تعلق دا هغه وخت حاصلېږي چې زمونږ له علماء کرامو سره تعلق مينه اومحبت وي، نو ځومره چې مو وس وي په خپله علاقه کې کوشش کوئ چې ښه مُلا پيدا کړئ، چې ستاسې زامن په صحي طريقه تربيه شي، په خپلو مسائلو کې له علماء کرامونه پوښتنې کوئ، په پوښتنه کولو باندې مه شرمېږئ، نو خدای تعالی مهربانه ده چې زمونږ ددغو کوششونو موافق مونږ ته ښه عوضونه او ثوابونه راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جَلَّجَلَالُهُ شاهد دی چې په دې خبرو سره مو نور څه مطلب نه دی، يواځې هغه خپل مسئوليت چې له خپلو اسلافو او بزرګانو څخه راته راپاتې دی چې هغه د خلکو اصلاح کول يواځې همدا مسئوليت مو سرته رسول مطلب دي.

## زمونږ پخوانيو مشائخو څومره تکليفونه تېرول؟

زمونږ داسې مشائخ وو چې په ټول شواروز کې به يې دوه ساعته خوب کاوه، او چې په سجده به يې سر کېښود تر هغې به يې له سجدې سر نه راپورته کاوه ترڅو به يې چې د سجدې ځای له اوښکو نه وو ډک شوی. نن دهغوی يو څو نمونې راته پاتې دي، هغوی د مسلمه اُمت د سوچونو له امله په مرضونو اخته دي، د ډېرو حوادثو له امله د مسلمانانو سره د همدردي له امله په څو څو شپو کې خوراک نه کوي، بالفعل په دغو تکليفونو اخته دي. او مونږ ته دهغوی نسبت کېږي، چې دا د فلانکي مُريد ده، نو مونږ وايو چې خدای نخواسته داسې نه شي چې دهغو بزرګانو خدمت دغسې ولاړ شي. د دين په خاطر يې ډېر تکليفونه برداشت کړي دي، نو زمونږ په واسطه که دهغوی لاره خدای تعالی ژوندۍ وساتي دا به زمونږ له پاره ډېره لويه کاميابي وي، زمونږ استادانو له مونږ سره ډېر تکليفونه تېر کړي دي، الله تعالی دې دهغو تکليفونو په بدل کې ددوی هر وېښته او هر هډوکی ته جنت الفردوس نصيب کړي. دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق مونږ نه شو ترسره کولای، یوولس دولس کاله موطالبې کړې ده، دا د دوی د تربیې اثر ده، که مونږ کوم وعظ او نصیحت، درس او تدریس ونه کړو، نو دهغوی هغه کړې سعې به عبث ولاړې شي.

## مصنفینو څومره تکالیف تېر کړي؟

مصنفینو حضراتو چې دا کتابونه جوړ کړي دي، دا هم په ډېر تکلیف سره دا کار ترسره شوی، یواځې د هدایې مُلاصاحب چې دا هدایه لیکلې شپاړس کاله یې وریاندې تېر کړي دي. امام محمد بن اسماعیل بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ چې د بخاري شریف کتاب تصنیف کړی اووه زره دوه سوه اوینځه اویا (۷۲۷۵) مع التکرار بې تکراره (۴۰۰۰) احادیث پکې دي.

[ ضیاء البخاري شرح صحیح البخاري /ج: ۱/ ص: ۵۲ ]

ددې هر یوه حدیث له پاره یې غسل کاوه او هر حدیث ته یې لمونځ او استخاره کوله، چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له طرف نه به ورته معلوم شو چې دا حدیث زما ده ،نو له هغې نه وروسته به یې بیا لیکه.

نو هغه بخاري شریف چې امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ په (۱۶) کاله کې تصنیف کړې، وضع او تراجم الابواب یې د نبوي منبر او روضې مبارکې ترمنځ کړي دي، نو چې اوس هغه بخاري شریف تدریس نه شي آیا هغه به ضائع کېږي او کنه؟ هغه هدایه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضایع شي اوکنه ؟ همداسې نور کتابونه به ضایع شي او کنه ؟
دا چې پروفیسران یو مضمون په جُمعه کې وایي او مُلا ۷ یا ۸
کتابونه په یوه ورځ کې وایي، په یوه یوه حدیث کې چې زما اول
کال ده ما ناچیز او ناقص هم یوه یوه جُمعه سبقونه پکې ویلي
دي. درې څلور شپې مونږ په یوه حدیث کې سبق ویلی، دنبي
کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احادیث مبارک جوامع الکلم دي، یوه خبره
بې دټولې دنیا له پاره یوه قاعده ده. داسې شارحین شته چې د
یوه حدیث په تفصیل باندې یې ۱۱۱ مخه شرحه لیکلې ده

همداسې ۶۰، ۷۰، ۹۰ مخه شروحات په یوه حدیث لیکل شوې
دي، دیوه کتاب څو څو شرحې لیکل شوي دي. همدارنګه
تفاسیر په څو څو قِسمه دي. زمونږ استادانو خبره کوله چې: زه
ځی ( چرې ) وم اوزما استاد علامه شمس الحق افغاني
صاحب رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ قصه کوله چې مصر ته ولاړم، په کتاب خانه کې
مې یوه شخص ته وویل چې: یو نادر او ناآشنا کتاب راته
راکړه، دی وایي چې یو تفسیر شریف یې راوښود چې ۷ جلده
یې یواځې په بسم الله لګیدلي و اوټول تفسیر ۳۰۰ جلده و. دا
داسې کمې خبرې نه دي، مونږ دهغو علماوو په زرمه حصه
کې هم نه یو، مونږ چې دا ډېر غرېږو ،همیش په درس
اوتدریس کې بوخت یو حرص مو داوي چې دا زمونږ غونډي
خلک هم ورک نه شي، که داسې نه وي دا دین اومذهب هم رانه
ورکیږي، په دې ټوله علاقه کې وګرځئ پوښتنه وکړئ چې د چا
په مذهب یې ؟ زما په فکر ډېر خلک به له دې پوښتنې هم خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي چې زه د چا په مذهب یم او مذهب څه شی ده مذهب کومه رتبه ده ، تقلید واجب ده، سنت ده ، مستحب ده، یا د مذهب ثبوت په قرآن یا په احادیثو کې شته که نشته ؟ په دې خبرو خبر هم نه دي. والله که به دا د موجوده وخت اکثره ملایان هم پرې خبر وي، عوام خو لاڅه کوې، نو علم هم دښو، ښوهستیو دله منځه تللو په ذریعه ځي، له دې وجې څخه باید ډېر کوشش وشي. چې یو ورځ یې هم وس کېږي د علم په اشاعت کې دې کوشش وکړي، هسې نه چې دا علم ورک شي که نه بیا به تیارې ته ناست یو. دغه خړې پړې مدرسې دې آبادې وي، له دې مدرسو سره تعلق ساتئ ، زما دا خبرې د خدای د رضا له پاره دي. یو ډاکټر ته که ورشئ ، هغه ته سره له دې چې فیس هم ورکړئ ، که دوهمه خبره ورسره کوې نو درته وایي چې دماغ به نه راخرابوې ، د دوایي د استعمال طریقه هم دی نه درته ښیي، او درته وایي چې د باندې دواخانې والا به یې درته وښیي، دوهمه خبره نه درسره کوي، خودا علماء چې دا تکلیفونه تېروي داد روپیو له پاره نه دي، دا د دین په خاطر دي چې دا دین خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ژوندی وساتي. نو مونږ او تاسې ته دې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دغه مقدس دین باندې د عمل کولو توفیق راکړي، او خدای جَلَّ جَلَالُهُ دې زمونږ او تاسې له علماء کرامو سره واقعي مینه او محبت پیدا کړي. او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې هغه خلک چې د اسلام په جامه کې ددین اومذهب او دنېکو خلکو خلاف لګیا دي او غواړي چې اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مذهب داغجن کوي ؛ په مذهب ردونه کوي، الله تعالی دې ورته هدایت وکړي، ځکه مسلمان له پاره به سرې د الله تعالی څخه د هدایت سوال کوي. اوکه هدایت یې په برخه نه وي اودین تخریبوي نوخدای جَلَّ جَلَالُهُ دې دده کور خراب کړي، هغه که مُلا وي، که پیر اویا هر څوک وي، چې د اولاد غم ووینې بیا به ددین څخه ودریږي

## غیر مقلدین څومره بې ادبه خلک دي

داسې خلک چې هغه د دین د خرابولو کوشش کوي. له مونږ سره د طالبي په وخت کې د کونړ د خوا غیر مقلدین طالبان وو، چې معمولي خبره به پښه شوه نو ویل به یې چې : دا شرک ده، چې تا به ورته وویل چې: په دې مذهب خو ستا پلار اونیکه تېر شوي دي، آن تر امام صاحب پورې ټول په مذهب تېر شوي دي. آیا هغه هم مشرکین وو ؟ دوی به ویل : هو ! هغه هم په شرک کې تېر شوي دي. نو چې یو څوک دومره بې ادبه شي چې پلار،مور اونیکه ټول مشرکان بولي نو هغه بیا انسان ده ؟ خو زمونږ دومره ناپوهه خلک دي چې بیا همدغو خلکو ته غوږ نیسي، دهغوی خبره مني. اوهغه د دین او مذهب علماوو، د طریقت هغه حقاني علماوو اودهغوی خبرو ته بیا غوږ نه نیسي او بیاداسې خرافات وریسې وایي چې دا خو د چندو علماء نه دي، بلکې غیر مقلدینو ته دامریکا له خوا ډالر ورکول کېږي،دهغو په پیسو چلیږي، خلکو ته هغه پیسې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره کوي، نو اوس مُلایان د چندو والا دي، ته خومسلمان يې ، بايد کومک ورسره وکړې. نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چنده کوله،دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ له پاره يې چنده کوله،کوم يو وفد به چې له کوم طرف نه راغی او مسکينان به وو دهغوی له پاره به يې چنده کوله. همدارنګه به يې دمجاهدينو له پاره چنده کوله ددې دين له پاره نبي کريم عَلَيْهِ السَّلَامُ چندې کړي دي

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ»﴾

[رواه صحيح المسلم باب بدأ الإسلام غريباً ، رقم الحديث: ۱۴۵]

ژباړه: له حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: دين اول هم غريب و، آخر به هم غريب وي، خوشحالي دی د غريبانو له پاره وي. ددې دين ساتل دغريبانو کار ده. دلته په دغه مجلس کې چې ناست دي دا ټول دهغو خلکو له جملې څخه نه دي چې بېګاه شراب څکي ، چې په زِنا يې وس ورسيږي زِنا کوي ، چې په (ټي وي ، وي سی آر) يې وس ورسيږي هغو ته ګېني.

داسې کسان بيا دلته نه شي کېناستلای، دا دين ددغو غريبانو ده او غريب هغه چاته ويل کېږي چې په دين باندې روان وي،داسې نه چې په جېب کې يې روپۍ نه پيدا کېږي، چې د سنتو پابند وي، دغه ته غريب ويل کېږي، د شريعت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصطلاح کې (فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ) معنا داده چې دغو خلکو ته په جنت کې د طوبی زیری دی، طوبی په جنت کې یوه ونه ده. دا طوبی ونه ددغو غریبانو له پاره ده، چې خاص یې په دین لاس نیولی وي، خلک تعلق ورسره نه ساتي.

الله تعالی دې مونږ او تاسې هم د هغو غریبانو له جُملې څخه وګرځوي

# (۵۲) مجلس

## د محبت علامې او د هغه ګټې

د محبت په هکله مونږ مخکې خبره کړې ده، د چاچې له چاسره محبت وي، د هغه کردار، اقوال او افعال او د هغه اخلاق په ځان کې پیدا کوي.

اوس ددې خبرې وضاحت په کار ده چې له یوچا سره محبت کول څومره ګټه لري؟ له جناب نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره چې څوک محبت کوي د هغه اقوال او افعال په ځان عملي کوي، یا له صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، علماء کرامو او یا هم له اولیاء الله وو سره چې څوک مینه او محبت کوي ددې محبت څه ګټه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ» ﴾

[ صحيح المسلم/ج: ۱/ باب المرء مع من احب رقم الحديث ۲۶۴۰ ]

ژباړه: له حضرت عبد الله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې یو سړی راغی له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یې وپوښتل: څوک له یو چاسره محبت لري، دی په خپله دومره ښه اعمال نه لري چې دهغو نېکو خلکو درجې ته ورسیږي نو دا محبت دهغې مرتبې له خلکو سره څه کټه لري، نو نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایي چې: سړی به له هغه چاسره وي چې له چاسره یې مینه ،محبت او علاقه وي.

په دې ځای کې محدثین کرام چې کومه بُنیادي خبره کوي هغه داده چې: یوه طرف ته هغه نېک شخصیت ده چې دخپلو نېکیو له امله خدای تعالی ورته لوړ مقامات ورکړي دي. او بل طرف ته دغه بل شخص ده چې دومره نېک اعمال یې نه دي کړي، خو په نفسِ محبت سره تا له هغوی سره یو ځای کوي، ددې څه وجه ده ؟ نو ددې یوه وجه داده چې: الله تعالی د دنیا د پیدا ایښت نه څو زره کاله مخکې یو کتاب لیکلی، په هغه کې یې دا لیکلي دي:

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللهَ لَمَّا قَضَى الخَلْقَ، كَتَبَ عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ: إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي﴾

[صحیح البخاری ج: ۲/ کتاب التوحید ص: ۱۱۰۴، رقم الحدیث: ۷۴۲۲]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي: چې کله الله تعالی دمخلوق دپیدایښت فیصله وکړه دعرش برسیره یې ولیکل زما رحمت زما په قهر او غضب باندې مخکې ده.

مطلب داچې د خدای جَلَّ جَلَالُهُ رحمت د هغه له قهر نه زیات ده، اوس نو دهغه رحمت دا اثر ده چې: که په دنیاکې څوک لږ عمل هم وکړي نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د خپل وسیع او زیات رحم له امله ورته یو په لس څخه نیولې تر یو په اووه سوه پورې بلکې یو په اووه لکه بدله او ثواب ورکوي. څکه چې رحمت یې ډېر او غضب یې کم ده.

په دنیا کې که یوڅوک بد عمل وکړي، نو بیاددې لائق دی چې باید هم یې په دنیا او هم یې په آخرت کې الله تعالی تباه او برباد کړي، خو که همدغه شخص بېرته توبه وباسي نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته هغه ګناه معاف کړي، څکه چې رحمت او مهرباني یې ډېره ده. که یوچا شپېته اویا هم اتیا کاله په کفر اویا په بد عملي کې تېر کړي وي خو وروسته بیا توبه وباسي نودغه د شپیتوکلونو بدعمل حتی کفر هم ورته معافوي، څکه چې رحمت یې له عذابه زیات اوغالب ده. که خامخا دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان توبه ونه وېسته خو یو بل نېک عمل يې وکړ، بیا هم د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د رحمت امید شته، ځکه چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ... ﴿١١٤﴾ ﴾

[سورة هود آیت: ۱۱۴] ژباړه: نېک عملونه ګناوې ختموي

له یوچا څخه صغیره ګناه وشوه، نو په اودس يې ورته معاف کړي، په لمونځ کولو يې ورته معافوي، د جمعې لمانځه ته ولاړ په هغې يې ورته معافوي، روژه يې ونیوله، حج يې وکړ، هجرت يې وکړ، صدقه يې ورکړه، په دې ټولو نېکو عملونوورې ګناوې ورته معافوي

یا دا معنا چې: دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحمت دهغه له غضب نه زیات ده، چې که یوڅوک ډېر نېک عملونه، ډېرې خوارۍ وکړي، نو کومې مرتبې ته چې رسېدلی نو دغه بل شخص چې له دغه نېک انسان سره محبت کوي، نودمحبت دا معنا ده چې ددغه سړي په زړه کې هم دا نیت شته چې دی به نېک عمل کوي، له نېک عمل سره مینه لري، اوس هغه لومړنی شخص په عمل دغه ځای ته رسېدلی اودغه بل یواځې په نیت خدای جَلَّ جَلَالُهُ هغه ځای ته رسوي.ځکه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحمت ډېر ده له غضبه هغه شخص په تقوی او دینداري باندې هغه ځای ته ځان رسولی خو دغه بل محض په نیت کې ورسره شریک شو، دی هم ددې شوق لري چې کاشکې زه هم خدای جَلَّ جَلَالُهُ دغسې عالم کړی وای، یایې مجاهد او ولي کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای، حاجي يې ګرځولی وای، نوېوازې په دغه نيت باندې الله تعالى ورته دهغه بل په اندازه مرتبه ورکړه. ځکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ» ﴾ [جامع الترمذي ج:۲/ص:۵۱۴/باب المرء مع من احب]

ژباړه: سړی به له هغه چاسره وي چې له چاسره يې مينه محبت وي، هغه کار يې کړی نه وي، خو په زړه کې ددې اراده شته چې زه به يې هم کوم.

نو له نېکو خلکو سره زمونږ مينه اومحبت کولو فائده به مونږته ځکه زياته وي چې مونږ په خپله په اعمالو کې ډېر کمزوري يو، پخوا به په اعمالو کې يو له بل سره سيالي وه، اوس په دنيا ګټلو کې يوله بل سره سيالي روانه وي، مخکنيوخلکو به په تقوی او ديانت کې سيالي سره کوله، مونږ اوس په فسق، فجور، ظلم او ګمراهي کې سيالي سره کوو، اوس نو چې له نېکو خلکو سره مو هم علاقه نه وي او اعمال مو هم دغسې بې خونده وي نو بيا خو خدای مکړه ددې خبرې زيات احتمال ده چې په هلاکت کې به واقع شو، ځکه به مونږ ډېر ددې خبرې کوشش کوو چې له نېکو خلکو او اولياء کرامو سره ښه اخلاص اومحبت پيدا کړو. ولې چې مونږ په خپله ډېر کمزوري يو.

# د يو صحابي د پوښتنې په مهال د حضرت نبي كريم ﷺ د ځواب عجيبه انداز

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَتَى السَّاعَةُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «مَا أَعْدَدْتَ لَهَا» قَالَ: مَا أَعْدَدْتُ لَهَا مِنْ كَثِيرِ صَلَاةٍ وَلَا صَوْمٍ وَلَا صَدَقَةٍ، وَلَكِنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ، قَالَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» ﴾ [ صحيح البخاري ج ۲، كتاب الادب، باب علامة الحب في الله ص: ۹۱۱ / رقم الحديث: ۶۱۷۱ ]

ژباړه: حضرت انس رضي الله عنه وايي چې: يو صحابي رضي الله عنه له نبي كريم ﷺ نه پوښتنه كوي چې: قيامت به څه وخت وي؟ نبي كريم ﷺ ورته په ځواب كې وايي چې: د قيامت د ورځې له پاره دې څه تياري كړې دى؟ دغه صحابي رضي الله عنه له ډېر خجالت څخه وروسته وايي چې: ډېر لمونځونه مې نه دي كړي، ډېرې روژې مې نه دي نيولې، ډېر نيک اعمال مې نه دي كړي، خو زه له الله تعالى او رسول الله ﷺ سره دزړه له اخلاصه مينه او محبت لرم، نبي كريم ﷺ ورته وايي: « أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ » ته به له هغه چاسره يوځاى كېږې چې له چاسره ستا محبت زيات وي، د الله تعالى جل جلاله ديدار دقيامت په ورځ داسې حق ده لكه موږ چې په شنه آسمان كې لمر يا سپوږمۍ وينو، د لمر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلو کې د ټولې دنیا خلک سره شریک دي، یو او بل سره نه پورې وهي چې ته یوې خوا ته شه چې زه لمرووینم، هېڅ ازدحام نه وي، دغسې به په قیامت کې په کروړونو او اربونو خلک یوځای وي ، په یو میدان کې به وي، او د الله تعالی په لیدلو کې به ورته هېڅ تکلیف نه پیدا کېږي. خو دغه دیدار به دمحبت په اندازه سره وي، د جنت تر ټولو نعمتونو زیات خوند دالله تعالی په دیدار کې ده. د یو چاچې په دنیاکې له الله تعالی سره څومره مینه وي هغومره به یې هغلته د دیدار برخه زیاته وي، څوک به الله تعالی له سهاره تر ببګاه پورې لیدلی شي، څوک به یې یوه جُمعه کې او څوک به یې په یوه میاشت کې لیدلی شي. همدارنګه ملاقات به له نبي کریم ﷺ سره هم وي، له صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم او اولیاء کرامو سره به هم په همدغه تناسب لیدنه او کتنه وي. په دنیا کې چې دې څومره مینه او محبت وي نو په آخرت کې به دې هم دغومره نږدېوالی په برخه وي. خو شرط یې دادی چې محبت به دې واقعي وي، یواځې چیغې نارې سورې کفایت نه کوي.

## داچې مونږ دالله تعالی جل جلاله غلامان یو نو مونږ باید څه وکړو؟

یو عالم لیکي چې په دې خبره کې چې: مونږ دالله تعالی غلامان یو، نو مونږ په دې کې دروا‌غجن یو، د عبدالله معنا داده چې د خدای جل جلاله غلام . نو غلام دغلامي ژوند کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام د حُر ( اصیل ) په څېر ژوند نه کوي، غلام د څښتن په مخکې د حیوان حیثیت لري، که هغه یې خرڅوي او که یې له ځان سره ساتي، که یې آزادوي او که خپل خدمت ورباندې کوي نو څوک یې په مالک اعتراض نه شي کولای، خو که یو غلام د څښتن له امر څخه مخالفت او سرغړونه کوي، نو څښتن یې هم سزا ورکوي او نور خلک یې هم ملامتوي چې ولې له خپل څښتن څخه مخالفت کوې ؟ په اوس وخت کې خو غلامان نشته ، نو په مثال کې به اولاد را واخلو.

یو څوک چې اولاد ولري، نو په هر دین کې په اولاد باندې پلار حق لري، که دغه اولاد دخپل پلار احترام او ادب کوي ، دهغه خبره مني،نو پلار هم ورڅخه راضي وي او خلک هم شاباسی ورکوي چې د فلانکي خو ډېر ښه زوی ده، دخپل پلارخدمت ښه په اخلاص سرته رسوي، دخپلې مور یې ډېر خدمت وکړ اوکه خدای مه کړه کوم اولاد له خپل پلار سره مخالفت ته ملا وتړي نو دا پلار مجبورېږي چې دده سره په مقابل کې ودرېږي ، خپل زوی به وهي، همدا مور یې ور جګېږي اودا خپل زوی وهي، خلک هم ورته د یو بدبخت انسان په سترګه ګوري چې فلانکی خو انتهایي بداخلاقه ده، له خپل مور او پلار سره یې بې ادبي شروع کړې ده. دمور ، پلار او مشر ورور خبره نه مني. اوس چې مور او پلار په اطاعت درنه راضي کېږي او په مخالفت کولو درڅخه خفه کېږي، دپلار او مور په اطاعت باندې نور خلک درڅخه خوشالیږي، چې دا خو ډېر نېک

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان ده، او که کله په دې خوشالي کې ورځخه خفه نه شي، نو بیا همدا نور خلک یې مور او پلار ته راځي چې خیر دی دا دومره وخت یې بنه درسره کړي دي نن سهوه ورځخه شوې، پوه شوي نه دی، خیر تاسې عفوه ورته وکړئ، بیا نو هغه پلار چې له خپل اولاد څخه راضي وي، په خپله هم له ځینو تقصیراتو د اولاد څخه تېرېږي اود بل په سفارش خو یې بیا یقیني معاف کوي. نو بالکل په همدې شکل باندې که یوڅوک د الله تعالی بندګي په اخلاص مینه او محبت سره وکړي نو الله تعالی ورځخه راضي کېږي.

## الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په خپلو بندګانو څومره مهربانه دی

د الله تعالی مینه ، محبت ،رحمت او مهرباني له غضب څخه مخکې ده، له خپل بنده سره له اویا واري زیاته هغه مینه او محبت لري کوم چې موربې له خپل اولادسره لري، څوک چې څومره د الله تعالی خبره مني دغومره به یې مقام او درجه ورزیاتوي. خو انسان عاجزه ده، که دده نه څه ګناه وشوه نو اول خو یې الله تعالی هغو پخوانیو نېکیو ته ګوري نو ګناه ورته معافوي اوکه بالفرض الله تعالی یې ورته معاف نه کړي، توبه یې ونه اېسته اودی جهنم ته ولاړ او له عذابونو سره مخامخ شو، نو بیا د الله تعالی د دوستانو سفارش ده ته فائده رسوي، پیغمبر عَلَیْهِ‌السَّلَام ، ملائکې ، علماء کرام اویا هم شهیدان به یې سفارش کوي، قرآن عظیم الشان به یې شفاعت کوي، الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی ته به زاری، کوي چې ستا دغه بنده د نورو اعمالو په اعتبار سره ډېر ښه وو دغه یوه ګناه ورڅخه شوې دغه ګناه خو ته ورته معاف کړه، نو الله تعالی بیا دهغه سفارش هم قبلوي؛ اوس نو چې مونږ څومره د اطاعت کوشش کوو نودا د محبت علامه ده.

نو اصل خبرې ته خو، مونږ د غُلامي خبره کوله، نو هغه عالم وايي چې: مونږ په دې خبره کې دروغجن یو چې مونږ دا وایو چې مونږ د الله تعالی غلامان یو، ځکه چې داسې کارونه کوو لکه حُر (اصیل) خلک یې چې کوي، د خپلې خوښې کار کوو، څښتن چې څه راته وایي هغه نه کوو.

## خلک په دوه قسمه دي

خلک په عمومي توګه په دوه قِسمه دي، یو قِسم هغه خلک دي چې ټوله مینه او محبت یې له خپل نفس سره ده. او یو قِسم هغه خلک دي چې دهغوی محبت ټول له الله تعالی سره ده.

په چا چې خپل نفس غالبه اوي‌ه کوم شي یې نفس راضي کېږي نو دهغه دخواهش د پوره کولو له پاره کوشش کوي، ځکه دده له خپل نفس سره مینه وي، نو چې نفس یې څه غواړي دی هم کوشش کوي چې هغه شی ورته ورسوي. که دغه انسان له یوچا سره محبت کوي هغه هم دخپل نفس په تقاضا کوي، که له دنیا، قدرت، عزت او مشهورتیا سره مینه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم د نفس د تقاضاوو له امله وي. ځکه چې خپل نفس محبوب او معشوقه شو نو بیا هغه د خپل نفس رضا غواړي

له انسان څخه نفس یوازې په دې خوشالیږي چې هغه دې په خپل ژوند کې د الله تعالی اوامرو ته ځای نکړي او د نفس د غه تقاضا هغه وخت پوره کېږي چې یو څوک له دنیا، قدرت او له نامه سره مینه ولري، حتی له یو خپل سره دوستي کول هم د نفس په تقاضا وي چې دا خو مې خپل او تربور ده، باید چې محبت ورسره وشي. یا له یو چاسره محبت د طمعې او توقع په خاطر کوي، امید ورته لري چې که له دې سړي سره آشنایي وکړم دا فائده به راته ورسیږي، نو دا هم د نفس تقاضا ده. او که له یوه هلک یا ښځې سره محبت کوي هغه هم د نفس په تقاضا کوي، ځکه له هلکانو او ښځو سره په مینه کولو باندې د نفس خواهش پوره کېږي.

نو د چاچې له خپل نفس سره ډېره مینه او علاقه وي هغه تل دا کوشش کوي چې نفس څنګه راضي وساتي، نو نفس چې کوم شی ورته ښائسته کوي دی کوشش کوي چې هغه پوره کړي.

دوهم قسم بیا ځینې داسې انسانان دي چې د هغوی ډېره مینه او محبت له الله تعالی سره وي، نو که د غه انسان له چاسره مینه او محبت کوي هغه د دین په خاطر کوي چې الله تعالی پرې راضي کېږي، که له علم او قدرت سره مینه کوي هم د دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاره یې کوي، له دې شیانو سره یې په محبت کې مقصد د دین خدمت کول وي.

نو اصل خبره داده چې په دنیا کې دوه قسمه معشوقې شوې یا به الله تعالی وي، او یا به نفس وي. د نفس د خواهشاتو په پوره کولو سره شیطان له سرې ښخه راضي کېږي، نو شیطان یې هم ملګری شي، هغه کوشش کوي چې داسې اسباب ورته پیدا کړي چې نفس یې وربانده خوشحاله وي.

او چې د چا محبت له الله تعالی سره وي، نو دده ملګري ملائکې، انبیاء علیهم السلام او نېک خلک وي. دهغوی سره محبت کوي، ځکه چې د الله تعالی مینه او محبت په دې کار کې ده.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره محبت داهم دخدای پاک جل جلاله د محبت اثر ده، چې دچا له الله تعالی سره مینه وي، نو دهغه بیا د الله تعالی له رسول صلی الله علیه وسلم سره هم مینه پیدا کېږي، دخدای پاک جل جلاله له دوستانو سره محبت هم د الله تعالی د محبت یوه نښانه ده، ځکه د چاچې له الله تعالی سره مینه وي دهغه له دوست سره یې هم مینه پیدا کېږي.

اصل مقصود د خدای پاک جل جلاله رضا شي. لکه په جانب مقابل کې چې اصل مقصود نفس رضا شي نو نفس چې په کوم شي راضي کېږي دی کوشش کوي چې هغه کار وکړي. نو دچا مینه چې له الله تعالی سره پیدا شوه نو چې په کوم شي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّ جَلَالُهُ راضي کېږي :ی دهغه عمل د کولو کوشش کوي، خو د الله تعالی رضا بیا د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په متابعت کي نغښتي ده، ځکه رب تعالی نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فرمایي:

﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ ﴾ [ال عمران]

ژباړه: ووایه (ای پیغبره! دوی ته) که چیري یئ تاسې چې محبت کوئ له الله تعالی سره پس متابعت وکړئ زما چې محبت به وکړي الله تعالی له تاسې سره (د ثواب په درکولو) او مغفرت به وکړي تاسې ته ګناهونه د تاسې، او الله تعالی مغفرت کونکی دی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره).

ځکه د الله تعالی سره تعلق هغه د پیغمبر په واسطه جوړیږي، نو چې یو څوک د پیغمبر اطاعت وکړي بیا به د الله تعالی سره دده تعلق جوړیږي. ځکه الله تعالی مونږ ته حکم کوي چې: ﴿ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ ﴾ [سورة النساء آیت:۵۹] د الله تعالی اودهغه د پیغمبر اطاعت کوئ: ځکه خدای تعالی وایي چې زما پیغمبر یواځې ددې له پاره در استولی ده چې: (لِيُطَاعَ) چې خلک یې اطاعت وکړي، اوس نو د پیغمبر اطاعت د الله تعالی په حکم شو، چې په واقع کې بېرته متابعت او اطاعت د الله تعالی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاچې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره مینه وي د هغه علامې

علماء کرام لیکي چې: که څوک غواړي چې یو سړی وپېژني چې رښتیا هم دده له الله تعالی سره مینه ده او یاهم خپل ځان معلوموي چې آیا زما له الله تعالی سره مینه شته کنه نو ددې له پاره څه علامه ده؟

علامه یې داده چې: ددې انسان له قرآن کریم سره محبت پیدا شي، ځکه چې د الله تعالی سره خبرې د الله تعالی احکام چې الله تعالی په دې شیانو راضي کېږي او په دې شیانو ناراضه کېږي دا په قرآن کریم کې پېژندل کېږي، سړي ته د خپل محبوب خبرې خوند ورکوي، د خپل محبوب د امر په ځای کول ورته خوند ورکوي، په کوم شي چې یې محبوب خفه کېږي له هغه شي نه دی ځان ساتي، نو د الله تعالی خفګان او رضا ټول په قرآن کریم کې معلومېږي.

نو علامه د محبت داده چې له قرآن کریم سره یې مینه او محبت وي، نو دی به بیا کوشش کوي چې په قرآن کریم کې له ما څخه الله تعالی څه غوښتي دي زه به په هغو عمل کوم ځکه چې هغه جَلَّ جَلَالُهُ پرې راضي کېږي او چې له کوم شي څخه یې منع کړی یم ځان به ورڅخه ساتم، ځکه چې دی پرې خفه کېږي هغه جَلَّ جَلَالُهُ مې معشوقه ده بیا راڅخه خفه کېږي، په دنیا کې چې د چا له بل چا سره څومره مینه وي هغومره یې خبرې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړ نیسي. نوچې څومره له الله تعالی سره مینه زیاتیږي دغومره به دهغه خبرې ته غاړه ږدي.

## دهغه سړي علامه چې دده له قرآن کریم سره مینه وي

او له قرآن سره محبت کول له کوم شي معلومیږي ، چې ددې سړي واقعاً هم له قرآن کریم سره مینه ده ؟

نودا د رسول کریم ﷺ په محبت سره معلومیږي، قرآن کریم مونږ ته د نبي کریم ﷺ په واسطه رارسیدلی اوهغه راته بیان کړی دی اوس نود قرآن کریم سره به زمونږ مینه هلته پیدا کیږي چې دهغه چا سره مینه پیدا شي چې موږ ته یې دقرآن کریم خبر راکړی وي، دهغه احکام یې راته بیان کړي وي.

## دهغه چا علامه چې له رسول الله ﷺ سره رښتیا مینه لري

او له رسول کریم ﷺ سره مینه بیا په څه معلومیږي؟ نودا بیا د سنتو سره په محبت باندې معلومیږي.

مونږ مخکې ذکر کړل چې: د چا له چا سره مینه وي نوداسې عمل به وړباندې کوي چې هغه معشوقه یې پرې راضي کیږي، اوس دپیغمبر ﷺ سره محبت هلته ثابتیدای شي چې هغه عمل وکړل شي په کوم چې پیغمبر ﷺ راضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي اوپه کوم شي چې خدای مه کړه هغه خفه کېږي له هغه نه ځان وساتي. د پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قول، عمل اودهغه په مخکې چې چا کوم عمل کړی وي (چې تقرير ورته ويل کېږي) دا ټولو ته د پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت ويل کېږي.

## دحضرت مجدد الف ثانی قدس سره نصیحت

اوس نو چې څوک دپيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د مينې او محبت دعوه لري هغه به هغه وخت رښتيونی وي چې واقعاً د پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له سنتو سره يې مينه وي، له دې وجې (حضرت امام مجدد الفِ ثاني قدسَ اللهُ سرِه) خپل نوم سيد احمد سرهندي فاروقي اوپه مجدد الف ثاني سره مشهور دی، او زيارت مبارک يې په (سرهند شريف) کې دی، د طريقت او تصوف په لاره کې د (نقشبنديه) طريقې يو عظيم مقتدا او لاربنود دی. نو هغه مبارک فرمايي چې: انسان هغه وخت د کمال درجې ته رسيږي چې دی د سنتو متابعت کوي، حتی که يو وړوکی سنت پر ځای کوي او يو لوی بدعت حسنه چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وي کړی نو له دې بدعت حسنه څخه هغه د وړوکي سُنت ثوابونه زيات دي، ځکه چې هغه د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل دی او له هغه څخه ثابت دی.

مثال يې داسې ورکړی چې: يو سړی بيت الخلاء ته ننوځي، نو په دې ځای کې سنت عمل داده چې چپه پښه به مخکې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



باسي او دا دعا به وايي: ﴿ «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ» الحديث ﴾ [ صحيح البخاري ج: ۱/ كتاب الوضوء باب مايقول عندالخلاء ص: ۲۶/ رقم الحديث: ۱۴۲]

اوکه دا يې زده نه وي نو ( اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ) دې ووايي. بياچې له هغه طرف نه بېرته راوځي نو ښي پښه به راوباسي او بيابه دغه دعاووايي چې: ﴿ الْحَمْدُ للهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الأَذَى وَعَافَانِي. الحديث ﴾ [ رواه ابن ماجه رقم الحديث: ۳۰۱]

نو اوس يو طرف ته دغه سنت عمل خلکو ته يو ډېر وړوکی کار ښکاري. او بل طرف ته دمدرسې جوړول چې د پيغمبر ﷺ په وخت کې داسې مدرسې نه وې،نودغو د مدرسو جوړولو ته بدعت حسنه وايي. (بدعت حسنه معنا نوی کارخو چې نېک وي ). نو اوس ددغې مدرسې له جوړولو څخه دغه د بيت الخلاء په سنتو باندې عمل کول ډېر ثواب لري.

[ سنن ابن ماجه /ص: ۳/ حاشيه: ۹ بحواله ، انجاح الحاجة ]

تاسې اوس فکر وکړئ چې يو طرف ته ځومره غټ کار ده چې هغه د مدرسې جوړول دي او بل طرف ته ځومره وړوکی عمل ده چې بيت الخلاء ته چپه پښه مخکې ننه ايستل دي چې يوسنت عمل ده، دا چپه پښه ننه ايستل د سنتو په نيت باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته دمدرسې تر جوړولو هم محبوب او عزتمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دې سړی فکر وکړي چې: له الله تعالی سره محبت ترهغه وخته نه پیدا کیږي تر څو چې دسړي له قرآن کریم سره اوله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مینه پیدا شوي نه وي اوله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مینه بیا تر هغه وخته پوري نه شي راتلای ترڅو چې دهغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له سنتوسره زمونږ مینه نه وي پیداشوي. نو له خپل ځان سره وګورئ چې مونږ څومره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له سنتوسره مینه او محبت لرو ؟ نو بیا به مونږ ته معلومه شي چې: رښتیا زمونږ له دین سره څومره مینه ده ؟ له الله تعالی او حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مو څومره مینه ده ؟

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنتو په پابندي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ راضي کیږي، ځکه چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: چې که څوک زما محبت غواړي نو زما دپیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت دې کوي، له هغې نه وروسته به بیا زه محبت ورسره کوم.

## داسې خلک مې هم ولیدل چې په دروا غویې د حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د محبت دعوه درلوده

یو وخت مونږ کوم ملګري جلسې ته بیولي وو، هغو خلکو ددې دعوه درلوده چې: مونږ له الله تعالی او له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ډېره مینه لرو، په هغه مجلس کې چې د نورو جوماتونو خلک هم راغلي وو په ټول مجلس کې پنځه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان هم نه وو چې ډېرې به یې درلودې، نو ماپه هغه تقریر کې ورته وویل چې: تاسې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د عشق دعوه لرئ، دا څرنګه محبت ده چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنتو فکر له یو سپین ډیري سره هم نشته، او دعوه ددې لرئ چې مونږ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت لرو، پوښتنه مې وکړه چې: په ټوله علاقه کې مدرسه نه وه، په ټوله علاقه کې دخپل قوم یو عالم یې نه و، په ټوله علاقه کې یو طالب نه و، ماته یې چې هغه خلک معرفي کول د یوې کورنۍ به پنځه کسان وو، چې دا ډایرېکټر صاحب ده، داماسټر صاحب ده، دا کلرک صاحب ده، دا فلانکی صیب ده، ټول صاحبان وو، دیوه کور څلور پنځه کسان ټول به د دنیا خلک وو، اویو هم پکې عالم او یاطالب نه وو، نو له دین نه به په څه شي خبرتیا راشي؟ داسې انسان به په دې څه پوه شي چې زه د الله تعالی په لاره روان یم اوکه د شیطان؟ له ماڅخه په دې عمل الله تعالی خوشحالیږي اوکه شیطان؟

دچا چې له چاسره مینه وي نور خو څه کوي دا ظاهري لباس دا خوند ورکوي چې دهغه په شان یې جوړ کړي، هغه نورعمل خو به خامخا کوي، دهغه اعمال او اخلاق خو به په ځان کې خامخا پیداکوي، دوه ښه ملګري چې په خپل منځ کې یې ریښتیا مینه اومحبت وي دهغو جامې به یو رنګ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ام المؤمنین رضي الله عنها صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم ته د نبي کریم صلى الله عليه وسلم د ژوند حالات بیانوي

﴿ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: " أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كِسَاءً مُلَبَّدًا، وَقَالَتْ: فِي هَذَا نُزِعَ رُوحُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "، وَزَادَ سُلَيْمَانُ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ: إِزَارًا غَلِيظًا مِمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ، وَكِسَاءً مِنْ هَذِهِ الَّتِي يَدْعُونَهَا الْمُلَبَّدَةَ ﴾ اصحیح البخاری ج ۱/ کتاب فرض الخمس ص: ۴۳۸/ رقم الحدیث: ۳۱۰۸ ا

ژباړه: له حضرت ابو بُردَه رضي الله عنه نه روایت دی وایي: موږ ته ام المؤمنین عائشې صدیقې رضي الله عنها د نبي کریم صلى الله عليه وسلم شړۍ (ملبد) را وښته او وې ویل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم روح په دې شړۍ مبارکه کې قبض شوی دی، او سلیمان زیاته خبره کړې هغه داچې ابوبُردَه ویل چې ام المؤمنین موږ ته ازار (غلیظ) (پنډلنګ) راوښست چې په یمن کې جوړېږي او داشړۍ یې راوښسته چې دوی یې (ملبد) بولي.

یعنې چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم له دنیا څخه انتقال وکړ ام المؤمنین عائشې صدیقې رضي الله عنها ته به چې صحابهٔ کرام رضي الله عنهم او تابعین حضرات ورتلل اود نبي کریم صلى الله عليه وسلم دحالا تو او ژوند پوښتنه به یې ترې کوله چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم په کومو جامو کې له دنیا څخه رحلت وکړ؟ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عائشي رضي الله عنها صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم اوتابعینو حضراتو ته هغه جامې راوویستې یوه شړۍ وه

(مُلبد) یعنې لېمڅۍ . د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه مبارک څادر یا شړۍ له ډېرو پیوندونو ورکولو څخه داسې شوې وه چې یو پیوند به په بل باندې برسېره وو.

اوهغه لنګ مبارک چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم روح مبارک پکې قبض شوی وو، هغه دومره ډبله جامه وه چې ځینې وایي چې هغه ته هم پیوندونه ورکړل شوې وو. څوک وایي چې دا یوه خیره جامه وه اوله دې نه یې لنګ مبارک جوړ کړی وو. دا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دهغه وخت لباس دی چې دی له دې فاني دنیا څخه رحلت کوي، سره له دې چې پیغمبر هم ده، په دنیا کې یې هم بې ساری طاقت او قدرت درلوده، د ټولو عربو امیر و، داسې نه وو چې دی د مسکنت او یا هم نیستي په وخت کې وفات شوی ؤ، د وخت لوی حاکم، امیر او پیغمبر هم و، خو دی په هغو جامو کې له دنیا څخه رحلت کوي چې له ډېرو پیوندونو څخه لېمڅۍ ورڅخه جوړ شوی دی.

حضرت عمر رضي الله عنه یو وخت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کور ته ننوت، نبي کریم صلی الله علیه وسلم په پوزي باندې ډده وهلې ده، بالښت د څرمنې له پوستکي څخه جوړ شوی دی، په بالښت کې دننه د خرما پاڼې اچول شوې وې، په کوم پوزي باندې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم تکیه کړې وه نوده مبارک دبدن په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ کې دهغه پوزي ننښې له ورايه معلومې وې، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه وکتل چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مبارکه کوټه کې له دوه درې پوستکو څخه پرته نور څه نشته، نو حضرت عمر رضي الله عنه په ژړا شو، او ورته يې وويل چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم! تاسې الله تعالى ته سوال وکړئ چې په مسلمانانو آسانتيا او آزادي راولي، قيصر، کسرا او نور مشرکين سره له دې چې کفار دي خو بياهم څومره په آسايش او آرايش کې ژوند تېروي، تاسې د خداى پاک جل جلاله پيغمبر ياست خو ستاسې په کوټه کې د کېناستلو له پاره لاندې فرش نشته اوته هم په پوزي پروت يې. هغه هم دومره کلک پوزي چې ستاسې په وجود کې ننښې جوړې کړې دي.

حضرت ام المؤمنين حضرت عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې: زموږ په کور کې يو پوستکى و چې د ورځې به مو اوش ته پرې وابنه اچول او د شپې به په هغه باندې ويده کېدو.

﴿ عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ لِعُرْوَةَ: «ابْنَ أُخْتِي، إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى الهِلاَلِ ثَلاَثَةَ أَهِلَّةٍ فِي شَهْرَيْنِ، وَمَا أُوقِدَتْ فِي أَبْيَاتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَارٌ» فَقُلْتُ: مَا كَانَ يُعِيشُكُمْ؟ قَالَتْ: «الأَسْوَدَانِ التَّمْرُ وَالمَاءُ، إِلَّا أَنَّهُ قَدْ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِيرَانٌ مِنَ الأَنْصَارِ، كَانَ لَهُمْ مَنَائِحُ، وَكَانُوا يَمْنَحُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبْيَاتِهِمْ فَيَسْقِينَاهُ» ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



[صحيح البخاري ج: ۲/ كتاب الرقاق ص: ۹۵۶/ رقم الحديث: ۶۴۵۹]

همدارنګه دا مبارکه فرمايي چې: زمونږ په کور کې دوه میاشتې هم داسې تېرې شوي دي چې په نغري کې اور نه دی بل شوی، په اوبو او خرماوو به مو وخت تېراوه، يابه هم د همسايه له کوره چا شيدې راوړې اوهغه به مو وڅښلې، نور مو په کور کې څه شی نه دي پاخه کړي. او وجه يې دا وه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په کور څه شی نه جمع کول، هرڅه يې آخرت ته ساتل. نو اوس چې د چا له چا سره مينه وي نو دغه مثال ته دې وګوري.

## حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضرت نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پوره توګه تابع و

دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخلافت په زمانه کې چې دی د ټولو مسلمانانو خليفه و ، اودده په وخت کې مسلمانانو ډېر زيات فتوحات ترلاسه کړي وواوددمبارک دامارت پرمهال ډېر ملکونه په اسلام مشرف شوي ، نو اوس څرنګه چې دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په رښتيا هم له نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مينه وه، نو څرنګه جامه ، خوراک څښاک چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم هماغه عادت ګرځولي وو. نو مونږ وويل چې د چا له چا سره مينه وي هغه ددې هم کوشش کوي چې حتى خپله ظاهري جامه له هغه سره يو رنګه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د کمیس د اوږو په منځ کې دري پیوندونه (پینې) لګېدلې وې، او کوم لنګ چې ده مبارک له ځانه راتاو کړی و هغه ته دولس ځایه پیوند لګېدلی و. نن سبا تر ټولو غریب سړی هم داسې جامې نه اغوندي چې هغې ته پیوند لګېدلی وي او حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې دخپل وخت د ټولو مسلمانانو امیراومشر دی، خو له خپل محبوب سره د مینې اومحبت له امله یې خپله جامه هم هماغسې ساتله.

حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي: د ډېرې لوږې له امله د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته ورغلم، خو هلته هم د خوراک کولو څه شي نه و، جامه مې هم نه درلوده، نو د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کور کې یو پوستکی راځوړند و، هغه پوستکی مې په منځ کې غبرګ کړ او وامې غوسته، هغه داسې جامه وه چې لنګ او قمیص دواړو ته یې پیوندونه لګیدلي وو.

حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دخپل خلافت په زمانه کې شام ته ولاړ، تر څو دخپلو ټاکل شویو امیرانو په هکله له خلکو څخه پوښتنې وکړي، کوم امیر چې ده مقرر کړی و، هغه دده د استقبال له پاره (حمص) ته مخته راغی، هغه چې کله دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جامې ولیدلې نویو جوړ تازه اونوې پستې جامې یې ورته راوړې چې یا امیر المؤمنین ددې مملکت خلک تاته راځي له تاسره ملاقات کوي، ته یې تراوسه نه یې لیدلی، تاسې دغه جامې واغوندئ، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وایي: ماته خپله جامه محبوبه ده، ځکه چې د نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم صلی الله علیه وسلم هم دغسې جامې وې، بیا هغه امیر ورته وایي چې ښه بدله یې کړئ ترڅو یې درته ومینځو، دا خبره یې ورسره ومنله، او هغه بله جامه یې تر هغه وخته له ځانه څخه راتاو کړه ترڅو چې دده هغه زړې جامې ومینځل شوې او وچې شوې، هغه امیر غوښتل چې دغه نوې جوړه همداسې واغوندي، ځکه چې ددې مملکت دهیواد خلګ ورته راغلي اوله ده سره به وني، خو حضرت عمر رضي الله عنه وایي چې: زما خپله جامه راواخلئ، هغه خولې ډېرې ښې وچوي. نو د چا چې له چا سره مینه وي دهغه قول او دهغه فعل هم ده ته خوند ورکويي، دهغه جامه هم ورته خوند ورکوي.

د الله تعالی د محبت علامه داده چې د سړي به له قرآن عظیم الشان سره مینه وي، له قرآن عظیم الشان سره د محبت علامه داده چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به یې محبت وي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دمحبت علامه داده چې دده صلی الله علیه وسلم له سنتو سره به یې مینه او محبت وي، هغه سنت به په ځان عملي کوي.

انسان په خپل وس مکلف ده، مونږ به خپل کوشش کوو، دا خو مو له وسه پوره ده چې خپله جامه، ظاهري صورت په سنتو برابر کړو، په دې کې مونږ ته څه مشکل ده؟ مونږ ته به څه مشکل وي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنت طریقه په جمعه لمونځ وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دين سره هر موافق عمل دا د سنتو زندګي ده او په سنتو ا[ل]
کولو سره انسان ته ترقي پيدا کېږي.

## په يو سُنت د عمل کولو له امله د فيوضاتو دروازه خلاصه شوه

حضرت مجدد صاحب (رحمه الله) فرمايي چې: يو وخت زما پام
نه و د سنتو خلاف په چپ اړخ څملاستم، په ما باندې چې کوم
انوار اوفيوضات د الله تعالی له لوري راورېدل هغه راباندې
بند شول، نو زه پوه شوم چې ما د سنتو خلاف عمل کړی دی،
په څنګ هم وانه وښتم، بلکې له سره په ښي اړخ څملاستم، له
دې سره سم له داسې ډول انوارو او فيوضاتو سره مخ شوم چې
مخکې مې هم نه وو ليدلي.
د حضرت مجدد صاحب (رحمه الله) يوه لنډه کيسه ده کومه چې په (
عمدة المقامات) کې راغلې ده:
دی مبارک يوه ورځ په کيڼ طرف څملاست دی وايي چې په
ما باندې چې کوم انوار اوفيوضات د الله تعالی له لوري
راورېدل هغه راباندې بند شول، نو په زړه کې الهام راته وشو
چې ستا دا پرېوتل د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د سُنتو خلاف دي؛
نو په ښي طرف باندې راواوښتم، بيا مې په زړه کې ووېل چې
سُنت خو له ناستې څخه په ښي اړخ پرېوتل دي، نو بيا
کښېناست او له ناستې څخه په ښي اړخ باندې پرېووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره سم داسې انوار او فیوضات راجاري شول چې مخکې مې هم نه وو لیدلي او د الله تعالی له خوا الهام راته وشو چې د اخلاص او صداقت له مخې ددې یوه سُنت په ژوندي کولو سره (قد غُفرت لک و لـمن توسل بک بواسطة او بغیر واسطة الی یوم القیمة) یعنې تاته او څوک چې په تا پورې توسل کوي که بالواسطه وي او که بغیر له واسطې وي ټولو ته مې مغفرت او بښنه کړې ده. [مقدمة التصوف، ص ۱۸]

اولیاء الله وو اونېکو خلکوته چې څومره ترقي ورپه برخه شوې ورغلې هغه د سنتو د پابندي له امله ورته حاصله شوې علماء کرام هرځای مونږ ته په تقریرونو، وعظونو او نصیحتونو کې په شریعت باندې د عمل کولو دعوت راکوي چې په شریعت باندې عمل وکړئ، داچې مونږ تر څلوېښت او پنځوس کلنۍ پورې په شریعت ځان نه شو برابرولای، نو له دې نه معلومیږي چې زمونږ له الله تعالی اودهغه له نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت نشته، لکه اوس چې مو زړه راته څه وایي هغه په ځای کوو، بیابه چې الله تعالی او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه ویل هغه به مو هم په ځای کول، ائمهٔ کرامو او اولیاء الله وو که څه ویل هغه به مو په ځای کول.

دنیاوي معشوقه که څه راڅخه وغواړي نو في الحال هغه ځای ته ځان رسوو اوهغه شی ورته راوړو نو دې ته هم توجه په کار ده چې دا علماء کرام چې بار بار مونږ ته بیانونه کوي آخر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خو به هم څه مطلب وي. یو څه ګټه خو به یې وي. بالفرض مثلاً په دغه مجلس کې هغو خلکو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنتو موافق د ژوند تېرولو اراده وکړه، چې مونږ به ځان په سنتو او شریعت باندې برابروو، نوتاسې ووایاست چې دغه کار مُلا ته د دنیا څه ګټه ورکړه؟ هوکې! دا ګټه یې شته چې که چېرې دغه عالم دا خبره دخدای تعالی د رضا له پاره کړې وي اودغه سړي هم دخدای تعالی د رضا له پاره عمل پرې وکړ نو دی چې څومره نېک اعمال کوي نو دغه عالم ددې عمل په ثواب کې ورسره شریک ده، دغه یې د آخرت ګټه ده.

نو الله تعالی دې زمونږ او ستاسې په زړونو کې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ او جناب محمدرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودهغه د مبارک دین محبت واچوي، چې ددې سوچ او فکر راسره پیدا شي چې الله تعالی او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کوم عمل راځخه خوشالیږي. او بیاهماغه عمل په پوره کوشش سره سرته ورسوو او امید مو ددې وي چې الله تعالی او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په راځخه راضي وي.

زه د ږیرې خبره ډېره کوم، او الحمدلله ډېرو خلکوزماله خبرې سره سم ږیرې پرېښې هم دي، خو په ډېرو خلکو دا خبره ښه لګیږي، ځکه چې وایي په دې کې زما ګټه ده، دحضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت عمل ده، اوډېر داسې ځوانان دي چې په بازار کې له سړي څخه ځان ځنګ ته کوي اوپه بل طرف ځي، حال دا چې ځان مُحِب بولي چې له دې عالم سره مې محبت ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهره بې ادبي نه کوي، لکن دا مشکله ورته ښکاري چې ډېره پرېږدي، خودا ورته آسانه ده چې لاړه چپه کړي، له هغه عالم سره په کېناستلو خو به یې د آخرت یو څه ګټه شوې وه، خو له هغه نه ځان پټوي، ولې چې شرم ده، ځکه نفس یې خرابیږي، که ډېره پرېږدو نو نفس خفه کېږي، نو نفس نه شي خفه کولای

## یو طالب د ویښتانو د نه کمولو له وجې د کال په منځ کې درس پرېښود

زه د منبع العلوم په مدرسه کې مُدرِس وم، نو یوه طالب ویښتان په یوه طرف اړولي وو، او ډېر غټ پیکی یې پرېښي و، نو ما په مجلس کې بار بار دا خبره کوله چې سړی باید ځان په سنتو برابر کړي، یو وخت د کال په منځ کې دغه طالب بستره واخیسته، ملګرو ورته وویل چې اوس خو د کال منځ ده ، په بله مدرسه کې به هم کتابونه درڅخه ویل شوي وي او ته کډه اخلې؟ دی ورته وایي چې زه له دې ویښتانو نه تېرېږم، دا پیکی نه شم ختمولای، او استاد په سبق کې ماته خطاب نه کوي یعني خطاب بلې خوا ته کوي زه یې بد ایسم

اوس نفس خبیث ده ، سړی نه پرېږدي، که یو څوک په دې باره کې لږ فکر وکړي چې له مولوي صاحب یا خلیفه صاحب سره له دې وجې څخه نه مخامخ کېږي چې ډېره یې خرېیلې اویایې لنډه کړې او شرمیږي، نو له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې نه شرميږي ؟ دا د مُلا سنت دي او که دحضرت نبي کريم ﷺ ؟ دا شريعت د مُلا ده که د الله تعالی او دهغه د رسول ﷺ ؟ له مولويصاحب، خليفه صاحب او حاجي صاحب نه شرميږي اود چاچې سُنت او شريعت ده اود چاچې دين ده له هغه څخه بيا نه شرميږي، سره له دې چې دقيامت په ورځ مو د اميد ځای هم هغه ده، چې هغه ﷺ به مو شفاعت کوي، او نبي کريم ﷺ وايي چې څوک زما د سنتو متابعت نه کوي زه به يې هېڅکله شفاعت ونه کړم، نو بايد دنبي کريم ﷺ د سنتو پوره تابعداري وکړو.

نويوڅوک که له چا سره په جامه او لباس کې ځان برابروي او عمل يې دهغو خلکو په شان نه وي نودهغوی په هکله بيانبی کريم ﷺ داسې فرمايي چې ﴿ مَنْ تَحَلَّى بِمَالَمْ يُعْطَ كَانَ كَلاَبِسِ ثَوْبَىْ زُوْرٍ ﴾ [زادالطالبين بحواله جامع الترمذي ص.۳۲]

يعنې نبي کريم ﷺ فرمايي: څوک چې متقي او پرهېزګاره نه وي، ښه سړی نه وي او ځان د ښو خلکو په جامه کې معرفي کوي ، لکه د درواغو جامې يې چې اغوستې وي؛ يعنې داچې له سر نه تر پښو پورې ټول په درواغو کې پټ ده، چې عمل دې د عالم نه ده، نو ځان د عالم په شکل مه جوړوه، چې عمل دې دخدای د دوست او يو ولي په شان نه ده، نو ځان هغسې مه جوړوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو طرف ته وګورو داسې د امید خبرې دي چې نفس په محبت سره د سړي کار جوړيږي، خو بل طرف ته بیا داسې ده که عمل دې هغسې نه وي نو بیا دهغو په شان جامه مه جوړوه،دا په هغو پورې استهزاء او پسخند ده. ښه نو چې څوک ږیره ، سر او جامه نه برابروي هم تاوان ده، ځکه چې دا د اصیل کار شو، د غلامۍ کار مو ونه کړ، او چې څوک بیا ږیره پرېږدي ، پتکی په سر کوي، د صوفیانو لباس اغوندي خو بیا په ناروا وو لګیا وي.

ګورئ! دا ږیره د انسان له پاره یو د نصیحت لاره ده. مثلاً که یو بې ږیري سړی یو غټ ناروا کار کوي، نو خلک څه ورته نه وایي، خو که د ږیري څښتن یو معمولي بد کار وکړي نو خلک في الحال شور جوړوي چې ږیره دې هم پرې ایښې ده اودا غلط کارونه هم ترسره کوي.

نو معلومیږي چې په دې ږیره کې عزت او سرټوب دی، دچاچې ږیره نشته څوک وریسې څه نه وایي.دا معنا چې هغه خو بالکل ختم ده، او ستا خو ږیره هم شته نو ته ولې داسې ناروا کوې؟ أمي که یو کار کوي خلک دومره بدنه وربا ندي وایي، خو که یو مُلا د شریعت خلاف یو معمولي کار وکړ نو في الحال یې خلک ملامتوي چې ته خو ملا هم یې داکار کوې نوداسې ونه شي چې خدای نخواسته ږیري هم پرېږدو ، پتکی هم په سر کړو، د نېکو خلکو او علماوو جامه هم واغوندو او بیا په غلطو کارونو کې لګیا یو. نو بندګان به مو هم بد یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ولې داسې کار کوي، او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به هم بیا راته وایي چې ولې دې داسې کاوه؟

## د حضرت شُریح په یوه تنبیه مجرم مړ شو

امام شریح چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په زمانه کې یو مشهور قاضي و، نو یو چا څه ګناه کړې وه، بل څوک راغی او شاهدي یې ورکړه چې دا ګناه یې کړې ده. ده حُکم ورکړ چې پنځوس دورې یې ووهئ، دا سړی یې پنځوس دورې وواهه په دې پسې چا یو بل ګنهکار هم راوست چې هغه هم د غسې ګناه کړې وه، امام شریح رحمه الله ورته مخ وروګرځاوه چې تا به ولې داسې کار کاوه؟ نه یې وواهه اونه یې نور څه ورته وویل، یوازې همدومره یې ورته وویل. کله چې هغه دوهم مجرم ووت نو په مجلس کې ناستو خلکو اعتراض وکړ چې په دغو دواړو مجرمانو کې مو ډېر فرق وکړ، حالانکه ګناه یې هم یوه وه، اولنی دې پنځوس دورې وواهه اودغه بل هم چې همداسې ګناه یې کړې وه هغه ته دې یوازې همدومره وویل چې تا به ولې داسې کار کاوه؟

امام شریح ورته وویل چې: په دې دواړو کسانو کې ډېر فرق ده، په اول شخص به خبر شې چې یو څو ورځې وروسته به بیا په ګناه لګیا وي، او پاتې شو دا دوهم شخص دی به یوازې زما د همدې خبرې د غم له امله مړ شي؟ ریښتیا هم هماغسې پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشوه، هغه لومړني بیا په ګناه کولو شروع وکړه اودغه دوهم چې کورته ولاړ دا سوچ ور ولوېده چې رښتیا هم خلک ماته څومره د قدر په سترګه ګوري ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څومره رحم راباندې کړی دی، عالم هم یم، نو ما به ولې د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د امر مخالفت کاوه ؟ دا غم دومره ورباندې درونډ شو چې خوراک اوڅښاک یې پرېښود اودغه وخت له تېرېدووروسته له ډېره غمه مړ شو. (حسنات الابرار سیئات المقربین)

د انبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ حالات چې وکتل شي ، له هغوی څخه زمونږ په عقیده صغیره ګناه هم نه ده صادره شوې، حتی په خطایي انداز سره هم. لکه سړی چې په لار روان وي او پښه یې وښویېږي او ولوېږي ، نو په ډېرو معمولي، معمولي مسائلو کې هغوی دومره ژړلي دي چې که مونږ قتل هم وکړو نو دومره به ونه ژاړو.

د دنیا د ټولو خلکو ژړا که رایوځای کړو نو د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ له ژړا سره نه شي برابرېدلای، سره له دې چې اجتهادي خطا ورڅخه شوې وه. ابلیس علیه اللعنة په ناحقه ورته قسم وکړ چې ته یې د غنم له دانې خوړلو څخه نه یې منعه کړی،زه نصبحت درته کوم، ستا خیرخواه یم، که دا د غنم دانه دې وخوره نو همیش به دې جنت ځای وي اوبیا به ورڅخه ونه اېستل شې ، خو آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ بیاهم ونه منله، حضرت حواء رضی الله عنها ته دغه بدبخت شیطان راغی اوپه خبرو خبرو یې تېرابستله اودهغې خبره آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ هم ومنله ، نو له دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا فکر هم ورغی چې زه يې دغنم له هغه بوټي نه منع کړی يم نو که دا بل وخورم څه حرج به نه وي، نو په خطايي سره يې يوه دانه وخوړه،نو الله تعالی ورته في الحال وویل چې: تاسې ته ما نه وو ويلي چې دجنت له نعمتونو څخه مو چې هرڅه خوښه وي ويې خورئ، خو دغې دانې ته به نه ورنيږدې کيږئ، له دې سره د جنت هغه د عزت جامې ورڅخه لرې کړل شوې، ځمکې ته راکوز کړل شول، او د هغې يوې سهو له امله يې تر سلو کلونو پورې د آسمان طرف ته ونه کتل.

دا چې مونږ ډېره پرېښوده، يا طالب صاحب، مُلاصاحب، خليفه صاحب يا مجاهد صاحب شوم نو بس زه ولاړم او ما وکتله، نه داسې نه ده، بلکې ددې خلکو مسئوليت بيا په دې بل طرف کې هم زيات ده.

د چاچې ظاهري شکل او صورت له شريعت سره مخالف وي نوهغه چې ناروا کارونه کوي خلک يې هم دومره نه ملامتوي، او څوک چې په شريعت برابر وي او غلط کار وکړي نو خلک يې هم ملامتوي، نو دخدای جَلَّ جَلَالُهُ په نزد هم دغسې ده. په نېکانو ابتلا آت ، مصيبتونه ،امتحانونه او تکليفونه هم زيات راځي ، وجه يې دا ده چې بيا په کم شي دوی ته لوی ګرفت ورکوي.

نو کوشش به کوو چې خان تر خپله وسه په شريعت برابر کړو، او له دين سره د زړه له اخلاصه مينه او محبت وکړو،نو اميد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ کله له سړي نه په داسې عمل راضي
شي چې هغه دخلکو په نزد ډېر کم شی وي. له دې وجې څخه
دې سړی کوشش کوي چې مستحب ترې پاتې نه شي، کله کله
په مستحبو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له انسان څخه راضي کېږي.

## سپي ته داوبو په ورکولو په ذریعه ټول ګناهونه معاف کیدلی شي

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي، فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ العَطَشُ، فَنَزَلَ بِئْرًا، فَشَرِبَ مِنْهَا، ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ العَطَشِ، فَقَالَ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا مِثْلُ الَّذِي بَلَغَ بِي، فَمَلَأَ خُفَّهُ، ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ، ثُمَّ رَقِيَ، فَسَقَى الكَلْبَ، فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَإِنَّ لَنَا فِي البَهَائِمِ أَجْرًا؟ قَالَ: «فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ»﴾

[صحیح البخاری ج: ۱/ کتاب المساقات باب فضل سقی الماء ص: ۳۱۸ رقم الحدیث: ۲۳۶۴]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي: چې یو سړی په سفر روان ؤ نوتږی شو کوهي ته ورکوز شو اوبه یې وڅښلې چې بیرته راپورته شو ګوري چې یو سپی ده له ډیرې تندې په زمکه خولې لګوي، نو له خان سره یې وویل دغه سپی هم داسې تږی ده لکه زه چې تږی وم، نو کوز شو موزه یې له اوبو ډکه کړه په خوله کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوه را وخوت او اوبه یې سپي ته کښېنودې، سپي اوبه وڅښلې.

نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې: خدای پاک جل جلاله دغه سړي ته په دې کار باندې ټولې ګناوې وبښلې ، صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم ووېل چې: یارسول الله صلی الله علیه وسلم ! آیا د سپیو په ټنده اولوږلرې کولو سره هم مونږ ته خدای پاک جل جلاله ثواب راکوي ؟ په دې کې هم صدقه ده؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته ووېل چې: هر ژوندي باندې چې شفقت وکړل شي دا صدقه ده، خدای پاک جل جلاله وربانديې راضي کېږي، څکه د الله تعالی مخلوق ده.

نو دا کار دخلکو په نزد معمولي ښکاري، خو خدای پاک جل جلاله په دغه عمل دغه انسان ته ټولې ګناوې معاف کړې. همدارنګه یوې ښځې یوه سپي ته اوبه ورکړې خدای پاک جل جلاله ټول ګناهونه ورته معاف کړل.

## یوه ښځه د پیشوسره دظلم کولوله وجې جهنم ته ولاړه

خو بل طرف ته بیا په حدیث شریف کې داسې هم راځي.

﴿عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ حَبَسَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا، فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ» قَالَ: فَقَالَ: وَاللهُ أَعْلَمُ: «لاَ أَنْتِ أَطْعَمْتِهَا وَلاَ سَقَيْتِهَا حِينَ حَبَسْتِيهَا، وَلاَ أَنْتِ أَرْسَلْتِيهَا، فَأَكَلَتْ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



[صحيح البخاري ج: ۱/ كتاب المساقات باب فضل سقى الماء ص: ۳۱۸
رقم الحديث: ۲۳۶۵ / ۲۳۶۶]

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی وايي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي چې: يوې ښځې يوه پيشو تړلې وه خوراک او څښاک به يې نه ورکولو نو هغه له لوږې او تندې نه مړه شوه، دهغې په سبب دا ښځه الله تعالی جهنم ته داخله کړه. ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل (وَاللهُ أَعْلَمُ) چې نه تا خوراک ورکاوه او نه دې او به ورکولې چې دادې تړلې وه ، او نه دې خوصې کوله نو لګيا وه د ځمکې حشرات يې خوړل.

نو يوه نيکي که وړه هم وي وړه به يې نه بولې، ګناه که کمکې هم وي خو کمکې به يې نه ګڼې. کله ،کله يو انسان په غټه ګناه نه نيول کېږي او په کمکې نيول کېږي، ځکه غټه ګناه ده ته هم ګناه معلوميږي، توبه ورنه باسي، کله ،کله کمکې ګناه سړي ته ګناه نه ښکاري، په هغې ورزړور شي، فخر او خوشالي ورياندې کوي، نو په وړوکې ګناه سړی کفر ته هم ورسيږي.

په نيکي کې هم دغسې ده، نه دې وړه پرېږدي او نه غټه، په غټه نيکي انسان ته عُجب، تکبر او رِيا پيدا کېږي، خو که کمکې نيکي وکړي، خلک يې هم کمکې ګڼي، ده ته هم ځان غټې نه ښکاري او په هغه وړه نيکي الله تعالی ورنه راضي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کريم صلی الله علیه وسلم يوځل دمجاهدينو دضرورت له پاره چندې غوښتې وکړې يوه صحابي رضي الله عنه ډېرې روپۍ راوړې او بل صحابي رضي الله عنه يوه کاسه خرما ( کجورې ) راوړې، نور يې په کور کې څه شی نه و، منافقينو اعتراضونه شروع کړل، چاچې ډېرې روپۍ راوړې وې په هغه يې دا اعتراض وکړ چې دی خو خلکو ته ځان ښکاروي او ريا کاري کوي، اويه دغه بل صحابي رضي الله عنه پسې يې پسخند شروع کړ، چې په دغه يوه کاسه خرماوو باندې دی مجاهدين کاميابوي نو الله تعالی آياتونه را نازل کړل چې دغه اول صحابي که ډېره قرباني ورکړې ده او ډېر مال يې راوړی دی، دده هم د الله تعالی رضا مطلب ده او که دغه بل صحابي لږ صدقه کړې ده هم مطلب يې د الله تعالی خوشالي ده.

په يوه حديث شريف کې راغلي دي چې: کله يو سړی يو لک روپۍ خيرات کړي او بل سړی يوه روپۍ خيرات کړي ،ددغه سړي د يوې روپۍ خيرات دهغه بل سړي د يو لک روپيو دخيرات اجراوثواب ته رسيږي، ځکه ددغه مسکين په وس کې دغه يوه روپۍ وه، اوهغه بل کوور پتي دی هغه ته دغه يو لک روپۍ هيڅ شی هم نه معلوميږي، ددې مسکين وس دغومره ؤ، ده ته به په دغه يوه روپۍ د يو لک روپيو نه زيات ثواب ورکول کېږي، خلکو ته څو کم معلوميږي ، خو دغه کم شی چې دخدای پاک جل جلاله درضا له پاره وي نو الله تعالی هم لوی انعام پرې مرتب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په نیکي کې به کوشش کوو نه به وړه نیکي پرېږدو او نه به غټه. او په ګناهونو کې به هم احتیاط کوو، هم به له صغیره ګناهونو او هم به له کبیره ګناهونو ځخه ځان ساتو.

الله تعالی دې مونږ او تاسې ته په دې نصیحتونو باندې د زړه له اخلاصه د عمل کولو توفیق راپه برخه کړي. آمین

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ وَنُورِ عَرْشِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ (آمين)

# (۵۳) مجلس

## دوه لوی نعمتونه او له هغو ځخه غفلت

﴿عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ»﴾ (جامع الترمذی ج: ۲، ابواب الزهد ص: ۶۵، رقم الحدیث ۲۳۰۴)

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دخدای تعالی په خپل مخلوق باندې دوه داسې نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې تاواني او دوکه شوي دي یو صحت او بل فراغت ده.

د الله تعالی له طرف نه په انسانانو باندې صحت یو داسې لوی نعمت دی چې د صحت په شپو کې که د آخرت له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی هرڅومره کوشش وکړي هغومره ذخیره ورته جوړولای شي، مګر خلک له دې نعمت څخه غافله دي. د دنیا په کاروبار او تجارت کې که له چاڅخه یو دکتې کار پاتې شي نو ټول دوستان او ملګري یې وربانديې خفه وي، چې فلانکي ډېر غټ تاوان وکړ، ځکه چې دا یې د خرڅولو وخت و اوله ده نه تېر شو او تاوان یې وکړ. مګر د آخرت لوري ته څوک متوجه نه دي، ځکه نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې: ددغه نعمت په هکله خلک دوکه شوي، چې نن الله تعالی ورته صحت او موقع ورکړې اودی یې په غفلت کې تېروي. له دوی سره دا سوچ او احساس نشته چې سبا به یوه داسې ورځ راځي چې زه به بیا مریض یم اوله لاسه به مې هېڅ پوره نه وي.

بل نعمت فراغت دی، چې د دنیا له مشکلاتو څخه سړی خلاص وي، دا هم یوداسې لوی نعمت ده چې که د فراغت په شېبو کې یو انسان د آخرت له پاره هرڅومره کوشش وکړي کولای یې شي، ترڅو ښه سرمایه ورته برابره کړي. خو ددغه فراغت له نعمت څخه هم ډېر خلک بې پروا او غافله دي، د فراغت په شېبو کې یې الله تعالی ته پام نه وي، آخرت یې هېر وي، خو کله چې بیا له کوم مشکل سره مخ شي نو بیا یې آخرت هم په زړه شي، الله تعالی ته یې هم پام شي او په زاریو شروع وکړي، خو بیا څه فائده نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت سراج المشائخ دبندیخانې واقعه

جناب حضرت سراج المشائخ صاحب یو وخت د دریو شپو له پاره بندي و، نو کله چې له بندیخانې ځخه خلاص شو، نوده مبارک وېل چې ما مخکې دا فکر کاوه چې دا موجوده وخت د فتنو ده، نو که یوځوک له فتنو نه خلاصېږي نو بندیخانه به یې د خلاصېدوښه ځای وي، خو اوس مې چې بندیخانه ولیدله نو و مې وېل چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دې مسلمان نه بندي کوي، ځکه زمونږ خو دا خیال ده چې په بندیخانه کې به سړی له ګناهونو ساتلی وي، له غیبت، شیطانت او بهتان نه به سړی پکې خلاص وي. لکه په حدیث شریف کې راځي چې: په آخر وخت کې به ښه دنیا هغه وي چې سړی یوه رمه واخلي اود غرونو په لمن کې اوسېږي، خلک یې له شر نه محفوظ وي، خپل طاعت او بندګي کوي، چاته یې ضرر نه رسېږي، دا به له دې وجې ځخه ښه مال او دولت وي چې سړی د آخرت له عذابونو وراندې خلاصېږي.

نو خلیفه صاحب مبارک وېل چې: ما ولیدل چې په بندیخانه کې د آخرت سرمایه نه برابرېږي، ځکه زړه یه دې غواړي چې اودس وکړي نو ځوک به دې نه ورته پرېږدي، زړه به دې غواړي لمونځ، تلاوت وکړې پیره دار به دې نه ورته پرېږدي. نو کله چې سړی له مشکل سره مخ شي بیابه هغه وخت ستا زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادت او طاعت ته ډېر کېږي خو هلته به بیا څه په لاس نه درځي. خو اصل کار او واقعي بندګي بیا هغه وخت کېږي چې دا دواړه نعمتونه یوځای وي. یعنې هم صحت وي اوهم فراغت، کله صحت وي خو انسان فارغ نه وي، بیاهم څه نه شي کولای، کله فراغت وي خو صحت ملګرتیا نه کوي، بیاهم د انسان له لاسه څه نه کېږي، نو دا دواړه نعمتونه چې یوځای شي ډېر لوی نعمت دی اود آخرت ډېر غټ کار ورباندې جوړېږي. خو عام خلک له دې نه غافله دي.

مونږ که لږ فکر وکړو په دنیا کې اکثره وختونه مونږ روغ هم یو او فارغ هم، نه داسې مریضان یو چې ددې مرض له لاسه مونږ له بندګي نه عاجزه شو، اونه دداسې مشکل سره مخامخ یو چې دهغه له وجې مونږ عبادت ته نه خلاصیږو، خو یواځې دومره خبره ده چې مونږ غافله یو. د اخیرت ژوند ته مو پام نه دی کړی.

زما په دې خپل کم عمر کې ذاتي تجربه ده، خصوصاً کله مې چې له خلیفه صاحبانو سره تعلق جوړ شوی دی، نو اکثره به داسې ملګري وو چې ددې نعمتونو له زوال نه وروسته به یې آرمانونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو فوځي کرنیل حضرت انوارالمشائخ صاحب ته عجیبه خوب بیا نوي

زمونږ مرحوم خلیفه صاحب (انوارالمشائخ صاحب) چې دحضرت صاحب مبارک بالذات خلیفه و، یوه لویه هستي وه، له ده مبارک څخه الله تعالی د دین لوی کارونه اخیستي دي. یو وخت د فوځ یو لوی کرنیل ورته راغی، طالبان ډېر خفه وو چې هسې نه چې خلیفه صاحب مبارک ونه نیسي، ځکه ملیشه او زور طاقت ورسره ده، کرنیل ویل چې زما له خلیفه صاحب سره پټ کار ده، طالبان نور هم وارخطا شول، تردې پورې چې طالبانواومریدانو ددې اراد ه وکړه چې له ملیشې سره جنګ وکړي، هسې نه چې خلیفه صاحب ته څه مشکل پېښ شي: خلیفه صاحب مبارک طالبانو ته وویل چې تاسې هېڅ فکر مه کوئ! نوهغه کرنیل خلیفه صاحب ته وویل چې: بېګاه مې داسې خوب لیده چې: ستاسې په دغه مدرسه کې یو لوی ترانسفارمر لګېدلی وي او له دې ځای نه افغانستان او پاکستان ته بجلي ورکول کېږي. نو تاسې څه کار او بار کوئ؟ اوددې خوب تعبیر هم له تاسې نه غواړم! خلیفه صاحب مبارک ورته وخندل چې: زمونږ کار د طریقت کار دی، نور اصلي حقیقت خو یې ده ته نه وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې خلیفه صاحب مبارک له دنیا څخه رحلت وکړ بیا ما ډېر داسې علماء کرام، حاجي صاحبان، صوفیان کرام او طالبان ولیدل چې ددې ارمان یې کاوه چې کاشکې مو له خلیفه صاحب سره په مجلس کې یو ځل شرکت کړی وای کاشکې مو په ختمونو کې ګډون ورسره کړی وای

بیاچې دحضرت انوارالمشائخ صاحب په ځای کوم خلیفه صاحب ( قطب المشائخ مولوي صاحب دین محمد قدس الله سره ) جانشین موجود و، بیا مو هم له غفلت څخه کار واخیست او توجه به مو نه کوله. خو کله چې هغه مبارک وطن ته ولاړ بیا مو ارمانونه کول چې خلیفه صاحب دلته نیږدې و نو مونږ به خپل هر ضرورت ورته وړاندې کولای شوای، اوس مو موقع له لاسه ووته اودی مبارک لرې راڅخه ولاړی

## د سراج المشائخ صاحب فراق مریدان له بې ساري افسوس اوارمان سره مخ کړل.

مونږ چې د سراج المشائخ صاحب جنازې ته ورغلي و، نو بې شمېره مخلوق یې جنازې ته راغلی و، هلته مې دده له مریدانو مولویصاحبانو اونورو خلکو نه په ژړا کې دا خبرې اورېدې چې مونږ خو اوس یتیمان شو اودغه الهي نعمت مو له لاسه ووت.

حتی یو مولویصاحب راته ویل چې: زمونږ د آخرت له ده سره دومره فکر و چې کله به ده ته خلیفه صاحبان اونور عزتمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمانه راغلل نو په ما پسې به يې شخصي يو نفر راولېږه چې ورشئ او دی راوغواړئ، خو زه دومره ناپوهه وم چې په دې نه پوهېدم چې دی مې د څه له پاره غواړي. اودا مې په خيال کې نه وو چې دی مې ددې له پاره غواړي چې ترڅو د هغو نېکانو خلکو په دعا کې زه هم شريک شم، په وظيفو کې ورسره شريک شم، خو اوس يې ارمان کاوه چې هغه مجلس اوهغه ماحول او محيط مو له لاسه ووت. دېرو مولويصاحبانو به ويل چې مونږ به يواځې نه پرېږدئ او دغه خای ته به تاسې راځئ مونږ خو يتيمان شو، له چاسره به ختمونه کوو، له چاسره به ناسته پاسته کوو؟

نوګورئ! د نعمت قدر له زوال نه وروسته معلومېږي ، د نعمت له زوال نه وروسته بيا آرمانونه کول کومه ګټه نه لري، نن چې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ کومه موقع اووخت درکړی دی، ددې قدر وکړئ ، وخت مه ضائع کوئ، بيابه د آخرت په ورځ لاس او پښې وهئ او څه ګټه به درته نه کوي.

دغه مدرسه ده، دا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د نعمت يو مظهر ده، طالبان او ملايان وجود لري، دلته مونږ ته لا ددې موقع شته چې د نېکانو په مجلس کې شرکت وکړو، خو بيابه ددغه ځای هم ارمان کوو اوڅه به په لاس نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فارغېدونکي طالبان څه وايي؟

دا اوس چې کوم ملګري فارغيږي ، دا خو د خوشحالۍ ځای دی چې سړی د علم هغه آخرنۍ مرحلې ته رسيږي اود خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دين د خدمت له پاره ملا تړي، هلته د دين اود مسلمانانو دخدمت او رهنمايي له پاره ځان تياروي، خو سره له دې هم دا ملګري افسوس او ارمان کوي پرون ماته يوه ملګري په ډېر افسوس سره دا خبره کوله چې زمونږ له پاره خو مدرسه ډېره ښه وه، دلته مو ختمونه پکې کول اوله ښکو خلکو سره مو په مجلسونو کې شرکت کاوه، خو که وطن ته ولاړ شو، نو له مونږ سره نيږدې په خوا کې کوم خليفه صاحب نشته چې زمونږ کار ورسره روان شي، خدای خبر چې هلته به بيا څرنګه ژوند کوو ؟ ډېرو ملګرو داسې ويل چې مونږ به اوس له خپلو ورونو سره څنګه ګوذاره کوو ؟ ځکه هغوی له دين نه ناخبره دي، زمونږ ددغه علم قدر له هغوی سره نشته.

نو ګورئ فکر وکړئ ! سره له دې چې طالب ده، خو ددغه فراغت او صحت قدر لاورته معلوم نه دی.

ډېر داسې طالبان چې په ځينو کارونو کې به يې کوشش نه کاوه اوس چې آخر وخت راغی نو ارمان کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته په میرانشاه کې به هم مونږ الحمدلله دمشائخو په برکت له جمعې څخه وروسته مجلس کاوه، ښه جوش به و، کله چې مو دعا وکړه نو له یوه خلیفه صاحب سره مې ولیدل، له سترې مشې وروسته یې ډېر راته وژړل چې قسم ده په طالب پسې مې سترګې وخې، په داسې ځای کې ګېر یو چې په ټوله روژه کې مویوه ورځ تراویح په جمعه کړې دي، پخوا مې په وطن کې مدرسه وه، د طالبانو خدمت مې کاوه، اوس خپلې مدرسې ته نه شم ورتلای، هرڅه راڅخه پاتې دي، دا مې ارمان وي چې کاشکې له یوه طالب سره پنځه دقیقې ناست وای، ده ماته د زړه حال ویلی وای اوما ده ته.

نو د دنیا ژوند تېرېدونکی ده، باید چې په غفلت کې تېر نه شي، ډېر مولویصاحبان او طالبان تر سپین ږیرتوب پورې په غفلت کې وي، ډېر داسې شیخان مې لیدلي چې وایي دحضرت صاحب نه راوروسته مې له هیچا سره تعلق نه دی ساتلی یواځې د خان خبره درته نه کوو، ټول په غفلت کې اخته یو. لنډه داچې وخت ډېر قیمتي ده باید چې په ناخبرۍ کې یې تېر نه کړو. په دغو دوه وو نعمتونو ډېر لوی کارونه کېږي، که صحت ده که فراغت، په دې باندې د آخرت له پاره ښه بهترینه سرمایه برابرېږي، خو که مونږ له غفلت څخه کار واخلو، دا نعمتونه به مو له لاسه وځي، دغه ځواني اود بدن صحت هر وخت نه وي، که ستاسې دا خیال وي چې له دې نه وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ داسې کار کوو، هغه به کوو، د سکون ژوند راروان دی،
مونږ به بیا هلته کارکوو داهسې یو خوب، خیال اوتصوردی دی.

نن هم چاراته ویل چې ګرمي ډېره ده، ما ویل چې: دا هم د الله تعالی رحم ده، که زمونږ د اعمالو تقاضا شي نو مونږ ددې لائق یو چې ددې ګرمي په ځای په اور وسوځول شو، ځکه روغ جوړ او صحت ښه برابر ده، ښه د فراغت ژوندده، خولمونځ نه کوو، روژوې نه نیسو، دالله تعالی حقوق نه ادا کوو، په ښکاره د الله تعالی ناشکري کېږي.

په مخکنیو امتونو کې چې به ښکاره نافرماني شروع شوه او بې ادبي به پیل شوه، نو بیا به الله تعالی هغه قوم په عذاب سره نیست ونابود کړ، خودا د نبي کریم ﷺ د دعاګانو اوسترګومبارکوبرکت دی، د رحمت للعلمین ﷺ د ژړاوو اوده د تکلیفونو په برکت الله تعالی په مونږ باندې هغه عام مصیبتونه نه راولي په کوم مصیبتونو چې یې مخکني قومونه هلاک کړي دي.

مخکني قومونه به دیوې ګناه له امله تباه کېدل، د حضرت شعیب علیه السلام قوم و چې هغوی به په تله کې کمبوت کاوه، دوه کاسې به یې وې، یوه غټه او بله وړه، له بل نه به یې چې څه شی اخیستل په غټه کاسه به یې اخیستل اوکه به یې چاته څه ورکول نو بیابه یې په وړه کاسه ورکول. ددغې یوې ګناه له امله خدای پاک جل جلاله ټول قوم تباه کړ، نن سبا تاسې وینئ چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیلو، سیر، ګز او میټر بلکې په اکثرو شیانو کې دغه دوکه کېږي

د یوه لواطت له وجې چې د لوط عَلَيْهِ السَّلَام قوم دا عمل کاوه، خدای جَلَّ جَلَالُهُ د لوط عَلَيْهِ السَّلَام قوم داسې تباه کړ چې ځمکه یې په څټ مخ وربانديې واړوله. تاسې ووایئ نن هغه عمل په مسلمانانو کې شته کنه؟

د یوه سود په معامله باندې الله تعالی قومونه برباد کړي دي، نن دا عمل په مسلمانانو کې څومره په زور او شور روان دی؟

مفسرین لیکي چې: په آخر اُمت کې به د پخوانیو قومونو دغه ټول ګناهونه یوځای کېږي اوپه ښکاره به د الله تعالی نافرماني کېږي، خلک به فخر وربانديې کوي، خو دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارکې سترګې دي چې دا دنیا په مونږ نه رنګیږي او عام عذابونه په مونږ نه راځي. مخکنیو خلکو چې به عبادت کاوه نو له هغې سره به هم له خدای جَلَّ جَلَالُهُ نه دارېدل، مونږ خو له ګناه سره هم له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه نه دارېږو.

﴿أَنَّ عَائِشَةَ، زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ: {وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ} [المؤمنون: ٦٠] قَالَتْ عَائِشَةُ: أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ؟ قَالَ: " لَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ، وَلَكِنَّهُمُ الَّذِينَ يَصُومُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَتَصَدَّقُونَ، وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا تُقْبَلَ مِنْهُمْ {أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ} [المؤمنون: ٦١] ". ﴾ [تفسیرمظهری /ج ۶/ص ۳۸۸ / جامع الترمذي ج ۲/ص ۱۵۱ / مکتبه حقانیه / رقم الحدیث ۳۲۶۱ / ۳۱۷۵]

ژباړه: درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بي بي مبارکې عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ددې ایت په هکله له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه:

﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ [سورة المؤمنون آیت ۶۰]

آیا دا هغه کسان دي چې دوی شراب څښي ، غلاوې کوي؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : نه اې دصدیق اکبر لورې! بلکې داهغه کسان دي چې روژې نیسي ، لمونځونه کوي ، زکاتونه او صدقې کوي او حال داچې دوی ډاریږي له دې چې قبول به نه شي . او دغه کسان ډیر تلوار (او رغبت) کوي په نیکیو کې .او دوی هغو (نیکیو) ته رومبي کیدونکي دي . ( له نورو خلکو ) .

خکه خو به صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ له ډېر عبادت سره ،سره هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته ژړل . الله تعالی فرمایي: ﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ ۝ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب ﴾ [سورة الانشراح] کله چې له لمانځه څخه فارغه شوې بیا خدای پاک ته بنه وژاړه، په دعا ځان ستړی کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څوک حج وکړي نو شپږ میاشتې به دعا کوي چې خدایه پاکه ! دا حج مې قبول کړې، اینده شپږ میاشتې به بیا دا دعا کوي چې خدایه پاکه ! په آینده کې مې بیا حج نصیب کړې.

نو که څوک لمونځ کوي، روژه نیسي، جهاد کوي، علم حاصلوي ، بیا به هم له خدای جَلَّجَلَالُهُ څخه داریږي ، پس له هغې به بیا دی د رحمت مستحق کرځي.

## په حضرت علی ابن حسین به له اوداسه وروسته کوم حالت راتلو؟

په روایاتوکې راځي : چې علی بن حسین رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به چې کله اودس وکړ رنګ به يې زیړ شو مېرمنې يې ترې وپوښتل چې دا په تا څه کیږي ؟ هغه ورته وويل : آیا ته پوهيږې چې زه دچا په حضور کې دریدو ته اماده کې نیسم او له چاسره غږیږم ؟

[ مکاشفة القلوب /عربي ( مکتبه دارالکتاب ) / ص:۴۳ / پښتو مکتبه فریدیه / ص: ۷۰]

يعنې لمونځ له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ سره خبرې راز او نیاز ده، هلته مونږ خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته مخامخ وایو چې: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝) یوازې تاته عبادت کوو خاص له تا څخه معاونت غواړو، نو لمونځ په حقیقت کې له خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ سره مکالمه اوخبري کول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنيا له يو وړوکي منصبدار اومسؤل سره چې مخامخ شې نو ژبه يې ودرېږي او خبرې نه شي کولای، له خپل استاد او شيخ سره چې مخامخ شي نو غږېدای نه شي، نو هغه الله تعالى چې ستا د بدن د هر اندام له هر عمل څخه خبر او ستا په زړه عالم ده اوبيادهغه په حضور کې ولاړ يو ، خو بياهم دا سوچ راسره نه وي چې زه چاته مخامخ ولاړ يم اوله چاسره غږېږم.

يو بزرګ فرمايي چې: که ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝﴾ دقرآن کريم آيت نه واى ، او يا د ﴿الحمد لله﴾ ويل په لمانځه کې لازم نه واى نو قسم ده که ما په ټول ژوند کې په لمانځه کې دا آيت ويلى واى ، ځکه چې په دې خبره کې مونږ دروغجن يو، په خوله وايو چې خاص ستا عبادت کوو او خاص له تاڅخه مرسته غواړو، حالانکه مونږ په څه لګيا يو، په رياکاري اخته يو، ټوله توجه او التجاء مو انسانانو ته وي.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې: په لمانځه کې به مخامخ د قبلې طرف ته لاړې نه توکې ، ځکه د لمونځ کونکي او کعبې شريفې تر منځ الله تعالى ده، لمونځ کونکى دهغه جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته ولاړ دى.

اوس تاسې فيصله وکړئ چې: زمونږ لمونځ څومره بې حضوره وي، سلام لانه وي ګرځېدلى مونږ نبغ روان شو، دعا نه کوو، دا څه وجه ده ، وجه يې داده چې له الله تعالى نه وېره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوف نشته، دا سوچ نشته راسره چې دا سوال وکړو چې: خدایه پاکه! دا لمونځ مې قبول کړې.

مخکني خلک تول د شریعت نمونې وې، دهغوی په وسیله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مونږ ته د دین رښاګانې را ورسولې. دهغوی بنیادي وجه دا وه چې هغه خلک په واقعیت کې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه وېرېدل، خپل اعمال غټ نه ورته ښکارېدل اونه په خپلو عملونو دوکه کېدل.

## د حضرت ابراهیم خلیل الله عَلَیْهِ السَّلَامُ دژړا حال

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ ته په انبیاوو عَلَیْهِمُ السَّلَامُ کې ( خلیل الله ) وایي، معنا یې داده چې یواځې او یواځې یې له خدای سره مینه وه، نور یې هېڅوک په دې مینه کې شریک نه ؤ، خو چې کله به د الله تعالی هغه د جلالیه صفاتو انوار په ده باندې غالب شول نو دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له وېرې به یې دومره ژړل چې تر یو میل پورې به یې د ژړا غږ رسېده. الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ حضرت جبرئیل عَلَیْهِ السَّلَامُ ورته راولېږه چې: زما خلیل ته ورشه او زما سلام ورته وایه، اوډا هم ورته ووایه چې: دوست له دوست نه دومره ډارېږي؟ ته خو ( خلیل الله ) یې! ته څرنګه له ماڅخه دومره ډارېږي؟ حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ ورته په خواب کې قسم کوي چې: کله مې په ذهن کې د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی جَلَّ جَلَالُهُ لویې راشي اوخپلو تقصیراتو ته متوجه شم، نو دا مې هېره شي چې زه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوست او پیغمبر یم

[مکاشفة القلوب ص: ۱۱/باب الخوف من الله تعالی قدیمي کتب خانه]

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې په ټولو مخلوقاتو کې اعلی ترین، بهترین اوغوره مقام څښتن ؤ، خو په لمانځه کې به یې بیا داسې ژړل چې د سینې مبارکې به یې داسې غږ راووت لکه کټو اویا چای جوش چې جوش خوري، یا لکه میچن چې ګرځوي، په لمانځه کې به دومره ولاړ و چې پښې مبارکې به یې ویرسېدې. صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به ویل چې: کاشکې د لارې د غاړې یو بوټی وای، چې حیواناتو خوړلی وای ځکه له هغو نه پوښتنه نشته، له مانه خو به پوښتنه کېږي.

اصل مطلب داچې باید خپل مسئولیت ته متوجه شو، ددغو دوو نعمتونو قدر وکړو، صحت او فراغت غنیمت وګڼو، خدای مکړه که دلته څه مشکل له کوم طرف نه راپېښ شي، بیابه دغسې مجلس نه شو کولای

دغسې وخت په میرانشاه کې هم و، طالبان و، مدرسې وې، د درس حلقې او خانقاګانې وې، کله خو چې حالات بدل شول او حکم راغی چې کډې بار کړئ نو بیا له هغې وروسته خلکو ارمان کاوه چې کاشکې مو دا وخت هسې عبث نه وای تېر کړی. خو بیا د نعمت له زوال څخه وروسته ژړا او فریاد کومه ګټه نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې واقعي عشق او محبت وي نو چې مرید له پیر نه بېل شي، شاګرد له استاد نه، دوست له دوست نه نو بیا سړی پوه شي چې کاشکې مې له وخت نه استفاده کړې وای

نو ځومره مو چې وس وي د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د دغو نعمتونو قدرداني اوشکرانه اداءکړئ، له نېکو خلکو سره علاقه دوامداره ساتئ، په مجلسونو کې یې شرکت کوئ، د عبادت طرف ته تلوار کوئ، ځکه مرګ پټ اوناڅاپه ګذار کوي، نېټه یې معلومه نه وي چې څه وخت به راځي ؟ د قیامت په علامو کې راځي چې : یو سړی به خولې ته مړی پورته کړي خو قیامت به وربانديې راشي او مړ به شي، دا اوس هم داسې مرضونه شته چې پیاله ورته د که وي او دی مړ شي، له کوره ووځي او بېرته یې مړی ورته راوړي

﴿ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رِجَالٌ مِنَ الأَعْرَابِ جُفَاةً، يَأْتُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْأَلُونَهُ: مَتَى السَّاعَةُ؟ فَكَانَ يَنْظُرُ إِلَى أَصْغَرِهِمْ فَيَقُولُ: "إِنْ يَعِشْ هَذَا لاَ يُدْرِكْهُ الهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ"، قَالَ هِشَامٌ: يَعْنِي مَوْتَهُمْ ﴾ [ صحیح البخاری ج ۲/ کتاب المساقات باب فضل سقی الماء ص ۹۶۴ / رقم الحدیث: ۶۵۱۱ ]

ژباړه : له حضرت عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي: وه له کوچیانو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به راتللو اوورنه پوښتل به یې چې: قیامت به څه وخت وي ؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه مجلس کې یوه کشر ته اشاره وکړه چې دغه به لا سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږیری شوی نه وي چې په تاسې به قیامت راشي. نو په دې کې اشاره دې ته وه چې انسان څرنګه مړ شو قیامت یې شروع کېږي، یعنې کشر به لا سپین ږیری نه وي او مشران به مړه شي نو قیامت یې شروع ده. ﴿ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ ﴾ یعنې کله چې انسان مړ شو نو قیامت یې شروع ده، فی الحال یا عذاب ده اویاهم راحت [ تفسیرمظهري ج ۴ ص ۲۳۱ ]

وروسته به بیا افسوس کوو، دقیامت د ورځې یو نوم ( یوم الحسرة ) ده، یعنې د ارمان ورځ. بیا به هلته نېک عمله انسان هم ارمان کوي چې کاشکې ډېر عمل مې کړی وای او بدعمله به هم ارمان کوي چې کاشکې توبه مې په دنیا کې ایستلې وای، داچې د ژوند په پای کې ارمان کوو، یا په آخرت کې ارمان کوو، که له سپین ږیري نه پوښتنه وکړو هغه هم په تېر عمر او ځوانۍ ارمان کوي، په شرط ددې چې لږاوزیات عقل ولري هغه هم ارمان کوي چې هسې مې ژوند عبث تېر کړ، علم مې ونه کړ، د دین خدمت مې ونه کړ، دآخرت له پاره مې څه ذخیره برابره نه کړه، نو دا چې په ژوند کې ارمان کوي نو په قیامت کې خو به خامخا ارمان کوي ځکه چې دهغې یو نوم ( یوم الحسرة ) دی، نورهم ډېر نومونه لري، لکه ( قارعة، غاشية، التغابن ) دی چې بیا به هرڅوک ارمان کوي نوترارمان کولومخکې باید په نیکوعملونولاس پورې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، قَالَ : خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! تُوبُوا إِلَى اللهِ قَبْلَ أَنْ تَمُوتُوا ، وَبَادِرُوا بِالأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ قَبْلَ أَنْ تُشْغَلُوا .الحديث ﴾ [ ابن ماجه ،باب فرض الجمعة رقم الحديث: ۱۰۸۱ ] ژباړه : له حضرت جابر ابن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته نصیحت کاوه ویل یې : اې خلکو الله تعالی ته توبه وکاږئ مخکې تر مرګه او نیکو عملونو ته تلوار کوې مخکې تر دې چې تاسې په څه باندې مشغوله کیږئ او حضرت عمر رضي الله عنه فرمایي : ﴿ مُوتُوْا قَبْلَ اَنْ تَمُوْتُوْا ﴾ ځان مړه وګڼې مخکې له دې نه چې تاسې مړه شی، اوس له ځان سره فیصله وکړه چې زه مړ شم اوپه قبر کې مې ښخ کړي، له څخه ملائکې سوال اوجواب شروع کړي نو زه به په کوم عمل خلاصیږم ؟ له ځان سره چې دې محاسبه شروع کړه داد هم خلاصېدویوه لاره ده. له ځان سره حساب کوه چې که داکار وکړم نو قابل د رحم یم اوکه دا غلط کار وکړم نوبیا به د قبر له عذابونو سره مخامخ کېږم

که دا سوچ له چاسره پیداشو نو آخرت کې هم کامیاب ده او دنیا یې هم ګل ګلزار ده، بیابه ارمان نه کوي، بیابه د راحت معامله ورسره کېږي، دخوشحالۍ مرحلې به یې شروع کېږي او تکلیفونه به بالکل نه وي.

الله تعالی دې زمونږ ټولو سوچ او فکر د آخرت طرف ته وګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۴) مجلس

## په انسانانو باندې درې لوی امتحانونه

﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ۝٢ ﴾[سورة الملك]

ژباړه: ډیر برکت کوي هغه (الله) چې په لاس (بلاکیف) د ده کې دی ملک سلطنت او هم دغه (الله) پر هر شي باندې (اراده وفرمايي) ښه قادر دی

هغه (الله) چې پیدا کړی یې دی مرګ او ژوند له پاره د دې چې وازمويي تاسې چې کوم یو له تاسې ډیر ښه دی دعمل له مخې (چې درکړي تاسو ته جزاء داعمالو)

یعنې خداوندمتعال دانسانانو اوپیریانو په پیداکولو کې لوی حکمت ددغو انسانانو اوپیریانو تجربه کول دي خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ ژوند اومرګ ددغه له پاره پیدا ده که همیشه ژوندون وای مرګ نه راتلای بیاهم دامتحان ثمره نه ښکاره کیده اوکه مرګ وای بیرته ژوندون نه وای بیاهم دامتحان ثمره نه ښکاره کیدله، خدای پاک یو وار په دنیاکې ژوندون خلکوته ورکوي له لیږ وخت نه نیولې ترډیره وخت پورې دچالږ وخت اودچا ډېر وخت بیا دهغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په دغو مخلوقاتو باندې مرګ راولي ،دمرګ نه وروسته بیا ژوندون راولي ،ددې له پاره چې دغه دنیا اول ژوندون دانسانانو دامتحان ژوندون ده ،دپیریانو دامتحان ژوندون دی، اودوهم ژوندون ددغه امتحان دنتیجې ژوندون دی چې په دغه امتحان کې چاڅه کړي اوله دغه سره به بیاهلته څۀ کېږي ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مرګ اوژوندون ددې له پاره پیدا ده چې دتاسو امتحان واخلي چې تاسو کوم یو ډېر ښه ده په اعتباردا عمالوسره چې څومره ډېرښه وي هغه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته ډېر محبوب دی کوم یوپه امتحان کې ښه کامیاب دی ،دهغه لپاره دخدای پاک له طرف نه ډېر ښه انعامات تیار دي.

## دانسان په زندګي کې امتحانونه

خودغه امتحاني زندګي دانسانانو په دنیاکې چې خدای پاک پیداکړې ده په څوقسمه په انسانانو باندې امتحان راځي.

مهم اودپام وړ امتحان په انسانانوباندې په اعتبار دعمل سره دی ،داچې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ لمونځ ،اودس ،روژه، زکات ،حج ،جهاد، علم ،قرباني ،سرسایه اوصلې رحمي اوداسې نورنیک اعمال په خلکو مقرر کړي دي ،ورسره یې غلا ،زنا، دروغ،غیبت، رشوت، خیانت،غصب ،قتل ،ظلم ،پوچ الفاظ ،بهتان ،شیطانت ، حسد ، تکبر اوعجب اوداسې نورکارونه حرام کړي دي ،دا اصلا مهم شی د امتحان دتجربې دا امر اونهي دی چې خدای پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّجَلَالُهُ په کوم شي امر کړی دی چې دا اوس یې څوک په ځای کوي اوکه نه یې په ځای کوي اودغه امتحان کې رب تعالی خپله انسانانو ته اختیار ورکړی ده.

نبي کریم صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ به دکفارو په نه ایمان راوړلو ډیر غمجن کیده ،ډیروعظ اونصیحت به یې ورته وکړچې هغوی به ایمان نه راوړلو نوده به ډیر ژړل اوخفه کیده به.

الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ ورته وایې چې ته دډیره غمه چې کافر ایمان نه راوړي ،ځان وژنې که زما اراده ددې وایې چې په زوره خلک مسلمان کړم نوداسې معجزه به مې ورښکاره کړې وه چې بیا به دهیچاهم دمخالفت طاقت نه وه ،زه یې په زوره هم مسلمانه والای شم ،لکن دنیا دامتحان ځای ده په زوره کار زه نه کوم یعنې الله تعالی قادر ده خوپه امتحان کې یې خپله خلکوته اختیار ورکړی ده چې په خپله خوښه روژه ونیسې اوکه نه ؟لمونځ کوي اوکه نه؟ نور اوامر په ځای کوي اوکه نه؟اودهغونواهیوڅخه چې انسان منع کړشوی دی له هغوڅخه په خپله خوښه ځان منعه کوي اوکه نه ؟

نولوی امتحان په اعمالوکې ده اوپه دغه امتحان کې یې دکوشش کولواختیار موږ ته راکړی دی اوورسره یې دارحم هم راباندې کړی دی چې دامتحان دکامیابي ځایونه یې هم راښودلې دي.

مثلا په مدرسو،سکولونواوپوهنتونوکې چې امتحان دطالبانو اوشاګردانو اخیستل کیږي نوکوم استاذ چې نفس اشاره،کوم ځای ته وکړي دوی داستاذ دادېرلوی احسان مني چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدغه ځای کې استاذ اشاره کړې وه ،کیدای شي امتحان پدغه ځای کې راشي داځای به موږ سم زده کړواوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اشاره نه ده ورته کړې بلکې په واضحه توګه یې ښودلې دي ،په ښکاره یې بیان کړې دي.

دالمونځ ده اودایې نتیجه ده ، داروژه ده اودایې نتیجه ده، دازکات دی اودایې نتیجه ده، داعلم ده اودایې نتیجه ده،داجهاد دی اودایې نتیجه ده نوهرڅه یې په ښکاره بیان کړې دي اوورسره ورسره یې (۱۰۴ ) کتابونه او زیات و کم (۱۲۴۰۰۰) زره انبیاء یې دخلکو دپوهې لپاره رالیږلي چې په دغه امتحان کې کامیاب شي اودشک ځای ورته پاتې نشي.

اوهمدارنګه دهغونه وروسته چې دهغو وارثان چې په میلنونودي بیایې په بدن کې دقابلیت دزده کړې شیان پیداکړي دي ،سترګې یې راکړې چې ورباندې وینو،غوږونه یې راکړي چې خبرې ورباندې اورو،که په خپله نه ورباندې پوهیږو له بل نه یې زده کولای شو، عقل یې راکړی چې دخبرو سوچ ورباندې کوو اوددغو احساناتوسره سره یې په دې یې هم خبرکړې یو چې په دې امتحان کې ناکامي په یوه وجه درباندې راغلي اونفس اوشیطان درباندې غلبه وکړي بیرته په دنیاکې دخلاصیدلو لار مې هم درته خلاصه کړې ده.

داسې نه ده چې یوځل ناکام شوې پرچه دې ختمه شوه اوبیا دې کارنه کیږي ،نه بلکې که بیرته کوشش وکړو سوال غلط درنه حل شوی وي نوتوبه وباسئ دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دربارته رجوع وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړا وې وکړئ، نو هغه لیکل شوی شي ،چې د هغه نتیجه داده چې په جهنم کې پرې غوزول کېږو هغه تول په دنیاکې درته ختمو ي.

یعنې ډېر چې غافله نشو نواخیرت ته دګناه سره دورنګ لارډېره نشته ،خوداچې بیا د دومره ښوونو اویادونو سره اخیرت ته دګناه سره ځو، وجه یې داده چې موږ غافله یو.

## حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا د مرغانو په ژبه پوهېده

په قرانکریم کې راځي چې حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د مرغانو په ژبه هم علم ورکړی و، [تفسیرمظهری ج۷/ ص: ۱۰۴] لیکي چې ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ته چې د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داکازوی ده، هغه ته یهودیان راغلل ورته وایې چې موږ د تانه په یو ځو شیانو کې پوښتنه کوو که راودې ښودلې نو موږ بیا ایمان راوړو اودتاسو دین حق دی ،نودوی دحیواناتو دآوازو پوښتنې وکړې چې قنبر مرغه څه وایي؟ هغه دا وایې ﴿اللهم العن مبغضی محمد ومبغضی ال محمد﴾ خدایه! ته دحضرت نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودده دکورنۍ په دښمنانو لعنت وکړې، دامرغه همیشه خدای پاک ته داسوال کوي ځکه چې دغه مرغه د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت لري. اورسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رحمت دعالم دی اوچې له رحمت سره څوک دښمني کوي هغه درحمت لائق نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچرګ په هکله یې پوښتنه ورنه وکړه . ده ورته وویل چې چرګ دا وایې :( اذکروا الله یاغافلون ) اې غافلانو! الله تعالی یاد وئ.

اوس نو چرګ یو مرغه دی چې په هغوګنده ګیوکې دده ژوند دی ،زموږ اوتاسې دخوراک شی ده لکن هغه موږ ته نصیحت کوي چې ای غافلوانسانانو دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یادونه کوئ.

آس چې دجنګ میدان ته ورګډ شي نوپه ششنیدا کې داوایې (سبوح قدوس رب الملائکة والروح ) دالله تعالی تسبیح اوپاکي بیانوي ،ځای دی ذکر دی چې دلته دالله تعالی یادونه وشي نوبیا خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نصرت درسره کوي . اوخر وایې: اللهم العن الغشار ) اې الله تعالی په غشارو باندې لعنت وکړې . ززور مرغه وایې : اللهم اني اسئلک قوت یوم بیوم ) . دراج وایې : الرحمن علی العرش استوی ) .

چونګښه چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په اوبوکې یوضعیف مخلوق پیداکړی ،هغه وایې : ( سبحان للمعبود فی لجج البحار ) پاکي ده هغه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ چې دده عبادت دریابونو په منځ کې هم کیږي.

نوکه په دریابونوکې حیوانات دي هغه هم دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په ذکر باندې لګیا دي.

اوجنت یې ما اوتاته تیار کړی ،دا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ داسې مخلوقات دي چې یواځې دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ داحساناتو شکریه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداء کوي، خوعقل دانسان لپاره، علم دانسان لپاره، ښکلی وجود دانسان لپاره، کمال دانسان لپاره اوپه اخیرت کې جنت اوانعامات اودرب تعالی دیدار هم دانسان لپاره اوددوی لپاره هیڅ شی هم نشته.

خودایواځې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دوی باندې احسانات دي ،دوی وخت په غفلت نه تیروي، انسان چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ترټول مخلوقات نه اشرف پیداکړی دی اوټول مخلوقات یې دده دګټې لپاره پیدا کړې دي هغه بیا خپل وخت په غفلت تیروي خوددغه غفلت دوینښولو لپاره الله تعالی وخت په وخت موږ ته تنبیه راکوي، امتحان ده ، بیدارشه!

په موږ باندې چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ روژه فرض کړې ده ددغې اصلي هدف اومقصد خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکرکوي: ﴿لعلکم تتقون﴾ په تاسو روژه ددې لپاره فرض شوه چې تاسو له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه وډارشئ. دا اوس په انسانانو باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه امتحان راغلی ،که چیرې دغه روژه چا په صحیح معنا ونیوله نوپه هغه کې ویره اوله ګناهونوڅخه اجتناب پیداکېږي ،بیاکامیاب شو بیا داسې کامیاب شو چې ددغې روژې په برکت مخکې یې کومې ګناوې چې کړې هغه ټولې ورته معاف کوي، هغه دده عمل نامه چې چټله لیکل شوې وه هغه بیرته ورته صفاکوي، ددغې روژې نه ترمخکې روژې چې څومره صغائر ګناهونه ترینه شوې وي هغه ټول ورته معاف کوي اوچې کله ګناوې معاف شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دغه انسان دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوستانو له جملې نه ګرځوي.
ځکه چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په امتحان کې کامیاب شو.

دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دوستي له تقوا پرته نه پیدا کېږي لکه
خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ چې فرمايي ﴿ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُ إِلاَّ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ [سورة الا
نفال ۳۴ آیت] ژباړه: نه دي دوستان دالله تعالی مګر (دي) متقيان.

بیا خپله متقیانو ته خدای پاک جنتونه تیار کړي دي: ﴿ إِنَّ
لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴾ [سورة عم آیت ۳۱] دمتقیانو بیا کامیابي وي،
باغونه، ښځې، حورې اوغلمان دي، دشرابو اوشیدو ډک جامونه
دي اومیوې دي، داټول ددې دنیا دمتقیانو له پاره دي.
نو په عبادت کې امتحان ده پدغه امتحان سره انسان
صفاکېږي، متقي کېږي، په تقوا سره انسان دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ
دوست ګرځي اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوستي په نتیجه کې
بیاداسې دجنت انعامات ورکوي چې نه په دنیاکې چالیدلي اونه
یې په غوږو دهغوپه هکله څه اوریدلي اونه دچاپه زړونوکې
دهغوی تصورتیرشوی.

نواول مهم امتحان په انسان دعباداتو دی، که انسان په دې
امتحان کې کامیاب نه شو نوبیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نورامتحانونه
ورباندې راولي، چې عاجزه شي ګوندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته
راجع شي، کله بیا مرض ورباندې مسلط کړي اوکله بیا ظالم
بادشاه ورباندې مسلط کړي، کله کفار ورباندې غالبه کړي بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې قسمه امتحاناتو کې راولي، څکه چې خپل عبادت اوخپله وظیفه یې ونه پیژانده.

نوپه دنیاکې یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ پدغه پوهوي چې گوره چښتن دي زه یم، پخپله غنا اومرښت، په خپله خواني اوقوت باندې دوکه نه شې، مریض کوم دې هم زه، مسکنت هم زه درباندې راولم. مظلوم کوم دې هم زه.

نوبیا دا امتحان په خلکو باندې راولي داچې دځومره تکلیفونو سره انسان مخکښې دادیې خپلواعمالو نتیجه ده، په هغه کې بیا که څوک کامیاب شول، صبریې وکړ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته یې غاړه کیښودله، عاجزي یې مختاره کړه، دخپلو گناهونو څخه توبه گار شو بیا پدغه امتحان کې داگټه ده چې هغه مخکني ټول گناهونه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته معاف کوي، باغي و، خو عاجزشو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته یې غاړه کیښوده بیا نو توبه گار شو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه گناوې ددغو تکلیفوپه ذریعه ورته معاف کوي

که بیا پدغه امتحان کې هم دا انسان پوه نشو او دایې وویل چې دنیا ده کله به انسان مریضیږي، کله به بیا روغ رمټ وي، کله به مسکنتورباندې راځي اوکه به مالداره کېږي سوچ یې ونه کړعقل یې کارپرینښود، دایې ونه ویل چې دا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له لوري په مابانديې یو امتحان را وغلی ؤ نوبیا الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ پدغه انسان دریم امتحان راولي اودادیر خطرناک امتحان دی هغه دا چې په دې انسان باندې درزق آزادي راولي، مالداره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقدرت خاوند کړي،صحت يې برابر کړي ډير وخت مرض نه پرې راولي.

په دې امتحان کې انسان دسختې خطايي سره مخامخ کېږي ځکه چې په مرض ،مسکنت اومظلوميت کې خوله انسان سره عاجزي وي ،بغاوت نه شي کولای.

نوکه په دې يوه طريقه هم اصلاح نه شو نوبيا خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نورنعمتونه هم ورزيات کړي او استدراج ته يې ورسوي اودافکر کوي چې داهرڅه زه کوم ،نوورځ په ورځ ،ساعت په ساعت يې دګمراهي طرف ته زوررونه کوي.

هغه مخکې داسې امتحانات وچې په هغوکې ګناهونه ورباندې ختميدل اودا داسې امتحان دی چې ګناهونه يې ساعت په ساعت ورزياتېږي.

تاسو به ډېر خلک ليدلي وي چې ځرنګه لېږ په خېټه موړ شي نوسمدستي تلويزون کورته راوړي، سينما او د ( وي سي ار ) ځايونوته تګ راتګ پيل کړې ، شراب چېښل شروع کړي،په بل مسلمان ناحقه ظلم شروع کړي، خواهشات ورباندې غالبه شي په زنا اخته شي،په لواطت اوبدعملي لګيا شي، نوورځ په ورځ يې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ بيا غرقوي ؛نودا بيا خطرناک امتحان دی ،تول په دې دوکه دي چې زه ښه سړی يم چې ماته خدای پا ک جَلَّجَلَالُهُ ډېر مال او اولاد راکړی ؛نو دتوبې طرف ورنه هيرشي ،دې ته يې پام هم نه وي چې دادالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ احسان دی،شکريه به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداء کړم او دې ته يې پام نه وي چې که توبه ونه باسم نو غرق به شم و نوريې هم خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ غرقوي.

کفار هم په دې خبيثه دنيا دوکه وو چې دانبياء عَلَيهِمُ السَّلَام مقابلې به يې کولې او بيا به يې ورته وويل چې تر تا نه موږ خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ ته ورنيږدې يو، له تانه يې موږ ته ډېره دنيا راکړې، له تانه يې موږ ته ډېر اولادونه راکړي، له تا نه يې موږ ته ډېر قدرت راکړی.

او دعامو مسلمانانو په مقابله کې به يې هم دغه خبرې کولې.

## دوه ورونه چې يو د دنيا طالب او بل د اخيرت طالب ده

په قرانکريم کې په سورة الکهف آيت: ۳۲ [ تفسير مظهري ج: ۶ ص: ۳۲ ] کې واقعه راغي دوه ورونه دي له يو پلار څخه ورته اته زره روپۍ پاتې دي، هريو ته څلور- څلور زره روپۍ ورسيدلې؛ خو يو هغه خپلې روپۍ په دنيالګوي، په زر روپۍ يې زمکه واخېستله، او هغه بل زر روپۍ صدقه کړې. بيا هغه دزمکې دخدمت لپاره په زرو روپو غلامان واخېستل او هغه بل بيا زر روپۍ صدقه کړې. هغه بيا په زر روپۍ واده وکړ او هغه بل بيا زر روپۍ صدقه کړې.

هر وار دا وايي چې خدايه پاکه ده په دنيا زمکه واخېستله او زه د اخيرت زمکه اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ددنیا غلامان واخښتل زه داخیرت غلامان اخلم،ده ددنیابنځه وکړه زه داخیرت حوره کوم. بیا چې د ډېر احتیاج په وخت کې دا خپل ورورته ورځي ورته وایي چې څه کومک راسره وکړه نودی یې ملامتوي چې زما اوتا دنیا یوه برابر وه څلور زره دې تا وې اوڅلورزره زما وې،بې عقله ټولې دې خیرات کړې اوس راشه زما په باغوباندې وګرځه چې ماته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ باغونه راکړي،څومره غلامان اوخادمان مې دي اواخیرت نشته که بالفرض دوهم واري ژوندون راشي بیا به هم زما هرشی له تانه ډېر وي ځکه چې په دنیا کې مې تر تابنه ساتي نوپه اخرت کې به هم ترتابنه یم.

هغه بل ورته وایي چې ګوره داسې به دې نه ویل ،دابه دې ویل چې په مادخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ احسان دی ،کفر اوبغاوت ولې کوي؟ الله تعالی په دې قادر دی چې له تانه یې واخلي او بیرته یې ماته راکړي.

سهار چې کله راپورته شول په باغ یې اور لګېدلی و اوټول سوزلی و.

اوس نودغه دنیا ده ته دعزت شی معلومېږي چې په دنیا کې یې ماته ډېر شی راکړی ،که اخیرت ته لاړشو نوهلته به هم ترتا زما شیان ډېر وي

نو په دا موجوده انسانانو کې هم داسې خلک شته چې دچا دنیا ډېرېږي دوی ورځ په ورځ باندې په دوکه کې ولوېږي تر دې چې په ټولوخلکوکې ځان ښه ورته معلومېږي ،ځان دخبري سړی

هم بولي او دافکر ورسره وي چې په ملجس کې کېنم نوباید زه وغرېږم ،زه تر ټولوهوښیار یم، تر ټولو خلکو دې زما عزت ډېر وشي،له ټولوخلکو زه عزتمندیم، مرکه باید زما په خبره فیصله شي، هرڅه باید زما په واسطه وشي څکه زه ترټولوخلکو عزتمند یم. ولې ؟دنیا مې ډېره ده.

## نبي کریم ﷺ ته یوشامي دخپلې علاقې صفت کوي

دشام دعلاقې څخه یو کس راغی نبي کریم ﷺ ته یې دهغې علاقې صفت وکړچې زموږ علاقه ډېره سرسبزه اوسرابه ده،خدای پاک جل جلاله هم مبارکه زمکه ورته ویلې ده، ښه باغونه اوفصلونه لري

نبي کریم ﷺ ورته وایې چې په داسې سرسبزه علاقه کې بیځ نوبیاڅه ورباندې کوي ده ورته وویل چې بیا ښه ښه خوراکونه ورنه تیاروو،د ډوډۍ وخت وي ښه خوراکونه ،ښې مېوې وي څکه آبادیو

نبي کریم ﷺ ورته وویل چې ددغه ښه خوراک نه بیاڅه جوړېږي ؟دی ورته وایې چې یارسول الله ﷺ ته ښه پوهیږې نورچپ شو.نبي کریم ﷺورته وویل چې د دنیاحقیقت دغه شی ده.اصلا ددنیا اصلي حقیقت دغه ګندګي ده.

اوس زموږ خلکو ته په دغو ګندګیو ځان عزتمند معلومېږي، چې
څوک ترټولو نه ډېر په ګندګیو باندې ککړوي هغه ته، ترټولو خلکو
ځان عزتمند ښکاريږي، دا وجه داده چې شیطان دوکه کړي یو.

## په محسوساتو کې د شیطان د دوکې مثال

د ( الهکم التکاثر ) په تفسیر کې تفسیرعزیزي [ ج: ۴/ ص: ۴۶۲ /
اردو] کې لیکلي دي چې یو سړی ښه دنیادار ده، ښه ډېره دنیا
اوجایدادلري، په کورکې یې ورته وویل چې داشی نشته،
دانشته، دانشته. تو دی په دې نیت له کوره راووت چې مثلا بوره
واخلم، اوړه واخلم، غوړي به واخلم، چای به واخلم دکور
نورضروریات به پوره کړم نوښې ډېرې روپۍ یې له ځان سره را
واخستي اوس شیطان، چې دانسان دښمن دی په لارکې کمین
ورته نیولی، په لارکې خلک شراب چښېي، ده ته هم داخیال
وروګرځیده، شیطان یې دوکه کوي چې روپۍ ډېري دي داخلک
شراب چښېي راشه ته هم یوبوتل وچښه چې څه خوند پکې شته؟
نوشراب یې وچښل اوپه رومبي ځل ډېر زیات اثر کوي نوبیا
ولاړشي چیرې په یو ګندګي کې ولویږي، غله راشي ویې ګوري
چې داڅوک دی؟ چې راجګ یې کړي اوجیبونه یې وګوري نوهغه
ټولې روپۍ ورنه ویسي، لکه دا نن سبا چې په موټروکې څه
دنیشې شی ورکړي اوټولې روپۍ ورنه واخلي، دغه انسان په هغه
ګندګي کې خالي لاس او جیب پاتې شي اوټوله سرمایه ورنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویسي، مازدیګر یې خپل خپلوان راشي اودی په ګنډګي کې پروت وي او وایې چې فلانکی خان صاحب خوپه ګنډګي کې پروت دی، چې راپورته یې کړي جیبونه یې وګوري ټولې پیسې چا ورنه وړې وي، هیڅ شی نه وي ورسره ،هم سرمایه ولاړه شي هم بې عزته شي اوپه اخیرت کې خو به یې خدای خبرچې څه حال وي

نو ددنیا مثال هم داسې دی لکه شیطان چې موږ ته په کمین کې ناست دی ، دچاچې روپۍ زیاتې شي څوک په شرابواخته کړي، څوک په زنا اخته کړي اوڅوک په نورو بدعملیو لګیا کړي، خو هغه یې بنیادي سرمایه چې ایمان ده، ورختموي، بیا به په مرداره نالي کې پروت وي، دهلاکت دکندې په غاړه به وي په اخیرت کې به دسخت مشکل سره مخا مخ کیږي.

نوبنیادي اواصلي هدف وپیژنئ چې مقصود په عباداتو کې په انسانانو باندې دخدای پاک ﷻ له طرف نه امتحان دی، هرانسان دې باید دېته متوجې شي چې زه څان ورته تیارکړم،که نوي نوپه دې باندې دې پوه شي چې بل قسم امتحان راباندې را وران دی ، تکلیفونه به راباندې راڅي اوکه څوک په راحتو کې و هغه دې نه خوشحالیږي چې زه په خدای پاک ګران یم ،ولي ؟ څکه چې ماډبره ګټلې ده.

زموږ شناخته دنیادار خلک موږ وینو چې روژه په صحیح طریقه نه نیسي، لمونځ په جمعه نه کوي ،لمونځ په صحیح طریقه نه کوي، دخدای پاک ﷻ حق نه اداء کوي؛خوچې پوښتنه وکړې هغه فلانکی مالدار چیرې ده؟ نو کله یې ښېرې میاشتې او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې اووه میاشتې په کراچۍ اولاهورکې تېرې کړې وي یا کابل ته تللی وي،یا دوبۍ او سعودي ته تللی وي اوپه دې ګندګې پسې لګیا وي.

نودا امتحانات دي په موږباندې ؛نوپه امتحان کې به سړی زیرک اوسېږي ،هرسوال ته به زیرک وي اوداسې سخت امتحان ده چې په اینده کې په قیامت کې دا زمکه په سړي شاهدوي ،خپل اندامونه به په انسان شاهدي ورکوي،ملائکې به په سړي شاهدې ورکوي،الله تعالی په سړي شاهد وي ،بیا هیڅ شی پټ نه پاتې کېږي ،ددې نتیجه به هلته سړی ویني،په انبیاءکرامو عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ رنګ رنګ تکلیفونه راغلي،خودوی پوه و چې داامتحان ده.

## په حضرت ایوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ امتحان او په هغې کې کامیابیدل

حضرت ایوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سخته ډېره دنیادرلوده ،ښه اولادونه، ښه صحت یې درلود؛خو ابلیس لعین خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته وایې چې دی څکه عبادت کوي چې دنیا ډېره لري،ورته خلاص ده. خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ شیطان ته وویل چې څه په دنیا یې ته مسلط شه،نوشیطان یې په دنیا مسلط شو نود اوښانو یې چې څومره ګلې وې په هغو ټولو مرض ولګیده اوټول ختم شول،توشیطان ورته راغی اوورته ویې ویل چې اوښان دې ټول تبا شول. حضرت ایوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ورته وویل چې الحمد لله ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ راکړي وهغه واخیستل. حضرت ایوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ پوه و چې امتحان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په غواو اومیږو مرض ولګیده هغه ټول ختم شول ،بیا هروار به شیطان دشپانه په شکل ورته راته اوورته ویل به یې چې غواوې دې ختمې شوې ،پسونه ختم شول :خو ده به ورته ویل چې الحمدلله ! خدای راکړي و ،خدای جَلَّجَلَالُهُ واخیستل.

بیا ابلیس لعین وایې چې اولاد یې ډېر دی ،په هغو یې زړه تکیا دی ځکه عبادت ته خلاص دی ،دګټې خلک یې شته. الله تعالی ورته وویل چې په هغه هم ته مسلط شه. ۱۲ یا ۱۴ اولادونه یې په یوه کوټه کې ناست ول ،په هغوټولو کوټه راولویده او ترې لاندې شول اوپه یوځای مړه شول؛ نوشیطان په داسې شکل چې ویني ورته بهیدلې ورته راغی چې ټول اولادونه دې له کوټې لاندې شول اومړه شول. حضرت ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ وژړل نوشیطان خوشحاله شو چې کامیاب شوم ،بې صبرې خویې شروع کړه ، خوهغه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته رجوع کوې چې داپه ماباندې دې تا له لورې امتحان دی ، اوپه مسلمان باندې خودمسلمان زړه سوی دایمان علامه ده.

کله چې شیطان په دې کې هم ناکام شو نووایې چې دی خوښه صحت لري ځکه ښه عبادت کوي ؛نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته وویل چې په وجود یې هم ته مسلط شه ،نوپه وجود یې هم شیطان مسلط شو اوخارش پرې ولګید ،بدن به یې ګراوه- ګراوه تردې پورې چې غوښې یې ټولې تویې شوې ،بدن یې خوړین شو، خو دحضرت ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ په عبادت او دخدای تعالی ددین په تابعدارۍ کې کوم تقصیر اوفرق را نه غی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو حضرت ایوب عَلَیهِ‌السَّلَامُ چې کله په دا ټولو امتحانونو کې کامیاب شو بیرته خدای پاک جَلَّ‌جَلَالُهُ خپله رضا او کامیابي،صحت ځواني ،اولادونه اومالونه، سره اوسپین ورکړل،او ددنیا او اخیرت ټول انعامات یې ورکړل.

[تفسیر مظهری، وایوب اذ نادی ربه ... ۸۲ الایه ج ۶/ ص: ۲۲۸/ ۲۲۹]

نوسړی چې په دې پوه شي چې په دې کې امتحان دی نوبیا انسان ورته متوجې کېږي اود کامیابي اسباب لټوي.

په بدعملو خلکو باندې چې امتحان راشي : مرض اومسکنت راشي ؛نوهغوی ته درک نه لګیږي چې غرض پکې څه و،لوږه اوتنده ورباندې راشي ؛نودرک نه ورته لګیږي چې په دې کې مطلب څه دی ؛خو په نیکانو چې مرض راشي ،نوهغوی ورباندي پوهیږي چې داامتحان دی نو صبر به وکړم چې داصبر کول به مې دګناهونو دلړ له منځه وړلو ذریعه وګرځي.

چې روژه ورباندې راشي نوپوهیږي چې عبادت دی ،په دې سره مې ګناهونه ختمیږي، اوس نو چې په امتحان کې انسان هرې نکتې ته متوجې وي نوبیا یې دالله تعالی انعامات هم په برخه کوي.

نوهره ورځ بیان ته هم ضرورت نشته ،موږ هره ورځ لګیا - لګیا یو اوخلک یې څوک راسره مني هم نه، صرف دلته چې راشي نوټول سرونه ښوروي اوښه په شوق ناست وي چې ربښتیا موږ خودلري ځای نه پدغه نیت راغلي یو.

دا خبره ښکه کوو چې دا پند به موږڅه وخت اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# از جوانی تا به پیری واز پیری تا به کی

یعني له ځواني څخه ترسپین ږیرتوبه اوله سپین ږیرتوبه تر څه وخت پورې هوښیاریږې؛ خوچې له دې ځایه ولاړشې بیا هیڅ نه وي ،داسې خلک شته چې تراوسه پورې یې ږیري نه دي پرې ایښې ، بس صرف دا وایې چې درځئ دخلیفه صاحب مجلس ته لاړ شو داسې ښه مجلس یې وي ،داسې ښې ژړاوې وي دعا پکې قبلیږي ،پدغه نیت را روان وي چې ګناهونه به مودلته معاف کېږي خوبیاهم دعمل کوشش ډیر کم وي.

داځینې کسان ډیرې اسانه اسانه خبرې کوي ،چې دجمعې دلمانځه وروسته دا درود ووایه نودا تیا کالو ګناهونه درته معاف کېږي. بې عمله خلک ددې دردو په ویلو سره داسوچ کوي چې سود اوشراب هم ورباندې معاف کېږي. نوبیا په سود شروع وکړي ځکه چې هلته درود شریف وایې. دېته خونه ګوري چې په دې درود شریف باندې دکوم ګناهونه معاف کېږي اوڅه وخت ا ورباندې معاف کېږي

که چېرته یوانسان په اخلاص ،صحیح نیت اوعقیده سره په یومجلس کې کیني اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خبرو ته غوږونیسي، د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احادیث مبارکه واوري اوپه هغه مجلس کې دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ذکروشي ؛نو د دوزرو هغو مجلسو چې په هغه کې لهو اولعب ،توکې اومسخرې شوې وي ، کفاره ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنګه دیو شوم څخه ټوله علاقه هم ویرانه کېږي لکه چې وایي:

## ازدست یک شوم سوخت شهر روم

کله داسې وي چې په یومجلس کې ډېرنیک خلک، دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درحمت مستحق خلک وي خویوداسې بدبخته اوعنادګر کس ناست وي چې صرف هغه ددغې عقیدې په لحاظ چې هغه علماء، او مشایخ امتحان کړي ،حاسد( کېنه ګر) ناست وي اودامجلس واوري اوبیا یې نوروځایوته غلط غلط دېرواپاګنډې په غرض نقل کړي ؛نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددې یوکس له وجې هغه رحمت ودروي. کله دیوه سړي په برکت خدای پاک ټول مجلس معافي وکړي؛ خو کله دیوه شوم اوبدبخت اومفسد له لاسه په هغه ټول مجلس دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ قهر اوغضب راځي نوپکار دی چې هرسړی توبه وباسي او په ځان کې اخلاص پیدا کړي تر څو ښه نتیجه ورباندې مرتبه شي.

## خپل تقصیرات له ځان سره یادول د خدای پاک د رحمت سبب ګرځي

په سترګو لیدلې واقعه درته بیانوم یومجلس کې مو له مُریدانو سره وظیفه وکوله اوهلته یوبل خلیفه صاحب هم موجود ؤ یوملګري تلاوت وکړ اوذکر وشو خوداسې خاص اثریې ونکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه مجلس نه وروسته دافکر راسره پیداشو چې داڅه چل ؤ په دې مجلس دذکر کې خوهیڅ اثر نه ؤ خو بیا وروسته هغه تقصیر راته معلوم شو چې په موږ کې دانقصانات دي. قسم په خدای چې په هغه مجلس کې دوهم وار داسې جذب اوژړاوې شروع شوې چې ډېر زر بې په اثر پوه شوو چې سړی ورته حیران شي. چې مخکې تلاوت کیده داسې اثر نه و خوچې سړي ته ځان مجرم ولیدل شي چې په ماکې خو دغه ګناه او جرم ده چې پداسې پاک مجلس کې ناست یم او اثر نه کوي

ډېر وارې ماداسې مجلسونه لیدلي دي چې ډېر ملګري پکې ژاړي اوډېر بیا په دغه مجلس کې په ژړیدونکو ملګرو پورې خاندي چې دا اوس ولې ژاړي؟ اوس دغه ته یې پام ندی چې دازما زړه دڅه شی دی، دالله تعالی دنامه په یادیدلو دمسلمان په زړه کې خوف اوویره پیداکیږي .قران کریم چې بیانیږي خوف پیداکیږي چې له دې سره، سره هم ژړا نه ورځي او څه اثر نه پرې کوي نو سړی دې باید په دې پوه شي چې زه خراب یم، دخپل عمل نه دې توبه وباسي چې په اخلاص څوک تائب شي په هغه مجلس کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیا خامخا اثر پیداکوي

نوالله دې زموږ اوتاسې داروژه دمغفرت سبب وګرځوي اوالله تعالی دې دتقوی سبب وګرځوي. لکه څرنګه چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ویلې چې ددغه له پاره مې روژه فرض کړې ده چې تاسې پرهیزګاره شي .الله تعالی مودې پرهیزګاره کړي اوپرهیزګاري دامعنا چې سړی دداسې ځایونوڅخه ځان وساتې چې دده دبدن له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره تاوان وي او وربانديې سوځي او هلاکېږي ،ګناهونه زموږ دبدن لپاره تاوان دي چې داسې عمل له موږ څخه ونه شي چې بيا په موږ بانديې تبه زيږې ته ورسيږي يا تبه يئه راخرابه او خوړينه کړي داسې ګناهونه رانه ونه شي چې داکړي اعمال مو رانه (هباء منثورا) ختم شي او که دغسې توجه وه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خو رحيم ذات ده يونه په يو وخت کې خوبه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ديو مسلمان توبه قبوله کړي ،بيوه دعا ،بيوه ژړا خوبه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ قبوله کړي دهغې په برکت دسړي داخيرت او ددنيا زندګي برابرېږي بيا به دغه بدنونه انشاء الله دجنهم له اور او هلاکت نه بچ شي او الله تعالى مودې دهلاکت څخه وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۵) مجلس

## دآل نسبي او حسبي سره تعلق او محبت

﴿ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾

[ سورة الشوری آیت ۲۳ ]

ژباړه: ووایه (ای محمده !دوی ته) چې نه غواړم له تاسې په دغه (پیغام رسولو) اجر لکن دوستي غواړم په قرابت خپلوي کې.

یعنې نبي کریم ﷺ په ټوله زندګي کې، په خاصه توګه دمکې معظمې په زندګي کې ددین په اشاعت کې بې انتها زیات تکلیفونه تیرکړي .بیا وروسته دده صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دکفارو له طرفه نه قسم،قسم تکلیفونه ددغه دین په سبب رسیدل.

یوځل کفار را جمعه کیږي اونبي کریم ﷺ ته وړاندیز کوي چې ددې خلکو ،له پخواني دین څخه په اړولو کې ،که ستا دامطلب وي چې دنیا لاس ته راوړي ؛نوموږ به دومره دنیا درکړو چې ستا اودې تا داولاد اولمسیانوبه هم بس شي خودانوی دعوت پریږده ،دپلارنیکه له دین څخه خلک مه منحرف کوه.

اوکه دې تا نیت داوي چې ته زموږ مشر شې موږ ټول قوم او ټول قریش به تا خپل مشر،امیر او سردار مقرر کړو اوټول به دې تا اطاعت کوو؛ خود اخبره پریږده چې ته دټولو بتانو په خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت چلوې او خلک دیوه خدای جَلَّجَلَالُهُ د عبادت او بندګي طرف ته رابولي.

او که دادې مطلب وي چې واده غواړې نو په ټولو قریشو کې په خپله خوښه باندې لس جنکۍ خوښې کړه ټولې به تاته ،بې له مهر درکړو؛ خودا نوې دعوه پرېږده.

یعنې ددوی خیال داو چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د ټولو باطلو دینونو خلاف یودین ته خلک رادعوت ګوي ،چې هغه داسلام دین دی ،دیو الله تعالی طرف ته خلک بولي ؛نو دده دنیوي غرضونه دي ،پکې ډیری سیاست کوونکي دخپلې مبارزې په وخت کې اودسیاست په میدان کې خلکوته دیوشي اوبل شي طمعې ورکوي؛ خو مقصد اواهداف یې خپله کامیابي وي خوخلکو ته په ذهن کې داورکوي چې زه خو دتاسو لپاره لګیا یم ،خوخلک په دې باندې پوهېږي چې ته خپل شخصي غرض لرې ؛نومشرکینو هم په نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې داګمان کړی و چې دی هم خپل غرضونه لري چې دانوې کلمه یې شروع کړې ده.

دحضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د پیدائښت (۵٦۰) یا (٦۰۰) کاله تیرشوي ؤ او له هغه نه وروسته بل پیغمبر نه ؤ راغلی ،په دې موده کې په خلکو کې په شرک اوکفرکې تیرو، عقیده یې هم دشرک اوکفر وه ، دومره جاهلیت ؤ اودومره وحشت و چې خلکو به خپلې لورانې ژوندۍ په خارو کې له دې وجې ښخولې چې سبابه ددغو دودۍ بندوبست څرنګه کوم اویازما لوربه څټیږي اوبیا به یې بل په نکاح کوي ؛نودومره دجهل دوروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره جاهیلت و چې خلکو به له بیت الله شریفې نه لوڅ لغړ طوافونه کول ،داسې رسوایي وه چې یوې ښځې به له لسو کسانو سره زنا کوله اوچې اولاد به یې پیداشو نوقافیه شناس به یې راوست چې دغه بچې په دې لسو نفرو کې کوم یو کس ته شوی دی ؟ کله به چې هغه قافیه شناس ورته وویل چې ددې ماشوم رنګ دې کس ته ورته والی لري بس هغه ماشوم به دهغه کس وا وهغه ښځه به دهغه بلل کیدله ،ترهغه وخت پورې به دغه لس اویازیان اوکم تولو له دغې یوې ښځې سره بدفعلي کوله.

نو نبي کریم ﷺ د داسې وحشت په دورکې یوه دین ته بلنه اودعوت شروع کړچې دیوه الله تعالی وحدانیت قبول کړئ، دهغه دین قبول کړئ ؛نو طبعا چې دومره جهالت تیر شوی وي نودهغوی خلکو په خبره سر نه خلاصیږي ، نو ده ته یې وویل چې که دنیوي څه غرض لري،هغه به دې پوره کړو ،سردار به دې مقررکړو ، مال اودولت به درکړو.

رسول الله ﷺ ورته وایې چې نه زما پدغه دعوه کې فقط – فقط دحق دین رسول مطلب دي چې کلمه د﴿ لا اله الا الله ﴾ ده ، له تاسو نه نور اجراومزدوري نه غوارم.

﴿قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ (سورة الشوری آیت:۲۳)

نوزه دتاسې نه اجرت (مزدوري) اوتنخوا په خپله پیغمبري نه غوارم صرف – صرف دتاسې نه محبت په خپلوي کې غوارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسیرمظهري ج: ۸ ص: ۳۱۷ /۳۲۰/ ددې دوه قسمه تشریح کوي یا دا چې زما دې تاسې سره چې کومه خپلوي ده دقریشو چې ځمره شاخونه و نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغو سره دخپلوي تعلق درلود ،یاد خسرګنۍ په نسبت باندې ،یاد ماماتوب په نسبت باندې، یاد خوریي توب په نسبت باندې ،یاد تربورګلوي اوعزیزي په نسبت باندې ؛په دې ټولو نسبتوسره زه صله رحمي دخپلوي درنه غواړم ،چې زه موخپل یم ،دخپلوي حق درباندې لرم، زما ددیني خدمت مانع مه واقع کیږي ، که نور ښه مو نه رارسیږي زما مقابله خومه کوئ

ګورئ ستاسو زوی - ورور اوقریب یم ،لکه یو وخت کې ابوجهل اوپنځویشت نفره مشران راټول شول د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره ابوطالب ته یې وویل چې وراره ته دې ووایه چې ددغه دین نه واوړه اوموږ دهغه خپل دین نه مه اړوه که نه وي نو بیا داوکړه چې ته خپل خدای ته خلک دعوت کوه اوموږ به خپل خدای ته ،په موږکار مه لره.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایې چې زه تاسې ته یوه خبره کوم که هغه راسره ومنئ دټولو عربو مشران به شئ اودټولو عجمو مالکان به شئ اوهغه داکلمه ده چې ﴿ لا اله الا الله ﴾، دوی ورته روان شو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایې چې زه دخپلوي لحاظ درنه غواړم چې دتاسې سره زما خپلوي ده نووصلي رحمي راسره کوئ زما داسلامي دعوت مانع مه جوړیږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه تشریح یې مفسرین داکوئ چې زه دتاسې نه خپل شخصي غرض ،شخصي هدف نه غواړم دتاسې نه محبت زما داهل سره غواړم چې زما داهل سره تاسې محبت کوئ.

## دحضرت نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ اهــل(کورنی)

دنبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ دوه قسمه اهل ( خپلوان ) دي : یو دنسب په لحاظ اهل ده، چې سیدان مبارکین دي ،اولاد دبني هاشم اوبني عبدالمطلب دي ؛ نوددغو په هکله محبت درنه غواړم ،زما له اهل بیتو سره محبت کوئ.

یا له اهل نه دانسبي اهل مراد ده.

اوپه اهل بیت د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ باندې سرې ته څه چې وغواړي هغه پیدا کېږي ،دهغو چې هره غوښتنه ومنې دا داخیرت ګټه ده.

نوزما دنسب په باره کې له تاسې نه محبت غواړم اودا ولې غواړي ؟

منشاء دمحبت به څه وي ؟ څکه چې د حضرت رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ خپل دي ؛نوچې په دې نیت چې دوی دنبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ اولادونه دي ؛نودا په حقیقت کې د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ سره محبت ده ،اوپه دې محبت بیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا پیدا کېږي ،دجنت انعامات ورته پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ساداتو مبارکانو په قدر نه کولو او بدا یسولو کې انسان تباه کیږي

په بخاري شریف کې یو حدیث راغلی:

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالمِسْكِينِ، كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوِ القَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ» ﴾

[صحیح البخاری ج: ۲/ کتاب النفقات باب فضل النفقة علی الاهل ص: ۸۰۵ رقم الحدیث ۵۳۵۳]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي: پالونکی د کونډو او مسکینانو داسې ده لکه د الله تعالی په لارکې مجاهد او د شپې لمونځ کونکی او دورځې روژه نیونکی.

## حکایت:

په (کتاب الکبائر ص: ۷۵) کې راغلي چې یوه کونډه سیده دیو مسلمان تجار کورته ورغله، ورته ویې ویل چې زه سیده یم، دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولاد یم. مسکینه یم، خاوند مې وفات شوی، اولاد مې کمزوري ده دنفقې په اړه څه بندوبست نشې کولای، ته مسلمان یې، داسلام په خاطر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تاباندې زما حق دی، که څه راکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مسلمان تجار ورته وویل چې ته څه دلیل لرې چې ته سیده یې؟ لکه اوس موږ او تاسې له سیدانو څخه دشجرې پوښتنه کوو.

دې مبارکې ورته وویل چې زه خپله اقرار کوم چې زه سیده یم ته نور څه غواړې؟ هغه ورته وویل چې داسې سیدان ډېر دي، په داسې سیدانو پسې زه نشم راسیدلای.

داسیده مبارکه سخته مایوسه شوه او دمایوسیت له وجې خپل کور ته هم بیرته نشوای رسیدلی ځکه چې ناوخته شو شپه پرې راغله؛ نوپه هغه ځای کې دیو یهودي کافر کورته ورغله اوهغه ته یې هم دخپل مسکنت اظهار وکړ هغه کومک ورسره وکړ.

دشپې دغه مسلمان تجار خوب وینې چې دقیامت ورځ ده نبي کریم ﷺ ناست دی دخلکو شفاعتونه کوي، په جنت کې یوه بهترینه ښه بنګله ولاړه ده، دامسلمان تجار ورته وایې چې یارسول الله! دابنګله دچاده؟ نبي کریم ﷺ ورته وویل چې (لرجل مسلم) دیو مسلمان سړي لپاره ده، دی ورته وایې چې خوزه هم مسلمان یم داماته راکړه. نبي کریم ﷺ ورته وایې چې څه دلیل لرې چې ته مسلمان یې؟

مسلمان تجار ورته وایې چې زه اقرار کوم چې زه مسلمان یم رسول الله ﷺ ورته وایې چې اقرار دلیل وای نوهغه زما لور زما نسب، چې تاته درغلې وه هغې درته وویل چې زه سیده یم تاولې دهغې خبره نه منله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مجوسي هم دشپې دغه واقعه په خوب باندې ویني او بیا خپله کورنۍ ته وله راپورته کوي اودسونه کوي کلمه وايې او په اسلام مشرف کېږي.

سهار دغه مسلمان تجار ورځي چې بیګاه خو دې تاسې کره څوک میلمانه نه وو راغلي؟ هغه یهودي ورته وویل چې یوه مسکینه عاجزه ښځه راغلې وه.

تجار ورته وویل چې هغې ته ووایې چې صرف تر دروازې پې راوباسه دومره زره روپۍ به درکړم. هغه ورته وویل چې زه دجنت بنګله پدغو پیسو نه خرڅوم

نو درسول الله ﷺ داهل بیتو په احترام او محبت باندې سړي ته دجنت بنګلې پیداکېږي ،دجنت انعامات اودحضرت رسول الله ﷺ شفاعت ورته پیداکېږي.

﴿عن البراء قال رأيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ وَالحَسن بن عليٍّ علي عَاتِقِهِ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَاحِبَّه وفي رواية واحِبَّ من يُحِبُّهُ﴾

[مشكوة المصابيح ج: ۲/ باب مناقب اهل بيت النبى صلى الله عليه وسلم ص: ۵۹۰/ ۵۹۱]

ژباړه : له حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دی وایي: رسول الله ﷺ مې ولید چې حسن ابن علي رضي الله عنه یې په اوږه اخستی ؤ او ویل یې اې خدایه ! زه ورسره محبت لرم ته ورسره محبت وکړې په بل روایت کې وایې : ته دهغوخلکوسره محبت وکړې څوک چې دحسن رضي الله عنه سره محبت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کريم ﷺ وايي چې زما له اهل سره محبت دايمان برخه ده، څوک چې زما داهل سره محبت لري دادايمان برخه ده اوڅوک چې عداوت ورسره لري داد کفر نه يوه برخه ده.

نو نبي کريم ﷺ ورته وايي چې زه دخپلوانو په باب کې دې تاسې نه محبت غوارم چې تاسې زما دکورنۍ سره محبت کوی ،زما له نسب سره محبت کوي.

## داهل له دوهم تفسير نه څوک مراد دي؟

داهل دوهم تفسير داده چې اهل نه اولياء مراد دي .دنبي کريم ﷺ له اولاد حسبي نه علماء رباني ،علماء عاملين چې په شريعت باندې مستقيم وي دغوته علماء رباني هم ويل کېږي ،دغوته اولياءکرام هم ويل کېږي . نوزه ددغوپه باب کې له تاسې نه محبت غوارم چې ددغو سره محبت کوي.

ځکه چې نبي کريم ﷺ وايي چې څوک دعلماء سره محبت کوي دازما سره محبت ده اوڅوک چې زما سره محبت کوي دا له الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت ده اوڅوک چې له الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت کوي دهغو لپاره جنت واجب دی اوڅوک چې دعلماء کرامو سره دښمني کوي ،دعلماء کرامو څخه نفرت کوي دا زما سره دښمني ده اوڅوک چې زما سره دښمني کوي دا دالله تعالى سره دښمني ده اوڅوک چې دالله تعالى سره دښمني لري دهغوی لپاره جهنم واجب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی اومتعال خدای جَلَّجَلَالُهُ فرمايي :﴿ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ﴾ [سورة النساء آيت ۵۹]

اول به دالله تعالی خبره منې اوبيا به د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبره منې اوبيا داولوالامر خبره منې مفسرين داقول مختاره کوي چې له اولی الامر څخه دهر وخت علماء ربانيين ،حقيقي علماء کرام مراد دي ؛نوددغو اطاعت به کوي ځکه چې عالم څه راته وايي له خپل ځان څخه يې نه وايي،دقوميت په لحاظ يې نه راته وايي بلکې په دي لحاظ يې راته وايې چې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نائب ده ، دحضرت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خليفه ده دهغه وارث دی ؛دهغه دين ماته رارسوي.

اوس دلته علماء کرام ليکي چې ترهغه پورې انسان کامل مؤمن نشي کيدلای ترڅوچې له الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ سره ،له هرڅه نه دده محبت زيات شوی نه وي.

دوه قسمه احاديث راغلي دي په يوه حديث کې راغلي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : ﴿لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾

[رواه البخاری ومسلم فی کتاب الايمان ج:اص:۷/رقم الحديث:۱۵]

ژباړه : يوکس ترهغه پورې کامل مؤمن نه شي کيدلای ترڅو چې زه ده ته له خپل مور اوپلار، اولاد اونوروټولوخلکوڅخه ،زيات محبوب شوی نه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپه بل حدیث کې راغلي چې: ﴿ أَنْ يَكُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، ﴾ [ رواه البخاری فی کتاب الایمان ج:۱ص:۷ ]

یعنې مؤمن ترهغه پورې کامل مؤمن نه شي کیدلای ترڅوچې ده ته له خپل ځان څخه خدای اورسول زیات محبوب شوي نه يي نو له خپل ځان څخه ،له اولاد څخه ،له مور اوپلار څخه بلکې له ټولو مخلوقاتو څخه له الله تعالى اورسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زياته مينه ولري ، يعنې دځان به نه مني دالله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ به مني،داولاد به نه مني دالله تعالى به مني،دموراوپلاربه نه مني دالله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ به مني.

خو لکن مفسرين كرام ليكي چې دحضرت نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به كامل محبت هلته پيداكيږي چې دده له وارث سره يې كامل محبت پيداشي، ترڅو چې دده له جانشين سره يې كامل محبت نه وي پيداشوى نودنبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې محبت نه پيداكيږي همدارنګه له حضرت نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره كامل محبت ترهغه نه پيداكيږي ترڅو چې له الله تعالى سره يې كامل محبت نه وي پيداشوي .

دالار ده يوبل ته مورِ نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ليدلى،نه مودهغه معجزې ليدلې،نه مو دهغه دوحې دنزول حالات ليدلي ؛خوداچې دحضرت نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عظمت ،دهغه لويي ،دهغه لوى مقام چې ترالله تعالى نه را لاندې په مخلوقاتو كې بل د داسې لويې مرتبې خاوند څوک نشته ، دامورِ ته چاراپيژندلى؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علماء کرامو راپیژندلی ،نواول به دغه خپل استاذ ،خپل مرشد چې تاته ددین ښوونه کوي ، ته دهغه په نقش قدم باندې روانیږې، خپل خواهشات به پریږدې ،دده په نقش قدم به روانیږې داوسیله ده نود نبي کریم ﷺ سره علاقه،تعلق اولار پیداشوه ځکه عالم خودنبي کریم ﷺ لار درته ښیي.

حضرت امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې لیکلي چې ماته یووخت کې داسې سوچ پیداشو چې هرشي لره یوحقیقت شته دغه حقیقت دشي چې سړي ته معلوم شي بیا تغیر اوتبدل په هغه شي کې نه راځي مثلا دامته ده له سمنتو اوخښتوڅخه جوړه شوې ده ،ددغې خپل حقیقت ده . داپنکی ده ددغه هم خپل حقیقت ده په دغوشیانو که هرڅومره هواوې راشي ،بارانونه پرې او وریږي نوپه تیره نه بدلیږي.

نوامام غزالي رحمه الله وایې چې علم هم یوحقیقت لري ،دعلم حقیقت مې چې وکتلو نوهغه کامل اوپوخ یقین ته ویل کېږي ،چې داسې یقین دې پیداشي چې دهغه په خلاف کې هرڅومره خبرې درته وشي دې تاپه یقین کې هیڅ تردد اوشک نه پیداکېږي ،تردې پورې چې خوارق درته وښیي چې په هوا والوت اوتاته ووایې چې دا پنکی نه دی ، نودتاپه یقین کې باید بدلون رانه شي.

خوامام غزالي [ قدس الله ]سره وایې چې ماهرڅومره کتابونه وکتل زما په علم کې دغومره مقام نه و،ځکه ډېر وخت یوسړی ښه ملاوي داملاخپل پنځه یالس کتابونه کتلی وي ،مطالعه یې کړې وي اوپه خپله مطالعه یې اعتماد اویقین راشي لکن چې ترڅانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه بل ملا اوعالم ویني اودلائل ورته ووایي نوبیرته یې په خپله خبره کې شک پیداشي ،ځکه چې دعلم حقیقت ته نه وي رسیدلی ، نوځکه دبل دلیل یې واوریده نوپه خپله خبره کې تردد ورته پیداشو.

علم ډېر مشکل کار دی ،ځکه چې یوه مسئله به وي، خلک همدغه مسئله له یوملا څخه وپوښتي وکړي نوهغه ملا یوخبره ورته ووایي اوچې کله دهمدې مسئلې له بل ملانه پوښتنه وکړي نوهغه بل څه ورته ووایي ؛ځکه چې یوعالم په دې مسئله کې یونظر لري اوپه خپل کتاب کې یې لیکلي وي اوبل عالم بل نظر لري اوپه کتاب کې لیکلي وي ،مسئله یوملاهم له خپل ځان څخه نه کوي ،کتاب ګوري بیا مسئله بیانوي ؛ نواوس به په مفتی به قول پسې ګرځي نومشکل کار شو.

نوامام غزالي [ قدس الله سره ] وایې ماچې خپل علم ته وکتل داسې حقیقت ته نه ؤرسیدلی،نوکوشش مې شروع کړ چې داخپل علم داسې یقیني شي چې هرڅومره خوارق اودلائل ورته ښکاره شي شک اوتردد نشې پکې راتلای.

صرف ،نحو اوداسې نور مروج علوم مې ټول مطالعه کړل ؛خوداسې یقین مې پکې پیدانکړ ؛نواخیر مې داولیاء کرامو کتابونه مطالعه کړل ،ددوی په کتابونوکې یوڅه تسکین راته پیداشو ؛خوپه یوائې کتلوسره خوداحقیقت نه شي ترلاسه کیدلای نودحقیقي علماء کرامو،اولیاء عظامو سره مې تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداکړي چې ترڅو هغه حقیقت چې په دوی کې موجود ده ،په ماکې هم پیداشي.

دهغه وخت داولیاء کرامو سلسلې داسې نه وي لکه دا نن سبا بې چې موږ ګورو ، اصلي پیران ډېر کم دي ، دا خانقاوې هم داسې نه وي لکه دانن سبا چې دي ،دهغه وخت خانقاوې داسې وي لکه دادنن سبا مدرسې چې طالبان درس پکې وایي ،هلته به مریدان په کې اوسیدل اوذکر،اذکار اووظائف به یې پکې کول؛ټول دفقراومسکنت په حالت کې و،جامې به یې پیوند-پیوندوي ،خوراکونه به یې ډېرکم و،یعنې دملنګي ژوندو،مقصد داچې ددنیا له هرشي نه تیروو.

امام غزالي [ قدس الله سره] [ په احیاء علوم الدین ج ۵/ ص: ۱۳/ ۱۴/ خاتمة في الاشارةالی ترجمة المصنف رضی الله عنه وسبب رجوعه الی طریقة الصوفیة رضی الله عنه ] وایې چې مادغې خبرې ته نیت وکړ،نفس مې نه راسره منله ،نفس اوشیطان دافکر ته راواچوله چې ښه ملا یې،ښه کتابونه جوړوې،ښه درس کوې، ددین خدمت کوې،ته چې اوس ملنګي غوره کړې داټول خدمتونه درنه پاتې کېږي ؛ نوبیرته پیښمانه شوم چې رښتیا خوددین خدمت پاتې کېږي . شیطان هرسړي ته په خپل لباس کې ورځي چې درس ،تدریس ،تصنیف اوکتابونه درنه پاتې کېږي.

خوهلته ددې خبرې شوق و،څه وخت وروسته مې بیا قصد وکړبیا نفس داخبره زړه ته راواچوله چې دلته خوته شهرت لرې ،ددین خدمت کوې ،خلک درته راځي دیوې مسئلې پوښتنه درنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي ،که ملنګي غوره کړي ،ولاړشي چیرته په خانقاه کې واروي یوغریب طالب شي ،غریب ملنګ شي اودرویش شي نوبیا ددین خدمت درنه پاتې کیږي اوداشهرت به دې ختم شي؛خوشیطان بیاهم خپلې هڅې اوکوششونه جاري ساتل.

دریم واري مې بیا نیت وکړ؛نوبیا نفس دازړه ته راواچوله چې اوس دې ښه کار جوړدی،خلک دې عزت کوي،شکرانې پیداکیږي ،درس اوتدریس باندې تنخوا پیداکیږي ،خلک کومکونه درسره کوي اوچې ملنګي غوره کړې ؛نوداټول هرڅه ختم شو،دعیال نفقه هم فرض ده ،لکه دانن سبا چې زموږ په عواموکې مشهوره ده دعیال نفقه فرض ده،لس کروړه روپې لري،لمونځ هم فرض ده خولمونځ بلکل تکی نه کوي،دعیال نفقه فرض ده !!!.

نوهمیشه داسوچ اوفکر راسره و اخیر داعصابو کمزوري راته پیداشو،دوخت حکیمانو دافیصله وکړه چې ددغه سړي اعصاب ختم دي ،ددغه علاج نه کیږي. دغې اندازې ته ورسیدم.

خووایې چې له شپږو میاشتو وروسته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مې زړه ته الهام وکړ،چې داټول هرڅه دې پاته وي ؛خو یوار خپله ځان اصلاح کړه ،چې علم وي اصلاح نوي ،شهرت وي اصلاح نوي؛نوداخوټول ددنیاشیان شول اخیرت خوپاتې شو!

نوکور مې پریښود،وطن اوشاګردان ،درس اوتدریس هرڅه مې پریښودل اوشام شریف ته ولاړم ،هلته مې ددمشق په جومات کې ځان ته اعتکاف ( چهله ) اوخلوت خانه غوره کړه ،په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلوت خانه کې مې چې دکومو اولياء کرامو سره تعلق جوړ کړ اذکارمې شروع کړل، څه اسرار راته پيداشول، دحج وخت رانيزدې شوزړه مې وغوښتل چې دحرمينو شريفينو زيارت وکړم ،حج ته ولاړم اودنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې مې خلوت غوره کړ دی وايې چې په دې ځای کې داسې اسرار راته پيداشول چې دژبې دويلو نه دي ،دقلم دليکلو نه دي صرف دومره به ووايم چې که ددنيا ټول هوښياران جمعه شي ،ټول عاقلان جمعه شي ،ټول پروفيسران جمعه شي اودا ووايې چې موږ دې داولياء کرامو څخه دښو اخلاقو څښتنان شو ؛نو بلکل نه شي کيدلی۔

اوس ولې يې نه شي پيداکولای؟ ځکه چې داولياء کرامو اخلاق د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له سينې مبارکې نه اخيستل شوي دي ،ځکه يو ولي هلته کامليږي چې دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سنتو روان شي ،دهغه دشريعت پابند وي اود نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صفاتو کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ويلي دي چې ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝ ﴾ ا سورة القلم ا يعني ته د ډيرو لويو اخلاقو څښتن يې ، نوچې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ لوی ورته ويلي نوبنده يې دصفت نه عاجز ده ،چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته ويلي دي چې ته دغټو صفاتو څښتن يې نوموږ به يې بيا څرنګه بيان وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دغې وجې نه علماء کرام د نبي کريم ﷺ صفات چې بيانوي نو داوايي:

**لايمکن الثناء کما کان حقه**

**بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر**

يعني دالله تعالى نه را لاندې لنډه خبره داده چې ته لوی يې

دمعراج په شپه چې نبي کريم ﷺ لامکان طرف ته روان شو، سدرة المنتهى ته چې ورسيده حضرت جبرائل عليه السلام ورنه پاتې شو، نبي کريم ﷺ حضرت جبرائيل عليه السلام ته وايې چې راځه راپسې ،ولې دې ملګرتيا پريښودله؟ هغه ورته ووييل چې که ددغه مقام نه يو ويښته اندازه پورته وښوريدم ټول وجود به مې وسوځي. دالله تعالى دانوارو اوزما دوجود ترمنځ (۷۰) حجابه دي ،نور که ورنږدې شوم وبه مې سوځي.

همدارنګه اسرافيل عليه السلام چې دعرش عظيم نه رالاندې ولاړ ده ،هغه وايې چې زما اودخداوندمتعال ترمنځ (۷۰) حجابه دي ،نور که ليرې وړاندې شوم وبه مې سوځي

لکن نبي کريم ﷺ پورته شو ﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝﴾ (سورة النجم) الله ته دومره نږدې شو لکه دغيشې (دليندی) دوه طرفه ،بلکې تردې هم ورنږدې شو.

نوچې خبره بيرته سرته بوزو نبي کريم ﷺ فرمايي چې زما له اولياء سره محبت کوئ، ځکه ددوی اخلاق د نبي کريم ﷺ نه اخيستل شوي دي ، ددوی په محبت دالله تعالى

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّجَلَالُهُ او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طرف چې لار خلاصه شوه ( تخلق باخلاق الله ) نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله تعالى جَلَّجَلَالُهُ په اخلاقو متصف ده په قرانكريم كې الله تعالى جَلَّجَلَالُهُ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فرمايي ﴿ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ په مسلمانانو مهربان اورحيم دى نو دده په عشق اومحبت كې دالله تعالى جَلَّجَلَالُهُ عشق اومحبت پيدا كېږي؛نو ( **فنا فى الشيخ** ) چې اول خپل شيخ ترخپل مور او پلار اولاد بلكې ترهرشي محبوب نه شي ترهغه ﴿ **فنا فى الرسول** ﴾ نه درته پيدا كېږي ﴿ **فنا فى الرسول** ﴾ چې نه وي پيدا ﴿ **فنا فى الله** ﴾ نه پيدا كېږي

## اصلي مطلب له اولياوو سره كامل محبت ده

اصلي مطلب زما داو چې زموږ دكاميابي لار داده چې ددغوخلكو سره كامل محبت وكړو ،ځكه چې دوى د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دالله تعالى جَلَّجَلَالُهُ خبرې موږ ته كوي هغه ځوک چې دالله تعالى جَلَّجَلَالُهُ خبرې موږ ته كوي ددنيا محبتونه ټول په دنيا بناء دي دچاسره دخپلوي اودوستي لحاظ وي ،دچاسره دوركړې اوراكړې لحاظ وي چې دافلانكى له ماسره كومک كوي ،دچاسره ديوبل څه نفسي خواهشاتو تعلق وي خودعلماء كرامو سره تعلق په دين بناء وي ځكه غټ مقام لري،ملا چاته روپۍ ياكورسى يا ددنيا عزت نه وركوي نوچې نه يې وركوي اوبياهم ځوک ديوحقيقي عالم سره محبت ساتې نومنشاء به يې يواځې اويواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینې تړاؤاورابطه وي نوچې ته دعلماؤ و سره ددین په لحاظ محبت کوې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ بیا ډېر غیرتي ذات دی ،تردې چې په یوه حدیث شریف کې راځي چې څوک زما له اولیاء کرامو سره مخالفت کوي نو ددغه سړي سره زما دجنګ اعلان دی ( بَارَزَنِیْ مُحَارَبَةً ) دغه سړی دې زما جنګ ته ځان تیارکړي اوبعضې الفاظ داسې راځي چې ( من عاد لی ولیاً فقد اذنته بالحرب ) یعنې څوک زما له دوست سره مخالفت کوي دهغه سره زما دجنګ اعلان دی

اوپه تفسیر مظهري کې لیکلي دي چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وایې څوک چې زما له اولیاوو سره مخالفت کوي دغه کس زما جنګ ته ځان تیارکړ. تردې پورې چې په دغه حدیث شریف کې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ وایې څوک چې زما له علماوو ،زما داولیا وو سره مخالفت کوي زه داسې ورته په غضب کېږم لکه زمری چې په غضب کېږي

اوس نو چې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دخپلو دوستانو په خفګان داسې خفه کېږي نودهغه په خپلوي اومحبت بیا دغسې خوشحالېږي هم .له علماوو سره چې څوک ددین په خاطر محبت کوي نودا په حقیقت کې له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت کول دي درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددین په خاطر محبت نودا په حقیقت کې له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم شریف په شرح کې امام نووي لیکي چې په کوم مجلس کې دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ددوستانو نوم واخیستل شي نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په هغه مجلس کې رحمتونه نازلوي

په بخاري شریف کې دبدرینوصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په هکله چې موږ یې مخکې بیان وکړچې ددوی د نومونو له اخیستلو وروسته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دعا قبلوي ځکه چې دالله تعالی دوستان دي وسیله کړل دهغوی دنومونو په یادولو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ خوشحالیږي نوچې دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ رحمت متوجې شو نوبیادمسلمانانو حاجتونه وربوره کوي .

دقیامت په ورځ به دوی ته دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف څخه اعلان کیږي چې چاله تاسې سره محبت کړی وي که څه هم هغه په هره نوعه باندې وي نودهغو ټولو شفاعت وکړئ اوجنت ته یې درسره بوزئ ، خلک به په ځان پورې حیران وي اودغو دخدای جَلَّ جَلَالُهُ دوستانوته به دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه اعلان کیږي چې ای علماوو ! ای طلباوو! ای مجاهدینو! ای مخلصومسلمانانو! چې له تاسوسره چامحبت کړی وي، معاونت یې کړی وي؛ نونن دهغوسره تاسوښۀ وکړئ،هغوی دنیاوي ښه درسره کړې وو نن تاسوله هغوی سره په اخیرت کې ښه وکړئ له ځان سره یې جنت ته بوزئ

نوځومره موچې وس کیږي له علماءکرامو سره تعلق جوړوئ .دهغو سره محبت کوی اودغه ته مو چې خیال نشي چې دوی په دنیاکې ددنیا په لحاظ مسکینان دي ،نوتاسې ته ځان غټ ولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي اودوی ته دحقارت په نظر وګوری ،ډیر داسې عوام شته چې ملا ته تنخوا ورکوي اودتنخوا احسان په ده باروي اوداسې معامله ورسره کوي لکه دمزدور سره چې اوس خو تنخوا درکوم څه خوشې خومې نه یې نیولی .تردې پورې چې داسې کلیوال هم شته چې دجومات خدمت یې په ملا باندې لازم کړی وي . مزدور یې ورنه جوړ کړی وي .ولې خو دمیاشتې (۱۰۰۰) روپۍ ورکوي اوبیا ځان لوی پرې بولي، دا خوبیا ګوښې خبره ده چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دعلماء کرامو نفقه په خلکو کې تقسیم کړی ،که نه وي قسم ده که پدغه زر روپۍ په دې قیمتي کې هیڅ دضرورت وړشی ترلاسه کولی شي

ددنیا هغه ادنی نوکري تاسې له (۴۰۰۰) څلورزرو نه کمه لیدلي ده ؟ علماء کرامو دسهار نه تربیګاه پورې ټول وخت درسره محصور وي خوبه پنځه سوه (۵۰۰) اودولس سوه الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ دوی ته قناعت ورکړی دا دالله تعالی رحم ده چې قناعت یې ورکړ ، که دعالم هم داسې حرص وای چې ته لوډر اخلي نوزه یې ولې نه اخلم؟ ته تراکتور اخلي زه یې ولې نه اخلم؟ ته دوکان جوړوې نوزه یې ولې نه جوړوم؟ دهغه هم ستا په ډول حرص وای نو دادیني حکمونه به بیاورڅخه پاتې وو

خوددې قناعت برکت دی چې الله تعالی ددین ډیرکارونه دعلماءکرامو په ذریعه روان کړي دي

دکوم ملا چې کار جوړ وي هغه بیا درس اوامامت کوي ؟نه یې کوي ، ځکه مخلص خلک کم دي . هو! کم علماء به داسې وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خپله هم ښه ابادي ورکړې وي او ددین خدمت ته ولاړ وي.

نوخواهشات په دوی غالب نه وي ،هغه خاص دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا له پاره ددین خدمت ته ولاړ وي، کولای شي په بله لار کې ښه ډیره دنیا وګټې خودنیا یې مطلوب نه وي ،دین یې مطلوب وي ،په کم شي قناعت کوي ،هغه ددین کار کوي.

## دوصول الی الله درې لارې

دکامیابي اودخدای جَلَّ جَلَالُهُ دخوشحاله کولولارې درې دی یوه لار دطاعت ده چې په عبادت اوبندګي باندې سړی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته نیږدې شي. الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ وایې چې ماته بنده په فرض عمل رانږدې کېږي بیا په سنتو اونفلو رانږدې کېږي تردې پورې چې زما محبت ورسره پیداشي ،کله چې زما محبت ورسره پیداشو نوزه دده سترګې شم په مالیدل کوي،زه یې لاس شم نیول راباندې کوي،زه یې پښې شم تلل راباندې کوي،نولنډه داچې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې خپل ځان وبولي.

نویودعبادت او دطاعت په لاره خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ انسان غښ مقام ته رسوي ؛خومشکل ځکه ده چې دومره طاعت اوبندګي چې بالکل غفلت ورځخه ونشي ،په دې وس وخت کې څوک کولای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه لار: دمصیبتوده چې تکلیفونه وربانديې راشي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته درسیدلوداده چې په سرېي باندې مصائب راشي اوبیا صبر پرې وکړي ،نوبیا په دغومصایبواوتکلیفونو بانديې ګناوې بښل کېږي ،دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ رحمت ورته متوجې کېږي اودرجې یې پورته کېږي.

دریمه لار: خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته درسیدلو چې ډېره اسانه اوبې تکلیفه ده هغه داده چې کوم څوک دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوستي ته رسیدلي وي ،ته دهغو په زړونوکې محبوب شې دهغو له تاسره مېنه پیداشي.

اوله : طبقه په خپل طاعت اوعبادت رسیدلي.

دوهمه : په مصیبت رسیدلي، او دریم داولیاوو په محبت رسېدلي دي. اوس ته ددوی په خدمت کې لګیا شوې ،تا ددوی ملګرتیا غوره کړه ، دې تا ددوی سره تعلق پیداشو اوددوی له تاسره مېنه پیداشوه نوکله چې دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ددوست له تاسره مېنه پیدا شوه نودالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ مېنه درسره پیداکېږي.

نودغه ډېره نیږدې اواسانه لار ده ،ته دې طاعتونه اوچهلې تیرې کړې اونه مصیبتونه اوپریشاني دربانديې راغلې ،فقط دعلماء کراموخدمت دې وکړ،ددوی زړه درنه خوشحاله شوی اودعا یې درته وکړه.

په دعا وو ډېرلوی کارکېږي،دخدای جَلَّ جَلَالُهُ ددوست په خدمت الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ خوشحالیږي نوبس تاته یې له لنډې لارې خپله خوشحالي درکړه.

# کله په یوه دعا د سړي ټول کارونه جوړ شي

**حکایت:** زموږ خلیفه صاحب حضرت قطب المشائخ مولوي دین محمد اخنداده (قدس الله سره) قصه کوله ،کومه ورځ چې دده دخلافت دستار بندي کیدله موږ ته یې په پټ ځای کې داقصه وکړله ،وایي چې غالبا خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددې کار( دخلافت درجې ته رسیدل ) دسبب جوړولو داکار ګرځیدلی وي چې دسلیمانخوېو سپین ږیري ملاصاحب په ډیر فقراو مسکنت حال کې راغی اوډېر تنګ دستی و ،نوکور ته مې بوته ،نوخلیفه صاحب مبارک خود کشف خاوند و ،نووایې چې دستي مې نسوارېې ورته راواخیستل چې نسوار وکړه، بیامې دستي چای ورته راوړ ،چای یې چې وخوړ بیا مې مړۍ ورته راوړه اوله مړۍ خوړولو وروسته مې بیا چای ورته راوړ.

نوبیامې دده حاجت پوره کولو هڅه وکړه ځکه چې له ما هم سره نورې روپۍ نه وې یواځې په واسکټ کې مې پنځوس روپۍ وې هغه هم په کور کې پروت ؤ، نو دکورنۍ خلک خوراباندې پوه وو چې فقیر راغلی وس به بیا هرڅه ورکړي نوهغه یې له واسکټ څخه ایستلې وې ،کله مې چې واسکټ راواخیست چې ګورم روپۍ نشته پکې نویوطالب ته مې وویل چې پنځوس روپۍ راکړه بیا به یې درکړم ،نوهغه پنځوس روپۍ مې ورکړې ،نودغه فقیر سر سرتورکړ اومخ په قبله ودرید ه دعایې راته وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه واقعه غرمه پیښه شوه او ما سپښین حضرت انوار المشائخ (قدس الله سره) اچې مشهور په ارغندی خلیفه صاحب سره ؤ حال راولیږه چې دلته راشه چې ورغلم راته ویې ویل چې بس پټکی تیار کړه تا ته د خلافت پګړی درتړو.

حضرت قطب المشائخ صاحب (قدس الله سره) ډېر عابد او پرهیز ګار او د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په طاعت او عبادت کې یې ډېر زیات تکلیفونه تیرول؛ خو قسم ده چې په یوه دعا سره دانسان دسلهاو کلونو کار جوړیږي.

## د اولیاء کرامو په معمولي خدمت سره هم ډېرې غټې برخې ترلاسه کیږي

یو ولي غسل کوي خو اوبه ورخلاصې شوې، د یو مشکل سره مخامخ ده، یو مرید ته داخیال ورغی چې کیدای شي اوبه ورکمې وي؛ نو یوه بوکه یې دکوهي نه راویسته او ټانکی ته یې ور واچوله

کله چې دغه ولي له غسل خانې څخه راووت نو پوښتنه یې وکړه چې دا اوبه چا دغه ټانکی ته را واچولي؟ دمرید په دې فکر شو چې بې ادبي مې نه وي کړي، نو څه یې ونه ویلې او چپ شو. ولي بیا وویل چې دا اوبه چا را واچولي مرید بیا غلی شو. دغه ولي وویل چې ډېر ښه وخت یې اوبه راورسولې زه ډېر ورنه خوشحاله یم، بې ادبي یې نه ده کړې. دغه مرید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وویل چې ما در واچولې . دغه ولي ورته وویلې چې تا په یوه بوکه دومره لوړمقام ترلاسه کړچې فلانکي په دیرشوکلونو کې هم نه و ترلاسه کړی . دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ په خزانوکې څه کمی نشته .

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ضَمَّنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: «اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ»﴾

[صحیح البخاری ج ۱/ ص ۱۷/ کتاب العلم رقم الحدیث ۷۵ ]

له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، زړه په یوځلې خدمت کولو خوشحاله شو، دعا یې ورته وکړه په ټول امت کې اوس په رئیس المفسرین اوحبر الامة سره یادیږي . ځکه چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعایې وکټله .په یوه دعا یې کار جوړ شو.

نودا علماء یا طلباء یا اولیاء اوداملنګان که څه هم خلکوته به په نظرکم ورځي دا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په نزد ډېر عزتمن دي نوددغو سره تعلق ساتئ ،ګورئ چې په سوچ کې دا درنشي چې زه خومالدار یم غټ سړی یم اودغه خو زموږ په وظیفو اوچندو رالوی شوي دي . ډېر خلکوته دملا اوطالب په هکله داسوچ وي چې زه کومک ورسره کوم نودی باید زما تابع وي . ګورئ که په طبعیت کې موداخبره راغله قسم ده که کامیاب شئ .

نونبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایې چې زه له تاسوڅخه نور اجر نه غواړم یواځې دخپل جای نیشینو ،دخپل نسب سره دتاسي محبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم ،ددغو په محبت به ماته را رسیږئ او دې ما په محبت بد الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ته رسیږئ ،او کوم انسان ته چې دالله تعالی محبت پیدا شو هغه په دنیاهم کامیابه ده او په اخیرت کې هم کامیابه دی

## نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دنیا له څه شي سره مشابه کوي؟

نو یه عباداتو کې هم باید کوشش وشي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایي: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَطَاءَ بْنَ قُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ ضَمْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ﴾ (رواه الترمذی ج ۲ص: ۵۸/ابواب الزهد ، رقم الحدیث: ۲۳۱۵)

﴿ یعنې دنیا ملعونه ده او هغه څه چې په دنیاکې دي په ټولو باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ لعنت دی ، مګر ملعون نه دي عالم اومتعلم اوذاکر او څوک چې دالله تعالی بندګي کوي.

څوک چې ددوی سره تعلق ساتي هغه ملعون ندي ، څوک چې علم حاصلوي هغه ملعون ندي ، څوک چې درس اوتدریس کوي هغه معلون ندي .نوره دنیا دلعنت شی ده.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لار کې یو پرسیدلی او چینجن سیرلی ولیدل نو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وایې چې داخلک له دې سیرلی څخه په تنګ شوي دي اودباندې یې راغور ځولی دی ؟ صحابه

کرامو رضي الله عنه ورته ووېل چې هو یارسول الله ! دا مردار سیرلی څه کوي حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایې چې خدای پاک ته دنیا تردې مردارې نه هم ذلیله ده.

له دېنه څوک دا مطلب وانه خلي چې دنیا ګټل ناروا دي بلکې دنیا ته خیرهم ویل شوي دي خدای پاک جل جلاله فرمایي ﴿ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ﴾ خو په اصل ذات کې خدای پاک جل جلاله وایې چې ﴿ وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ ﴾ که چیرته موږ دنیا اورزق ورزیات کړای وی نو سرکشې به یې کړې وه

په اصل ذات کې یې طغیان پروت ده که نه دخیر کارونه هم ډېر ورباندې کېږي .دحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ،حضرت عمرفاروق رضي الله عنه اوحضرت عثمان غني رضي الله عنه په دنیاکې دجنت دزیرې خبرې چې اورو دا ټول یې ددنیا په برکت حاصل کړي دي .ددې دا مطلب نه چې دنیامه ګټی ،دنیاګټئ خو عبادت مه پرېږدئ دکومې دنیاګټلوپرمهال چې عبادت پاته شو هغه حرامه ګرځي اوچې عبادت پرې پاته نه شي دنیابده ده ،ښه خوره ،ښه چیښه اوښه اغونده الله تعالی جل جلاله پرې خوشحالیږي ،الله تعالی چې چاته کوم نعمت ورکړی وي باید دهغه نعمت اثر ورباندې ښکاره شي په دې الله تعالی خوشحالیږي ،چې علم یې کړی وي دایونعمت ده نو درس ،تدریس، وعظ اونصحیت پرې کوي دا یې اثار دي الله تعالی جل جلاله ورباندې خوشحالیږي او راضي کېږي نوالله تعالی دنیا پیداکړې زموږ اوتاسې دهوساینې له پاره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



،داڅومره حیوانات اوکروندې چې دي داټولي يې دانسان دفائدې له پاره پیداکړي دې ، دنیا په داسې طریقه وګڼئ چې ارام اوراحت درته پیداکړي ،په دنیاکې هم پرې ارام شئ اوپه اخیرت کې هم پرې ارام شئ اوپه داسې طریقه يې مه ګڼئ چې په دنیاکې هم پرې ذلیله وئ اوپه اخیرت کې هم پرې ذلیله شی په داسې طریقه يې وګڼئ چې په دنیاکې هم پرې عزتمند شئ اوپه اخیرت کې هم پرې عزتمند شئ

نوداالله تعالی دې زموږ محبت له حقیقي علماء سره پیداکړي چې دهغو په واسطه دخدای پاک ﷻ اودرسول الله ﷺ محبت زموږ په برخه شي اودامحبت به هلته پیداکیږي چې په ځان کې دالله تعالی احکام اودنبي کریم ﷺ سنت طریقې عملي کړواودې دين رنګ راباندې ښکاره شي

## مسلمان باید خپله اسلامي جامه بدله نه کړي

تاسو پام وکړئ چې سیکان سره له دې چې کافران دي مګربیاهم ددوی داخپله عقیده ده چې ویښته نه پرې کوي اوپټکی وهي ،هغه دخپلې عقیدې څخه نه اوړي اوهرڅوک يې په دې پورتنیو نښوباندې پیژني چې داسیکان دي ؛نوپه مسلمانو کې هم باید داسلام داسې اثاراونښې ښکاره شي چې دهغو په وجه دوی په مسلماني وپیژندل شي اوله ده سره دخلکو مینه اومحبت پیداشي چې الحمد لله چې مسلمان مې ولیدل ،داسې نه چې دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او انګریزانو ترمنځ فرق نه کېږي ،ددوی او دیو مفسد ترمنځ فرق نه کېږي

یو ځل موږ دمدرسې داوبو دماشین جوړولو لپاره یو سپین ږیری مستري راوستی و، نو په روژه کې یې له یو مولوي صاحب څخه او به غو ښتلې چې تږی یم او به راکړئ. خو هغه مولوي صاحب اوبه نه وې ورکړې نو یو طالب ته دې مستري ویلې و چې دا څرنګه بې کاره خلک یئ چې په چاموزړه هم نه خوږېږي؟ صله رحمي هم نه کوئ.

نومسلمان هم ده او په مدرسې کې هم کارکوي خو له خدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه نه ډارېږي روژه خوري

هغه ګنهګارهم ښه وي چې ګناه خوکوي خوله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اوله مخلوق نه حیا ورته درېږي ،ددې حیا په وجه دغه ګنهکار ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دتوبې توفیق ورکوي ؛خو هغه ګنهګار چې په ګناه کې دلاوري کوي ددغه بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ توبه هم نه قبلوي اوورته په غضب هم وي ،اکثره قومونه له دې وجې څخه تبا شوي دي چې په ګناه کې به یې دلاورې کوله ،دلوط علیه السلام قوم دومره بې حیاشو چې په عام مجلس کې به په یوبل سپریدل اولواطت به یې کاوه،نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته په غضب اوقهرشو داسې یې تباکړل چې جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَامُ دلوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ټول قوم دومره پورته کړل چې په اسمان کې یې دچرګانو اذانونه واوریدل شول اوبیا یې له پورته نه ښکته راوغوځول اوبیا دتیږو باران پرې وکړ او تر نن پورې په هغه ځمکه باندې اثر ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او هیڅ شی نه زرغونه وي؛ددې وجه داوه چې بنکاره بې ادبي يې کوله اوله خدای جَلَّجَلَالُهُ نه ډار اوحيا نه ورته دريدله.

نن هم خلک دومره دلاوره شول چې يو مسلمان دبل مسلمان په مقابل کې جنګېږي اوبيا فخر هم پرې کوي ،داسې خلک هم شته چې په جومات کې جمعه ولاړه وي اودوی په قيبال لګيا وي داسې دفتنو دور دی خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دې خپل رحم اوکرم وکړي چې ددغوله ګناهونو څخه نفرت پيداشي اوداخيرت طرف ته دمسلمانانو توجه پيداشي

# (۵٦) مجلس

## داعتكاف بيان

الحمد لله والصلوة والسلام على سيدنا الانبياء وعلى اله واصحابه الاتقياء امابعد فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمۡ عَٰكِفُونَ فِي ٱلۡمَسَٰجِدِۗ ﴾ [سورة البقرة: ۱۸۷]

ژباړه: او مه نږدې کيږئ ښځوته (په جماع سره) حال داچې تاسې معتكفان يئ په مسجدو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اعتـــــکاف

اعتکاف دروژې مبارکې په اخیرنی لسو ورځوکې په جومات کې داعتکاف په نیت اوسیدلو ته وایې اوداد حضرت رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت عمل دی

دهرعمل لپاره نیت ضروري دی نوداعتکاف له پاره هم نیت کول ضرور دی په پښتوکې بې نیت داسې دی: ای خداوندمتعاله! زه نیت دسنت اعتکاف لرم ته یې راته اسانه کړې اوله مانه یې قبول کړې.

**اعتکاف په درې ډوله ده:**

۱- **واجب:** یوڅوک یې چې په خپل ځان نذر کړي هغه که تر یو څه شي پورې یې معلق کړی وي او که غیر معلق وي دې ته واجب اعتکاف وایې.

۲- **سنت:** سنت اعتکاف دروژې په اخري لسو شپو کې ده.

۳- **مستحب:** له پور تنیو دوه ډولوڅخه پرته دی

[فتاوی عالمګري/ج ۱/ص ۲۱۱/ ۲۱۲]

## داعتکاف شرطونه

۱- **نیت:** داعتکاف له پاره نیت شرط دی او که بې نیته یې اعتکاف وکړ دعلماوو په اتفاق نه دی صحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- مسجد الجماعة**: اعتکاف په هر هغه جومات کې صحيح کيږي چې په هغه کې پنځه وخته اذان او دجمعې لمونځ ترسره کيږي. افضل او غوره اعتکاف هغه دی چې په مسجد حرام (مکه مکرمه) کې ترسره شي، بيا چې دنبي کريم ﷺ په مسجد کې وي، بيا چې په بيت المقدس کې وي، بيا افضل اوغوره چې په جامع مسجد کې وي، بيا چې دکوم جومات اهل زيات وي.

ښځه به دخپل کور په يوه ځانګړې کمره (کوټه) کې اعتکاف کوي چې کله هلته اعتکاف وکړي ددې په حق دغه ځای داسې ده لکه دنارينه له پاره هغه جومات چې پنځه وخته اذان او جمعه پکې وي. له اعتکاف ځخه به نه وزي مګر دانساني ضرورت له پاره.

**۳- روژه**: يعني روژه نيول داعتکاف له پاره يعني روژه داعتکاف له پاره لازمي شرط دی او په ظاهرالرواية کې له امام ابو حنيفه رحمه الله او صاحبينو ځخه نقل شوي چې دنفلي اعتکاف له پاره روژه شرط نه ده.

او داعتکاف دکمې مدې له پاره تقدير (اندازه) نشته په ظاهر رواية که څوک مسجد ته داخل شول او داعتکاف نيت يې وکړ ترڅو چې راوزي داهم صحيح دی.

**٤-اسلام**: اسلام ځکه شرط ده چې کافر دعبادت اهل نه دی.

**٥-عقل**: عقل هم ځکه شرط دی چې ليونی دنيت اهل نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- **طهارة عن الجنابة والحیض والنفاس : یعنې پاکي له جنابت ،** حیض او نفاس څخه داعتکاف کولو له پاره شرط دی ، ځکه جنب ، حائضه او نفاسه دمسجد له ننوتلو څخه منعه دي .

ار هرڅه چې بلوغ دی هیڅ شرط نه دی داعتکاف دصحت له پاره ، نو د عاقل هلک له پاره هم اعتکاف صحیح دی .

نارینتوب او حریت شرط نه دی ، بلکې ښځه غلام په اجازه دخپل مولی او میړه اعتکاف کولای شي که ښځې لره میړه ؤ .

[فتاوی عالمګري / ج: ۱ / ص: ۲۱۱]

## داعتکاف اداب

۱- داچې خبرې به نه کوي مګر په خیر باندې

۲- داچې اخرې لس روژې به داعتکاف له پاره غوره کوي یعنې په اخرو شپو کې به یې کوي

۳- داچې : افضل دجوماتو به داعتکاف له پاره غوره کوي لکه مسجد حرام او جامع مسجد .

٤- داچې : دقرآن کریم تلاوت ، دحدیثو درس اومطالعه اوسیرة النبي والانبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَامُ او داولیاوو واقعات به بیانوي او ددین امور لیکل همدارنګه په فتح القدیر کې هم دي .

[فتاوی عالمګري / ج: ۱ / ص: ۲۱۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داعتکاف محاسن

په دې اعتکاف کې معتکف خپل ځان په تامه (پوره) معنا دالله تعالى عبادت ته تسليموي ددې له پاره چې الله تعالى ته ورنږدې شي او نفس ددنيا له شغل او محبت څخه لرې کوي، ځکه ددنيا شغل سړى دقرب الهى نه لرې کوي.

او داچې معتکف ټول وخت په لمانځه مشغول وي حقيقتاً يا حکماً ،ځکه مقصد اصلي داعتکاف له روا والي څخه داده چې انتظار دجَمعې لمونځونو ته کول دي او معتکف له هغه چا سره (چې ملائکې دي) ځان مشابه کوي چې دوى دالله تعالى نافرماني نه کوي دهغه څه چې دوی ته يې امر شوی وي هغه کار کوي او له هغه چا سره ځان مشابه کوي چې دوی شپه او ورځ دالله تعالى تسبيح وايي او نه ستړي کيږي.

او ځينې له شرائطو څخه يې روژه ده دمعتکف په حق کې او روژه دار دالله تعالى ميلمه ده. [فتاوى عالمگري/ج: ۱/ص ۲۱۲]

### داعتکاف مفسدات

۱- **دجومات څخه وتل:** معتکف به دخپل اعتکاف له ځاي څخه نه په شپه او نه په ورځ کې وزي مگر دعذر په صورت کې او که بې عذره يو ساعت هم ووتلو اعتکاف يې فاسد دى. دامام ابو حنيفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمه الله په قول .نور دغه وتل که په قصد وي او يا په سهوه سره همدارنګه په فتاوی قاضي خان کې هم دي.

له عذره څخه دادی چې د ورو او غټو بولو له پاره وتل دي او دجُمعې دلمانځه له پاره تلل دي. [فتاوی عالمګري/ج:۱/ص:۲۱۲]

هر څه چې خوراک او څښاک او خوب دی دا به دځپل اعتکاف په ځای کې کوي ، ځکه ددغه حاجت پوره کول دلته ممکن دي وتلو ته يې ضرورت نشته او دجُمعې لمانځه ته به دلمر له زوال څخه وروسته روا نيږي ، دا په هغه صورت کې چې داعتکاف جومات جامع جومات ته نږدې وي په داسې شان چې دلمر زوال ته انتظار شي خطبه او دجُمعې لمونځ نه ورنه فوت کيږي.

او که ورنه فوت کيده بيا دې دلمر زوال ته انتظار نه کوي بلکې څه وخت چې ممکنه وي ودې وزي نو جامع جومات ته دې راشي څلور رکعته دې مخکې تر دوهم اذان او دجمعې له لمانځه وکړي او له لمانځه وروسته دې په اندازه دڅلورو او يا شپږو رکعتو په حسب داختلاف دعلماوو په سنتو دجمعې کې وخت ختم کوي او که يوه شپه يا ورځ يې ختم وپست او يايې اعتکاف پوره شو فاسديږي نه خو مکروه ده.

او که له جومات څخه دعذر له امله ووت چې جومات رنګيده او يا چا په زور وېست نو بل جومات ته سمدلاسه ننوت نو استحسانا يې اعتکاف نه فاسديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که له جومات څخه دبولو له پاره ووت او پوره وړې ودارو ه ،
امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ په مذهب يې اعتکاف فاسديږي او دصاحبینو په نزد نه فاسديږي امام سرخسي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې ددوی قول په مسلمانانو اساني ده.

دمریض پوښتني ته به نه ځي او که دجنازې له پاره ووت اعتکاف يې فاسديږي همدارنګه دجنازې لمانځه ته چې ووزي هم اعتکاف يې فاسديږي لکه په فتاوی ظهيريه کې چې راغلي دي

په فتاوی تاتارخانيه کې راغلي دي چې دنذر او التزام داعتکاف په وخت کې که داشرط کړي چې زه به دمريض پوښتني ته ځم دجنازې لمانځه ته به ځم او دعلم مجلس ته به حاضريږم ، داروا دی.

۲- **جماع او دواعي يې** : يعني کوروالي کول او دهغې اسباب اعتکاف فاسدوي ، نو په معتکف جماع او دواعي يې دواړه حرام دي ،دواعي لکه لوڅ بدنونه سره لګول مچو( ښکلول ) اخیستل لاس ور وړل غیږ ورکول او جماع دفرج ( اندام مخصوص ) نه سوا په بل اندام کول شپه او ورځ په دې کې برابر دي ، جماع که په قصد وي او که په سهوه ، شپه وي او که ورځ اعتکاف فاسدوي ، انزال يې وشي او که ونه شي. او له جماع نه پرته په هغه صورت کې اعتکاف فاسديږي چې انزال يې وشي که انزال يې ونشي نه يې فاسدوي

که دمعتکف مني په سوچ او فکر کولو سره خارج شول يا يې احتلام وشو هم اعتکاف يې نه فاسديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیانو که ممکنه وه په جومات کې دي غسل وکړي چې جومات ککړ نشي څه پروا نشته او که نه دباندې (بهر) دې ولاړ شي غسل دې دکړي بیرته دې جومات ته راشي . او که په جومات کې یې په لوښي کې اودس کاوه هم په دغه تفصیل سره دی .

[فتاوی عالمګري/ج: ۱/ص: ۲۱۳]

## داعتکاف محظورات

**چوپه خوله ناستی**: یعنې چوپه خوله ناست وي دغه یې عقیده وي چې دا عبادت او ثواب دی ، دا چوپه خوله مکروه ده . اما که دغه دقربت او ثواب عقیده یې نه وه بیا مکروه نه ده .

[فتاوی عالمګري/ج: ۱/ص: ۲۱۳]

او له هغو خبرو څخه چوپ کېدل چې په هغو کې ګناه وي داخوله لویو عباداتو څخه دی په دې باندې ثواب ورکول کیږي ، کنځل او جنګ کول اعتکاف نه فاسد وي [فتاوی عالمګري/ج: ۱/ص: ۲۱۳]

ځینې عوام وروڼه په اعتکاف کې ناست وي ،قرانکریم یې نه وي زده ،نور اذکار یې هم نه وي زده چې هغه وکړي نودوی داعقیده وي چې داعتکاف له ضروریاتو' نه داده چې سړی چپه خوله کیني،غږیدا نه کوي ،تردې پورې چې که وړه خبره وکړي نو خلک ورته وایې چې اعتکاف یې خراب کړ؛ نووروڼو! په دې ځان پوه کول پکار دی چې په اعتکاف کې خبرې منع نه دي ،په اعتکاف کې له ضرورت نه پرته له جومات نه وتل منع دي ،په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات کې روا مجلس کولای شي ،خپل ضروریات له چاغوښتلی شي اودارنګه پټه خوله هم کیناستلی شي خودغه پټه خوله کیناستل عبادت نه دی اوکه ددې ویره وي چې داسې نه په اعتکاف کې غیبت، لهو اولعب رانه ونشي ؛نوبیا چوپه خوله کیناستل هم عبادت ده .لکه پورته بیان شول.

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دامت دنوروبزرګانو عادت داوو چې ﴿ کثیرالصمت ﴾ یعنې زیاتره به پټه خوله ناست وو ،بې له ضرورت نه به یې غږیدا نه کوله اوکه به چا بیا دکومې مسئلې پوښتنه ورځخه وکړه نوداسې تفصیل به یې ورته کاوه لکه دریاب چې روان شي ،داسې نه چې خبرې یې نه کولې.

نوچې په اعتکاف کې کوم کس ناست وي ذکر،تلاوت اونورعبادت دې کوي یا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په مصنوعاتو اومخلوقاتوکې سوچ اوفکر کوي، چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اسمانونه ځمکې، انسانان اونور مخلوقات په څومره ښه کیفیت پیداکړي. چې دا دنقشبندیې مبارکې دمراقبو خلاصه او غورچانې هم دی.

نوروخلکو ته په کار داده چې دمعتکفینو اوقات ورضائع نه کړي ،ډېر مجلسونه باید نه وي ځکه چې په ډېر مجلس کې دکار خرابیدلو ویره وي ،یابه په غیبت لګیاکېږي،یابه په درواغو لګیاکېږي یابه په کوم بل ناروا کار لګیاکېږي.

نوپه اعتکاف کې ناسته لویه خوش قسمتي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېر بهترین کار دی چې ډېره غږېدا نه کېږي ځکه چې سړی ډېر نه غږیږي عقل یې هم په ځای وي ،هغه سړي بیا چې خبرې کوي هم نو هوښیارې خبرې کوي

او چې ټوله ورځ کوم کس په خبرو لګیا وي بیا یې چې څه په خوله ورشي هغه وایي . لکه یو سالک وایي:

زبان بریده بکونجی نشسته صم وبکم ... به از کسی که زبانش نباشد اندر حکم

دسړي چې ژبه پرې وي او ګونګی په کونج کې ناست وي له هغه سړي نه بهتر دی چې ژبه یې په خپل اختیار او کنترول کې نه وي

﴿ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ حَدِّثْنِي بِأَمْرٍ أَعْتَصِمُ بِهِ، قَالَ: قُلْ رَبِّيَ اللهُ ثُمَّ اسْتَقِمْ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ، فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ، ثُمَّ قَالَ: هَذَا ﴾

[ جامع الترمذي ج۲/ ص ۶۶/ ابواب الزهد باب ماجاء فی حفظ اللسان ]

ژباړه : له سفیان بن عبدالله ثقفي رضي الله عنه نه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې عرض وکړ چې اې رسول الله ! صلی الله علیه وسلم یو داسې امر راته وښایه چې زه ورباندې عمل وکړم ، راته وې ویل الله تعالی یادوه او مستقیم شه ( یعنې په ټولو اوامرو راټګ وکړه له نواهیوو څخه پرهیز وکړه ) بیامې ورته وویل چې ته په ما باندې له هغه ډیر ډارېږې هغه راته وښایه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله ژبه مبارکه ونیوه بیا یې وویل دغه کنترول کړه.

یعني که یوه خبره دې بې ځایه وکړه هم ،ولاړې غرق شوې ،که دخپل عبادت دې صفت وکړهم غرق شوې ځکه چې ریاکارې اوعجب پکې راځي،که درواغ اوغیبت درڅخه وشو هم لاړې تاواني شوې

اوکه پته خوله ناست وې دهغه پوښتنه نشته؛نوردهرې خبرې پوښتنه شته ،که داسې خبره وکړې چې مسلمان پرې ازاریږي ،دمسلمان سپکوالی پکې راغی دهغه غیبت دې وکړ ،پوچ الفاظ دې وویل ددې ټولو پوښتنه شته.

لکه سالک چې وایې:

ای زبان هم گنج بی پایان توئی ای زبان هم رنج بی درمان توئی

اې ژبې! ته نه خلاصیدونکې خزانه یې ، او اې ژبې! ته بیا لاعلاجه مرض هم یې.

یعنې داسې کارونه ورباندې کیږي که حق ورباندې بیان کړې قرآنکریم اوحدیث نبوي اودمذهب کتابونه ورباندې بیان کړې دنصیحت خبرې ورباندې وکړې ځینې خبرې داسې وي چې په هغوی باندې الله جَلَّ جَلَالُهُ خوشاله کیږي چې دهغه پای بیاجنت ته ننوتل دي اوځینې بیاداسې خبرې دي چې دهغوی بیادوااودرمل نشته.

لکه شاعرچې وایي: جراحة السنان لها التيام ولايلتام ماجرح اللسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه دپښتو شعر ده چې وايي:

پرهر د تورې ښه ده چې جوړيږي په مرهم
ولې بد پرهار د ژبې ده له عُمره سم سم
جوړ به شي زخمونه خو داغونه به يې وي
تير به شي وختونه خو يادونه به يې وي

دتورې اونيزې پرهرجوړيږي خودژبې پرهر نه جوړېدونکی مرض دی دمثال په ډول لکه يوڅوک چې پيغوردرکړي دهغه زخم بيانه جوړيږي لکه په يوه حديث شريف کې هم راغلي دي: ﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾

[رواه البخاری ج ۱/ص ۶ /فی کتاب الايمان رقم الحديث:۱۰]

يعنې کامل مسلمان هغه څوک دی چې خلک دده دژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي.

نو که ليږڅيرشونوپه حديث شريف کې هم لومړی دژبې يادونه شوې ده اومحدثين هم وايي چې داژبه يې ځکه مخته کړه چې دژبې ضرر اوزيان عام دی اودعموميت وجه يې داده چې که کمزوری تن وي اوکه زوروروي نوهم غيبت کولای شي اوپاتې شودلاس ضررهغه هرسړی نشي ترسره کولای دژبې غيبت ښځه هم کوي چې په بشرکې دنړيه مقابله کې ډېره کمزورې ده خوسره له هغه بياهم دژبې ضررپه ډېره ښه توګه رسولی شي اوبل دژبې ضررغائب اوحاضردواړوته رسيږي اودلاس ضررغائب ته نه رسيږي دمثال په توګه که يوسړی له تاڅخه لرې اوغائب وي نونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مړکولای نشي خودڅېږي ضررکه نوموړی سړی ددنیاپه هغه ابل سرکې هم وي ورته رسولای يې شي اویاداسې چې دڅېږي له ضرراوتاوان څخه مړي هم ندي خلاص اودلاس ضررخونشي ورته رسولای نوچې هرمجلس له ذکردالله جَلَّجَلَالُهُ څخه خالي وي اوزيات شي نوخامخا ژبه دسړي له کنترول څخه وزي دمثال په ډول که په جومات کې سره له دې چې دخدای جَلَّجَلَالُهُ دعبادت اوخوشاله کولوځای دی خوکه بې ځایه او خراب مجلسونه پکې شروع شي نوهغه دسړي هغه نیک عملونه داسې له منځه وړي لکه اورچې لانده اووچ لرګي له منځه څخه وړي اویالکه یوحیوان چې وابنه خوري نوهغه بیاوچ اولانده نه ګوري خوري يې نوله همدې وجې بایدجوماتونه دمجلسونوځایونه جوړنه کړل شي دجومات ادب بایدوشي بلکې هغه کس چې په جومات کې اعتکاف کوي هغه هم بایددجومات ډېرزيات خیال وساتي اونورخلک هم بایدداعتکاف کوونکودوخت لحاظ وساتي دهغه وختونه بایدورخراب نکړي لکه یوانسان دی هغه خپل خوبونه کوي اوخوب يې بنه پوره کړی وي اوهغه ابل چې معتکف دی هغه هم انسان دی شپه يې په عبادت دخدای تعالی کې تېره کړې وي اودسهارله خواهم دوعاګانې اودالله تعالی څخه مغفرت غواړي نوخوارکی به خامخابې خوبه شوی وي اوته ورشې له خوبه يې وباسې هغه هم انسان دی بایدویده شي اوخوب پوره کړي.

**مسئله** : اعتکاف سنت کفایي ده که په کلي کې یوسړی هم کیناست نودټول کلي غاړه وربانديې خلاصیږي اوکه په دغه کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یوسړی هم نه پکې کیناست نوټول کلي دستوپه پرېښودلوباندې ملامت دی تردې پورې که په کلي کې یوه ښځه هم داعتکاف له پاره ناسته وي نودټول کلي غاړه وربانديې خلاصیږي نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پخپله اعتکاف کولوتردې چې دی مبارک له دنیاڅخه ولاړبیابه امهات المؤمنین اعتکاف کولودیادونې وړخبره ده چې په معتکف باندې دټول کلي غاړه خلاصیږي له دې وجې څخه یې په ټول کلي باندې احسان دی له همدې وجې خوکتابونو لیکلي دي چې دمعتکف خدمت کول په ټول کلي باندې لازم دی ځکه چې کلیوال به ټول په ثواب کې ورسره شریک وي کیدای شي په معتکفینو کې به داسې خلک هم وي چې مسافربه وي دلته به کورنه لري اوبل به دالله جَلَّجَلَالُهُ ددې ایت مبارکه مصداق شو: وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَانِ ﴾ [سورة المائدة آیت: ۲]

ژباړه: او مرسته کوئ تاسې یوتربله په نیک کار او تقوا (پرهیزګاري) کې اومه کوئ تاسې مرستې یوتر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم تجاوز).

نوله همدې وجې که تاسې له معتکفینوسره کومک وکړئ نوکه تاسې په کورونوکې هم ناست یاست الله جَلَّجَلَالُهُ به تاسې ته هم داعتکاف ثواب درکوي ځکه چې دیوه مسلمان مشکل ورته حل کوې اوبیاپه ځانګړې توګه هغه مسلمان چې دینداره اوداالله تعالی دوست وي داخوچه وړه خبره نده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داعتکاف کولو طریقه او موده يې

معتکف به داخرنی لسو ورځو په پیل کې جومات ته داخل شي او (۹) ورځې که میاشت دنه ویشتو ورځو وه اویا (۱۰) ورځې که میاشت د دیرشو ورځو وه تیرول لازم دي اوپه جومات کې به په دې نیت شيې او ورځې تیروي چې زه دلته دالله تعالی په کور (جومات) کې دالله تعالی دعبادت لپاره ناست یم؛ نوددې کس تول وخت دخداوندمتعال په عبادت کې شمارل کېږي ځکه چې مسئله داده چې هریو لمانځه ته انتظار کول په خپله عبادت دی نودده ناسته هم دلمانځه په اراده اونیت وي نودومره ثواب به یې وي لکه چې په لمانځه مشغول وي؛ نوداسې آدب به کوي لکه چې انسان په عین عبادت کې مشغول وي بې ځایه مجلسونو،لهو اولعب ،ټوکې اوټکارې به په جومات کې نه کوي ځکه چې معتکف دثواب ګټلوله پاره دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ کور ته راغلی اوبیا دعبادت په نیت راغلی نوپه چوپه خوله ناسته اوبیا که سړی مرید وي دوه ثوابونه به ترلاسه کړي یوچوپه خوله کښناستل ځکه حدیث شریف دی مَنْ صَمتَ نَجا ، څوک چې پټه خوله شو هغه نجات پیدا کړ او بل به یې ذکر جاري وي څوک به پرې خبر هم نه وي له الله تعالی پرته ،په خوراک اوڅښاک ،په تلاوت اوذکر ،په لمانځه ،ارام اوخوب ټول په عبادت کې شمارل کېږي ځکه چې دعبادت په انتظار ناست وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوهغه خلک چې معتکفینو ته ددعا اوبرکت په نیت ورځي
نوهغه دې داسې نه کوي چې معتکف له عبادت نه وباسي
اووختونه یې ورضائع کړي ، بلکې دومره وخت به ورسره تیروي
چې هغه له عبادت څخه په بل شي مصروف نه شي لکه یو کس چې
دیومریض پوښتنې ته ورځي نودومره وخت به ورسره تیروي چې
هغه ورنه په تکلیف نه شي ځکه مسئله داده چې دمریض پوښتنې
ته چې څوک ورځي نودومره وخت به ورسره تیروي لکه یو میرمن
چې غوا رالوشي اوبیا لیږ دمه ورته وکړي اوبیا یې په لوشلو پیل
وکړي ؛نوچې دمریض پوښتنې ته څوک ورځي په دې نیت ورځي
چې دې دغه کس دمرض په وجه چې دمرض له امله ډېر پاک شوی
دی کیدای شي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دده دعا قبوله کړي اودعا دې
ورنه وغواړي خو دومره وخت به نه ورسره تیروي چې مریض ورنه
په تکلیف شي.

نومعتکف ته هم خلک په دې نیت ورځي چې دی دخدای پاک
جَلَّ جَلَالُهُ دکورمیلمه ده اودهغه کور ته په تنواتې ورغلی نوکیدای
شي دده په وجه زما کارونه جوړ شي خوبې ځایه وخت به نه ورسره
تیروي.

بلکې ده ته دا پکار دی چې په خپله ولاړ شي اومعتکف ته
دویلو ضرورت پیښ نشي چې ولاړ شه زه اوس تلاوت
کوم،یالمونځ کوم یا بل عبادت کوم.

که سړی په جومات کې په اعتکاف کې ناست وی اودخه
مشهورې ضرورت پیښ شو اودکورخلک دمشورې لپاره ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل نومشوره ورکولی شي. همدارنګه ښځه په خپله کوټه کې داعتکاف په ځای کې ناسته ده دکورپه کاروکې لور،نګور او داسې نوروته نېکه مشوره ورکولی شي. خو له هغه ځای ځخه به دباندې نه راوځي.

**یادوونه**: دجومات برنډه دجومات په حکم کې ده نومعتکف په برنډه کې هم اوسېدلای شي خو په جمعه سره لمونځ کولوله پاره به له برنډې څخه نه وزي ځکه چې داعتکاف له پاره جومات شرط دی اودجمعې کولوله پاره جومات شرط ندی بلکې په بیابان کې هم کېدلی شي نومعتکف به دجمعې په وخت کې له برنډې څخه نه وزي اونورخلک کولای شي چې دباندې له برنډې څخه هم په امام پسې ودرېږي اودثواب په لحاظ باندې هغه جومات چې په هغه کې دجمعې لمونځ کېږي په هغه کې اعتکاف کول ترنوروجوماتویوپه پنځه درجې زیات ثواب لري.

**تنبیه**: یله مهمه مسئله داده چې دادښځومرض چې حیض او نفاس دی داخو ددوی په اختیار او ولکه کې نه وي کله چې دامرض ورته پیښ شي نوروژه به نه نیسي نواعتکاف هم وربانديې نشته خویوصورت یې داسې کېدلای شي چې دډاکټرانوپه واسطه دغه میاشتنی مرض بدل کړي نوچې دوااستعمال کړي بیاپه هغه میاشت کې مرض نه ورته پیښېږي مفتي صاحبانودافتوی ورکړېده چې کله یوه ښځه حج ته ځي نوکولای شي چې داسې دوایي استعمال کړي چې هغې ته دحج په موکه باندې حیض پیښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي نو داعتکاف په وخت کې هم کولای شي خو داهلته چې دیوې ښځې عادت معلوم نه وي که دیوې ښځې عادت معلوم وي چې یاپه اول اویاپه اخیردمیاشتې کې دی هغه دې بیادډاکټرپه مشوره دغه دوا استعمال کړي.

## د یو مسلمان د مشکل حل کولو کوشش د اویااوو اعتکافونو ثواب

یو ځل حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په اعتکاف کې ناست وو چې یو تن ورته راغی اوورته وې ویل چې په مانديې دفلانی سړي پوردی اووس وخت پوره شوی دی خوله ماسره څه نشته چې وریې کړم نوده مبارک ورته وویل چې ستاڅه خیال دی زه درسره ولاړشم؟ نوهغه کس ورته وویل چې ستاخوښه ده ؟نوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورسره روان شو کله چې له جوماټ څخه ووتل نوهغه ابل تن داګومان شو چې ګواکې دده مبارک اعتکاف له یاده وتلی دی نوورته وې ویل چې ته خوپه اعتکاف کې ناست وې ؟اعتکاف دې لکه چې له یاده وتلی دی چې له ماسره روان یې نوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورته وویل نه اعتکاف مې هیرشوی ندی ښه مې په یاددی خوماله نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې څوک دیوه مسلمان دمشکل په حل کولوکې کوشش وکړي خدای پاک د اویااوو کلونو قبول شوي اعتکاف ثواب ورکوي الله تعالی خودېرمهربانه ذات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۷) مجلس

## دانسان دکامیابي مهمې لارې په قرآنکریم، احادیث اوداولیاء الله په لار تلل دي

ددې له پاره چې زموږ کامیابي په څه شي کې ده امام بخاري رحمه الله پخپل کتاب بخاري شریف کې چې دالله تعالی له کتاب څخه وروسته دمخلوقاتو په کتابونو کې ترټولو بهترین کتاب دی چې دنبي کریم ﷺ حدیثونه یې پکې راټول کړي دي او ډېرې تکلیف یې راټول کړي دي چې شمېره یې نه زره دوه اتیا(۹۰۸۲) ته رسیږي اوهرحدیث ته به یې غُسل کولواودوه رکعته لمونځ به یې کولو او استخاره به یې کوله چې په خوب کې به ښه یقیني ورته معلومه شوه چې داد نبي کریم ﷺ حدیث دی بیابه یې په لیکلو باندې شروع کوله نوامام بخاري په دې کتاب ترټولو دمخه خبره دوحیې کړېده چې خدای جل جلاله خپل پیغمبرته وحیې څرنګه رالیږلي ده نوامام بخاري صاحب داخپل کتاب دانسانانو دګټې اومنفعت له پاره جوړکړی دی.

خودانسانانو دګټې لارې درې شیان دي [۱]دیوه شي خیراوشرپه حواسو معلومیږي دمثال په توګه په سترګو یې وینې چې په دغه شي کې مې ګټه ده اوپه غوږونو یې اوري یه ژبه باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وڅکي په لمس (لاس لګولو) (۲) انسان دعقل په واسطې باندې بوشي ورته معلوم شي چې په دې کې خیریاشردی او که په ظاهري اسبابوورته معلوم شي هم نودی وایي چې ماته تجربه ده هغه کارکوي وایي چې په عقل باندې ماته ددغه شي خیراوشرمعلوم شوی دی

نودغه دواړه لارې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دانسان په وجود کې دګتې له پاره چې خیراوشروربانديې وپېژني پیداکړې دي چې یوعقل اوبل داظاهري حواس دي.

خودادواړه لارې ناکامې اوکمزورې دي څکه یوسړی چې په سترګوباندې یوه شي ته ګوري پکې خطاکیږي علماء مثال ورکوي لکه دمثال په توګه یوسړی په موټرکې سپوردی اوموټرروان دی دسرک په څنډه کې ونې دي هغه خوپاتې کیږي نوداالبدونکی داګومان کوي چې داونې رواني دي نوداد سترګوخطایي شوه اوکه یه؟ نورمثالونه هم شته په عقل باندې هم ډېرخلک خطاکیږي

[۳]دکامیابي لاره چې انسان ته دخیر اوشرپېنه طریقه وربښیې هغه وحیې ده الله جَلَّ جَلَالُهُ دملایکوپه واسطه خپلوپیغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته رالیږلې ده په قرآنکریم کې چې کوم شی الله جَلَّ جَلَالُهُ ښودلی دی چې په دې کې دانسان خیراوپه دې کې د انسان شردی هغه که په زرګونوکلونه هم تېرشي بدلون نه پکې راځي اوپاتې شول زموږحواس اوزموږعقلونه داله خطايي سره همیشه مخ کیږي اودالله تعالی کلام ډېرېې حده عظیم کلام اوبل داچې ترجمان یې پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی نوموږته چې الله تعالی قرآنکریم رالیږلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ته چې دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديثونه رارسيدلي داټول زمونږ دخيرله پاره جوړشوي دي نوكه مونږاوتاسې كاميابي غواړوهغه داسې چې په دې فاني دنياكې هم خوشاله اوپه اخرت كې هم خوشالي اوعزت راته نصيب شي نوداعزت پرته له وحيې څخه په بل شي كې نشته چې قرآنكريم اوحديث دي خوداخبره دې پاتې نه وي چې مذهب هم ددغودواړوشيانوخلاصه ده ګوښې شى ندى قرآنكريم دالله جَلَّ جَلَالُهُ كلام دى مونږ نه پرې پوهيږوحضرت نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بې شافي اوكافي بيان كړى اوحديث په مطلب باندې نه پوهيږوبياحضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ بيان راته كړى دى زمونږاوتاسې له پاره خيربه دغه دين كې دى اوس چې مونږفكروكړومونږ چې كوم كارونه كوودعقل اوياحواس ظاهره په واسطه باندې نودمثال په توګه يوتيكداردى هغه ټيكه نيسي نودى سوچ اوفكر كوي چې په دې كې ګټه شته نوكله چې ټيكه سرته ورسيږي نوپه پاى كې په لكونوروپۍ وګټي دخداى جَلَّ جَلَالُهُ اودپيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دقرآنكريم اوحديثو څخه چې كومه ګټه مونږته لاس ته راځي هغه ترابده پورې موږته ګټه ده خومره ګناوې چې الله تعالى موږورڅخه منعه كړي يوهغه دټول وخت له پاره زمونږله پاره شراوزهرقاتل دي بلكې زهركه سړي په هيره وخښي اوكه يې په لوى لاس وخښي دواړه سبب دمرګ ګرځي دګټې اميدنه پكې پيداكيږي نومونږ ته چې رب العالمين قرآنكريم اوحديث غوره كړي اومذهب يې راته غوره كړى نواې علماء كرامومونږ بايد پخپل عقل اوخپلوستركو چې په كوم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خیراوشرویئو روان نشو دسترګولیدلی شي اودعقل فیصله له
قرآنکریم اوحدیثوسره وګوروکه دقرآنکریم اوحدیث نبوي تابع وو
باید عمل پرې وکړواوکه نه نوبایدظاهر حواسواوعقل تابع
نشوځکه هغسې خوپه دېروانداموکې ظاهراً خیرمعلومیږي
خوهغه بیاکله دسړي دجهنم ته دورتللوسبب شي نوپه دې هکله
بایدموږله هغو خلکوڅخه پوښتنه وکړوچې هغوی ته الله تعالی په
دین کې بصیرت اوپوهه ورکړې وي ترڅوزموږدتباهي سبب ونه
ګرځي خوکومه لارچې دکامیابي ده چې قرآنکریم اوحدیث
دپیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي هغه موږشاته غورځولي دي له هغې سره
تعلق نلرواوپه خولوباندې لا داخبرې هم کوو چې قرآن ،حدیث
اودین پوه شه اوملااوطالب پوه شه دالله تعالی بندګان څانونه
بولوخودهغه په ویناباندې خبرنه یو دحضرت نبي کریم
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امتیان ځانونه بولوخودهغه په حدیث باندې خبرنه یو
دحضرت امام صاحب دمذهب خلک ځانونه بولو دهغه مسلک نه
راته معلومیږي ددې عمده وجه داده چې خپل عقل خطاکړې یو
اوداسې یې خطاکړي یو چې خدای نخراسته جهنم ته به موبوزي

## شیطان په عقل فیصله وکړه نوابدي ملعون شو

﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُواْ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ
وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾ [ سورة البقره ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او (یاد کړه ای محمده!) کله چې وویل موږ فرښتو ته چې سجده وکړئ آدم ته (دتحیې) پس سجده وکړه دوی (ټولو) مګر (سجده ونکړه) ابلیس منع یې راوړه (له سجدې نه) او لویي وکړه او ؤ دی (له پخوا څخه په علم دالله تعالی کې) له کافرانو څخه.

یعنې دالله تعالی له طرفه چې ملایکوته حکم وشو چې تاسې حضرت ادم عَلَیْهِ السَّلَامُ ته سجده وکړئ نوټولې ملایکې چې دخدای تعالی غوره مخلوق دی سمدستي په سجده باندې پرېوتلې لکن شیطان دعقل څخه کاروا خیستلو هغه داسې چې زه څرنګه ده ته سجده وکړم زه له اور څخه پیدا یم او دی له ختې څخه پیدا دی خته خوسپېره ده زمانه کوي نو په خپل عقل یې فیصله وکړه دالله جَلَّ جَلَالُهُ دامرخلاف یې وکړ نوله نعمتونو څخه بې برخي اودتول وخت له پاره یې لعنت په برخه شو

دکافرانو چې څومره ډلې دي دوی پخپلو عقلونو اودحواس ظاهري په بناء باندې کارونه کړي دالله تعالی اودوخت دپیغمبر خبرې یې نه منلې تول تباه شول نو موږ باید په دې پوه شو چې زموږ ستر ګې زموږ غوږونه او زموږ عقلونه هیڅ شی هم ندي ترڅو چې ځانونه په شریعت باندې برابر نکړو که په شریعت باندې برابر شو بیا چې کله هسې قرآنکریم ته ګورو هم به الله جَلَّ جَلَالُهُ ثواب راکوي که څه هم دقرآنکریم په مطلب باندې پوهیږو هم نه که یو څوک دقرآنکریم تلاوت کوي اویو بل کس هغه ته غوږ نیسي نوهم خدای جَلَّ جَلَالُهُ ثواب ورکوي څکه دغه اوربدل دشریعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق شول بلکې په هره خبره کې الله جَلَّ جَلَالُهُ ثواب درکوي که په شریعت باندې برابره وي دمثال په توګه په قدمونو باندې دعبادت ځای ته روان يې يادذکرځای ته روان يې نوپه داهرقدم باندې الله جَلَّ جَلَالُهُ تاته ثواب درکوي مطلب داچې انسان ته چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دخپلو اندامونو ثواب ورکوي هلته دغه اندامونه دوحيې جلي اووحيې خفي چې احاديث دي چې دهغوی تابع شي اودمذهب تابع شي اوکه دوحيې جلي اوياوحيې خفي اويادمذهب تابع نشو اوغافله شواوغفلت مودې اندازې ته ورسيږي چې بيابه زمونږاولادونه له تباهي سره مخ شي دمثال په توګه لکه نن سبا چې اولادونه لمونځونه نه کوي روژې بيخي نه نيسي بلکې عبادت له سره پېژني نه اوڅه وخت وروسته خوالله اعلم چې څه حالات به راځي ايادا سلام دعوه به کوي اوکه به دغه دعوه هم پريږدي.

نوهلته امام بخاري صاحب لومړی داايت راوړی دی﴿ ۞إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ ﴾ [سورة النساء آيت ۱۶۳] ژباړه : بېشکه چې موږ وحې کړې ده تاته (ای محمده !) لکه چې وحيې کړې وه موږ نوح ته او (نورو) انبياؤ ته پس له ده (لکه هود، صالح، لوط، شعيب او نور).

## په آيت کريمه کې د نوح عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ تخصيص

**پوښتنه** : دحضرت نوح عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ قوم يې ولې خاص کړ؟

**ځواب:** ځکه چې حضرت نوح عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ نه نيم سوه (۹۵۰) کاله په خلکوباندې شفقت وکړخلکوته يې دعزت اوکاميابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسانیت ددین دترقي اوادب په خپل منځ کې دوصیلې لاربښوونه کوله خوقوم يې چې هغه چاته هدایت نه وښې بې عزتي ،بې حرمتي،بې ادبي شروع کړه دخپل مهربانه پیغمبرخبرې ونه منله دوحیې په خلاف کارونه يې ترسره کړل نوالله جل جلاله داسې ورته په قهرشوچې دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما په قول پرته له اتیاوو(۸۰) تنوڅخه چې له حضرت نوح علیه السلام سره په کشتۍ کې سپاره وونورچې دزمکې په سرڅومره انسانان ووالله جل جلاله ټول له تباهي سره مخ کړل یعني غرق شول.څکه نه نیم سوه (۹۵۰) کاله حضرت نوح علیه السلام ورته دکامیابي لاربښوونه کوله خودوی ونه منله په خپل عقل به يې کارونه سرته رسول دمثال په توګه خپل اندامونه به يې بې ځایه کارول په ښځواوهلکانوبه يې خوندونه اخېستل په شرابوبه يې خوندونه اخېستل دخپل خواږه نبي خبره يې نه منله بیانوالله جل جلاله چې هم خالق هم مالک اوهم قادردی هرڅه دده په اختیارکې دي روزي رسان هغه دی مالک هغه دی اوخلک يې دعبادت له پاره پیداکړي خوشي خوېې ندي پیداکړي تاسې فکروکړئ چې یوسړی دومره بدبخته شي چې دخدای پاک جل جلاله دنماینده پیغمبر حضرت نوح علیه السلام (۹۵۰) کاله په خلکوپورې زړه خوري اوخلک يې بیاهم خبره نه مني نواخیرخوالله تعالی چې زمونږ خالق،مالک اورازق دی هغه به نه په قهرکیږي ؟ نوعلماء لیکي چې دغه امت ته همداسې تنبیه اوخبرتیاده چې که تاسې هم دخپل پیغمبرخبرې ونه منئ دهغه په لاره روان نشئ اودقرآنکریم قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان باندې عملي نه کړئ دنبوی حدیثونو تابعداري په ځان ونه منئ نو ستاسو به هم هغه شان انجام او پای وي لکه دحضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ دقوم چې تباهي او غرقېدلو ته برخه شوه.

په دنیاکې یې ډېر مثالونه وینو خو عبرت او پند نه ترې اخلو دترمذی شرحې تحفة الاحوزی یو حدیث رانقل کړی دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایي چې زما په امت باندې به داسې وخت راشي چې شراب په ښکاره ډول څښي دمې به ګډوي او شپه په لهواولعب باندې تېره کړي سهار به الله جَلَّ جَلَالُهُ بيزو ګان او یا خنزیران جوړکړي وي په دویم روایت کې داسې راغلي چې په اخیروخت کې به زما په امت کې داسې خلک وي چې څښي به شراب خو نوم به بدل ورته اخلي لکه دمثال په توګه شرابو ته به دمالتې او بانورو شیانو نومونه ورکوي او شپه به په ټوله لهواولعب لګیاوي په دغه دنیاوي خوندونو به شپه تېره کړي په زناعریاني فحاشي بدعمل سهار به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ زلزلې ورباندې راولي او په ځمکه کې به یې ننباسي.

## دبالاکوټ په سیمه زلزله ولې راغله؟

دمثال په ډول تاسې دپاکستان دبالاکوټ سیمې ته ورشئ په هغوی باندې زلزلې په تاریخ [۲۰۰۵، میلادي کې] په داسې حال کې راغلې چې په همدغو حالاتو باندې دوی مصروف وو چې زلزلې ورباندې راغلې افسوس چې مونږ دغه شیان په سترګو وینو ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپه غوروونوېي اورو خود ځانونو له پاره يې عبرت اوپند نه ګرځوومونږبايدښه متوجې شو چې که زه په شريعت محمدي باندې عمل ونه کړم خوزمابه هم همداسې حال وي لکه دهغونورو امتونو ﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ ۖ أَن تَقُومُوا۟ لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا۟ ۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ ﴾ [سورة سبا]

ژباړه :ووايه ( اى محمده ! منکرينو ته ) بېشکه هم داخبره ده چې پند درکوم تاسې ته په يوې خبرې سره چې ودرېږئ تاسې خاص الله تعالى ته دوه دوه او يو يو بيا ښه فکر ( او غور ) وکړئ چې نشته په دغه ملګري ستاسې کې هيڅ ليونتوب نه دى دغه ( محمد ) مګر ويروونکى دى تاسې ته په مخ کې دعذاب سخت.

يعنې لکه څرنګه چې خداى پاک نبي کريم ﷺ ته وايي چې دغو خلکوته ووايه چې يو ،يويادوه،دوه ښه ګوښې شئ اومشوره وکړئ څکه دهر خلک کله په يوه خبره ته سره جوړيږي خوچې يو ،يوځانته شي اوپه خبره يې سرخلاص شي اويا له يوه ښه هوښيارسړي سره مشوره کوي دوه په دوه ناست وي بيا دشي خيراوشرښه ورته معلوميږي نويو ،يويادوه ،دوه دځان سره کينئ چې زماکاميابي په څه شي کې ده اوزه دڅه شي په وسيله په ورځ دقيامت له عذابه دجهنم څخه خلاصيږم دقبرله ډرمانودقبرله مارانو داورله عذابونودپل صراط له عذابونودحشرله ګرمي نه هغه چې پنځوس زره کاله چې په سرې اوږديږي دهغې ورځې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



عذابه به زه په څه شي خلاصيږم داهرسړی چې خپل عقل ليږ په
کار واچوي دنياوي ګټې څرنګه وربانديې کوي په همدغوسترګوپه
همدغو غوږونوباندې دنياوي ګټې څرنګه ښيي سرته رسوي
اوداعقل دانسان بياولې دومره بې کاره شي چې ددين کاربيانه
پرې کوي داځکه چې ددين طرف ته يې متوجې کوي نه ديني
کارونه پخپل عقل باندې نه کوي که نه وي عقل الله جَلَّ جَلَالُهُ انسان
ته داسې يوجوهرورکړی چې که يوانسان په غرونوبيابانونوکې
اوسيږي اوپيغمبر کتاب اوملايې بيخي په سترګوهم نه وي
ليدلی بيابه هم دهمدغه عقل په واسطه باندې الله تعالی باندې
ايمان راوړی اوپه ايمان راوړلومکلف هم دی ځکه چې سړی
دافکروکړي چې دادومره اسمانونه دادومره غټه ځکمه دادومره
دريابونه داخوشي ندي پيداشوي دابه خامخا يوصانع لري نودی
په خپل عقل سره هم مسلمانېدلی شي که ليږنورمتوجې شودغه
عقل سالم پخپله باطني رسول دی بايدداسوچ له ځانه سره
وکړوچې زه به دالله جَلَّ جَلَالُهُ حضورته دخوشالي په حال کې څرنګه
وراندې کېږم په څه شي به الله جَلَّ جَلَالُهُ اودهغه خوږ پيغمبرحضرت
محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راڅخه خوشاله کيږي داخوشالي له قرآنکريم
اونبوي احاديثوپرته بلکې له مذهبه پرته چې ددې دواړوخلاصه
ده نه پيداکيږي اولاريې مدارس جوماتونه اوعلماء دي که يې
سړی زده کوي خوافسوس نن سباچې زمونږنسل ته ګورو ياخوټول
بې تعليمه دي اوياله ديني تعليم څخه بې برخي پاتې شوي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځينې جوماتونه دانګریزي تعلیم له پاره کارول کېږي

یوه ورځ په یوه جومات باندې تېرېدم که ګورم چې ماسترصاحب ( معلم ) لګیادی اوچوکۍ ورته ایښې ده اوهلکانوته دسکول ( مکتب ) سبقونه وایي افسوس دمسلمانانو په حال باندې کورپه کور سکولونه اوښه سهولیات یې هم ورته برابرکړي سره له هغه هم نه پرې مرېږي جوماتونه یې هم ونیول اودیني ښوونې ته دومره پام اوسوچ نشته اوسره له دې چې جوماتونه دقرآنکریم دنبوي حدیثواودمذهبي مسائلو د تدریس ځایونه دي نوجوماتونه هم دقرانکریم ،نبوي حدیثواودمذهب له چوکاټ نه ووتل نورشیان په کې تدریس کېږي

سره له دې چې انګریزي کتابونه ماشومانوته وایې نواول دسپې یادخره عکسونه ورته راوړي اوماشومان پرې پوهوي ،نود سپو ،خرو اوغواوو عکسونه نن په جومات کې شروع شول ، دازموږ دمسلمانانو حال دی ،په هره مدرسه کې د مکتبونو ځانګې ورسره ویل کېږي ،اوداوسنې مکتبونو حال تاسو ته ښه معلوم شو دمکتبونو خلاف نه یو ،ددې خبرې خلاف یو چې نن مسلمانانو خپل دین پرې ایښی ، له خپل دین څخه ناخبره پاته شول شپه اوورځ یې ټوله توجه دبې دیني طرف ته واوښتله،اوپه دې ښه ځان پوهول پکاردي چې ددین له لارې پرته کامیابي نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خداوند متعال جَلَّجَلَالُهُ فرمايي چې: ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ [سورة آل عمران]

ژباړه: او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او دالله تعالى احكامو ته انقياد دى) بل دين نو له سره به ونه منل شي له ده نه، حال دا چې وي به دى په آخرت كې له زيانكارانو (چې د اسلام د پريښودلو په سبب به تل په دوزخ كې پاتې كيږي)

يعنې د اسلام له لارې نه پرته كه نورې لارې څوک مختاره كړي؛ نو خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ ته د قبول وړ نه دي.

نو لږ د دين طرف ته متوجې كېدل پكار دي، طالب هم خپله د طالبي ژوند بايد وپيژني چې زه په كوم مقصد روان يم، زما لار كومه ده، د امرتبه چې ماته خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ را په برخه كړې د امرتبه بادشاهان پيدا كولى شي او كه نه؟

ملاصاحب چې د ملايي په ژوند كې په درس او تدريس كې، په امامتي كې، په فقر او مسكنت كې ژوند تيروي، هغه هم بايد په دغه نعمت پوه شي چې خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ ده ته د عزت ژوند وركړى او كه د بې عزتي ژوند يې وركړى؟ كوم مسلمان چې يو ملا او يا طالب چې د مدرسې سره تعلق لري، هغه هم بايد په دې پوه شي چې د دې اهل الله او طالبانو خدمت د عزت لاره ده او كه نه؟ په دې كې خطا يم او كه نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودنعمت قدر پیژندل پکاردي ،داخړ پرخلک به په قیامت کې انسانانو ته په ډېره تنګي پکار راځي : ﴿ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ ﴾. [سورة الزخروف]

ژباړه : یاران ( دوستان دکفر او معصیت ) په دنیا کې په دغه ورځ ( دقیامت کې ) ځینې د دوی له ځینو نورو سره به دښمنان وي مګر ( پاتې به وي دوستي ) دمتقیانو .

یعنې دقیامت په ورځ به ټول خلک یوله بل څخه بیزاره وي خونیک خلک د خپلو ملګرو اومتعلقینو دوستان وي اوشفاعت به یې کوي .

نودخپلو اولادونو ،میرمنو ،ورونو اومتعلقینو ددین طرف ته متوجه کول پکار دي چې له خپل دین څخه خبر شي . کله چې له دین سره تعلق پیداشو اوبیا لږ اخلاص هم ورسره مل شو بیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اودرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعدې دي چې داخلک کامیاب دي . اولیاء الله پیش ګویي کړې دي چې داخلک کامیاب دي ،بیا مو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ټول منزل مقصود ته چې دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ رضا دی ، رسوي ، په دې څوک نه خلاصیږي چې ووایې چې زه خومولوي یم ولې منزل مقصود ته ونه رسیدم ،اصل مقصد دالله تعالی رضا ده کیدای شي چې دمولوي صاحب په نیت کې څه فرق وي دیوبل فقیر اوملنګ نیت صحیح وي هغه ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خپله رضا ورپه برخه کړې وي ،ډېر مجذوبین دالله تعالی په عشق داسې حد ته رسیدلي چې هغه ته

خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دکامیابي بشارتونه ورکړي وي ،دده په عشق کې یې خپل اولادونه ،خپله میرمن هر څه پریښي دي، کور، کلی خپل اوخپلوان ټول یې پریښي وي او دملنګي ژوند یې غوره کړی وي ځکه چې اصل مقصد ته رسیدلی وي

# (۵۸) مجلس

## دکابل د حضرات کرامو دحقانیت یوه حیرانوونکې واقعه

دمولویصاحب اعظم ګل تغمده الله (چې دزرمت ولسوالي اوسېدونکی دی) لخوا دسترګو لیدلی حال داسې ډول دی،نو مولویصاحب اعظم ګل وایي چې: کېدای شي چې دځلوېښتو کلونو دمخه وي ځکه چې په (۱۳۴۷) لمریزکال کې زه فارغ شووم له هغه څخه یوکال دمخه مونږ په نورالمدارس کې اوسېدلونو دجناب حضرت صاحب دغو لخو اتلیفون راوشوچې دکندهار له طرفه یو میلمه درروان دی چې امریکایي دی اوترجمان هم ورسره ده نوتاسې طالبان ورته رایو ځای کړئ اودخبروموکه ورکړئ دغه امریکایي چې دلته راتلودی پخپله دعیسویت په اصطلاح کې سالک صوفي ؤخوده ته په هغه خپله لاره کې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکلات راتلل دنصرانیت په کتابونوکې چې نوموړي هرڅومره مطالعه کړې وه نوده دهغومشکلاتودحل له پاره ځواب نشواى پیداکولاى بل وخت خوب ویني یو څوک یې په خوب کې لېدلى چې هغه خلیفه صاحب عبدالقیوم دنورالمشائخ صاحب خلیفه دى چې دظاهرشاه په حکومت کې یې (۱۷) کاله بندیخانه هم تېره کړې وه نوپه دې وخت کې دى مبارک له بندیخانې څخه راخلاص شوى ؤچې په پیرمولویصاحب سردیې شهرت درلودداخلیفه صاحب یې په خوب کې ولیده ورته وې ویل چې ته څوک یې؟ خلیفه صاحب عبدالقیوم ورته وویل چې زه په اسلام کې دنقشبندیې طریقې پیریم له هغه نه یې پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چې زه په نصرانیت کې یوصوفي یم نودغه امریکایي پوښتنه ترېنه وکړه چې ماته داسې مشکلات په دغومقاماتوکې مخې ته راځي ددغوعلاج اوځواب څه شی دی؟ خلیفه صاحب عبدالقیوم په خوب کې ددغو د حل لاره ورته ښودلې ده اودغه نصراني په خوب کې قانع شوی دی خوچې راویښ شو نوځواب یې له مغزوڅخه وتلی ؤاوسوال یې پاتې دی ده فکرکړی دی چې داخوحرمین داسلام مرکزده نوداسړی به په سعودي کې وي نوفی الحال یې پاسپورټ کړی توراغی سعودي ته نوسعودي ته چې راغلی نو سفارت ته تللی یوترجمان یې غوښتی اوویلي دي چې زه دیوه دیني عالم ته پوښتنه کوم هلته چې یوامام دجومات ته ورغلی دی چې پوښتنه یې کړې هغه ترجمان ورسره ده ، غریبې هغه ورته وایي ته څوک یې؟ نودی ورته وایي چې زه فرنګی یم امریکایي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملولان دجزیرې څخه راغلی یم اوزماسره په مغزوکې داسې سوال دی چې دنصرانیت په کتابونوکې ددغه سوال ځواب اودحل لاره نشته ماداسې خوب لیدلی نوهغه ورته وویل چې بنه نوددغه سرې چې ځوابونه یې درکړل څرنګه کیفیت وده ورته ویلي چې پګړی یې په سروه ا دجهادله برکتونوڅخه یولوی برکت داؤچې دنړی خلکو افغانستان ورسره وپیژاندکه نه افغانستان خوپه نړی کې ډیرغریب اوورک نامی وطن ؤا نوهغوی دافکرکړی چې دالباس خودپاکستانیانوده پاکستان ته ولاړشه نوداامریکایي بیاویزاواخیسته اوپاکستان ته راغی یاپه اسلام اباد یاکراچی کې کوزشویدی خوسفارت ته چې ورغلی ترجمان ورسره ده یوه پاکستاني عالم ته ورغلي په یوه بنه عالم وربرابرشوی دی هغه عالم ورته ویلي چې ددغو سوالونوځوابونه دکابل پلازمینې په مربوطاتوکې دشوربازاردسیمې له حضرت صاحبانوپرته له بل چاسره نشته دکابل حضرات مبارکین پنځوس کاله مخکې په شوربازارکې اوسېدل وروسته بیاقلعه جوادته رانقل شویدي هغه دانګریزانوپه وخت کې چې نورالمشائخ صاحب رحمه الله جهادکړی له تل څخه تر وانه پورې په هغه وخت کې هم دی دشوربازارپه ملاصاحب باندې مشهورؤ نوامریکایي بیاویزاواخیسته اوافغانستان ته راغی نوچې په کابل کې کوزشو په سفارت کې یې پوښتنه کړېده ترجمان یې ورسربیولی دی قلعه جوادته نودامهال ماسپښین قضاوخت دی په دې وخت کې به دحضرت صاحب داستراحت وخت ؤ نوځه وخت حضرت صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک څنېدلی دی اوهغه امریکایي ته هم دسفارت له خوامعلوم
وخت ورکړشوی ؤ نوچې کله حضرت صاحب مبارک راوتلی
اوروغبړیې سره کړی په دې وخت کې هغه پیرمولویصاحب
دقندهارچې ده په خوب کې لېدلی ؤنودهغه چای جوش په لاس
کې دی لنګرته ورځي اوچای رااخلي نودامریکایي سترګې
ورباندې لګېدلې دي اووې ویل چې هغه ماچې په خوب کې
لېدلی ؤهغه خوداکس دی نوهلته یې ساعت ته کتل چې
دامریکایي وخت نور (۱۵) دقیقې پاتې دي نودامریکایي وخت
پوره دی دسفارت خپل قانون وي دخارجي میلمه په اړه باندې
خوامریکایي ولاړ ماښام چې شولونوپیرمولویصاحب له جناب
حضرت صاحب څخه اجازت واخیستلواودقندهارپه لورې
ولاړسباچې بیاامریکایي راغی نوتقریباً (۸) اویا(۹) بجې دې چې
پیرمولویصاحب نشته نوامریکایي ډېرافسوس کړی چې داځه
کارراوشولو خوحضرت صاحب مبارک ډېره تسلي ورکړې ده چې
خیردی بل هبوادخوندی ویزاته هیڅ اړتیانشته کندهارته به
ولاړشې دقندهاراډې ته چې تللی نو په تېز رفتاره موټر کې سپور
شوی او پیر مولویصاحب په (قادري بس) کې سپور و ، نوپه دې
وخت کې حضرت صاحب قندهارته تلیفون کړی چې
پیرمولویصاحب په لاره دی، چې دروړسېرې نود رئیس
محمداشرف خان ځای ته دې راشي هلته یومیلمه ورته انتظاردی
خودهغه په ځای کې یې سره لیدلي اوروغبړ یې سره کړی دی
ترجمان ورسره دی کله چې امریکایي له پیرمولویصاحب څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې کړې دي نو پیرمولویصاحب سمدستي ځوابونه ورکړي
دي نوامریکایي سمدستي کلمه وویله اوداسلام په پاک دین
باندې مشرف شو نوم یې عبدالله ورباندې کېښود لومخکنی نوم یې
(ډوګن) و. دوه شپې اودوه ورځې له پیرمولویصاحب سره تم
شو لطائف یې خلاص کړل او پیر مولویصاحب ددې اجازه ورته
وکړه چې که څوک په طریقت کې نوي داخلېدل نوزماله طرفه درته
اجازت دی وظیفې ورکوه.

کله چې بیامدرسې ته راغی جګ سړی دی توره ږیره یې ده
غړېدلواوترجمان یې ترجماني کوله نوربې په مطلب نه پوهیدلو
ځکه دترجمان په خوله یې دغه توري جاري ووچې تاسې
ډېربختورخلک یاست زمونږهېوادترتولوبنه داستراحت اوعیش
ځای دی خوله ماسره چې کومې پوښتنې پیداشوې وې دهغوی په
حل کولوپسې ماډېرهېوادونه وغوښتل حل نه شوې خوستاسې
داغریب اوبې وزله ځای دی چې زمادپوښتنوځوابونه پکې وشول
اوزه یولوی روحاني سړی ووم خوزمادروحاني پوښتنوځوابونه
دافغانستان ترحقیقي روحاني استاذانوپورې ترلي ووبلکې تردې
لوی روحانیت چې الله جَلَّ جَلَالُهُ داسلام غوندې لوی روحانیت د
افغانستان دروحانیونوپه واسطه راپه برخه کړنوموړی کس
ولاړیوکال وروسته دمنهاج (ګهیځ) اخبارنشرېدلوهغه امریکایي
ته پیرمولویصاحب لیک ولیږلوچې عبدالله ډوګن ته دې زماسلام
ورسیږې اوپه لیک کې داسې توري ورته لیکلي دي چې که ته په ا
مریکاکې داسلام شعائر اوفرائض نشې پرځای کولای نودې تاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره زمامشوره داده چې ته کوم بل هېواد ته هجرت وکړه هغه په
څواب کې ورته ولیکل چې زماشیخ اومقتدا خلیفه صاحب
عبدالقیوم ته دې زماله طرفه سلام ورسیږي وروسته له سلامه
تاماته لیکلي ووچې که ته په امریکاکې د اسلام فرائض نشې اداء
کولای نوبیابل هېواد ته هجرت وکړه دلوی خدای جَلَّجَلَالُهُ په فضل
اودې تاسې حضراتودې توجه په برکت سره ماتراوسه (۷۳) کورنی
په امریکاکې په اسلام مشرفې کړې دي اوله ماسره یې په طریقت
کې هم بیعت کړی اوپه وظایفوکې هم ښه دي زه چې کله دصبح
کاذب پرمهال تاته سلام درلیږم نوزماپه زړه کې تجلې پیداشي
نوزه پوه شم چې زمامرشدته زماسلام ورسېدلو دامکتوب یې په
انګریزي ژبه باندې لیکل شوی دلته را ورسېدلو بیاجناب حضرت
صاحب په فارسي اوپښتوژبه باندې ترجمه کړ اومنهاج الدین
(ګهیځ) پخپله جریده کې نشرکړاومنهاج الدین بیالویه تبصره
ورباندې لیکلې وه دهغې تبصرې خلاصه داده چې وګورئ
دمعنویت برکت ته که سره له دومره کراماتومسلمانان بیاهم
فیوضات نه ویني نویقیناً رانده به وي ددوورځوفرنګی له
فرنګیتوب څخه د اسلام منوراوروښانه دین ته راواوښتلواوبیایې
لطائف خلاص کړل اوبیاپه تجلیاتواوانوارو باندې پوهیږي سره
له دې چې ددغه ځای صبح کاذب (دروغژن سبا) اودهغه ځای صبح
کاذب دلمرپه حساب سره دیارلس ساعته توپیرلري لکه څرنګه
چې ویل کیږي ! اگر در یمنی بامنی اداتودانسان ترپاکوالي
اوصفایې پورې اړه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵۹) مجلس

## دجنت اوجهنم بیان

یوطرف ته ددې خبرې نه هم ویره لرو چې دتل له پاره مونږ خلکو ته وعظ اونصیحت کووسره له دې چې دهغه وعظ اونصیحت کولوباوجودپه مونږ کې هم نقصانات اوتقصیرات موجوددي عملونه موکمزوري دي نوسړی وویریږي چې خدای مکړه الله جَلَّجَلَالُهٗ مونږ په دې خبروباندې ونه نیسي څکه زیاتره وخت دېرې خبرې داسې هم وي چې نفسي خواهشات پکې پوره کیږي دمثال په توګه انسان ته داخپل ځان غټ ښکاره شي داهم دتباهي سبب ګرځي خوکه سړی بل لوري ته وګوري چې خلک په ډېرشوق اوذوق سره له ډېره لري،لري ځایونوڅخه راځي نوبیاسړی ددی امیدوکړي چې کېدای شي الله جَلَّجَلَالُهٗ په دې خبروله مونږ څخه خوشاله شي چې بیاداخوشالي ددواړوجهانونوکامیابي ده.

### دتـقـوا معناڅه ده؟

تقوا عربي توری دی په معناډار،پرهیزګاري اوخوف باندې راغلی کله چې یوسړی له اللهجَلَّجَلَالُهٗ څخه وډارشي نودغه انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرومروکمال ته رسیږي اوکله چې یوتن له الله جَلّ جَلَالُهٗ څخه ووډارشونوپه ده کې پرهیزګاري پیداکیږي دمثال په توګه که یوطبیب چاته ووایي چې ستامرض ډېرخطرناک مرض دی که ته پرهیزونکړې نوکېدای شي ته له مرګ سره مخامخ شې نوهمدغه مریض چې کله ووډارشي نوبیادی خامخا له هغوشیانوڅخه چې طبیب ورڅخه منعه کړی وي بیاډېرځان ساتي اوکه طبیب هرڅومره ترخه دوایې ورکړي بیایې خامخاخوري اوعمل هم پرې کوي.

## د دنیاوي تکلیف د ختموولوله پاره څومره ځان تکلیفوي؟

ماته یوه نفر قصه کوله چې زمادشوګرتکلیف دی نوطبیب دوه کیلومرچ راته ښودلي چې دابه په یوځل باندې خورې بیابه ستادشوګرتکلیف کمیږي دا تریخوالی اویانورتکلیفونه چې په ځان باندې یومریض تېره وي ددې له پاره چې په مابانذې بوج رانشي.

بل مریض قصه راته کوله چې زمادشوګرتکلیف ؤنوطبیب راته وویل چې دمرغوني بوټی درته میده کړه اوپکې ودربږه چې کله دې تریخوالی خولې ته راورسېده کېدای شي بیابه دې دشوګرتکلیف کم شي دادومره تریخوالی چې یوکس تېروي اوهغه خواږه نعمتونه چې الله تعالی دانسان دفایدې له پاره پیداکړي له هغوی څخه بې برخې وي چې مرض مې زیات نشي همدارنګه یوه انسان ته شرعي حکمونه مخې ته راځي لکه دمثال په توګه لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



، روژه، زکات، حج ،وصیله ،جهاد اودعلم سفرونه داټول په ظاهره ترخه دي اوبل لوري ته شراب، غلا ،زنا ،درواغ دیوانسان بې ځایه وژنه ،خیانت په مسلمان باندې ټوقې مسخرې کول داټول دطبیعت له پاره خواږه شیان دي خو که یوانسان له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه وډارشي اودګناووپایله اونتیجه بده ورته ښکاره شي نوبیاهمدغه انسان په شرعي حکمونوباندې په ډېره اسانۍ باندې عمل کوي اوهغه ترخه شیان اوتکلیفونه بیاپه ځان باندې په ډېره خوشالي باندې تېره وي.

## دجنت بیان

که یوتن په ځان باندې دالله جَلَّ جَلَالُهُ اوامرعملي کړي اوهغه کارونه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ منعه ورڅخه کړې له هغوی څخه ځان وساتي نوبیاالله جَلَّ جَلَالُهُ نوموړي سړي ته ډېرغوره اوبهترین ځای چې عبارت له جنت څخه دی ورپه برخه کوي اوکه یوتن په ځان باندې تکلیفونه تېرنکړي اوسختۍ تېرې نکړي په کومو شیانو چې الله تعالی امرورته کړی وي هغه په ځای نکړي اوله کومو شیانو څخه یې چې منعه کړی وي په هغوی کې اخته شي بیابه یې عاقبت اوپایله جهنم وي خدای پاک دې سړی ترېنه وساتي.

علماوولیکلي چې دتقوایوه ذریعه داهم ده چې یوسړی دعملونوثواب اوعذاب په ذهن کې راولي نوچې دثواب خبره یې په ذهن کې راغله نودی کوشش کوي چې ترسره یې کړي اوچې کله یې دعذاب خبره ذهن ته راغله نوبیادې کوشش ددې وکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ورڅخه وساتي کیدای شي دا انسان متقي اوپرهیزګاره جوړشي.

وَكَانَ عُمَرُ، يَقُولُ: «أَكْثِرُوا ذِكْرَ النَّارِ فَإِنَّ حَرَّهَا شَدِيدٌ، وَإِنَّ قَعْرَهَا بَعِيدٌ، وَإِنَّ مَقَامِعَهَا حَدِيدٌ» [جامع الترمذي ج ۲ / ابواب صفة جهنم ص: ۸۵]

ژباړه : حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې تاسې ددوزخ اوردرپه یادوئ ځکه ګرمي يې سخته ده او ژور والی يې ډېر دی او ګورزونه يې دو اسپني دي.

نوبیابه تاسې نه غافله کیږئ اوددنیاپه خوندونوکې دومره ځانونه مه ډوبه وئ چې بیامواخیرت درڅخه هېروي جنت ډېرقیمتي ځای اوالله جَلَّ جَلَالُهُ دهمدغومسلمانانوله پاره تیارکړی خوچې همدغه مسلمانان په ځانونوباندې تکلیفونه تېرکړي دمثال په توګه لمونځ وکړي،روژه ونیسي ،زکات اداء کړي ،حج اداء کړي،جهادوکړي،دعلم سفرترسره کړي اوله خپلوانوسره همدردي وصیله وکړي دشپې عبادت اودورځې ذکروکړي نوددغو تکلیفونو په بدله کې به الله جَلَّ جَلَالُهُ نوموړي نیک عمل کوونکي شخص ته جنت ورکوي.

## په جنت کې به هم بازاروي

﴿ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَسْأَلُ اللهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الجَنَّةِ، فَقَالَ سَعِيدٌ: أَفِيهَا سُوقٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ أَهْلَ الجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَعْمَالِهِمْ، ثُمَّ يُؤْذَنُ فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ، وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدَّى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ، وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيهِمْ مِنْ دَنِيٍّ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُورِ، مَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا» الحديث .

[جامع الترمذی ج۲/ ابواب صفةالجنة ص:۸۱ / رقم الحدیث: ۲۵۴۹/ ۲۵۵۶]

ژباړه : له حضرت سعیدبن مسیب رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دی وایي چې زه له حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنهُ سره یوځای شوم نو ده وویل : الله تعالی دې ما او تا دجنت په بازار کې سره یوځای کړي ،

حضرت سعید ورته وایي ایا په جنت کې به هم بازار وي ؟

دی ورته وایي هو! رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته ویل چې جنتیان چې کله جنت ته ننوزي اود خپلو اعمالو په اندز خپلو منزلو ته ولاړ شي بیا به دوی ته ددنیا دجمعې په انداز یوه ورځ دوی ته اجازه وي دوی به خپلوانو دیدار کوي دالله تعالی عرش به دوی ته ښکاري او دوی به دجنت په باغچو کې وي ، نو دوی ته به دنور منبرونه ، دملغلرو منبرونه ،دیاقوتو منبرونه ، دزمرودو منبرونه ، دسرو زرو منبرونه اود سپینو زرو منبرونه ، کېښودل شي .

او ادنا(کم ) دجنتیانو درتبې په لحاظ ( نه خسیس ) به ناست وي په غونډیو دمشکو او کافرو دابه نه وایي چې دچوکیو ( منبرو ) خلک له دوی نه بهتر دي چې غمجن شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوهریره رضي الله عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وویل: ایا الله تعالی به مونږ وینو ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هو! آیا تاسې دلمر په لیدلو کې څه شک کوئ . اود څلورلسم سپوږمۍ کې ؟ مونږ ورته وویل نه . نوده مبارک وویل: همدارنګه شک مه کوئ په لیدلو دالله تعالی کې. او الله تعالی به له هر سړي سره بلا واسطې مخامخ خبرې کوي .

حتی یوه سړي ته به وایي اې فلانیه !فلانی ورځ درپه یادیږي چې داسې ، داسې دې ویل ! نو ده ته به خپلې ګناوې ورپه یاد شي چې په دنیا کې یې کړې وي ، نو ورته وبه وایي اې ربه ! هغه دې راته ښښلې نه دي ؟

الله تعالی به ورته وایي هو! درته ښښلې مې دي په هغه سبب ته دغه ځای او مرتبې ته ورسیدې ، جنتیان به په دې حال وي چې یوه وریځ راشي دوی پټ کړي نو خوشبویي به وریاندې ووروي چې ددې خوشبویي په شان یې هیڅ کله هم نه وي محسوس کړې .

نو زمونږ رب به ووایي : پورته شئ هغه نعمتو ته چې درته تیار شوي او هرشي ته موچې زړه کیږي ، نو رابه شو بازار ته چې په دې بازار به ملائکې راتاو وي ، داسې نعمتونه چې سترګو نه وي لیدلي ، غوږ ونونه وي اوریدلي او نه یې دچا په زړه تصور تیر شوی وي ، مونږ ته به هغه څه رواړل کیږي چې زمونږ خوش وي په دې بازار کې به خرڅول او اخیستل نه وي .

او په دې بازار کې به جنتیان څښتي له څینو سره مخامخ کیږي نو یو دلوړې مرتبې خاوند به دکمې مرتبې له خاوند سره مخامخ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هغه به دده هغه ښو او ښایسته جامو په تعجب شي دوی به خبري پای ته نه وي رسولې چې دده جامې هم دهغه په شان او تر هغه نه ښایسته شي.

داځکه دده له پاره چې په جنت کې به څوک هم نه خپه کیږي ، بیا به موږ خپلو کورونو ته ولاړ شو زموږ اهلونه ( ښځې ) به راسره مخامخ شي ویه وایي ښه راغلاست خپل اهل ته چې ته له موږ نه جدا کیدې اوس له هغه نه ډیر ښایسته یې ، موږ به ورته ووایو چې نن ورځ موږ درب الجبار ( الله تعالی ) سره ملاقات وشو موږ په دې حقدار یو چې په داسې حال دښایست کې راجع شو.

## جنتیان چې له بازار څخه خپل کورته ځي نو خپل اهل به یې ورته څه وایي ؟

خوهرکله چې جنتیان مجلس سره شروع کړي نود دوارو مرتبود خلکو جامې به الله تعالی ددوی په ذهنونو کې دومره ښې ورښکاره کړي چې دهغولویو مرتبود خاوندانو جاموته به یې ورپام هم نه وي ځکه جنت خودخپګان ځای ندی چې دیوچاڅره پکې خپه شي که پام وکړو هلته په جنت کې بیاتول خوندونه دي که لیږتکالیف سرې په دغه نیمګړې دنیاکې برداشت کړي بیاچې کله جنتیان له بازارڅخه دکورونوخواته ولاړشي هلته به ددوی له پاره حورې اوهغه ددوی ښځې لاس په سلام ولاړې وي دیوه جنتي له پاره الله جَلَّجَلَالُهُ اویا(۷۰) حورې تیارې کړې چې دهرې یوې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



اویا (۷۰) جوړه جامې په تن وي بیابه یې هم هغه دهډوکودننه مازغه ورڅخه ښکاریږي داحوري به ددوی استقبال ته ولاړې وي نوچې کله دوی سره یوځای شي دابنځې به ورته وایي چې زموږدې قسم وي په الله تعالی باندې تاسې چې له مونږڅخه جداکېدلی اوس له هغه څخه ډېرښایسته یاست نوداخپل خاوندان به ورته وایي چې ولې به نه ښایسته کېدلوهلته خومونږداسې یوشی لیدلی چې دجنت په ټولونعمتونوباندې غوره اووچت وُچې هغه عبارت دی له لیدلو درب العزت جَلَّجَلَالُهُ څخه مونږته چې کوم ښایست پیداشوی داالله تعالی دانواراوتجلیاتوپه ذریعه باندې پیداشوی دی زمونږچهرې (مخونه) چې دادومره ښایسته دي داالله تعالی دانواراوتجلیاتوبرکت دی.

## په جنت کې دادنا جنتي څومره ځای دی؟

﴿ عَنْ ثُوَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ، وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى اللهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غَدْوَةً وَعَشِيَّةً» ، ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} ﴾ [جامع الترمذی ج۲/ص: ۸۲ /ابواب صفة الجنة رقم الحدیث: ۲۵۵۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له ثُوَیر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : چې له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا مې واریدل ویل یې : چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي : چې په جنت کې الله جَلَّ جَلَالُهُ دیوه ادنی جنتي له پاره دومره حورې ،غلامان اودومره بنګلې دومره نعمتونه پیداکړې چې که یوسړی زرکاله مزل کوي نوهغه دده نعمتونه به نه خلاصیږي :ادنی جنتي له پاره ددنیالس چنده ځای ورکوي هغه هم هغه جنتي ته چې ترټولوزیات ګنهګاروي اوپه دوزخ کې بیې ډېروخت تېرکړی وي په یوه روایت کې راځي چې الله تعالی یوجهنمي له جهنم څخه راباسي نودده حالت به ډېرخراب وي په پښواوګناتوبه رابنوېږي له تګ څخه به وتلی وي اوبدن به یې تک تورلکه دسکروپه شان وي کله چې دی الله تعالی له جهنم څخه راوباسي نوالله تعالی ته به ووایي چې زه اوس چېرته ولاړشم جنت خوټول ویشل شوی دی اوخلکوځایونه پکې نیولي دي نوالله تعالی به ورته ووایي چې ځه ولاړشه جنت ته دی چې کله دجنت دروازوته راشي اوجنت ته ورګوري نوجنت به ټول ډک وي نودی به بیاالله جَلَّ جَلَالُهُ ته ووایي چې جنت خوټول خلکونیولی دی نوالله تعالی به ورته ووایي چې په دنیاکې ژوندد دې په یاددي ؟ نوموړی انسان به ورته ووایي چې هوکې انوالله تعالی به ورته ووایي چې غواړه څه دې په کاردي لکه په دنیاکې دې چې ارمانونه کول وس څه غواړې نوددې انسان دذهن مطابق چې څومره شیان وي دهغوشیانوغوښتنه به وکړي دمثال په توګه حورې اوپانورنعمتونه هغومره به الله تعالی ته سوال وکړي چې دومره راکړه اونوربس نوالله تعالی به ورته ووایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څومره نعمتونه تاوغوښتل دابه هم درکړم اوددنیاغوندې لس چنده ځای به نورهم درکړم دی به تعجب وکړي چې اې الله ته خوزمامالک یې زمارازق یې زماسره توقې کوې ماته په جنت کې ددنیاغوندې لس چنده چیرته راکول کیږي الله جَلَّ جَلَالُهُ به ورته وایي چې درمې کړل نوله دې وروسته به په ده باندې جنتیان هغه دجنت اوبه واچوي نودده بدن به ببرته تراوتازه شي اوپه جنت کې چې کله داخلیږي نوخلک به ورته وایي چې داجهنمین دي عتقاء الرحمن دي یعني الله تعالی له اور دجهنم ازادکړي دي.

## په جنت کې به له یوه ځای نه بل ځای ته تلل په څه وي؟

غرض داچې دجنت دومره نعمتونه دي چې انساني اوبشري ژبه یې له بیان کولوڅخه بې وسه ده خوالله تعالی خپله وایي چې ماجنتیانوته داسې شیان تیارکړي دي چې نه سترګولیدلي اونه غوږونواوریدلي اونه دچاپه خیال اوتصورکې تېرشوي.

﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ وَاثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً، وَتُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ وَيَاقُوتٍ كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ إِلَى صَنْعَاءَ﴾

[جامع الترمذي ج:۲/ص:۸۲/رقم الحديث: ۲۵۶۲/ابواب صفة الجنة]

ژباړه: له حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي: چې دادنی جنتي به اتیا زره خادمان وي، دوه اویا به یې حورې وي او خیمه به یې له یاقوتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمروتو څخه جوړه وي چې لوي والی به یې دومره وي لکه دجابیې او صنعاء ترمنځ چې څومره مسافه ده .( الجابیة او صنعاء په یمن کې دوه ځایونه دي)

یعنې یوه ،یوه خیمه دملغلروچې شپېته میله به غټه وي په دایوه اوبل کونج کې چې دده حوري اوغلمان وي دخوشالي خبره خولاداده چې ددنیاپه شان خپل منځي اختلافات به هم نه وي اوجنتي چې کله یوې اوبلې خیمې ته ځي اوراځي نودی به په جنت کې په اس باندې سپوروي اوهغه اس به هم دیاقوتو څخه جوړشوی وي اوهغه اس به وزرې لري چېرته چې دجنتي زړه وغواړي هلته به یې بې تکلیفه رسوي خودپام وړخبره داده چې داټول نعمتونه داټولې اسانتیاوي داچې دیوه نیک انسان په برخه کیږي داهلته چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ اوامرېې په ځای کړي وي اوله هغوکارونو څخه یې ډډه کړې وي چې الله تعالی ورڅخه منعه کړی اودخواږه پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طریقوباندې بې ځان برابرکړی وي چې ددې ټولوپه ځای کېدل په تقوا سره لاس ته راوړل کیږي.

## دجهـــــنم بیان

انسان بایدښه ځیرشي که یوه لوري ته دالله نعمتونه دي اوجنتونه یې تیارکړي دي خوبل لوري ته که انسان دالله تعالی دحکمونوپرخلاف په یوه بله لاره ناسمه باندې روان وي اودخواږه پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طریقې نه پرځای کوي بیاالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی دهمدسې انسانانوله پاره دجهنم کندې اودتکلیف ځایونه تیاکړي دي اوداکنده اویانورتکلیفونه چې الله تعالی همداسې انسان ته ورکوي داسې مثال لري لکه په دې دنیاکې چې دیوه انسان یواندام لیږخراب شي نوبیاهغه اندام طبیب ورڅخه پرېکوي اوهیڅوک یواعتراض غوندې هم نشي ورباندې کولای یعنې دادنوموړي انسان په باب باندې عدل دی

## دجهنم ژوروالی اوداور رنګونه

﴿عَنْ الحَسَنِ، قَالَ: قَالَ عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ - عَلَى مِنْبَرِنَا هَذَا مِنْبَرِ البَصْرَةِ - ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ الصَّخْرَةَ العَظِيمَةَ لَتُلْقَى مِنْ شَفِيرِ جَهَنَّمَ فَتَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا وَمَا تُفْضِي إِلَى قَرَارِهَا﴾

[جامع الترمذي ج:۲/ص:۸۵ / ابواب صفة الجهنم ، رقم الحديث ۲۵۷۵]

ژباړه : له حضرت عتبه ابن غزوان رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روایت دی وایي: چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي : چې یوه لویه تیږه (ډبره) که جهنم له غاړې لاندې ور ولویږي اویا (۷۰) کاله به کته روانه وي بیخ ته به یې نه رسیږي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ، ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ، ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ»﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



[جامع الترمذی ج۲/ص ۸۶ / ابواب صفة الجهنم ، رقم الحديث:۲۵۹۱]

ژباړه : له حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې دجهنم اور زر(۱۰۰۰)کاله بل شونو تک سور شو بیا زر (۱۰۰۰) کاله بل شونو تک سپین شو بیا زر (۱۰۰۰)کاله بل شو تک تور شو. او اوس هم په همدغه توروالي پاتې دی.

په دې جهنم کې چې یوځوک داخل شوالله تعالی دې سرې ورځخه وساتي نوداسې لوړه به ورباندې راشي چې دادې اورعذابونه اوتکليفونه به يې ټول له ذهن ځخه ووزي په جهنم کې به جهنميان خوراک وغواړي نوددوی له پاره به خوراک ضريع اويازقوم ورکول کيږي.

﴿عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: {اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} [آل عمران: ۱۰۲] قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ؟»﴾

[جامع الترمذی ج:۲/ص:۸۶ / ابواب صفة الجهنم ، رقم الحديث:۲۵۸۵]

ژباړه : له حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست : {اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} [آل عمران: ۱۰۲] ترجمه :وویریږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له الله تعالی نه په حق د ویرې د ده ! او مه مرئ ! ( یعنې مرګ دې نه راځي ) مګر په دې حال چې یئ تاسې مسلمانان .

بیا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : که چیرې یو څاڅکی دزقوم دونې دغې دنیاته راتویه شي نو له بدبویې څخه به ددې دنیاټول خلک په عذاب شي ، نو دهغه چا به څه حال وي چې دغه ونه یې خوراک وي .

﴿ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ . الحديث ﴾

[ جامع الترمذي ج:۲/ص:۸۶/ ابواب صفة الجهنم ، رقم الحديث: ۲۵۸۵ ]

ژباړه : له حضرت ابو درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي چې په دوزخیانو به لوږه راشي یعنې دوزخیان به داسې وږي شي چې ددغې لوږې او د دوزخ عذاب به سره برابر وي ، فریاد اوغوښتنه به وکړي ، نو دوی ته به په ترخه ونه راتلل وشي ، چې نه یې مزې کوي او نه یې مړوي ، بیابه خوراک وغواړي ، نو خوراک به داسې ازغیداره ونه ورته راوړل شي ( چې په ستوني کې به یې ونښلي ) وربه یاد به شي چې په دنیاکې به مو چې څه په ستوني کې ونښتل نو اوبه به مو ورپسې چښلې ، نو اوبه به وغواړي ګرمې اوبه به ورته را وړل شي داوسپنې په چنګکو کې چې مخ ته یې پورته کړي دمخ غوښې به یې تولې توېې شي کله یې چې خیټې ته داخلې شي نو کولمې اوهرڅه به ورسره توېې شي او وبه وایي چې دجهنم متصرفی ( واکدارې ) ملائکې را وغواړئ ، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ورته وايي: آيا تاسي ته په دنيا کې دتاسي رسولان نه و درغلي په ښکاره دلائلو او معجزو سره؟ دوی به وايي هو! راغلي ؤ. خو موږ بې خبره نه وه منلي.

## دادنی جهنمي څومره عذاب ده؟

﴿ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ" ﴾ [جامع الترمذي/ج: ۲/ ص: ۸۷ /رقم الحديث: ۶۱۲/ ۲۶۰۴]

ژباړه: له حضرت نعمان ابن بشير رضي الله عنه نه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: چې په دوزخ کې به دکم عذاب خاوند هغه څوک وي چې دپوندو په هغه کډيو، کډيو ځايونوکې به يې داورسکروټې وي ددغوسکروټوله وجې به يې په سرکې مازغه خوټيږي.

په يوه روايت کې راغلي دي چې څېلی به يې داورپښو کړې وي هغه لیږعذاب په جهنم کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دتره ابوطالب دی چې له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره يې بې ساري نېيګړې کړې دي خوافسوس چې اسلام يې قبول نکړله دنياڅخه کافرتېرشو نودهغونېيګړوله وجې چې له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره يې کړې وې چې کافران به يې نه پرېښودل چې په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې ظلم زوراويازياتی يې کړی وای تردې پورې چې په-کوم کال دی مړشو اوپه همدغه کال حضرت خديجة الکبری رضي الله عنها هم وفات شوه هغه کال ته دغم کال ویل کيږي چې په نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم ﷺ باندې دومره زیات غم راغی چې دقریشو دمشرکینو له ډېروعذابونوڅخه ده مبارک ﷺ مکه مکرمه پرېښودله اودطایف په لوري روان شو اودطائف مشرانو ته چې ورغی اوپناه یې وروړه هغوی خپلوتابعداراتواوکشرانوته وویل چې په ډبرو یې ولئ نوچې دده مبارک ﷺ په قدم پورته کولو هغوی به په ډبرو باندې ویشتلو دده مبارک ﷺ په غوړکوباندې وینې راروانې وې اوله ډېروتکلیفونو څخه په زمکه باندې پرېوت اوخپلې پښې به یې پټولې دی مبارک ﷺ وایي چې زه چې طائف ته راغلم زه په لاره باندې نه یم پوه شوی چې زه کوم ځای ته ورسېدم دغه دغم کال دابوطالب دوفات په کال باندې ؤ چې کافرانو زړورتیاوموندله خود نبي کریم ﷺ دخدمت په خاطرباندې چې رحمة للعالمین دی کافرته یې هم دومره فایده رسیږي چې دهغه عذاب په جهنم کې دنورو کافرانوڅخه ډېرکم اولیږدی بیاهم دومره عذاب دی چې په ښپلیو کې به یې اوروي اومازغه به یې ورڅخه خوټیږي

## دجهنمي وجود به څومره وي؟

اوپاتې شوه داخبره چې دیوانسان ټول بدن به اورباندې سوځي دابه لاڅومره زورغواړي په جامع الترمذي کې روایت دی:

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ، وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالمَدِينَةِ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



[جامع الترمذي ج ۲/ص:۸۵ /ابواب صفة الجهنم، رقم الحديث:۲۵۷۷]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي چې دکافرپوستکى به څلويښت (۴۲) ګزه غټ وي او يوغاښ به يې دأحد دغره په شان لوى وي اودده هغه دکيناستلوځاى (عورت غليظه) به درمره غټ شي چې مسافه به دومره وي لکه دمديني منورې اومکې مکرمې ترمنځ چې څومره مسافه ده.

اوپه يوه ورځ کې به يې بدن اويازره (۷۰۰۰۰) وارې سوځي اواويازره (۷۰۰۰۰) وارې به بېرته راشين کيږي نوګرانوورونواکه پرهيزونکړو اوله ګناهونوڅخه ځان ونه ساتوبيابه الله تعالى مونږته هم همدغه سخت ځاى په راپه برخه کړي الله تعالى مودې ورڅخه وساتي نويوانسان ته مناسبه ده چې ليږسوچ وکړي خوشى انسان ندى پيداشوى دانعاماتوتصور اودحورو تصوراوله دې سره، سره دالله جل جلاله دجهنم دعذابونو اوتکليفونو تصوردې هم کوي

دمثال په توګه مونږاوتاسې چې دنياوي ګټې وينوچې يوڅوک يې راته کيسې وکړي چې په دوبى کې دومره ګټه ده ياپه لندن کې دومره ګټه ده ياپه امريکاکې دومره ګټه نوطياره اوکشتى خوپريږده په پښوهم هغوځايونوته ځانونه رسووبلکې ځانونه پسې وژنونږ پرځله موداسې اوريدلي چې لندن اويانورو هېوادونوته چې خلک په لارې باندې مړه شول دريابونوته ولويدل حتى ښځې له محرمه پرته ځي اوپه لاره کې مړې شوې دي اونورې ناخوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبې چې لیدلې هغه خولاپرېږده ډېرسخت کړاونه اوربروني وریاندې تیرېږي.اویادمثال په ډول دلته څومره سخته ګرمي ده سره له هغې هم بیاډېرخلک له سهاره تربیګاه پوري ولاړوي اوګټه کوي نوکه یوڅوک دافکروکړي چې ماته جنت اویاله هغه څخه هم ښه توښه په لاس راځي نوبیاخوبایدپه نیکوعملونوکولوکې ډېرزیات کوشش وکړي که یوڅوک داسې فکروکړي چې که زه له ګناهونوڅخه ځان ونه ساتم ګناه کول خودزهروخوړل دي نوبیابه زماځای جهنم وي اوزه به پکې سوځول کېږم خامخابه دی له ګناهونوڅخه ځان وساتي.

﴿عَنْ أَبِي رَجَاءٍ العُطَارِدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اطَّلَعْتُ فِي الجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الفُقَرَاءَ، وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ»﴾

[جامع الترمذی ج:۲/ص:۸۷ /ابواب صفة الجهنم / رقم الحدیث:۲۶۰۲ / ۲۶۱۰]

ژباړه : له حضرت ابورجاء عطاردي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه مې واوریدل ویل یې چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي :ماچې په جنت کې ولیدل نوپه جنتیانوکې زیاتره خلک فقیران ؤ اوپه جهنم کې مې چې ولیدل نوډېرخلک یې هغه ښځې وې چې ددین له کارونوڅخه ناخبره دي بل قول دادی چې په جنت کې به ډېری خلک کمزوري وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ الخُزَاعِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنَّةِ، كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ، أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ، كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُتَكَبِّرٍ﴾ [جامع الترمذي ج۲ص۸۲ابواب صفة الجهنم رقم الحديث:۲۶۰۵]

ژباړه: له حضرت وهب الخزاعي رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي ویل یې: زه تاسې ته خبر درنکړم په اهل دجنت هغه داچې جنتي به هر ضعیف او غریب وي که په خدای باندې قسم وکړي نوخدای پاک به یې په ځای کوي دغه خلک به ډېرجنت ته داخلیږي.

اودجهنم داخلېدونکي به ډېرهغه څوک وي چې دهغوی نښې دادي چې بدخوی سخت ویونکی، سخت زړی او متکبر وي هغه څوک چې ددوی زړونه سخت وي هغه څوک چې ددوی په زړونوکې کلکوالی موجودوي غلیظ القلب جافی ظالم وي داخلک به ډېرپه جهنم کې موجودوي جموع اومنوع هغه خلک چې جمعه کول کوي ددنیا خودالله جل جلاله حقوق نه پکې اداء کوي اوکبرجن خلک چې غټه یې وایي اوځان لوی ورته معلومیږي دابه په جهنم کې ډېرلېدل کیږي خودافسوس خبره داده چې هره جمعه بیانات کیږي اوهره جمعه ژړاوي وي خودخلکوپه وجودباندې اثرات نه ښکاریږي که یوه ملایوه دنیوي ګټه بیان کړي وای چې په فلانې ځای کې په یوه ساعت کې (۱۰۰۰) روپۍ ګټل کیږي نوقسم درته کوم چې خانونه ښځي اولادونه به یې ټول ښه په شوق باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بنه تېزه ګرمي کې وررروان کړي ووخکه هلته دمثال په توګه (۱۰۰۰) روپۍ ګټه ورته پیداکیږي بیاخپل عزت ترېښولاندې کوي خوددنیادالیږګټه ترلاسه کوي دمثال په ډول داخوکه یوه ملاصاحب د(۱۰۰۰) روپوکلداروډګټې بیان ورته وکړکه فرض یې کړه یوملاصاحب داورته وایي چې په فلانکي ځای کې (۱۰۰۰) ډالره ورکوي نوبیاخوبه ملاصاحب اوحاجي صاحب خپل ناموسونه اوخپل هغه تنکي ګران اولادونه چې لمریخني اوګرمي یې نه وربانديږ لوریږي تول به ښې لوځي وررروان وي اوددغې فاني دنیادګټې خبرې په زړونوباندې اثرهم زرکوي اوکه یو ملاصاحب دجنت اوجهنم بیان کوي نومخونه په بل طرف ورځخه واړوي اوهیڅ اثرنه ورباندې کوي اوزړونوته یې نه لویږي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې اصلاح راولي.

## د دنیایي ګټې په لحاظ د علماوو خبره هم زراوربدل کیږي

دمثال په ډول دلته دقوم خلک سره راټول شول اودیوه دود(رواج) په باره یې خبره کوله نوموږهم په دعاکې ورسره شریک شوو چې خلک وینوډېروخلکوپه ځان باندې عملي کړېده ځکه چې ددنیاګټه یې پکې لیدلې ده اوبیان داسې کوي چې داخبره خوخلیفه صاحب کړې مثلاً چې لورراوياخورته پنځ جوړه کالي مه ورکوه پنځه جوړه کالي ورکړه داخبره مني ځ دنیوي ګټه یې پکې ده اوچې ورته ووایې چې ډېره پرېږده داخب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیانه مني ځکه دنیوي تاوان یې ده پکې بلکې د دنیاتاوان یې هم
نشته پکې خود الله جَلَّ جَلَالُهُ د خوشاله کولو پرخلاف دشیطان
خوشحاله کول یادیوه ملګري خوشحاله کول یې مقصدوي دیوه
بنده دخوشالي هڅه اوکوشش کوي دمثال په ډول داریره دځینوکم
عقلواوخام فکروښځوته خوښیږي نودریږي خریونکې الله تعالی
خپه کوي اوهغه کم عقله اوخام فکره اوغیراصلاح شوې ښځه چې
کورته یې ورته راوړي هغه خوشحاله کوي عجیبه خلک دي وایي
چې خلیفه صاحب ویلي دي چې په واده کې خوره مه ورکوئ ځکه
په دې کې بې عزتي راځي اوهغه چې ډومان راولي اویاخپلې
ښځې په بازارونوکې لوڅ مخ ګرځوي هغه بې عزتي نه بولي ځکه
په خوره ورکولوکې یې دنیاوي تاوان دی روپۍ لګیږي ماپه هغه
ورځ باندې هم دې خلکوته وویل چې ماته له الله تعالی څخه
حیاراځي په دې شرط به زه درځم چې جنکۍ ته به شل اویاد پرش
زره روپۍ نغدې ورکوئ ځکه دجنکۍ خوبه لیږې کاروربانډې
وشي څه ناڅه حق خوبه یې راژوندی شي ځکه داښځې بیادخسرپه
کورکې روپۍ نلري اوعلاج دمرض اویایوبل شی ځانته نشي
اخیستلای خوداخبره بیانه سنل کیږي ځکه ددوی دنیوي تاوان دی
پکې نوپه کومه خبره کې یې چې دنیاوي ګټه وي هغه خبره مني
اوبیاوایي چې خلیفه صاحب ویلي دي مونږ یې په خبره باندې عمل
کوواوهلته دالله جَلَّ جَلَالُهُ خبره نه مني دخلیفه صاحب خبره مني ځکه
دنیوي ګټه پکې وینې دحضرت نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبره نه مني
نوکه په یوه دنیاوي ګټه کې ورته تاوان وي بیاوایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخوفلانکي عالم یافلانکي خلیفه صاحب ویلي دي که یې ونه منوبیابه مونږ ته تاوان ورسیږي جهنم ته به داخل شو اوهغه خبر چې په قرآنکریم اویانبوي حدیثونوکې راغلې وي هغه نه مني.

دمرشددخولي خبره ده هغه وایي چې ماته یقیني دسرددردتکلیف پیداشوی دی چې دومره ډېردرسونه اوبیانونه دي اخیرسړی په دې باندې وډارشي چې دازمونږخبره اثرولې نکوي چې خدای مکره مونږېې لاري یوکه په مونږکې دخدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه ویره اوډارنشته چې سره له دومره زیاتوبیانونوبیاهم په خلکوکې اثرنه لېدل کیږي.

له ډېري څخه ماسړی نیولی چې دادخواړه پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت طریقه ده نوډیره پریږده خوداخبره څوک نه مني ډېرمجلسونه فایده نلري علماء کرام وایي علم دمالګې په اندازه اوعمل داوړوپه اندازه نوعلم به هلته سړي ته فایده کوي چې عمل ورباندې وکړي اوکه یوکس علم لري اوعمل نه ورباندې کوي دهغه هم امکان شته چې جهنم ته ولویږي لکه په حدیث شریف کې چې راغې چې په ورځ دقیامت به عالم،شهید،اوسخي جهنم ته واچوي اودجهنم اوربه په دوی باندې تازه کیږي ځکه چې چاعلم دخدای جَلَّ جَلَالُهُ له پاره نه وي کړی اوچاشهادت دخدای جَلَّ جَلَالُهُ له پاره نه وي نوش کړی اوچاسخاوت دخدای جَلَّ جَلَالُهُ له پاره نه وي کړی که څه هم پنځلس ځله ځان مخته ،مخته کړي چې مادمدرسې حق پرې کړی ته به وایې چې دده له پاره یې ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې مسلمانانو! دادين يوازې دملاندی يوازې دخليفه ندی يوازې دپيغمبرندی بلکې دادين دالله جَلَّجَلَالُهُ دی له الله جَلَّجَلَالُهُ سره چې څوک دوستي غواړي نودين به خپلوي په دين باندې سړی عزتمندکيږي هم اوبې عزته کيږي هم نوکه موپه دين پورې لاس ونيونوعزتمندکيږوبه اوکه موله دين څخه لاس واخيستلونوبې عزته کيږوبه جنتونه اودوزخونه ټول په دغه دين پوري تړلي دي که چادين خپل کړنوجنت به يې په برخه شي اوکه يې له دين څخه لاسونه واخيستل نوددوزخ کندوته به ورغورځول شي نوموږته دامناسبه ده چې يوتقريرواورونوپه هغه باندې بايدعمل وکړو.

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خوعرب ووقرآنکريم به يې ويلو خوليږ ، ليږ لکن عمل يې دېروړباندې کولوعلماءکرام ليکي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوسورت بقره په دوه نيم کاله کې ويلی دی هغه داسې چې هرحکم به يې په ځان باندې عملي کولوهغه مبارک به ويلي چې ماته له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه حياراځي چې قرآنکريم وايواوعمل نه پرې کوو نوخبرواوتقريرونوته بايدپه دې نيت کينوچې عمل ورباندې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۶۰) مجلس

## دانسان ستردښمن اوله هغه څخه دځان ساتني طریقه

دروژې په فضائلو کې یوه وجه داهم ښودل شوېده چې په روژه کې دادومره زیات ثوابونه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ایښې دي داپه دې وجه باندې چې دروژې په واسطه باندې زمونږاودالله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ستردښمن چې عبارت له شیطان څخه دی هغه پکې مغلوبه کیږي شیطان چې دادالله جَلَّ جَلَالُهُ دانبیاواودین دښمن دی همدغه ملعون چې کله الله تعالی له خپل دربارڅخه وړتلوچې حضرت ادم عَلَیْهِ السَّلَام ته یې سجده ونکړه نودې ړټلي شیطان په هغه ځای کې قسم کړی چې اې دټول عالم پالونکیه! زه به دې تابندګان سمې لارې ته نه پرېږدم دوی ته به زه له ښي لوري له چپ لوري دمخ له لوري دشاله لوري ورځم اوله ښیې لارې څخه به یې دبې لارې لوري ته کشکوم.

خو همدا شیطان په یوه انسان باندې هلته ډېرزیات غالبه کیږي چې کله دیوه انسان خواهشات پوره اوقوت پکې وي له همدې وجې خوپه یوه روایت کې راځي چې شیطان دانسان په بدن کې داسې سرایت اوجریان کوي لکه وینه چې په بدن کې روانه وي نونبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایي چې تاسې دشیطان لارې په لوږه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګې کړئ ځومره چې یوانسان موړوي نوبیاشیطان بنه تګ اوراتګ پکې کولای شي ځکه دمړوالي پرمهال رګونه ازادشي اوچې کله یوانسان وږی وي نوبیادده دتګ اوراتګ لارې تنګیږي

ددې مطلب داندی چې شیطان انسان ته دیوه حسي شي غوندې ننوزي بلکې چې کله یوانسان موړوي نودشیطان لارې ازادې اوخلاصي وي اوچې کله یوانسان وږی شي نوبیاکمزوری شي نوداانسان ستومانه شي نوشیطان ته موکه نه برابریږي

همداوجه ده چې الله جَلَّجَلَالُهُ خپل پیغمبرحضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته وایي ﴿ عادی نفسك فانه قام بمعاداتی ﴾ ترجمه: اې حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام له ته خپل نفس سره عداوت (دښمني) کوه ځکه چې هغه زماپه دښمني باندې ولاړ دی نفس اوشیطان دادواړه دالله جَلَّجَلَالُهُ دښمنان دي نودنفس خواري اوذلت دادشیطان دذلت اوخوارې سبب ګرځي نوځومره چې نفس اوشیطان ذلیل کیږي دومره الله تعالی ورباندې راضي کیږي ځکه دالله تعالی دښمن تاخفه اوذلیل کړ دښمن ددښمن په لاره نه ځي دښمن د دښمن په مشوره باندې عمل نه کوي ځکه یوله بل څخه ډاریږي

اوپه بل ځای کې راځي چې شیطان دې تاسې هغه دښمن دی چې له تاسې څخه یې جامې ویستې حضرت ادم اوحضرت حوا عَلَيْهِمَا السَّلَام په جنت کې دنورپه جامو باندې پټ وو خودشیطان دوسوسې له وجې چې دوی هغه دانه وخوړه نوهغه دنورجامې له دوی څخه لرې شوې ددوی عورتونه یوبل ته ښکاره شول اوشروع بیایې دجنت دونوپاڼې یې راشکولې اوپخپلوځانونوپورې یې

ښلولې چې عورتونه يې ورباندې پټ شي نوځکه الله تعالی وايي چې شيطان دې تاسې هغه دښمن دی چې ستاسو دمورا وپلار جامې يې ايستلې دي نودهغه ټول کوشش اوهڅه داده چې يوښکلی انسان دې تل له پاره بې پته اوبې عزته کړي.

لکه په جنت کې يې چې په حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ اوحضرت حوا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا داوس ورسيدلوچې له دوی څخه يې جامې ويستلې هغه ظاهرعورت يې ورښکاره کړهمدغسې شيطان دانسان ټول عيبونه رالوڅوي کوشش کوي چې دغه انسان دومره ذليل کړي چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نزدباندې هم وشرميږي دانبياووپه نزدباندې هم وشرميږي اودنيکوخلکوپه نزدباندې هم وشرميږي تردې پورې چې په پای کې دلعنت وړوګرځي.

دومره يې په ګناهونوکې رسواکړي چې ټول مخلوق په ده باندې لعنت وايي ولې داانسان دومره له حده زياته بې حيايي پيل کړي دمثال په توګه که يوڅوک په يوه مجلس کې شريک وي اوکالي وباسي نودهغه مجلس ګډون کوونکي به ټول په نومونړي انسان باندې لعنت وايي چې داڅومره بې شرم اوبې حياانسان دی چې په لوی مجلس کې په ښکاره باندې دشرم ځايونه لوڅ کړل همدارنګه شيطان چې کله په يوه انسان باندې ګناه کوي،نوداعين په همدغه انسان باندې جامې ايستل دي ګوری چې دې خبرې ته موپام وي که څه هم داګناه کوونکي هغه ظاهري جامې اغوستې وي خوهغه ايماني جامې هغه نوراني جامې چې دې تقوا اوپرهيزګاري جامې دي هغه ورڅخه باسې نوپه حقيقت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې لوږ اولغړوي ددې دنیاشرمېدل خوپرېږده په اخیرت کې به هم نوموړی انسان درسوایي په حالت کې راپورته کيږي.

نودشیطان ټول کوشش اوزیاردادی چې یوعزتمندانسان بې پته اوبې عزته کړي دادنیادازمویښت ځای دی الله تعالی دومره مهربانه دی کله په یوانسان باندې لوړه راولي په هغه کې دالله جَلَّ جَلَالُهُ مقصددانسان کمال وي بې عزته کوي يې نه څکه دده دلوږي په واسطه باندې شیطان خپه کيږي اودی ورباندې غالبه کيږي اوکله الله جَلَّ جَلَالُهُ مړښت ورباندې راولي هغه هم ددې له پاره وي چې موړشه اووس نوښه عبادت وکړه الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ خوشاله کړه اودشیطان مقابله ورباندې وکړه په سجدوباندې سرشه غافله کېږه مه نوالله تعالی احکام ورته متوجې کړې چې دغه وکړه دغه وکړه اوچې په دې يې هم علاج ونشي بيايې الله تعالی ورېږي کړي چې وس په دغه لوږه باندې دشیطان مقابله وکړه.

دانسان اصلي دښمن نفس اماره دی څکه هغه په بدیو اوبدمرغیوباندې امرورته کوي نودانفس اماره اوشیطان دواړه کوشش کوي چې انسان بې لارې کړي نوکله ،کله داسې وشي چې یوانسان خپل ځانته غره کړي په ظاهره باندې ځان صوفي ،صوفي کوي روژې نیسي اوتقواکوي ده ته داخپل ځان متقي ښکاره کيږي په واقعه کې هلته دشیطان ودنفس په جال کې لویدلی وي داسې هم نده چې یوازې روژه سړی ونیوله اوورېږی شو نوشیطان به نورمغلوبه کيږي کله ناکله دسړي ورېام هم نه وي شیطان دهغې لارې څخه دانسان بدن ته ننوتی وي چې سړی ورباندې پوهيږي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه او دا شیطان داسې حرکت کوي لکه د میږتون په شان باندې چې څوک یې څرېی نه اوري او دی خپله لاره وهي نو شیطان دانسان له پاره دتل له پاره په کمین کې ناست وي بایدانسان دېرورته ځیرا و بیداره وي.

## د نفس په خلاف عمل اختیارول

یوولي الله چې په ډېر فقراومسکنت یې خپل ژوندتېرولو خویوځل خپل نفس ته متوجې شو نو داخپل نفس ډېرقوي اومزې ورته ښکاره شو نودادې الله تعالی نازولی داخپل نفس ته خطاب کوي چې اې نفسه! ته خرماداسې ساتلی هم نه یې نه مې ښه خوراکونه درکړي اونه مې داسې ښه دځښلو شیان درباندې ځښلي نو بیادادومره غټ اومزې په څه شي باندې شولې نونفس یې ورته وایي چې زه په دې باندې نه مزې کیږم چې ته ماته ښه خوراکونه راکړې اوښه لباسونه راواغوندې بلکې په دې باندې زه ښه مزې کیږې چې تاته خلک وایي چې صاحب ،صاحب اوخلک درته کته اوپورته کیږي اواحترام دې کوي نوزه ښه مزې کیږم نودې ولي بیایوه داسې عمل ته پاملرنه وکړه چې دخلکو توجه ورځخه واوړي هغه عزت اواحترام یې له منځه ولاړ نوبیاله هغه وروسته ښه خوراکونه اوښه دځښاک په شیانو باندې پیل وکړ بیاچې کله خپل نفس ته متوجې شو خپل نفس یې چې ولید چې ډېر کمزوری شوی یعنې له کاره لویدلی دی نوبیایې له نفس څخه پوښتنه وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس خودې ښه هم ساتم او سره له هغه بیا ته ولې کمزوري او له کاره لویدلی یې او ډېره نګرشوی یې نووایې نفس په خواب کې راته وویل څوک چې خپل دښمن ته حال وایي دهغه به همدا حال وي لکه دا زما ته خو د نفس اولنی دښمن یې.

کله انسان دلوړې په حال کې داسې وي چې ځان به ورته ښه لیدل کیږي نو په دې ځای هلته شیطان پټ کوشش شروع کړی نو په یو داسې کار باندې داسړی لګیا کړې چې دده به له سره ورته پام هم نه وي چې څوک یو شاباسې ورکړي اویا ورته جګ او ټیټ کیږي نو دی سخت ورته خوشحاله وي.

د نورو مخکنیو اولیاء کرامو واقعات چې سړی وګوري نو هغوی دتل له پاره دا کوشش کړی وي چې ددوی نوم پاته نه وي او نوم یې ورک وي او شهرت ته خوښوي زیاتره اولیاء کرام به چې په کوم ځای مشهوره شول نو په داسې یو کار به یې پیل وکړ چې هغه شهرت به له منځه ولاړ شهرت هم یو افت دی چې سړی ډېر مشهور شو نو ځان ته یې پام نه وي او دی په ګمراهي باندې لګیا وي لکه د حافظ شیرازي واقعه چې مونږ مخکې ذکر کړېده او بله واقعه چې دیولوی بزرګ مونږ ذکر کړې چې ده ته یې دباچایوه ښایسته لور پرېښنوده هغه مکمله ذکر ده وګوری.

نو دهغوی به په لوی لاس داسې عملونه کول یعنې خپل زوی کینول دځان سره اویا خپله مینځه کینول دځان سره اویا سورکه اینښودل دځان سره دا خو څه ګناه نده خو ددې له پاره چې دشیطان او نفس مقابله یې کوله شیطان داسې ندی چې له یوې لارې سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورځي چې روژه موونيوله نورشيطان ولاړختم شو کله به داسې وي چې سړی به ښه دفقرپه جامه کې وخت تيروي خوهلته به شيطان وربانديې مقرروي اوکله به يوسړی دابادي په جامه کې وخت تيروي خوشيطان به وربانديې مقرروي کله به يوسړی دصوفيتوب په جامه کې وخت تيروي خوشيطان به وربانديې مسلط وي اوکله به داسې هم وي چې يوسړی به دعلم په جامه کې وخت تيروي خوشيطان به وربانديې مسلط وي اوکله به يوسړی دجهاداوسفرپه عنوان وخت تيروي خوشيطان به وربانديې مسلط وي له همدې وجې خوالله جَلَّ جَلَالُهُ وايي چې شيطان دې تاسې دښمن دی اوتاسې يې په دښمني ونيسئ ددښمن هرتکتيک اوهرفريب ته متوجې شئ ددې له پاره چې له تباهي سره مومخ نکړي.

په دې طريقت اخيستلوکې هم مقصدداده چې ډېرکوشش انسان داشروع کړي چې له نفس سره مقابله وکړي ډېرکوشش انسان داشروع کړي چې له شيطان سره مقابله وکړي.

## صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د حضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نفلي عباداتو پوښتنه کوي

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ يوځل دحضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له بيبيانومبارکوڅخه درسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعبادت په هکله پوښتنه وکړه چې هغه دشپې څه ډول عمل ترسره کوي اودورځې څه ډول عمل ترسره کوي ددوی خپل ګومان داؤچې پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شپه په نفلو باندې تیروي خوب به نکوي دتل له پاره به نفلي روژې نیسي ځکه خو ډېره وچته مرتبه لري نو دحضرت پیغمبر ﷺ د کوروالو چې دحضرت محمد ﷺ حال ورته وویلو نو ددوی په ګومان کې هغه ددوی تر اندازې کم ورته ښکاره شو چې زمونږ خو دا ګومان وو چې حضرت پیغمبر ﷺ به ټوله شپه نفلونه کوي نو حضرت پیغمبر ﷺ خو ټوله شپه په عبادت یعنې لمونځونو نه تېروې ټول وخت خو روژې نه نیسي نو صحابه کرام رضي الله عنهم خو نیک خلک وو نو بیا یې وروسته پخپلو منځو کې سره وویل چې زمونږ او دحضرت پیغمبر ﷺ ترمنځ خو ډېر توپیر دی هغه ته الله تعالی هرڅه معاف کړي مونږ باید کوشش وکړو یوه صحابي رضي الله عنه وویل چې په ما باندې له دې هیسې ښځه حرامه ده زه به خپلې ښځې ته نه ورنیږدې کېږم بل صحابي مبارک وویل چې په ما باندې له دې هیسې ښه خوراکونه حرام دي زه به ترکاري او لندې ډوډۍ ونه خورم بل صحابي مبارک وویل چې زه به نوره دتل له پاره روژې نیسم مختلفې مشورې وشولې تردې پورې چې ځینو صحابه کرامو رضي الله عنهم دا مشوره وکړه چې مونږ به خپل ځانونه خصیان کړو چې داد شهوت ماده په مونږ کې بالکل له منځه ولاړه شي په دې خبره باندې دالله جل جلاله خوږ پیغمبر خبر شو نو ورغی او ورته وې ویل چې تاسې دا خبرې کړې دي هغوی ورته وویل چې هو! نو حضرت محمد ﷺ ورته وویل چې والله زه تر تاسې له الله جل جلاله څخه ډېر ویریږم خو زه خوب هم کوم نفل هم کوم کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژې نیسم او کله بې خورم او زه له خپلو بیبیانو سره کورولې هم کوم او عفت هم کوم داشیان خو الله جَلَّ جَلَالُهُ حلال کړي دي.

یو ځل له شهد وخخه حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قسم وکړ چې نه به یې خورم سمد ستي الله تعالی وحیې ورته رانازله کړه چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ﴾ ترجمه: چې الله تعالی درته حلال کړي وي نو ته یې ولې په ځان باندې حراموې داسې نده چې ښه جامه به نه اغوندې او ښه خوراک به نه کوې هرڅه ښه کوه خو د الله تعالی شکراداءکوه بلکې الله تعالی په دې باندې ډېرخوشحاله کیږي چې یوچاته الله تعالی نعمت ورکړی وي او دی یې اظهاروکړي دمثال په توګه خدای پاک ښه کالي درکړي دي بایدواغوستل شي ښه کوربې درکړی بایدپکې اوسیږي دښه خوراک توفیق یې درسروي خوره حلال اوداسې نور که سړی دشیطان له فریبونوڅخه غافل نشي نوپه روژه کې هم اصلاح دنفس راځي چې زمونږ ټول اندامونه په سمه لار باندې وکاروو نو بیا به الله تعالی په لوړه باندې هم راته اجراکوي بیا به الله تعالی دروژې نیولو په واسطه باندې زمونږ دښمن شیطان مغلوبه کوي او کله چې شیطان مغلوبه شي نودغه لوی مقام دی بیا الله تعالی زمونږ په عبادتونو کې کومک، مرسته او نصرت کوي چې داسې عبادات بیا الله تعالی ته دقبول وړ هم ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوبې ایستلو فضائل

کله چې یوانسان خپلې ګناوې رایادکړي اوداخیرت لوري ته متوجې شي اوتوبه وباسي داشوق اوذوق به څرنګه پیداکیږي اوبیاچې کله توبه وباسي نوددې توبې ایستلونوموړي انسان ته څومره ګټې رسیږي داخیرت په ورځ یوه توبه کوونکي انسان په دې دنیاالله تعالی ته ژړلي وي الله تعالی ته ولاړ وي او ناري او سوري وهي او پښیمانتیا څرګندوي اوپه اخلاص يې توبه ایستلې وي څومره ګټه ورته کوي په دنیاکې دتوبې ایستلوذریعه داده چې سړی له نیکوخلکوسره په مجلسونوکې ګډون وکړي ځکه دهرمجلس اثرپه انسان باندې پریوزي چې دهغوی اذکار او عبادات ویني اوبیا خپل ګریوان ته سرټیټ کړي هرومرو دتوبې او نیکو اعمالو شوق او ذوق ورسره پیدا کیږي

لکه شاعرچې وايي:

صحبت صالح تراصالح کند - صحبت طالح تراطالح کند

نوکله چې داتوبه کوونکی انسان دالله تعالی لوري ته متوجې کیږي او دخپلو ګناهونو تصوروکړي نوله خپلو ګناهونو څخه تائب شي ددې په اړه زه تاسې ته دیو څو واقعاتو یادونه کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت حکیم ثنائی څرنګه دغوث مقام ته ورسېد؟

دوخت لوی صوفي اودغزني داولیاء کرامومشهورولي حکیم ثنايي صاحب رحمه الله چې دوخت غوث دی داډېرمخکنی شخص تیرشوی دی تردې پورې چې ځینودسلوک خاوندانوداهم ویلي چې حضرت پیران پیرصاحب رحمه الله به هم دده مبارک زیارت ته راتللوشاه نقشبند رحمه الله هم دده زیارت ته راتلونوډېرمخکنی شخص دی نودې حکیم ثنايي صاحب خپله دخپل ځان دتوبې له پاره یوه وجه ذکرکړې حضرت حکیم ثنايي رحمه الله خپله شاعرؤدفارسي مثنوي لري نودی خپله کیسه کوي چې په غزني کې دلارې پرغاړه یو ملنګ ناست ؤهغه ملنګ به چای باندې کړې ؤ یوه نیم سړي ته به چای ورکولو کمه اندازه چای به یې ورکولواوهرسړي ته یې هم نه ورکولودی خاص دمقربومتصرفینو له جملې څخه ؤنوحکیم ثنايي صاحب وایي چې یوه ورځ زه اویودوه کسان په دې لاره باندې ورغلونومونږله دې ملنګ سره کیناستلو یوه ،یوه پیاله چای یې راکړ نوماته یې دچای راکولوپرمهال وویل چې واخله ویې ځنبه اې دیوانه(لیونیه) له همدغه ځایه چې ولاړونوپه لارې باندې فکرراسره پیداشوچې دغه ملنګ ولې ماته لیونی وویل زه خوبوغوره شاعراوادیب یم بلکې ټول خلک ماته داحترام په سترګه ګوري نودې ملنګ ماته څرنګه دلیوني نسبت وکړ نوبېرته له نیمایي لارې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروګرځېدم دې ملنګ ته راغلم اوورته کیناستم نودغه ملنګ ته
مې وویل چې تاماته دلیوني نسبت ولې وکړ؟ زه په څه وجه باندې
لیونی یم اوسره له دې چې ټول خلک زمااحترام کوي اودعزت په
سترګوراته ګوري ټول خلک زماپه علمیت ادیبوالي اوشاعري
باندې قائل دي اوته راته لیونی وایې نودې ملنګ راته وویل چې
تردغه غټ لیونتوب نوبیاڅېرته دی چې شپه اوورځ دبادشاهانو
اوسردارانوپه صفت باندې لګیایې اوهغه لوی بادشاه چې
خدای جَلَّ جَلَالُهُ دی هغه درڅخه هېردی همدغه وخت چې ته یې
دبادشاهانواوسردارانوپه صفت تېروې دادې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په
ذکرباندې تېرولای تودنیااواخیرت به دې برابرشوی و ته
ددنیااعزازغواړې دبادشاهانواوسردارانوپه دربارونو ګرځې اود
هغوی صفتونه کوې اوالله جَلَّ جَلَالُهُ درڅخه هېرشوی دی نو حکیم
ثنایي رَحِمَهُ اللهُ وایي چې دملنګ دې یوې خبرې پرماباندې دومره
زیات اثر وکړچې دټول وخت له پاره مې توبه ویستله چې زه به بیا
دبادشاهانواوسردارانوپه دربارونوباندې ونه ګرځم اواشعار به
نور نه وایم توبه مې ویستله اوالله جَلَّ جَلَالُهُ ته مې رجوع وکړه
وګورئ اې مسلمانانو!دنیکوخلکواثراتوته چې بیادنیکو خلکو
دبیعت په برکت ډېرلوی مقام ته ورسیده همدارنګه دحضرت
حبیب عجمي رَحِمَهُ اللهُ واقعه په مخکې په یوه مجلس کې ذکرشوېده
په هغه کې هم دتوبې بیان شوی دی همدارنګه دعبدالقادر جیلاني
رَحِمَهُ اللهُ ((پیران پیرصاحب)) دتوبې واقعه مخکې ذکرشوېده
اوهمدارنګه هغه دوه صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا چې درسول

الله صلی الله علیه وسلم له خبرې څخه یې سرغړونه کړې وه بیادغه یوه دتوبې خبره مخکې ذکرشوېده . که یوانسان دنیکو خلکو واقعات هم مطالعه کړي نو الله تعالی به دتوبې نصوحې توفیق ورېه څه کړي الله تعالی دې موږ اوتاسې ټولو ته دنصوحې توبې توفیق راپه برخه کړي آمین ثم آمین .

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ .

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ وَنُوْرِ عَرْشِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ . آمين

تمت بالخیر والتوفیق والحمد لله علی ذلک والمنة . یوم الاربعاء .

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library